لوی خدای،لوی علم،لوی جهان

# د عینیت فلسفه

# څېړنه او ارزونه

ډاکتر سید شیراقا حرکت

Ketabton.com



Great

PHILOSO

Resea

Docto

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لومړۍ برخه



## فهرست


۱- سریزه
۲ ــ حرکت
۳ ــ فلسفه علم دې ؟
۴ ــ لوی جهان
۵ ــ د عېنیت او ذهنیت دیالکتیک
۶ ــ شعوري پدیدې او د جبر او اختیار دیالکتیک
۷ ــ ایدیا لیستي او ماتریالیستي دیا لکتیک
۸ ــ شعور او لا شعور
۹ ــ شپږم حس ،که د شعور او لا شعور دیالکتیک؟
۱۰ ــ اسلامي او غیر اسلامي فلسفې !
۱۱ ــ مــرگ او ژونــد فــنــا او بــقــاء
۱۲ ــ فلسفي لار
۱۳ ــ فلسفي قانونمندي
۱۴ ــ فلسفه او ځانګړي علوم
۱۵ ــ مقضي او مقدره « د خالق او مخلوق» اراده
۱۶ ــ د عېنیت فلسفه او ځانګړي علمي اصالتونه
۱۷ - د فیثاغورث د متماتیک اصالت او د عېنیت د فلسفې نظر

۱۸ - د دکارت د ریاضیاتو اصالت د عېنیت د فلسفې له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹ ـ ﺜﻪډول يوې کوچنۍ جملې زوړ فلسفي نظام ولړزاوه اودعېنيت دفلسفې سر ليکه جوړه شوه
۲۰ ـ د فلسفې اساسي مسايل
۲۱ ـ فلسفي مجموع الجزاير
۲۲ ـ دين او فلسفه
۲۳ ـ فلسفه په مادي قدامت ،حال او ابديت کې
۲۴ ـ روح ــ ظهور ،بدلون او پايښت يي
۲۵ ـ دين ـ زيږنده او پرمختيا يي
۲۶ ـ شېطان
۲۷ ـ فلسفه بې ثمره علم دی ؟



# دوهمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ادب فلسفي څیړنه

١ ـ د شعري تیورۍ علمي څیړنه
٢ ـ کلتور ـ د هغي صحیح او غلط تعبیرونه



د لوی ښبنتن په نامه چي یو اځې انسان ته یې د تعقل او تفکـر توان ورکړ .

## ډاکټر شاولي

کلـه چي پـه ١٩٨٧م کـال کـي لـه زنـدان څخـه را خـلاص شـوم ، د محتـرم ډاکټـر حرکـت د «عینیـت او ذهنیـت دیالکتیـک » زمـا لاس تـه را ورسـیده ، چـي پـه ډیـر دقـت سـره مـي هغـه ولوسـتله او وپوهیـدم چـي د افغـان لیکوالـو پـه مـنځ کـي یـو لیکـونکي پیدا شـوي چـي توانیـدلي یـو ډیـر ژور اثـر پـه فلـسفي کـي ایجـاد کړي.
بیـا کلـه چـي پـس لـه ډیـرو کلونـو نـه وروسـته ډاکټـر صـاحب حرکـت د جرمنـي د ایـسن پـه ښـار کـي خپلـه نـشریه «حرکـت» خپـره کـړه او ماتـه ئـي د مطـا لعـي لـه پـاره راولیږلـه ، پـوه شـوم چـي د ډاکټر صاحب علا قمندي د فلسفي د لیکلو سره لا پاتي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني دوستانو چې هغوئ هم «حرکت» لوستلي وو له ما څخه پوښتنه وکړه چې په اوسني شرایطو کې ایا داسې فلسفي اثارو ته ضرورت شته؟

ما د هغوئ په ځواب کې وویل چې هو! اوس چې پرلپسې خشونتونه او جګړې زمونږ په ټولني کې بیداد کوي زما په آند یو علت ئې دادې، هغه کسان چې په خشونت، زور زیاتي او جګړه کې بوخت دي د خپلو دغه کرغیړنو اعمالو په نتایجو ژور فکر نه کوي. یواځې فلسفه ده چې انسانانو ته د ژور غور او اندیښني توان ورکوي او یواځې د هغې په قوت د خپل مسؤلیت او رسالت احساس کولي شي چې په خپله ټولنه کې څه ډول چلند غوره کړي چې منطقي او معقول وي.

د بیلګې په توګه سیسرو **cicero** (۱۴۳ــ ۱۰۶) ق م د روم لوي لیکوال د افلاطون څخه داسې نقل قول کوي: «انسان ته نه ښائي چې هیڅکله د خپل هیواد او خپلو والدینو په مقابل کې له خشونت څخه کار واخلي.

او افلاطون داسې هم وای چې خپل هیواد ته باید حتي د خپلو والدینو په پرتله زیاد تره احترام وشي. یا افلاطون وای چې واک لرونکي او ټولواکان باید یا فیلسوفان وي او یا په فلسفه وپوهیږي. نو زما په آند په فلسفي موضوعاتو کې لیکنه بې ګټې نه ده او د حرکت صاحب لیکني د سولي د فرهنګ په تقویه کې ډیر ارزښت لري.

اوسني اثر چې د پخواني اثر یعني «د عینیت او ذهنیت دیالکتیک» په ادامه لیکل شویدي د ډاکتر حرکت ډیر زیار او هڅې په کې متبلور شوي دي او ور څخه افغاني رنګ او وږمه احساسیږي. اوس چې د مطالعې خاوندانو ته د کتاب په ډول



وړاندې کیږي، زما هیله داده چې په ډیر غور او دقت سره ولوستل شي

هیله کوم چې دا اثر زمونږ د ګران هیواد نور دانشمندان وهڅوي چې لکه ډاکتر صاحب غوندې په خپلو تخصصي ساحو کې ورته آثار هیواد والو ته وړاندې کړي.

په پای کې ډاکتر صاحب ته په فرهنګي فعالیتونو کې لا زیات بریالیتوبونه غواړم.

ډاکتر شاولي

جنوري 2009

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نام کسی کافرید از عدم
به انسان عطا کرد بکرو قلم

# فکر و قلم

**عبدالکریم « میثاق »**

بلي فکرو قلم یا به عبارهً دیگر اندیشه وخامه در انکشاف ،ترقي و دیگر گونیهاي اجتماعي نقش برجسته وسازنده مي داشته باشد .

هر پدیدهً زنده گاني چي به دانش اجتماعي و چي به دانش طبیعي ارتباط داشته باشد ،راهش از سرزمین پُر نقش و نگار اندیشه وخامه مي گذرد .تمامي فراورده هاي مادي و معنویکه نیازمندي هاي انسان را رفع مي نماید و موجب سهولت در زندگي انسان مي شود ، درگام نخست درباره اش فکر شده ودرگام بعدي آن فکر، به وسیله قلم نقش کاغذ مي گردد . همه چیزي را که شما درپیرامون خود مي بینید ازجرنگانه وپوقانه گرفته تا به وسایل بسیارپیچیده وپیشرفته تکنالوژي گوناگون امروزین، همه وهمه ، اول درذهن انسان ساخته شده است وسپس نقشه وشرح آن توسط قلم به روي کاغذ آورده شده وبعد درساختمان وتولید آنها اقدام گردیده ودرخدمت انسان قرارگرفته است. ازینجا است که ما به اهمیت ونقش سازنده اهل اندیشه وقلم پي مي بریم ومي دانیم که در دنیاي امروز این همه پیشرفت ، ترقي وتکامل خارق العاده تکنالوژي که باعث



سهولت ورفاه ، تشویش وترس انسان شده است ثمره اندیشه وقلم اندیشمندان ونویسندگان است.

هرگاه اندیشمندان ونویسندگان به منظور بیداري وآگاهي انسان درجهت افکار ملکوتي فهم ودانش خود را به کار اندازند به یقین که باعث خوشبختي انسان مي شود وهرگاه درجهت افکار شیطاني به کار برند یقیناً که باعث بدبختي انسان مي شود . چنانچه تجربه روزمره جامعه بشري شاهد برحق این مدعاست. همچنان اهل اندیشه وقلم اگراندیشه وقلم شان را به منظور صلح ، امنیت ، همبستگي واتفاق انسانها وبه خاطر دفاع ازحقوق مظلومان وبرابري حقوق انسانها اعم اززن ومرد وتأمین عدالت اجتماعي ، آزادي مدني ، ایجاد وتحکیم دموکراسي برمبناي ارزشهاي اعلامیه جهاني حقوق بشر، به کار مي برند ، درحقیقت به سوي افکار ملکوتي گام مي بردارند وآنانیکه برعکس اینها ، اندیشه وقلم شان را درجهت نفاق وشقاق ، خشونت وجنگ ، تبعیض هاي نژادي ، لساني ، اسارت مادي ومعنوي انسان ، به کار مي گیرند ، درحلقهً پیچیدهًافکار شیطاني دست وپا مي زنند .

مؤجزاینکه فکرو قلم درجامعه بشري نقش عمده ومهم دارد . کشورهایکه از داشتن شخصیتهاي اهل اندیشه و قلم برخوردارند ونقش مثبت آنان را گرا مي ومحترم داشته اند توانسته اند به شاهراه ترقي وعدالت اجتماعي گامهاي استوار وثمربخشي بردارند ومردم شان ازمزایا ورفاه زندگاني برخوردار باشند . مردم زماني مي توانند ازمزایاورفاه زندگاني برخوردارشوند که به صورت آگاهانه وهشیارانه درخدمت وطن خویش قرارگیرند . بیداري، آگاهي وهشیاري احاد مردم زماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دست می آید که به خاطر این هدف والای انسانی وملی درمیان مردم باحوصله مندی وپیگیرانه کار روشنگرانه فرهنگی به وسیله اهل اندیشه وقلم صورت گیرد . کسانیکه درین راه کار ، کوشش وتلاش می کنند وجیبهً بزرگ ملی وانسانی خویش را ادا می نمایند .

با درنظرداشت آنچه گفته آمد کارهای ثمربخش فرهنگی یکی از اهل اندیشه وقلم وطن محبوب ما افغانستان محترم داکتر شیرآقا حرکت قابل یاد آوری وقدردانی است. ازچند سال بدینسو جناب داکتر حرکت ، نشریه ی را به نام "حرکت "چاپ ونشر می نماید . همه اهل فرهنگ وقلم می دانند که چاپ ونشر یک نشریه به خصوص در شرایط افغانستان ودرمیان افغانها کار بسیار فرساینده ودشوار است. ازینکه داکتر حرکت درین چند سال توانسته که نشر "حرکت "را ادامه دهد قابل ستایش است. این ستایش زمانی درخشان تر می شود که وی با ایجاد این کار عملی فرهنگی توانسته است سایر فرهنگیان محترم را هم به کاروادارد واندیشه های بکر شان را نقش "حرکت نماید . " به عباره دیگر نه تنها خودش را بلکه جمع دیگری ازاهل فکرو قلم را نیزبه حرکت درآورده است.

داکتر حرکت زیاد به مسایل فلسفی می اندیشد واین پرسشهای فلسفی را دربرابرانسان مطرح می سازد : که ما کی هستیم ، ازکجا آمده ایم وبه کجا می رویم ؟پرسشهایی که ازطرف اهل ادیان ، عرفان

وعلم پاسخهای گونه گونه ارایه شده است. دین موضوع آفرینش را مطرح کرده وعلم موضوع تکامل را . عرفان زاهدانه ، مسئله ریاضت کشی را وعرفان عاشقانه ، مسئله عشق را .
داکترحرکت هم در مقاله های خویش کوشیده است که درین



موضوع پیچیده ازنگاه علمی برخورد نماید . البته همه اهل اندیشه وقلم می دانند که علم هیچ موضوع ومسئله را تازمانیکه درتجربه وعمل ثابت نشده باشد مدار اعتبارقرار نمی دهد . این راز سربه مُهرنابکشوده خلقت ، باتمامی عظمت ، شکوه ونظم وجلالش تاکنون به صورت کل ناشناخته مانده وعلم هم بجزاز فرضیه هایی نتوانسته این راز را به صورت حقیقی وانکار ناپذیربرملا سازد . یگانه فرضیه که مورد توجه علم قرارگرفته وبرمبنای آن مطالعات علمی جریان دارد همانا فرضیه "بیگ بانگ " ( انفجاربزرگ ) است. هرچه درمورد شناخت هستی وکاینات جستجوصورت می گیرد ودرساحه های مختلف هستی پژوهش به عمل می آید ودربخشی ازطبیعت وهستی رازهای پیچیده (که همه در یک نظم وسستم شگفتی انگیزجریان دارد ، ) باز می شود ، بلادرنگ دربرابرآفریدگاروپروردگارآن سرتعظیم وتسلیم خم می گردد . درمقاله های گوناگون فلسفی جناب داکتر حرکت کوشیده می شود تا گرهی ازین رازهای ناپیدا درشناخت علمی پدیده های زندگی باز شود. می توان یکی ازین پدیده هارا که انسان می باشد مورد توجه قرارداد . خود انسان یک موجود مغلق وناشناخته است. درین جا آن گفته معروف را می توان به یاد آورد که گفته شده است: خود شناسی خدا شناسی است. این بدین معنا است که وقتی انسان بخود متوجه گردد ، در می یابد که انسان ازنگاه ساختمان فزیکی ودنیای روانی

یک سیستم فوق العاده منظم وپیچیده ویک ماشین بی مثال وبی مانند وزیبااست وازین جهت گفته شده است که انسان شهکار طبیعت ، اشرف مخلوقات وخلیفه خدا به روی زمین است. درطبیعت وهستی هرچی که آفریده شده است به خاطرخدمت به انسان است واین انسان است که میتواند برای

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود دوزخ بسازد یا بهشت:

چـشم فروبـسته اگرواکنـي / درتوبـود هرچـه تمنـاکني عـدالت خداونـدي دريـن اسـت کـه انـسان را ، انـسان آفريـد وبـراي او عقـل ، دانـايي وهـشياري عنايـت کـردوراه نيـک وبـد وخيروشررا هـم بـه او نـشان داد . ايـن ديگـر بـه انـسان اسـت کـه بـه کـدام راه گـام بـر مـي دارد . خداونـد نعمتهـاي فـراوان را بـراي انـسان مفـت ورايگـان اعطـا کـرد بـه ماننـد آب وآکـسجن کـه مايـه حيـات اسـت وسـاير نعمتهـا ازقبيـل غـذا ، ميـوه ، نـور ،انـرژي وغيـره نعمتهـاي بـي شـمار وبـي حـساب وازهمـه مهـم تـر وغنـي تـر وزيبـا تـر کـره زنـدگي بخـش زمـين را.سـياره زيباوثروتمنـد زمـين هرآنچـه را کـه نيـاز انـسان اسـت درخـود دارد . سـطح زمـين ، فـضاي بيکـران آن وهمچنـان عُمـق زمـين مملـو از انـواع گونـاگون نعمتهـا وثروتهـا ي انبـوه وعظـيم اسـت کـه انـسان مـي توانـد بـراي رفـاه وآسـايش وآرامـش مـادي ومعنـوي خـويش ازانها اسـتفاده نمايـد . هرگـاه انـسان باصـلح وصـفا ، احتـرام متقابـل ، دوسـتي وهمکـاري ، تـأمين عـدالت اجتمـاعي وتدابيرسـازنده ، زنـدگي نمايـد ، همـين سـياره زمـين وسـاير سـياره هـاي خدمتگـذارزمين بـراي رفـع نيازمنـديهاي مـادي ، معنـوي وفرهنگـي انـسان کـافي وشـافي اسـت. خداونـد بااعطـاي ايـن همـه امکانـات ونعمـات انـسان را مـورد امتحـان وآزمـايش قـرارداد ، مگـر متأسـفانه انـسان دراثـر حـرص وآز بـي پايـان وخودخـواهي هـاي بيکـران دريـن آزمـايش ناکـام مانـد . اگرانـسان اينقـدر بيرويـه وبـي تـدبير بـه تخريـب طبيعـت نمـي پرداخـت وباتـدبير مطلـوب ومعقـول ازافـزايش نفـوس جلـوگيري مـي کـرد ودسـت بـه جنـگ وتخريـب وکـشتار جمعـي همـديگر نمـي زد ودنيـارا گـدام ذخيـره سـلاح اتمـي نمـي سـاخت وايـن همـه بـي اعتمـادي را درميـان هـم بـه وجـود نمـي آورد ، زنـدگي گـل وگلـزار مـي بـود وتمـامي جامعـه بـشري دررفـاه ،



عـدالت ،آرامـش وآسـايش مـادي ، معنـوي وفرهنگـي بـه سـر مـي بُـرد . گرفتـار خطرآلـودگي ، خطـر جنـگ اتمـي وگرفتـار بحـران بـي اعتمـادي ، فقروگمراهـي نمـي شـد وبـه سـوي تبـاهي وبـد بختـي پيش نمي رفت.

مقالـه هـاي جنـاب دکتـر حرکـت کـه بـه نـوع خـود درزبـان پـشتوبي مثـال اسـت خـدمت بزرگيست هـم ازنگـاه زبـان وهـم ازنگـاه موضـوع . مخاطبـان دکترحرکـت بامطالعـات آثارجالـب وي مـي تواننـد ازنگـاه شـکل ومـضمون آگـاهي خـود را بلنـد ببرنـد ودرجهـت رهـايي از اسـارت معنـوي و مـادي گامهـاي اسـتواري بردارنـد . آري انـسان جامعـه مـا ، نيازمنـد رهـايي از اسـارت معنـوي ومـادي مي باشد وايـن رسالت اهل انديشه وقلم اسـت تـا باتوليـد انديـشه هـاي رهـايي بخـش وکارهـاي مثبـت فرهنگـي دريـن راه وظـايف روشـنگرانه خـويش را انجـام دهنـد ؛ چنانچـه دانـشمند محتـرم جنـاب دکتـور حرکـت دريـن راه گامهـاي مثبـت وثمـر بخـش بـر ميدارد .

آثـار جنـاب وي بـه نقـد اکادميـک ضـرورت دارد کـه بايـست توسط کارشناسان ومتخصصان علم فلسفه انجام شود .

ازنگـاه مـن کارهـاي علمـي وفرهنگـي او بـراي بيـداري ورهـايي مـردم افغانـستان مفيـد مـي باشـد وازآفريـدگار عـالم تمنـادارم کـه بـرايش دريـن راه نيـک وخيـر موفقيتهـاي روز افـزون عنايـت برمايند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فلسفي سفر بري

## «د ډاکتر حرکت کتاب ته یوه کره کتنه»

**کره کتونکي: ډاکټر رحمت ربي زيرکيار**

ماتـه منلي ډاکټـر سيد شير اقـا حرکـت د کـره کتنـي لپـاره خپـل يـو اثـر راوسپاره ،پـه دي سر ليـک :«لـوي خـداي ، لـوي علم،لـوي جهـان»: د عينيـت فلـسفه (دوهـم ټـوک ،پـه ۳۰۵ مخونـو کـي ) .پـه اقتباسـونو کـي ګـوتېني لينـدیٔ [ ]مـا زيرکيـار د توضـيح يـا سـمون لپـاره ور ټـومبلي دي. سـيد شـير اقـا حرکـت د کـونړ ولايـت د پاچـا صـاحبانو پـه درنـه کـورنیٔ ور ګـډېږي.د کتـاب دډ کـون نـه داسـي جـوتېږي چـي لـه پخـواني شـوروي اتحادنـه ئـي پـه تخنيکـي ځانګـه کـي ډاکټـري او پـه فلـسفه کـي د «دوهـم مـسلک [ پـه] حيـث »دپلـوم تـر لاسـه کړيـدي.پـه افغانـستان کـي د خلکـي کودتـا (ثـور ۱۳۵۷ ، اپريـل ۱۹۷۸ )سـره جوخـت چـي ليکـوال ئـي «انقـلاب» ګڼـي ،کابـل تـه راسـتون شـو او هلتـه ښـاروال وټاکـل شـو.ډاکتـر حرکـت ليکـي چـي پـه دسـمبر ۱۹۷۹کـي «دروسـانو ديرغـل ځخـه وروسـته» وظيفـه لـه لاسـه ورکـړه او د خپلـي ۱۸ مياشـتينۍ رسـمي بيکـاریٔ پـه اوږدو کـي ئـي پـه فلـسفه کـي خپلـه «لـومړیٔ مقالـه »پـدي سـر ليـک بـشپړه کـړه: «دعينيـت او ذهنيـت ديالکتيـک». (ددي لـومړیٔ فلـسفي ليکنـي پـه لـومړیٔ جملـه بـه وروسـته



وګړيږم).

د ډاکتـر حرکـت د کتـاب غـټ فکـري ټکـي پـه لانـدنيو شـپږ ځپرکيو (پراګرافونو )کي رالنډوم:

( ۱ ) د هـسک ځـښتن «ټـول خلقتونـه اعجـاز دي» (مـخ ۱۳۶ ). خـو هـسک ځـښتن يـوائې انـسان تـه امـر کـوي چـي اقـرء ( ولولـه ، ولاړ کـړه ،ووايـه ) . پـه اقـرء کـي د علـم او قلـم غـښتلي مقـام خونـدي شـوي دي ـــ هغـه مقـام چـي انـسان ئـي ورړ دي. ( ۲ ) يـوائې ددغـه سـتر اعجـاز پـه مـټ هـسک ځـښتن انـسان «خپـل خليفـه وټاکـه» .دلتـه بايـد زه زيرکيـار ووايـم چـي اوس هـسک ځـښتن «خپـل خليفـه» (ناسـتن ،قـايم مقـام ) نـه لـري ، بلکـه انـسان ئـي پـه زمکـه (ښـائي پـه کائنـاتو Universe )کـي واکمـن کـړي او مسؤليـت ئـی ور پـه غـاړه کـړي دي.وروسـته لـه ډيـر ډيـر اوږد مهـال ، کيـداي شي چـي انـسان د لـوي عـالم لـوي خاونـد شي او بيـا ددغـه لـوي علمي کفايـت پـه برکـت ددي وړ شي چي هسک ځښتن ئـي پـه کائنـاتو کـي خپـل خليفـه وټـاکي ( ۳ ) د هـسک ځـښتن بي سـاري خلقتونـه انـسان تـه ددي مجـال ورکـوي چـي د ځـان پـه شـمول د جهـان خـالق وپيژنـي. «د علـم ،منطـق او خـداي لار يـوه ده» او بايـد چـي «همدغـه لار ونيـسو ».ډاکتـر حرکـت پـدي بـاور لـري چـي « دا لـوي جهـان ، دلـوي خـداي د لـوي علـم لـه مخـي پـه قانونمنـد ډول پيـدا [شـويدي]پـاي [ بـدلون]او تکامـل مـومي» (مخونـه: ۱۴۵ ،۱۵۲ ) . علـم هغـومره ديـن دي لکـه ديـن چـي علـم دي ،او معرفـت د دواړو درسـالت چـورليز جـوړوي (مـخ ۱۵۷ ) ( ۴ ) د ديـن او فلـسفي پـه اړونـد کـي ډاکتـر حرکـت پـه دي آنـد دي چـي :هـسک ځـښتن «ذاتـي حقيقـت دي او هـيح حقيقـت پـه يـو وار نـشي پيژنـدل کيـدلي .» هـسک ځـښتن سـتر ذات دي «الله اکبـر» ،او لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینه ستر دي چي د خپل مخلوق یاني د انسان د شعور په کڅوړه کي ځاي شي ، «نو ځکه بالذات د خداي لیدل او پیژندل» بي پایلي هڅه ده (مخ ۲۶۱ ) (۵ )د ډاکټر حرکت عقیده په دي « حقیقت»را چاپیره ده چي: «یو او واحد لایتناهي لوي جهان د لا یتناهي خلقتونو سره د خداي د لوي علم او لوي قانونمندۍ [ قضاء او قدر ]له مخي پیدا [ شوي دي ]پائي او یواځي د علمي قانونمند معرفت له مخي د هغي [هغه ] څخه معقوله ،سالمه او منطقي استفاده ممکنه ده . دا جهان واحد جهان دي ... او یواځي د واحد عام قانون « قضاء او قدر »له مخي شکلي او نوعي تغیر او تکامل مومي. دا قانون د خداي قانون دي او خداي د دي جهان او ټولو خلقتونو یواځیني خالق او صانع دي . ... دین او فلسفه په یوه لحظه کي د یوه هدف لپاره پیدا شوي دي او یو رسالت لري ». (مخونه: ۲۶۹ ــــ ۲۷۰ ) .دین او فلسفه لکه نوک او ورۍ له یو بله نشي بیلیدلي ، ځکه چي د هسک څښتن جهان ،علم او د هغه د خلقتونو د پیژندني ( معرفت )قانون یو دي ( مخ ۲۷۱ ) .

(۶ ) ډاکټر حرکت د خپلي لومړۍ فلسفي لیکني ( د عینیت او ذهنیت دیالکتیک ) لومړۍ جمله داسي راپیژني :« ذهنیت نسبي عینیت او هر مشخص ذهنیت عیني واقعیت دي. » لیکوال پدي آند دي چي د غه جمله ئي د فلسفي مورچل د لیندي هغه غشي دي چي د نخښي منځ ولي او « د بي بنیاده اړیکو ټول تنابونه » غوڅوي زما په آند ،په دغه جمله کي لږتر لږه د مادي فلسفي او معنوي فلسفي د سوله ئیزي همزیستۍ ګونګوسي روان دي .په بله وینا ،مادي فلسفه او معنوي فلسفه د یوي روپۍ دوه مخونه دي چي په ګډه سره د عین روپۍ اتبار



تمثیلوي امریکائي لیکوال او ټولنیز نقاد ویلیم بوروز (۱۹۱۴ ــــ ۱۹۹۷ ) Borroughs . W کاږي چي« تخیل illusion انقلابي وسیله ده». د نن واقعیتونه د پرون او هغه بل پرون تخیلونه وو .[( قانونمندي تخیل نه مني ، فلسفي ایدیالیستي تخیل کیدلي شي یواځي په سفسطه او تحریفي تیورۍ او منطق بدل شي ، خو زه پدي عقیده یم چي مشخص تخیل او ذهنیت پخپل ذات کي عیني واقعیت دي او په قانونمند شکل واقعیتونه افاده کولي شي . همدا سبب دي چي نه د افلاطون ، نه د ارسطو ، نه د دیکارت ، نه د کانت ، نه د هګل او حتا د مارکس په سرا پا ماده ګرایي او خارق العاده علمي نبوغ او استعداد سره د هغه غیر اګاهانه ایدیالیستي تخیلات تر ننه پوري په واقعیتونو بدل نه شول ،بلکه د هغوئ په اصطلا ح د پرونۍ ورځي واقعیتونه ،همغسي د بې مفهومه تخیل په حیث ، تخیل پاتي شویدي « حرکت» ) ]. څوک به په بشپړ ډاډ سره ووائي چي د ډاکټر حرکت تخیل [زه په تخیل باور نلرم « حرکت » ] به کوم مهال د فلسفي پوهیدونکو په بیلابیلو مورچلونو کي د لږو ډیر پام وړ ونه ګرځي ، «لیس للانسان الا ما سعي» ! ما په افغانستان کي د فلسفي دوه بوراګان له نژدي نه پیژندل:یو ورور مي پوهاند سید بهاو الدین مجروح و چي د فلسفي او سا پوهني ( سایکالوجي )په برید ونو کي د نیمي شپي لاروي شوي وو او د ځانځانۍ په ښامار ( اژدهاي خودي )باندي ئي فکري غشي ورول. هغه دوهم ورور مي ډاکټر غلام غوث شجاعي و چي د الماني کانت( ۱۷۲۴ ــــ ۱۸۰۴ ) او هیګل(۱۷۷۰ ــــ ۱۸۳۱ )د خورا مشکلو فلسفو تل ته ورکوز شوي وو او د مارکس ( ۱۸۱۸ ــ ۱۸۸۳ ) د اقتصادي تحلیل سره ئي څه نا څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلي يارانه لرله. سور ښامارچي «د يو بعده انسان» په جوړولو کي لګيا وو او په لا يتناهي ماده ئي شخوند واهه د نيمي شپي په ترګمۍ کي ئي په کابل کي د شجاعي په مغزو کي منعکسه شوي فلسفه ووژله او ديو خندوړي بورا چغار ئي تم کړ. له دينه نهه کلونه وروسته، تور ښامارچي په معني ئي شخوند واهه، په ۱۹۸۸ کي ئي په پيښور کي په سپينه ورځ د پوهاند مجروح په وينه تنده ماته کړه. دا هغه توره بلا وه چي د انګريزي استعمار په پړپړو (د سيسو) په ۱۹۴۷ کي «تاريخ د معجزي په شکل زيږيدلي وه.

زه زيرکيار په فلسفه کي برسيرن (سطحي) معلومات لرم. زه د واګپوهني (سياسي علومو) پوهيدونکي يم. نن پوهه (علم) دومره ژوره، ښانګوره او ځانګوره شويده چي سړي په ډيري خوارۍ سره په همغه خپله تنګه مسلکي سمڅه کي ساه ويستلي شي. که د فلسفي دوه ژوراندي بوراګان (پوهاند مجروح او ډاکټر شجاعي) ژوندي واي، د ډاکټر حرکت په کتاب به ئي پخي کره کتني ليکلاي واي. زما کره کتنه تور توتان دي، خو له يارانو قربان دي.

ډاکټر حرکت څه غواړئ؟ د شعور او فکر په بر مختګ سره د انسان پوښتني پاي ته ونه رسيدلي، بلکه لازياتو پوښتنو ته ئي بلنه ورکړه. له بدي مرغي به دغه پوښتني د دوه ډلتيا (ماترياليزم، ايدياليزم) د احساساتي ځوابونو په لومو کي نښتلي. د دواړو ډلو د بي اساسه طرحو ډکون نه «د فلسفي مجموع الجزاير» راووت. په بله وينا فلسفه په يوه داسي «زرسريزه او زر پښيزه بلا او معما» واووښتله چي نه ورته څوک «ورنژدي کيدلي شي او نه چاته د دغي معما د حل چل ورځي.» (



مخونه: ۳۰، ۲۳۵_۲۳۸).

ډاکټر حرکت غواړي چي غټو مسايلو او قانونمنديو ته ګوته ونيسي او د علم نورو ځانګو پوهان ديته راوبلي چي هر يو د خپلي چار پوهني په ډګر کي لازمي څيړني وکړي او په دي ډول يوائي علم ته د ټولو ښکارندو (پديدو) او مناسباتو «د حقانيت» او واقعيت د تثبيت» تاج ورپه سر کړي. له دي لاري به ممکنه وي چي «د احساساتو او تخيلاتو رول يوائي د احساساتي او تخيلي مسايلو او پديدو په ساحه کي محدود شي.» (مخ ۳۱). ډاکټر حرکت فلسفي ته او په ځانګړي توګه «د اسلام په بناء رامنځته شوي علمي فلسفي ته» کلکه اړتيا ويني ــ هغي فلسفي ته چي د خپلي زماني ټولو پوښتنو ته ځواب تومنه ولري. د دغي اړتيا د ډکولو لپاره ډاکټرحرکت د «افغان فلسفي څيړنيز مرکز» جوړولو ته سترګي په لار دي. (مخ ۱۳۹).

زير کيار يو کتاب (سياسي فکرونه او سياسي نظامونه په لويديزه او اسلامي نړۍ کي) په دسمبر ۲۰۰۵ کي خپور شو. د دغه کتاب لاسي نسخه مي د زييز کال ۲۰۰۲ په جولاي (چنګاښ ۱۳۸۱) کي بشپړه کړي وه. او هغه مهال چي د چاپولو لپاره استولي وه، هلته مي ليکلي وو چي: نن مونږ مسلمانان د خپلواکو ديني پوهانو او دنيوي چار پوهانو مجموعي تفکر ته کلک اړيو ــ هغه ډول مجموعي تفکر ته چي د مسلمانانو معنوي اړتياوي پوره کوي او فکري او تخنيکي پرمختګ ته ئي لار پرانيزي. مونږ مسلمانان د هغه مسلمان منځګړتيا ته کلک اړيو چي ديني معنويت مو د خاورين عقلانيت سره پوخلا کړي او مونږ نور پريږدي چي د خپلي زماني مسلمانان او انسانان شو. ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخونه:۲۶۸ ـــ ۲۶۹ ) .اوس دوه پوښتني او يوه هيله لرم .
تاسي په خپل کتاب کي يو شمير روسي او فارسي چيني کارولي دي .په دغو منابعو کي ستاسي دکتاب غټ فکري ټکي څومره منعکس شوي دي ؟د چا ليکني يا مفکوري ستاسي د لومړئ فلسفي ليکني «د عينيت او ذهنيت ديالکتيک » د لومړئ جملي په ادعاکي کلک يا څه نا څه رول لوبولي دي ؟ زما هيله له ډاکټر حرکت نه داده چي که ذکر شوي لومړئ جمله په يو څو جملو کي راوسپړي او ساده ئي کړي ،تر څو زما په شان غير فلسفي خلک هم ستاسي په ادعا روغ پوه شي. دکره کتني دتړي سره سم ،دکتاب يوڅو تخنيکي کمزوريو ته د لوستونکو پام راګرځوم ،ځکه چي د ځيرني په رسمياتو کي ارزښت لري:
۱ ـــ د کتاب د چاپ کال نه دي ښودل شوي. ۲ ـــ ليکوال کله دځان لپاره د «زه» ، «زما » او « ما » ټکي کارولي دي او کله د هغو ی جمع « مونږ». ۳ ـ کتاب لړليک ( فهرست ) نلري.
۴ ـ په کتاب کي يو شمير فارسي او روسي
اثار کارول شوي دي ،خو دهغوئ په لومړئ حواله کي د چاپ کال نه دي ښودل شوي.
۵ ـــ ماته ( د عينيت فلسفه ، دوهم ټوک » د کره کتني لپاره را سپارل شوي وو . نه پوهيږم چي زما دا کره کتنه به ددغه کتاب د لومړي ټوک سره څومره اړخ ولګوي ؟
په کتاب کي فکري جرئت او رت نظر ځليږي .ډاکټر ارت نظر ځليږي .ډاکټر شير اقا حرکت په مخونو کي د فلسفي د خپلواکۍ اعلاميه انځور کړي ده او دخپل کتاب لوستونکو ته بلنه ورکوي چي د فلسفي مجموع الجزاير په ضد ورسره په فلسفي سفر برۍ کي ګډون وکړي. پاي. (۲۶ ـ ۱ ـ ۲۰۰۹ ) .



# د پوهانو له خوا د عېنيت فلسفې ارزونه

## ۱

م.ح. بارق شفيعی

عزيزم دکتور حرکت !
درصبا هنګام تفکر فلسفی ، « هراکليتوس»از دانشمندان و فلاسفهٔ يونانی عالم را به رودی تشبيه کرد که همواره روان است و يک دم همانند دم ديګر نيست و ثبات وسکون دايمی رامنکر بود وعقيده داشت که به هيچ چيز نميتوان ګفت « می باشد » ، بايد ګفت « می شود » و شدن نتيجهً « مبارزهً اضداد »است.
« ديموکراتيس »همه اجسام را مرکب از ذرات کوچک بی شمار ميدانست و عقيده داشت که: « وجود ذرات ابديست و به يک حرکت مستدير دايمی که جز ذات انهاست متحرک هستند »
دکارت ميګويد : «بعد وحرکت را به من بدهيد ، جهان را می سازم. »
بيدل ګفت: «ګردون تپش آبادو زمين زلزله دارد . »

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقبال لاهوری با مصالعهً اینهمه از زبان موج از خود رفته یی گفت: «هستم اگر میروم ،گر نروم نیستم.»

درین جریان انسان اندیشمند به این حقیقت دست یافت که « حرکت »شکلی از موجودیت « ماده » است و ماده و حرکت از همدیگر جدا نیستند و همچنان به وجود حرکت بر زمینه های مختلفو در اسمان و زمین اگاهی بیشتر حاصل کرد و از « حرکت ساده »به «حرکت بغرنجتر » و پیچیده تری اشنایی پیدا کرد و از حرکات میکانیکی،فزیکی ،کیمیایی و بیالوژیکی به حرکت اجتماعی راه یافت.

ولی در این جریان این حقیقت نیز قد برافراشت که اگر « حرکت »تغییر را سبب میشود ،سکون(ولو نسبی )هم وجود دارد که این تغییر را تثبیت می کند و زمینه را برای جریان بعدی « حرکت»اماده می سازد. »

بنابران یقین دارم ،دوست محترم من این «سکون نسبی» ونقش آنرا در دوام وبقای « حرکت » و تغیر تمام پدیده های مادی فراموش نکرده اند ؛ولی در کتاب شان « دعینیت فلسفه »به نقش و تأثیر آن توجه لازم به نظر نیامد .

دکتور حرکت میداند که « سکون نسبی »در مقطع هر حرکتی انقلابی فرصتی است که باید برای توجیه دوام حرکت در راستای تغییر و تکامل به آن توجه کرد .

دور نمی رویم ،یکی از اشتباهات مهم ما در « انقلاب ثور »و بعد از حرکت جدی تغییر و تصرف قدرت سیاسی ، عدم استفاده و یا استفادهً نادرست و کم بها دادن به « سکون نسبی »بود که بعد از آن دست داد ، در حقیقت میتوان گفت ، رها کردن دنبال حرکت انقلابی !



ما از بامداد حرکت انقلابی به فکر بدست اوردن و انحصار موقعیت حساس و قدرت در سازمان حاکمیت افتادیم و نتوانستیم به تحکیم زمینه های عینی انقلاب و سمت دهی آن به سوی تکامل توجه کنیم.

اگر این انتباه از واقعیت رویداد ثور و نتایج آن به نظر تان درست می آید ، خوب است بخش سوم کتاب با ارزش تان را وقف این موضوع کنید .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حرکت خپروني لومړۍ کلیزي ته
# د محترم م.ح.بارق شفیعي
# ارزوني او سپارښتني !

دوست و همسنگر گرامی من، محترم داکتر حرکت !

پیروزی و موفقیت بیشترت در راه خدمت به علم ودفاع از ارزشهای بزرگ ملی ،تاریخی ،مادی ومعنوی کشور عزیزافغانستان پرافتخار، از ارزوهای منست.

برادر من ، دانشمند عزیز !

یاداشت مختصر ،ولی پرمحتوای آن همسنگر مبارز است پرمخاطرهً دوران ازمونهای بزرگ تاریخی که یاد اور اغازین مرحلهً پرافتخار خیزشهای انسانی نیروهای انقلابی جامعهً ما ،در برابر دشمنان سوگند خوردهً ملی وطبقاتی خلق زحمتکش میهن سترگ مان بود ،با ضمیمهً پنجمین شمارهً پر محتوا ومبارز «حرکت»رسید.بامطالعهً آن مسرور ومحظوظ و از محتویات غني و با ارزش آن مستفید شدم.

اجازه بدهید ،به خاطر اینکه جریدهً «حرکت»با نشر شمارهً ششم ، نخستین سال زندگی و حرکت پربار و هدفمند خودرا پشت سر میگذارد ووارد دومین سال عمر گرانمایهً خدمات فرهنگی خویش می شود ، به شخص شما وتمام همکاران محترم و سایر علاقمندان آن،صمیمانه تبریک وتهنیت بگویم.



حقیقت این که «حرکت»و تلاش علمی و مسؤلانه آن در راستای رشد وتکامل اگاهی اجتماعی ، انکشاف وارتقای شعور سیاسی در نهضت ملی ودموکراتیک خلق ستم کشیدهً افغانستان در جریان یک سال گذشته ، قابل تقدیر ودر خور تمجید است.

باید شریفانه اعتراف نمود که حرکت درین جهته در گذشته ،بخصوص تا اخیر دههً هشتاد سدهً بیست به کفایت جوابگوی نیازهای اساسی روان اجتماعی ،در جامعهً مدنی و در میان همهً مردم زحمتکش افغانستان نبوده است و نتوانسته است بصورت هدفمند و سیستماتیک ،پلان شده و متمرکز ، بویژه با وجود تشکیلات پر عرض وطول و سروصداهای پر شور شعبات تبلیغ وترویج و اموزش حزب دموکراتیک خلق افغانستان ، در مرکز و ولایات کشور ، قدم سازنده وکارا بردارد و با استفاده از وسایل اطلاعات جمعی حزب و دولت انقلابی ، در عرصه های مختلف فرهنگی ، درین گستره اساسی کارهای لازم و در خور توجهی را انجام دهد ، در حالی که تمام فهم وتوجه شیطانی دشمنان حرکت در افغانستان ،بر مبنای فلسفه های ارتجاعی و غیر علمی ،برای تخریب و توقف روند به سر رسیدن اهداف انقلابی متوجه استفاده از ضعفهاو خلاهاي بوده است که در طول سال های فراوان ،در عناصر متشکله روان اجتماعی مردم افغانستان در عرصه های اجتماعی ،فلسفی ومذهبی ،سیاسی ،اخلاقی و... و... رخنه کرده بود ،ولی مدعیان خدمت به تشکل اندیشه های پیشرو وبه اصطلاح تیوریسنهای«جهان بینی علمی طبقهً کارگر»که دران روزگار ،از «جامعه شناسی علمی» و «روان شناسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعی» دم میزدند و امروزه از احاطهً علمی خود بر این عرصه های لافند و کتابهای هزار صفحه اي مي نويسند ،به آن نپرداختند و یا به قدر کفایت نپرداختند وبا آن بابی اعتنائ و سطحی برخورد کردند و اما: «حرکت» و همکاران و همراهان «حرکت»در یک سال گذشته توانستند با نشر مطالب گسترده و عمیق علمی ،با رعایت و احترام به اصول پلورالیزم عقیدتی ،به شکل ازاد و دموکراتیک در زمینهً مسایل اجتماعی ،فلسفی ، مذهبی ، ،سیاسی ، اخلاقی و غیره تأملات فکری خویش را در قلمروروبنای هستی اجتماعی نظام اجتماعی ـ اقتصادی افغانستان ابراز ودرین راستا حرکتی را به راه اندازندو کارهای با اهمیت تحلیلی و توضیحی را اغاز کنند .من فکر میکنم اینقدر ، با وجود وسایل محدود در عرصهً نشرات و تبلیغات کاریست ستوده ،پر ارج و با شهامت که میتوان دستاورد های آنرا پر ارزش خواندو برای دستاندر کاران آن تبریک گفت و موفقیت های درخشان شان را برای اینده ارزو کرد .



# د «عینیت فلسفه» د کره کتنې په هنداره کې

کاندید اکادمیسن م. ظ. افق

۲ـ

پیل:

۱ـ د ښاغلی حرکت سیاسی نظر دده د هیواد پالنی ښکارندوی.

۲ـ د لیکوال فلسفی نظر دده دفلسفې نوی والی.

۳ـ ماده یعنی څه او شعور څه ته وای ؟

۴ـ نتیجه.

## پیل:

په تاریخي لحاظ ،کله چی علومو دخپل وروسته پاته والی په سبب انقسام نه وو موندلی نو دیوی عامی پوهنی یعنی دفلسفی تر نامه لاندی یی مطالعه کیدله .خو کله چی انسانانو د خپلو پرمختگونو په نتیجه کی علوم یو په بل پسی سره جلا کړل ،بیا نو فلسفه د یوی مستقلی پوهنی په څیر خپل وجود وښود .په همدغه اساس دی چی د فلسفی پوهان فلسفه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



علومو مور بولی. که څه هم نوموړی تعبیر د حقیقته څخه لری ندی خو بیا یی هم یو لړ پوهان او فلسفو ښتنان ناسم ګڼي.

فلسفه چې د طبعیت، ټولنی او تفکر د عامو قوانینو مجموعه ده نه یوائې په افغانی تعلیماتو کې یې نفوذ نه شته او ډیر خلک کرکه او نفرت ورته ښیي بلکه د نن ورځې په غربی زده کړو کې یې هم اعتبار کم ښکاری. ځکه دوی په خپلو چارو کې زیاتره د محاسبې، تخنیک او کمپیوټر پوهنې استعمالوی چې باید نوی نسلونه یې نوموړی ډول علوم د ورځني ژوند د اجرا په خاطر زیات په کار واچوی او د فلسفې اصولو، فکری، تحلیلی فعالیتونو په برخه یې مینه ځکه نه ښکاری چې د زړو او تاریخ وهلو رژیمونو د امپریالیزم په شمول، د تغیر او زوال په باب د خلکو سترګې خلاصوی او نوې رڼا څرک ورته وهی. په همدی توګه په وروسته پاته هیوادونو کې د نویو فلسفو او فکرونو لومړني او اساسي تاثیرات د ټولنې پر نوی والی او تغیر باندی داسې واقع کیږی چې باید د زمانی د نویو غوښتنو سره برابر د زړو فکرونو، عادتونو او خرافاتو پر ځای همدغه نوی فکرونه او فعالیتونه استقرار ومومی.

د همدغه ډول ضرورتونو پر اساس، په دی اخرو وختونو کې د ښاغلی شیر اقا حرکت یو ښکلی کتاب د «عینیت فلسفه» په ځینی محفلونو کې لاس پر لاس کیږی، او لیکوال یې هم مینه وال دی چې که د «عینیت فلسفه» د فلسفې پوهان او یا یې مینان په غور ولولی؛ نظر پری وړاندی کړی او حتا داسې نیوکې هم پری وکړی څو په وروسته چاپونو کې یې نور هم سموالی راشی. کتاب چې نژدی ۴۰۰ مخه لری په ښکلی بڼه، اوږوالی او سور متنا سب جوړ شویدی.



پر نوموړی اثر که څه هم یو لړ پوهانو خپل تقریظونه د «حرکت» په خپرونی کې خپاره او خپل نظرونه یې وړاندی کړیدی، چې په زړه پوری او ناکافی بریښی. په کتاب کې د ډیرو ژورو او ارزښتمنو مفهومونو او موضوعاتو د بیان تر څنګ دا مشکل پوره څرګند دی چې لیکوال یو لړ مغلق فلسفی او دیالکتیکی موضوعات او مقولات په هغه سطحه کې راوړی دی په کومه چې لیکوال او ځینی د مسلک خاوندان پری ښه پوهیږی.

څرنګه چې د کتاب د تفسیر او تقریظ بعدونه او اړخونه ډیر او پراخ دی او په باره کې یې لیکل ډیر وخت غواړی، نو زه به هڅه وکړم چې لومړی د لیکوال پر سیاسی نظر او بیا یې پر فلسفی برخو باندی په لنډه توګه څه نا څه وړاندی کړم.

۱ـ دلیکوال سیاسی نظر دده د وطنپالنی ښکارندوی

د ګران هیواد په اخرو څلورو لسیزو کې چې د سیاسی جنبش د بی اتافاقۍ، د ګوندونو په حکومتونو کې پر چوکیانو او منافعو جنګونه او دښمنۍ د یوی خوا، خو د خارجی هیوادونو مداخلو، په سیمه او هیواد کې سختو رقابتونو د بلی خوا زمونږ هیواد خوار و زار، ټوکرټوکر او د ابادیو پرځای یې پر ورانیو راواړاوه. اوس دادی د «۴۶» امپریالیستی هیوادونو او دهغوی د مزدورانو په تصرف کې داسې لویدلی دی چې په زرګونو زرګونو یې رامړه، کلی او ښارونه یې په خرابو را تبدیل کړی او تبدیلوی. البته، د افغانی مقاومت په نتیجه کې دادی ځینی امپریالیستی تجاوزګران هم داسې فکر کوی چې کاشکې یې د تجاوز کولو څخه وړاندی د افغان ــ انګلیس د دریو جنګونو هغه نتیجې په نظر کې نیولی وای، د کومو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتيجه کی چی د انګريزی تاړاکګرانو سختی ا شرمناکی ماتی په نصيب شوی.

په هر صورت په هيواد کی د ډيرو خرابيو او تاوانونو په سبب زيات ګونديانو او روشنفکرانو ،نه يوائی د کين اړخ فعالينود يو تعداد عملونو څخه بيزاری وښودله بلکه د ښی اړخ ځينی وطنپالو هم د ټولنيزو ناخوالو او وحشتونو څخه پوره کرکه ښودلی ده.د نومړو پيښو او جريانونو يوه نتيجه دا شوه څو په ټولنی کی د بی طرفۍ کلمه اعتبار ومومی ،هر چابه د بی طرفۍ غوغا پورته کړی وه او د خپل نجات لاره به يی ګڼله. بيلو بيلو خپرونو به هم پر خپل تندی د ازادۍ او بی طرفۍ کلمی ډيری استعمالولی. په همدغه وختونو کی ښاغلی حرکت د بی ځايه بی طرفۍ پر ضد په ډير خشم د کتاب په نهم مخ کی داسی وای: «... مونږ ټولی دغه ډول پديدی نسبی ګڼو ،نو ځکه د لومړۍ ورځی څخه وايو چی مونږ هيڅکله بی طرفه نه يو ،مونږ ټاکلی او مشخص هدف او ارمان لرو.زمونږ طرف د هر څه دمخه زمونږ ګران هيواد افغانستان ، افغان اولس ،د هغوی ملی ګټی ،منلی رسوم ، عقايد او مقدسات او وروسته له هغه بين امللی او عام انسانی تعلقات او تعهدات دی چی په پوره ايمانداری به د هغوی پلوی او دفاع کوو او نور به هم دی کار ته اړباسو... » دا نظر په رښتيا چی د بی طرفۍ معنا نه لری او يو ټاکلی ملی او وطنی داسی نظر دی چی د ملی ګټو او هيواد د ساتلو په خاطر بايد هيڅ وخت تجاوز ګرانو ته اجازه ورنه کړو چی زمونږ د پاکی خاوري او ازادۍ پر ضد ګامونه راواخلی. دا چی نن ورځ په ډيری ناځوانۍ او وحشت سره ناټو د امريکا په مشرۍ افغانستان اشغال کړي دی نو بايد ټول وطنپال ګوندونه ،



اولسونه او اشخاص په ميړانه په مختلفو لارو ، وسايلو او تاکتيکونو د نومړی اشغال پر ضد په يو موټی توګه مبارزه وکړی او خپلواکی ترلاسه کړی.

ليکوال د خپل کتاب په لسم مخ کی لوړ مطلب ته داسی ادامه ورکوی: «مونږ په دی باور لرو چی د افغان اولس خوشبختی ، پر مختګ او پايښت په ملی وحدت کی دی ، هغه به د سترګو د کسی په څير د بين الافغانی او بين المللی منل شوو اصولو له مخی په پوره ايمانداری او تقوا سره ساتو »

د ليکوال په لوړ متن کی دوه ټکی د داخلی او نړيوال امنيت او سولی لپاره ډير اهميت لری ،ځکه چی په افغانی ټولنه کی بيلی ژبی او ملتونه او اقليتونه وجود لری ،نو يی د ښه او ارام ژوند لپاره همدغه بين الافغانی ګډ ژوند او ټولنيز اصول بايد پوره مراعات شی. د هر ملت او هر اقليت حقوق بايد يو له بله مراعات او ټول اولسونه د ورونو په شان په مينه سره ژوند وکړی.

په همدی توګه په نړيوال چار ترکی تر ټولو مهمه خبره داده چی هيڅ هيواد او قدرت د دی حق نه لری چی د بل ملت او هيواد پر ضد حمله وکړی او ازادی يی په غلامۍ وربدله کړی.دا دی وينو يی چی امريکا يی استعماری واکدارانو نړيوال ټول قوانين تر پښو لاندی کړی او په ډير زور او ظلم يی د افغانانو خاوره د توپونو ، راکټونو او بمونو پواسطه لاندی کړه چی اورونو او وحشتونو يی د سيمی او حتا د نړۍ لمنی نيولی او لا يی هم نيسی.

ښاغلی حرکت د خپل کتای په (۷۶ ) مخ کی نه يوائی د کمونستانو اعمال غندی بلکه پر کپيتاليزم هم وارونه کوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کرکه ورته ګوري او داسې وايي: «کپیټالیزم چې لا پخوا زړه پدیده وه او د تاریخ ټولې بد نامۍ، ظلمونه، ناروا، چور او چپاول د دوی په هویت ثبت شوي دي او د ټولو اولسونو شتمنۍ یې غصب کړي او په یویشتمه سلیزه کې یې نړۍ د قطعي نابودۍ د ناورین سره مخامخ کړې ده، نړیوال امپریالیزم هم فکري تحجر نن په ټپه ړوند کړی او د اتالیتاریستي حرص او آز له مخې ... د نابودۍ د کندې پر څنډه ولاړ، زوال یې حتمي او ورپسې قدم به یې د نابودۍ کندې ته ولیدل وي.»

په لوړ پراګراف کې لیکوال نه یوازې د کپیټالیزم پر ظالمانه ماهیت بحث کوي او د امپریالیزم د زوال څخه ډکه محتوا یې هم پوره پیژندلې بلکه د هغوی پر ضد یې ملي مبارزه یو ډیر مهم اصل بللی دی. د نن ورځې خصوصاً د پانګولې نړۍ جهاني بحران او په نړۍ کې په مختلفو پلمو پر ورو ملتونو او هیوادونو غیر انساني تجاوزونه کول او د بوش په قول چې «امریکا د تیلو عملي ده» تر شعار لاندې د تیلو او طبیعي ثروتونو د تسخیرولو په خاطر هر ډول ظلمونو حتا تر نړیوال دریم جنګ پورې یې لا هم بې پروایې کړې ده. نو باید په زغرده سره اعلان کړو چې د نوموړي ملي نظر د دفاع په خاطر ملي مبارزه د هر افغان ملي او تاریخي وظیفه ده.

### ۲ ـ د حرکت فلسفي نظر دده د فلسفي نوي والي:

ښاغلي حرکت د خپلو فلسفي او تیوریکو موضوعاتو د څیړنې لپاره د ډیر پخوا څخه خواري کښلې او ډیر علمي ــ فلسفي مواد یې سره ټول او ورغونه کړي دي، چې البته مهمه نتیجه یې د «عینیت فلسفه» ښکاري.

لیکوال د خپلو څیړنو په اوږدو کې د لرغوني یونان



فیثاغورث، افلاطون، دموکریت، هراکلیت، ارسطو او داسې نورو مشهورو فیلسوفانو فلسفي لړیا ډیری تر نظر تیری کړې، د رنسانس او بیا یې د وروستیو پیړیو پوهانو لکه کانت، لاپلاس، دکارت، هګل، مارکس، انګلز، لنین، انشتاین، او داسې نورو پوهانو او فیلسوفانو د فلسفي موضوعاتو سره تماس نیولی چې یو لړ یې د خپلې تیورۍ «شعور او ماده هیڅ ډول مادي تو پیر نلري او دواړه یو شان مادي واقعیتونه جوړوي» پر اساس انتقاد کړی هم دی. لیکوال د خپلو فلسفي خپرونو په نتیجه کې دې قضاوت ته ځان رسولی دی چې معنویت کوم مفهوم نه لري، هر څه چې دی هغه ټول ماده او مادیت دی. نو ددې لپاره چې موضوع یو څه ساده او روښانه شوې وي لازمه ده چې همدغه د مادیت پر هستۍ او معنویت پر نیستۍ، مادي او شعور باندې په لنډه توګه څه نا څه وړاندې کړو. البته هیره نه کړو چې لیکوال د «لوی جهان» تر عنوان لاندې په بې سره او بې پایه کائناتو کې ګرځیدلی او په پای کې داسې وای: «زه باور لرم چې خدای لوی ذات دی، زما په شعوري طیف کې نه ځاییږي، زه په قاصر شعور او عقل ځان د خدای د لوی ذات او صفاتو د معرفت جوګه نه بولم»

څرګنده ده چې د کیمیا، بیولوژي، فزیک او نورو طبیعي علومو پر بنا د مادي مفهوم او معنا ډیره ساده او تقریباً ټولو شاګردانو ته یې تعبیر یو شانته دی. خو د فلسفي متودولوژیو او تعبیرونو له مخې یو لړ فلسفي مقولې د مادي او معنا، مادیت او معنویت په شمول تو پیر سره لري. ددې لپاره چې پر نوموړو مقولو چې د کتاب مهمه برخه جوړوي لږه رڼا لویدلې وي، لازمه ده چې د مادي له مفهوم مه څخه را پیل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماده یعنی څه او شعور څه ته وایي ؟

ماده هغه عینی واقعیت دی چی دانسانی ځخه نه یواځی ازاد وجود لری بلکه دهمدغه شعور پواسطه انعکاس مومی او پیژندل کیږی. ماده چی د جهان ټول موجودات او سیستمونه په برکی نیسی نه منځته راغلی او نه هم له منځه ځی بلکه د خپل موجودیت په مهمترینو بعدونو زمان او مکان کی موقعیت لری.ماده دخپل حرکته سره داسی ذاتی اړیکی لری چی ګواکی همدغه حرکت یی یو له اشکالو د موجودیت ځخه ګڼل کیږی. ماده دخپلو خصوصیتونو او داخلی تضادونو په نتیجه کی د تکامل داسی مرحلی ته راورسیده څو انسان اشرف المخلوقات په څیر یی د ځمکی پر مخ حضور وموند .

جهان هیڅ داسی شی نه پیژنی کوم چی د مادی یو خاص تیپ ، حالت او انعکاس ونه لری او یا هم د مادی خصوصیت ،شکل ، حرکت او یا هم د تاریخی تکامل کوم تولید ونه اوسی .د جهان دمادی او تاریخی وحدت پیژندنه د فلسفی ماتریالیزم لومړنی پرنسیب دی چی د خیالی فلسفو اصول یی درک نه شی کولای.د معاصری زمانی د مادی غیرمادی حالتونه لکه الکترو مقناطیسی قوه ، دجاذبی قوه ، نیوترونو جریان.او داسی نور طاقتونه چی دمادی غیر مادی بحثونه یی ډیر پراخ کړی او پراخوی یی د مادی د بحث یوه نوی او مهمه برخه ده.

ماده د فلسفی پوهنی له مخی ، د طبیعی علومو د تیوریو په مرسته د خپل جوړښت او خصوصیاتو ، همداسی یی د قانون او حرکت په واسطه تثبیت شوی ده.داخبره به ستره جفاء وی چی ووایو ماده دیوی فلسفی مقولی په څیر دفزیک ،کیمیا او نورو



طبیعی علومو غوندی د کانکریتو ( مشخصو ) اصولو په څیر پیژدل کیدلی شی.ځکه چی نوموړی علوم خپل ټاکلی خصوصیتونه لری او په هیڅ ډول د مادی بی انتها شکلونه او تیپونه نه شی احتوا کولی. لنډه داچی د مادی مفهوم د ماتریالیستی او تاریخی دیالکتیک په تیوری ،د مادی په نړیوالو خصوصیتونو او دتکامل په قوانینویی ،د حرکت په شکلونو ، انتها او بی انتها مفهومونو ، د جهان په وحدت او اختلافونو سره پیژندل کیږی. اوس چی مو د مادی پر مفهوم ،د فلسفی له مخی څه نا څه وړاندی کړل ،لازمه ده دشعور په باب لو څه ووایو .

## شعور څه ته وایي؟

شعور د عینی واقعیت دانعکاس هغه شکل دی چی یواځی او یواځی په انسان د هغه په ماهیت او تاریخ اړه لری. شعور د دماغی جریاناتو هغه مجموعه ده چی دعینی جهان او پخپله د انسان پیژندنی په باب فعالانه برخه لری.البته ،د شعور په تخلیق او پیدا ایښت کی یی اساسی عناصر کار ، دخلکو ژوند د خلکو اجتماعی تشکل او همداسی په تاریخی توګه انسانی ژبه ده. البته د ژبی قدامت هم د همدغه انسان دپیدا ایښت او ظهور سره مستقیمه اړه لری.

په همدی توګه باید ووایو چی د شعور موجودیت بی له انسانی پوهنی او پیژندنی چی انسان داجتماعی ـ تاریخی فعالیتونو او اطلاعاتو مسؤل دی ،امکان نلری.د واقعیتونو سره د انسان روابط په مستقیمه توګه یواځی دده سره نه تثبیتیږی (لکه همدغه حالت چی په حیواناتو کی څرګند دی ) بلکه دنورو انسانانو سره یو ځای د عملی فعالیت د مشخصاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مستقیم تړون لري. همدغه علت دی چې تر هرڅه لومړی مادي شیان او حوادث په خپل هغه علم او پوهنې سره پېژني چې د انسان د شعور یوه مهمه برخه جوړوي. دیوه شي او یا شیانو او پیښو په باب هر ډول احساس، تفکر، تعقل، ډول ډول غوښتنې، خیالات او بالاخره ټول دماغي فعالیتونه چې د انسان په تحرک او ورځني پراتیک اړه لري د شعور او دهغه په حدودو پورې مربوط ګڼل کیږي.

البته نوموړي ټول حوادث او خصوصیتونه چې د شعور شکل او محتوا څرګندوي د تاریخي، سیاسي، اجتماعي او قانوني افکارو سره اخلاقیات، ادیان او مذاهب، ټولنیزه سایکالوجي، همداسې هنر او ادب د شعور او اجتماعي شعور مهمې برخې دي چې د نوموړو ټولو پدیدو اساس او ریښه بیاهم په ټولنیزو ـ تاریخي واقعیتونو پورې ګنډلې دي.

تفکر او تعقل چې د شعور ستري برخې دي، نه یوازې د معلوماتونو او استدلالونو یوه ساده مجموعه ده بلکه د واقعیتونو فعال، بادرکه او هدفمن داسې ستر جریان دی چې اساس یې بیا هم په عیني واقعیتونو او بشري پراتیک پورې تړل کیږي.

شعور که دیوې خوا د اجتماعي پراتیک په نتیجه کې تشکل موندلی، نو پر دې بلې خوا یې پر همدغه پراتیک تأثیر کړی او انتظام یې وربخښلی دی. د مادې او شعور تر منځ د ارتباط ډېرې مشکلې مسًلې چې نن لا ینحله بریښي د ساینس او فلسفې د ایدیولوجیکو مبارزو یوه ژوره داسې مسًله ده چې علمي فلسفې به یې راتلونکې انکشاف پواسطه د علم او فلسفې څښتنان ورو ورو ورحل کړي.



اوس چې مو په ډېره لنډه توګه، د فلسفې له مخې، ماده او شعور وپېژندل نو به وګورو چې ښاغلی حرکت شعور او معنویت څنګه مادي بولي؟ مخکې له دې چې د ښاغلي حرکت ځینې جملې او عبارتونه راوړم، دا خبره پوره منم چې د ټولنیزو نظامونو او بیا یې د علومو دانکشاف په نتیجه کې یو لړ هغه لرغوني او زاړه افکار او عقاید کوم چې ځینو انسانانو د ابدي واقعیت په څیر منل. د مثال په توګه، په لرغوني یونان کې فیلسوفانو اټمونه د جهاني اعمار اساسي داسې خښتې بللې چې ګواکې د تجزیې وړ نه دي. همدغه اټمي فلسفه تر نولسمې پېړۍ پورې د تغیر وړ و نه بلله شوه.

په نولسې پېړۍ کې چې فزیک او نور طبیعي علوم د انکشاف یوې ټاکل مرحلې ته ته راورسیدل نو یې د اتم ذره د تجزیې وړ وبلله او د تجربو په نتیجه کې یې څرګنده کړه چې اتم تر سل لا هم ډېرې برخې لري، خو تر ټولو یې مهمې برخې الکترونونه، پروتونونه، نیوترونونه او داسې نور دي. نو ګواکې د علمونو نوې کشفونه نه یوازې د انسان په ژوند کې تغیر راووست بلکه په عقیدو او افکارو کې یې هم نوی تحول څرګند کړ.

په همدې توګه، موږ وینو چې د ځمکې ګرد والي موضوع د کوپرنیک (۱۴۷۳ ــ ۱۵۴۳ م) او کپلر (۱۵۷۱ ــ ۱۶۳۰) اروپایي نجومیانو تر زماني د قبول وړ نه وواو خلکو به تل ځمکه هواره بلله.

کله چې نوموړو او نورو پوهانو د خپلو پوهنو، استدلالونو او وسایلو په واسطه د ځمکې ګردوالي په اثبات ورساوه نو نه یوازې انسانانو آسمانو او ستورو ته لار پیدا کړه بلکه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپخوانیو انسانانو زړو او باطلو افکارو ته هم پوره ټکانونه ورکړل او ددرانه خوبه یې راکښینول.په همدې ډول ،ګورو ، کله چې د نور ماهیت او مفهوم لا پوره نه وو کشف شوی نو به ډیرو خلکو د تقدس په سترګه ورته کتل ،خو کله چې ساینس ثرګنده کړه ،چې نور د فوتونونویو داسی شدید جریان دی چې په یوه ثانیه کې دری سوه زره ( ۳۰۰۰۰۰ )کیلو متره سرعت لری ،دا حقیقت نه یوائې یو نوی کشف وګڼل شو ، بلکه د هغو افکارو او عقیدو ابطال یی هم اعلان کړ ، کومو ته چې سجدی کیدلی.

دا لوړ ثو مثاله می ځکه ثرګند کړل چې په تاریخ کې د هر نوی فکرد مخالفتونو سره مخامخ شوی او مخامخ کیږی.ددی ثخه زما منظور دادی چې د « عینیت فلسفه »باید په غور او پراخ تندی او حتا په جوړوونکی او سالم انتقاد سره ولوستله شی. ځکه چې یو لړ نوی خبری پکښې دی.

اوس به دلیکوال ثو عبارتونه راوړم ، په کومو کې چې یې شعور او معنویت مادی پدیدی بللی دی:

د کتاب په ( ۷۷ )مخ کې داسی راغلی دی «... د مادیت او غیر مادیت پیوند هیثکله جوش نشی خوړلای او که ثوک ووای چې دغه کار شونی دی ،نوایا پخپله دغه پیوند به مادی وی او که غیر مادی ؟ ماده دمادی ثخه متأثره کیدلی شی او یا بله ماده متأثره کولای شی. » په ( ۶۷ مخ کې داسی ویل کیږی: « که چیری فکر او ذهن غیر مادی وای نو په هره زمانی نقطه او مقطع کې چې مونږ هیله درلو دلی وی درول به یی ممکن وی. » نو موړی جمله هم تفسیر او ساده کولو ته ضرورت لری. ( په دی معنا چې که ذهن غیر مادی وی ، نو عطالت به یی نه درلودلی ، او کله چې عطالت موجود نه اوسی ، نو په هره زمانی مقطع کې



د هری پروسی درول هم ممکن کار ګڼل کیدلی شی ــ لیکوال .
) لیکوال په ( ۹۰ )یم مخ کی داسی وایی:« هر ټاکلی شعور د ټاکلی مادی واحد ددیا لکتیک په نتیجه کی منځ ته راځی.»

وړاندی مو ولیدل ، چې شعور یوائې او یوائې د انسان متکامل موجود ،د مغزونو محصول دی.نور مادی واحدونه ، البته ، انعکاسات او عکس العملونه لری ، او بس.

د کتاب په ( ۹۱ ) یم مخ کی داسی ویل کیږی: « کله چې شعور او لا شعور د هر مادی واحد جز لایتجزا ، یعنی چې یو له اشکالو د موجودیت ثخه اوسی ، او په ذهن او شعورکی دیالکتیک هم وجود ولری ، نو دا خبره هم باید ومنو چې په هر مادی واحد کی دشعور او لاشعور دیالکتیک هم شته او په دغه پروسه کی شعور او لاشعور هم یو په بل بدلیدلی شی...
»ددی خبری یاد به هم وکړم چې په دماغ کی مختلف مرکزونه د مختلفو وظیفو د اجراء لپاره موجود دی چې ټاکلی ارزښتونه لری.د مثال په توګه، کله چې د امریکا یا اروپا په یوه سرکی ژوند کوو او نابیره په افغانستان کی د ناټو دبی رحمانه بمباریو په نتیجه کی د خپلو افغانانو او دوستانو د وژل کیدو خبر راورسیږی نو په غمونو کی مو ډوب کړی.دغه په غمونو کی دفوری ډوبیدو پروسه چې په انسانی تیز فکر اړه لری د معنویت او شعور هغه جریان دی چې د انسانی مغز محصول ګڼل کیږی.

په همدی ډول که دیوی لیری فاصلی ثخه د یوی وحشی پیښې یو سړی داسی وبیریږی چې په خولو کی لوند خیشت شی ، دلته چې د انسان دشعور د مختلفو مرکزونو ،احساساتو او حواسو د عکس العملونو پروسه موًثره ونه ګڼل شی نو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانسان او وحشی پیښی تر منځ د ارتباط فاصله څنګه مادی وبلله شی ؟ ګواکی د همدی لاری د ذهن او شعور ډیری پیښی چی خارجی نړۍ انعکاسات څرګندوی هغه مادیت نه دی پر کوم چی بحث کیږی.

( دمخه هم دغه ډول موضوع ته اشاره وشوه او دعینیت په فلسفه کی په دغه موضوعاتو په خپل وخت کافی بحثونه شوی او په تاریکو اړخونو رڼا اچولی شویده. د بلی خوا د پخوانیو فلسفی نظریاتو او تیوریو په نسبت د عینیت دفلسفی نظریات بنیادی ماهیوی فرق لری. د عینیت فلسفه په پخوانیو ترمنولوژیکي ، متودولوژیکي ، تیماتیکی ( مفرداتی ) ابعادوکی د ځاییدو ګنجایش نلری ،خو ددی ضرورت سره سره مالا هڅه نه ده کړی د عینیت د فلسفی د تیوریکی فورمولبندیو او قوانینو د ضرورتونو مطابق ، چی بی له هغی یی هم افاده او پوهاوی ډیر مشکل دی ، د هغی په ترمنولوژیکی ، متودولوژیکی او موضوعاتی او مفرداتی قضایاوو او مسایلو کی بدلون راولم ، ځکه چی افاده او پوهاوی به یی لا پسی مشکل شی ، نو په نظر کی لرو پورتنی مسایل د عینیت دفلسفی د قانونمندیود هضم او انطباق په پروسه کی په تدریجی شکل د پخوانی زاړه ترمنولوژیکی ، متودولوژیکی او موضوعاتی او مفرداتی سیستم او بیروکراسۍ کی ځای ونیسی. خو د محترم کاندید اکادمیسن محمد ظاهر «افق» د لارښوونی په نسبت چی تل زما ډیر نژدی دوست ، مشوق ، ملاتړی او اندیوال پاتی شوی او په مسؤ لیت اوپوره جرئت سره یی زما په پخوانیو او موجوده لیکنو تقریظونه لیکلی ،نور پوهان یی هم دغه کار ته رابللی او باور



لرم په راتلونکی کی به هم په همدغه شهامت سره دوام ورکړی ، یوه لنډه یادونه وکړم. په پخوانی فلسفی نظریاتو کی د شعور او مادی د متقابل مناسبت په اساس جهان په کل کی په مادی او معنوی ، یا عالم الاسباب او عالم الارواح او ټولی پدیدی او خلقتونه هم په مادی او معنوی ویشل شوی وو . دی مسئلی ته دفلسفی اساسی مسئله ویل کیده او ټول فلسفی تیوریکی ویش په همدغه بنیاد منځ ته راغلی او تر نن ورځی په همدغه مسئلی پوری تړلی پاتی دی. د فلسفی ګمراهی د همدغه اساسی مسئلی څخه شروع شوی ده.څرنګه چی ماده او شعور ذاتی توپیر نلری او دواړه یو شان قانونمند وجود لری. قانونمندی شکل د موجودیت دمادی او یوائی په ماده کی تحقق پیدا کولی شی. نو ځکه دغه ویش بی بنیاده وو ، تر نن ورځی پوری فلسفی څیړنی په علمی اساساتو نه وی ولاړی ، ډیری فلسفی مکتبونه او فلسفه پوهان اوس هم فلسفه علم نه بولی ، حتا وتلی ماتریالیستان په ټولنیزو او شعوری مسایلو کی ایدیالیست پاتی دی ، مارکس ماتریالیزم په دیالکتیکی او تاریخی ویشی ، حال دا چی په تاریخ کی دیالکتیک او په دیالکتیک کی تاریخ وجود لری او دواړه د مادیت مستلزم دی ،لنین ماده هغه عینی واقعیت ګڼی چی د انسان په ذهن کی انعکاس پیدا کولی شی ، یعنی د انسان ذهن معیار د عینیت او حقیقت بولی ، خو واقعیت دادی چی ډیر حقایق او عینی واقعیتونه د انسان په ذهن کی انعکاس نشی پیدا کولی ، که دقیق ووایم انعکاس پیدا کوی خو درک یی نشی کولی. دانسان مغز اکثراً په لاعلاجه امراضو اخته کیږی ،او مغز تر اخره پوری بی خبره پاتی کیږی ، لکن زمونږ لا شعور خپل ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکانات د هغی په دفاع کی پکار اچوی. د بلی خوا ډیر عینی واقعیتونه لکه کوچنی ذرات، شعاعات او نور مونږ هیڅکله د خپل شعور په قوت نه شو پیژندلی او نه زمونږ په شعور کی کله انعکاس پیدا کولی شی او ټولی زړی فلسفی همدغه پدیدو ته ایدیال ارزش قایل دی، خو په حقیقت کی عینی پروسی او عینی واقعیتونه جوړوی. د مثال په ډول د لمر فوتونونه چی هم موجی او هم ذروی ماهیت او موجودیت لری او له ځمکی څخه ۱۵۰ ملیونه کیلو متره مسافه لری، همداسی د نورو کهکشانونو څخه چی له ځمکی ملیونونه او ملیاردونه نوری کلونه لیری واقع دی شعاعات او ذرات یی تر ځمکی رارسی او د کلوروفیل په حجرو، د انسان په بدن او ټولو موجوداتو کی د لایتناهی غذایی، انرژیتیکی موادو ذخیری او نور هر ډول امکانات برابروی، خو د عینیت فلسفی یوائی په هغه بنیاد چی لوی خدای د خپلی مقضی الامر ارادی او لوی علم له مخی دا لوی جهان قانونمند پیداکړی، قانومند پایی او قانونمند بدلون او پرمختگ مومی او د خپل عالم خلف «انسان» لپاره یی مسخر، مقدر او په معرفت یی مکلف گرځولی، خپلی خیږنی پیل او د خپل خدای په استعانت او پیرزوینی او د پوهانو په ملاتړ خپلو خیړنو ته دوام ورکوی. ـ لیکوال )

په هر صورت، نوموړی د شعور او مادیت موضوع چی د بیولوجی، کیمیا او سایکالوجی غوندی علومو د نور انکشاف سره نژدی اړیکی لری، په نویو بعدونو کی به وده ومومی او ښاغلی حرکت به د خپل نظر د زیات غنی کیدو لپاره نوی وسایل، اسناد او استدلالونه ومومی او نوی انکشافات به یی نصیب شی.



په پای کی به ووایم چی په کتاب ډیر زیار ایستل شوی او ډیر فلسفی ارزښت لری، نو بیا هم پر یو لړ جملو او عباراتو لکه د (۹۵) مخ «... همغسی چی زما شعور د بل چا او د بل څه د لاشعور په نسبت شعور گڼل کیږی، په همدی ډول د بل چا او بل څه شعور بیا زما د لاشعور د متقابل تناسب په نسبت هم باید شعور وگڼل شی.» نوی نظر وشی، د لیکنی پیچلتوب به ورک شی.

د دی لپاره چی لیکنه بی ځایه اوږده نه شی نو به د نتیجی په شکل ووایم چی د ښاغلی حرکت فلسفی لیکنه ډیر مفاهیم لری چی باید استفاده ځینی وشی او د فلسفی مینان یی باید داسی په غور ولولی او پر ویی لیکی چی په راتلونکی کی یی حتا لیکوال هم له نظریاتو څخه استفاده وکړای شی. البته، د کتاب مطالعه نه باید یوائی د شکل له مخی وی، بلکه د محتوا په اساس داسی جدی او دوستانه پیشنهادونه او انتقادونه وکړل شی څو په پښتو ژبه کی د یوه پوره درانه او معتبر اثر په حیث را منځ ته شی.

زه به په خپل نوبت د کتاب د نور ښه والی په خاطر د غه لاندی څو پیشنهادونه د کتاب لیکونکی ښاغلی ډاکټر حرکت ته وړاندی کړم:

۱ ـــ په لیکنه کی یو لړ داسی مقولی او عبارتونه راغلی دی چی د بل چاپ په وخت کی باید نوی نظر پر وشی، تشریح او ساده شی.

۲ ـــ ځینی جملی او عبارتونه چی د فارسی اثارو څخه را اخستل شوی او په خپل فارسی متن کی راغلی دی، نو که د بیا چاپ په وخت کی پښتو ژبی ته راواوړی، نو به کتاب په یوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیکوال په ژبه لیکل شوی وی.

۳ ــ د کتاب په ځینو برخو کی چي تضاد وینه ښکاری کار غواړی ،ځوله دغه تکلیفه راووزی.

۴ ــ دځینو مهو خبرو او قولونو ادرسونه بشپړ شی نو بی له شکه به داثر اهمیت نور هم زیات شی.

۵ ــ د بیا چاپ په وخت کی د موضوعاتو یو ټاکلی او آزاد فهرست هم پوره ضرورت دی



# د عینیت فلسفي تیزس په باب

## د محمد رحیم یوسفي د نظر ټکي

دپنځویشتو کلونو څخه به زیاته موده کیږي چي د پورتني سر لیک لاندي د هیواد په مطبوعاتو کي په پرلپسي توګه علمي فلسفي مطالب

خپریږي. پدي لړ کي په ۱۹۸۶ م کال کي دافغانستان دهغه وخت د ملي دفاع وزارت دسیاسي چارو د لوي ریاست لخوا ، د « عینیت فلسفه » تر عنوان لاندي ، دډاکټر حرکت یوه رساله هم چاپ شوي ده. د ۲۰۰۴ م کال څخه په مسلسل ډول د «حرکت » په دوه میاشتینۍ خپرونه کي چي د المان د اتحادي جمهوریت د ایسن په ښار کي خپریږي ، هم دعینیت دنوي تیزس په باب په پرلپسي ډول خپروني کیږي. دهغه میني او علاقي له مخي چي زه ئي له کوچنیوالي څخه د فلسفي مسایلو سره لرم او سره ددي چي پدي باره کي مسلکي زده کړي نلرم ، ما هره مقاله ځو ځو واري لوستلي او خوند او ګټه مي تري اخیستي ده. دا کار به زما په څیر نورو لوستونکو هم کړي اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي نوي تيزس مبتکر او بنسټ ايښودونکي ډاکټر سيد شير اقا حرکت دي چي په ټولنيزو علومو کي ئي لوړي زده کړي او په تخنيکي علوموکي ئي د دکتورا په کچه زده کړي کړي دي. که په واقعيت سترګي پټي نشي او هر څه بي پري چچ او آزاد قضاوت وشي ، ډاکټر صاحب حرکت د خپلي خپروني له لاري د سياسي او عيني فلسفو د ارګانيک انتګريشن په بنياد ورځني مسايل مبتکرانه ارزولي او دواقعبينانه حل لاري ته ئي ځان رسولي دي. زما په عقيده يوائي د عينيت د فلسفي ليد لوري له مخي دغه ډول فلسفي امتزاج او ترکيب ممکن ګڼل کيدي شي. په قلم دي برکت او سيٍ.

ډاکټر حرکت وائي: «که فلسفه ډيرو پوهانو مړ ښامار ګڼلي او يا خوئي د تيرو زمانو علم بولي ، زما په آند فلسفه علم دي او هيڅوک د فلسفي تنګنظرۍ له مخي ، د فلسفي علم او فلسفي قانونمندۍ څخه هيڅکله انکار نشي کولي».

تاسو چي د دوه نيمو لسيزو راپدي خوا د عينيت د فلسفي مسايلو په وضاحت کي قلم پورته کړي او فلسفه د خداي (ج) دلوي علم يوائيني برحق او مقدر خلف علم ګڼۍ او ټولي بشري شعوري لاسته راوړني د خداي (ج) د مقضي ارادي له مخي په قانونمند مسير رهبري او ټول علوم او جمعي بشري خود ،شعور او عمل د حتمي ګمراهۍ څخه په ژغورلو عقيده من ياستۍ او د خپل عمر د نيمائي څخه د زياتي برخي کلونه مو زيار او زحمت ګاللي ،بي له شکه چي ستاسو دا زيار او زحمت د هر افغان لپاره يو بي ساري او بي جوړه تاريخي خدمت دي چي د هيواد د ځلانده تاريخ په علمي او فرهنګي لاسته راوړنو کي به ثبتيږي او ويار به ئي نه يوائي تاسو بلکه ټولو افغانانو



پوري اړه ولري.

ماچي تر کومه ځايه د عينيت د فلسفي مقالي لوستلي او د نورو فيلسوفانو د علمي او فلسفي ليکنو سره مي پرتله کړي ،دي پايلي ته رسيدلي يم چي د «عينيت فلسفه» کاملاً يو نوي تيزس دي چي د يوه افغاني علمي شخصيت لخوا نړيوالو ته وړاندي کيږي. تاسي چي په علمي او فلسفي دلايلو ذهنيت نسبي عينيت او هر مشخص ذهنيت عيني واقعيت بولئ، د فلسفي اساسي مسئله او د ټولو فلسفي مکتبونو تر منځ انګړونه ، لکه چي تاسي ورته اشاره کړي ،ړنګيږي او فلسفه په يوه نا متجانس مخلوط بد ليږي. څه ډول اول تاسي دا لوي جرئت کړي او بيا ولي فلسفه پوهان تر اوسه پدي باره کي چوپه خوله پاتي شوي دي ؟

افغانستان د فرهنګونو ځانګو خو کونړ د فلسفي سيدانو مرکز ګڼل کيږي. نو د کونړ د اسمان تر څوکو غرونو ، د بي شميره درو مستو او ځبانده خوړونو او سيندونو او چي ځمکه تري لمر په سترګو نشي ليدلي ګڼو ځنګلونو لکه څرنګه چي ئي علامه سيد جمال الدين افغان ، د شرق ستر نابغه او فيلسوف پخپله غيږ کي روزلي ، تاسي ته ئي هم جرئت درکړي چي د «عينيت فلسفي» د نوي تيزس په وړاندي کولو سره زاړه فلسفي ديوالونه ړنګ او په کل کي د واحد فلسفي بنياد ډبره کښيږدئ. داسي معلوميږي چي علم او فلسفه نن سبا د کونړ د سيدانو په ميراث اووختي او وګورو چي سبا به څه پيښيږي ؟

زه پدي آند يم ، که چيري زوړ يونان او يوناني ژبه د سقراط ،افلاطون او ارسطو تخيلي متافزيکي او مابعد الطبيعه متناقضو فلسفودوه نيم زره کاله د علم او تمدن په مرکز اووتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه بد لولي شول ،د عينيت فلسفه هم داړونده پوهانو پـه كمه توجه او ملاتړ سره ددي جوګه ده ،دغه شان رول دافغـاني علمـي زيربنـاء او د پښتو ژبـي پـه پرمختـګ كـي ولوبـوي. شـك نـشته چـي د عينيـت فلـسفي بنـسټ ايـښودونكي ډاكتـر حركـت تـه پكـار دادي چـي نـه يـوائې د خپلـي خپرونـي بلكـه د ټولـو افغـاني ټـولنيزو رسـنيو ، علمـي موًسـساتو او سـازمانونو لـه لارې د سـمينارونو او مبـاحثو پـه جوړولـو دخپلـو عمـده تيزسـونو دتبليـغ پـه باره كې هڅې وكړي.

شـرط نـدي چـي مـونږ يـوائې د خپلـو خـداى بخـښلو پوهـانو پـه قبرونـو د ګلونـو ګيـډۍ كـښيږدو او ددعـاء لاسـونه ورتـه پورتـه كـړو . پكـار دادي ، ددغـه ډول مـسايلو سـره انتقـادي كـړه وړه ولـرو . لكـه زه چـي پخپـل كـم تـوان سـره د عينيـت دفلـسفي پـه بـاره كـي خپـل نظـر وړانـدي كـوم ،نـور پوهـان چـي د علومـو او بـا الخـصوص د فلسفي پـه بـاره كـي د لـوړو تحـصيلاتو او پـوهي خاونـدان دي ، بايـد د دغـه ليكنـو دعمـده تيزسـونو سـره انتقـادي كـړه وړه ولـري. هغـه چـي دتـا ئيـدوړدي تائيـد اود تعليمـي موًسـسو اسـتادان هغـي تـه پـه خپلـو پروګرامونـو كـي د بكـر موضـوعاتو پـه شـكل ځـاي وركـړي ، او هغـه برخـي چـي دتائيـد وړنـدي پـه قطعـي ډول رد شـي . پــه پرمختللــو هيوادونــو كــي ژورنالیــستان ، خبرنګــاران ،اسـتادان او پوهـان پدغـه ډول مـوادو پـسي سـرګردانه ګرځـي چـي دهرچا څخه دمخه تري پخپله استفاده وكړي .

پـه پاي كي د نباغلي ډاكټر حركت څخه زما هيله داده :

ـــ تـر ډيـره ځايـه هڅـه وشـي چـي مطالـب پـه سـاده ، فـصيحه او بليغه ژبه وليكل شي ؛

ـــ دخـارجي اصـطلاحاتو پـه ځنـګ كـي د امكـان پـه صـورت



كي پښتو معنا وليكل شي ؛

ـــ كلـه چـي كتابونـه چـا پيـږي ، نـه يـوائې پـه افغانـستان كـي بلكـه پـه ځينـي خـارجي ملكونـو كـي هـم كتـاب خـانو او تعليمـي موًسـساتو تـه توزيـع شـي . ستاسـي د صـحت او بريـاليتوبونو پـه هيله

**محمد رحيم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

فلسفه خورا قدیمي او د شکل او ماهیت له مخې د خدای د لوی علم یواځینی بشري ذهني خلف علم ګڼل کیږي. د نړۍ ستر علمي مرکزونه، نوابغ او وتلي پوهان له ډیرو پخوا زمانو څخه ترنن ورځې په فلسفي څېړنو بخت دي. په نړۍ کې د ټولو تولید شوو کاغذونو زیاته برخه یواځې په فلسفي لیکنو توره شوې او د نړۍ ټولې شخصي، ټولنیزې او دولتي کتابخانې، مساجد، معابد کلیسي، کنیسي او نور په دغه کتابونو ډکې او نه یواځې د دغه بې شمیره بنیادونو دیوالونه بلکه په سمه او غر ولاړې او پرتې هواري تیږې د فلسفي مقولو، قوانینو او فورمولبندیو د یادګارونو د زیرمو په توګه ساتل کیږي. ځانګړي علوم په حقیقت کې وجود نه لري او د ټولو پدیدو او خلقتونو د زیږندي، ځرګندونو، بدلونونو، تکامل او ډول ډول حالتونو محاسبه او فورمولبندۍ یواځې په اصطلاح د ځانګړو علومو د متداخل فلسفي ارګانیک عملیاتي قانونمند انتګرېشن له لارې ممکن ګڼل کیږي.

خو د دې ټولو خبرو سره سره، بیا هم د ځیني پوهانو په آند

د فلسفې په نامه نه کوم ټاکلی ځانګړي علم وجود لري او نه دوی فلسفې ته د علم په نامه کوم ارزش او حیثیت قایل دي.



دوی فلسفې ته د لاس د شپږمې ګوتې په سترګه ګوري او خصوصاً د سرمایداري نظام په ننني سوپر ګلوبال امپریالیستي دوران کې چې حتا بشري د خیر ښیګڼې ارزښتونه یواځې د شخصي سود او ګټې په تله ارزول کیږي او بې ردیفه، بې قافیې او بې وزنه شعر و شاعري او

تخیلي زړې سفسطې یوشان د کهالت او بې کارۍ مصروفیت ګڼل کیږي او ټول علوم چې د تخنیکي ـ اقتصادي پر مختګ سره سم پر مخ ځي فلسفه د تاریخ ځپلې پدیدي په حیث لکه «لینډۍ چي نه په سر تار لري او نه په غوږو کار» فلسفه هم د دغه نړیوالو پر مختګونو سره څه اړیکي نه لري او په نزولي قوس د خپل انحطاط لار وهي. زه په دغه باره کي تبصره ځکه نه کوم چې د نیکه مرغه دغه موضوع محترمو

ډاکټر شاولي، کاندید اکادمیسن محمد ظاهر افق او نورو پوهانو د فلسفې د علمی ماهیت ارزونه او کره کتنه پورته په خپلو لیکنو کې کړې او ما هم د ورځني مروجه علومو او قانونمندیو له مخې، د دې کتاب د ډیرو حساسو، ژورو او مهمو علمي ـ فلسفي مسایلو او موضوعګانو نتایج او پایلې د مروجه ترمنولوژۍ، متودولوژۍ او فورمولبندیو په بنیادارزولي او د علمي دودونو او د ساتیرو په بڼه وړاندي شویدي.

مونږ تر ډیره ځایه په خپلو لیکنو، پریکړو او فورمولبندیو باور لرو او دلومړۍ ورځې څخه مو په ملي او نړیوالـه کچه پوهانو ته د ارزونې په خاطر وړاندي کړي او حتا د خپروني په کچه د سمینارونو

او د ګڼو معیاري مقالو، رسالو او د فلسفي انجمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړيدو د لاري د ټوليزګـډ علمي کار وړانديزونه کړيدي. سره ددې چې ډيرو دوستانو زه د عينيت فلسفې علمي تيوريکي څيړنيزکار او د خپرونې نشر دوام ته هڅولي يم او ځينې دوستانو کله ناکله د خپرونې سره خپل مادي او معنوي ملاتړهم نه دي سپمولي او له دې

لارې يې په دغه کاملاً نوي او بکر علمي بحثونو کې يې زما رښتينولي ،باور ، عزم اومورال لوړ ساتلي او لاپسې زيات کار او زيار ته هڅولي يم ، خو له بده مرغه د فلسفې نوې علمي بنياد د ايجادولو

اودتيرو فلسفي تيوريو د غورچاڼ په درانه کار کې چې په اوسنيو هيڅ شرايطو کې ديوه قوي ټيم ، يوه مملکت اوحتا نړيوالو لپاره چې نن ورځ يوائې د سرمايې په حرص کې غرق دي ناشوني کار ګڼل کيږي ،زه لا تر اوسه د خپل سفر په لار کې يوائې پاتې يم اوزماله دغه پروژو سره نه د هيواد والو او نړيوالو له خوا بې شايبه ګډ کار علاقمندي ښودل شوې اونه د بې شايبه ګډ کار ختمه برابره شوې او نه يوه له دغه پروژو څخه کوم بل ځای د بلچا له خوا عملي شويده .

زه پدې عقيده يم چې پخوا هم فيلسوفان او پوهان د خپلو څيړنو په سمو او ناسمو پايلو ښه پوهيدل ، خو څرنګه چې په قانونمند ډول يې خپلو څيړنو ته دوام او پراختيا نه شوه ورکولې او نه يې د نړيوالو لپاره د قناعت ثبوتي دلايل وړاندې کولي شول، قصداً يې خپلې سمې او ناسمې تخيلي مفکورې اوارزونې په مغلقو اومهملوالفاظو او کڅوړو کې تاو کړې او د تخيلي جادويي ،فنتازي او ډول ډول غامضو او د قانونمند منطقي تسلسل څخه خالي تيوريو په بڼه د نورو د تيروتنې په



خاطر وړاندي کړيدي او اوس چې علمي ،تخنيکي او اقتصادي پرمختګونه د خپل ديناميزم په صعودي قوسونو لاروهي ،بيا هم په علمي څيړنيزو مسايلو کې دغه ځان غولوونکي او بل غولوونکي وضعه په پخواني حال باقي پاتې ده.

دعينيت فلسفي پخپل لومړي قدم پورته کولواو د «ذهنيت نسبي عينيت او هر مشخص ذهنيت د عيني واقعيت» دمقولې په افادې سره په علمي رڼه ورشو کې دغه غولوونکي او تورتم حالت ته دهميش لپاره د پای ټکی کښيښودل شو او وروسته له دې به ممکنه نه وي څوک د خپلې ناپوهۍ له مخې نورو ته دنا پوهانو نسبت.

دغه اثر چې ګرانو لوستونکو ته وړاندي کيږي د اوس لپاره له دري برخو څخه جوړ او ديوې مجموعي بڼه لري.په راتلونکي کې کيدلي شي دغه برخې نوري هم زياتې او هره برخه چې نن نيمګړې بريښي تکميل او دمنځپانګې له مخې لا پسې پوره اوهره برخه د ځانګړي اثر په شکل چاپ او درنو لوستونکو ته د ارزونې او ګټې اخيستنې لپاره وړاندي شي.

داثر لومړۍ برخه د «عينيت فلسفه»تر عنوان لاندې وړاندې شوې اود همدې عنوان لاندي زمالومړی اثر د ۱۳۶۵ هجري شمسي کال د جدي په مياشت کې د افغانستان د ملي اردو په مطبعه کې د سياسي چارو د لوی رياست له خوا چاپ او په ټولو نظامي او ملکي مؤسساتو او مينه والو وويشل شو .

په دغه برخه کې د لومړي ځل لپاره په ډيرو مهمو او تازه فلسفي مسايلود عينيت فلسفې د ليدلوري له مخې هراړخيز بحثونه شوي چې کيدلي شي ددرنو لوستونکو د پام وړ وګرځي. د فلسفې اساسي مسّله چې د پخواني فلسفي طرز

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفکر له مخې یې فلسفه په بې شمیره فلسفي مجموع الجزایر ،یو تربله ضدو نقیض او نه پخلا کیدونکو تیوریو ویشل شوې وه ،له سره بنیادي کره کتنه شوې او په توضیحي ډول دیته ګوته نیول شوې چې مادي او معنوي پدیدې په عالم الاسباب هیڅکله ذاتي توپیر نه سره لري ، نه دفلسفې اساسي مسًله جوړیدلی شي او نه دهغې له مخې ضدو نقیض فلسفي نظریات او تیورۍ رامنځته کول پکار دي.

مونږ همداسې د نوي طرز تفکر له مخي کړای شویدي د نوي لید لوري له مخې د شعور او لاشعور متقابل دیالکتیکي هر اړخیز مسایل وڅیړو او په همدغه بنیاد د خدای د لوی ذات دخلیفه په حیث د انسان رابطه د خپل معبود سره په علمي قانونمند ډول فورمولبندي کړو .مونږ د فلسفې د یوې اساسي مسًلې پرځای د مثال په ډول ډیر رښتیني فلسفي اساسي مسایل فورمولبندي او کیدلي شي ډیر نور هم فورمولبندي شي .مونږ وکولي شول دپخوانیو فلسفو په آند د دین او فلسفې نه پخلاکیدونکې دښمنۍ په دوستۍ واړوو او په ګوته کړو چې دین او فلسفه یو شان د خدای او خدایي خلقتونو دمعرفت رسالت په غاړه لري او دهغوی تر منځ هیڅ ډول تضاد وجود نه لري او د دین او روح د ماهیت په باره کې مو د لوی خدای د پاک کلام د احکامو له مخې خپل نظر هم وړاندي کړي دي. مونږ د پخوانیو فلسفه پوهانو لکه فارابي، ابن سینا ،رازي ،مولانا جلا ل الدین بلخي، فیثاغورث ،سقراط ، افلاطون ، ارسطو ،دکارت ، کانت ،هګل فارابي، ابن سینا ،رازي ،مولانا جلا ل الدین بلخي ، ابن رشد ،مارکس ،انګلس ،لنین او نورو اسلامي او غیر اسلامي مشهورو فلسفه پوهانو د نظریاتو د کره کتنې



په ترڅ کې خپل مشخص نظر په څرګند ډول افاده او وړاندي کړي دي. مونږ دا هم ویلی چې دا جهان د خدای دلوی علم له مخې د «کن فیکون»د حکم په صدور قانونمند پیدا ، قانونمند پایی او قانونمند بدلون او تکامل مومي او سره ددې چې جهان په لحظوي بدلون کې دي او قدیم په قدیم کې نور وجود نه لري ،حال په مستمر لحظوي بدلون کي دي او حال هیڅکله په ګورت کي نه راځي او په ابدي نظام کي ابد هم هیڅکله ابد ته نه رسیږي ، بیا هم د خدای په قانونمند نظام کي د قدامت څخه تر ابد پوري په هره لحظه کي چې هره محاسبه وغواړو ، سرته یې رسولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حرکت

حرکت د یوي خپروني نوم دي چي د مطبوعاتي نړۍ په ورشو نوي قدم ږدي. دغه نوم که پرون د شخصي یا کورني تخلص، نن د خپروني د نوم او سبا ته د محترمو پوهانو او عالمانو په شریکه هڅه په نوي فلسفي فکري محور، نوي علمي څېړنیز متود او یا نوي فلسفي مکتب بدلیږي، په ټولو حالاتو کي د دغه فلسفي ـ فزیکی مقولي لوي جهاني تکویني ماهیت تل په نظر کي وو او اوس هم پدي عقیده یو چي حرکت د نوي فلسفي طرز تفکر نوم دي چي ټولي پدیدي او واقعیتونه یوائې د علمي منطق، استدلال او مناسبتونو له مخي پرته د ذهنیګریو په پوره امانت دارۍ سره څېړي او د تل د پاره په علمي اصولو او قوانینو باور لري او ورته وفاداره پاتي کیږي.

دا نو مونه به هیڅکله شخصي ځانګړي اړه ونلري او ویاړ به ئې د هغه چا په نصیب وي چي پدي لار کي زیات زیار وګالي، زیاتي بریاوي ترلاسه کړي او د دغه فلسفي نوي طرز تفکر د قوانینو او مقولو د فورمولبندیو په سیستماتیک تشکل او د یوه نوي فلسفي مکتب د ارګانیک علمي جوړښت په رامنځته کولو کي پایدار او چټک قدمونه واخلي. خو زما په عقیده دغه ډول پدیدي همیشه د عصر او زمان د جمعي شعور مظهر او د حي علي الفلاح چیغه وي چي یوه تاریخي مرحله په بله اړوي، د اولسونو



د قیوداتو کړۍ ماتوي، نوي ساه او نوي ازادي ګاني وربښي، نو ځکه یې ویاړ او ګټې هم جمعي او شریکي وي.

په حقیقت کې د دغه نوې فلسفې فکري نظر هغه وخت را پیدا شو کله چي د شلمې پیړۍ په اتمه لسیزه کې د «عینیت فلسفه» تر عنوان لاندي لومړي ځیني مقالي او وروسته د دغه مقالو مجموعه په کابل کي چاپ او د پراخه ارزوني د پاره پخپله په افغانستان او پخواني شوروي اتحاد کي علمي اکادمیکو موًسساتو او مقاماتو ته وړاندي شوه. خو له بده مرغه تر اوسه پوري ئي په هکله لازم انتقادي نظر ندي لیکلي شوي. نوموړي مقالي به د همدغه خپروني دلاري یو ځل بیا د یوځه تغیر او تکمیل په راوستلو سره ارزوني ته وړاندي شي. ځکه د هغه وخت د شرایًطو په پام کي نیولو سره په هغي کي یوڅه شخصي سانسور او نرمش رامنځته شوي وو.

د حرکت خپرونه، چي ټول علمي، سیاسي، ټولنیز او اقتصادي مسائل به په عام ډول علماً څېړي خو په خاص ډول به د نوي فلسفي فکري نظرلار تعقیبوي. نو ځکه ئې د «حرکت» په نامه نوموؤ . حرکت نوي تیزس دي، حرکت په عالم الاسباب کی د خداي د لوي علم د عامي قانونمندۍ او د هغي د ټولو خصوصي حالتونو په پروسه کي د ټولو پدیدو د ظهور او متقابلو اړونده مناسباتو د علت او معلول مسبب ګڼل کیږي. دا لوي جهان موجود دي ځکه چي متحرک دي او متحرک دي ځکه چي موجود دي. دا جهان همغومره متنوع، متفاوت، رنکارنګ او متغیر دي لکه څومره چي حرکتونه متنوع، متفاوت، رنګارنګ او متغیر دي. دا جهان همغوره ابدي دي لکه څوره چي حرکت ابدي دي. لوي خداي د خپل لوي علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعامي قانونمندی له مخي دلوي جهان او حركت متقابل ابديت او موجوديت يو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول او همداسي قائم با الذات او خلل ناپذير ګرځولي او يواځي دقضاء او قدر دلوي علم دجبر او اختيار له مخي په هغي كي تغير او تصرف ممكن ګڼل كيدي شي.

پدي ورستيو وختونو كي په افغانستان او دهغي دباندي ډيري خپروني خپريږي. هغه ځوک چي په ايماندارۍ سره دغه كار سرته رسوي مونږ ئي هركلي كوؤ. ددغه خپرونو په سرخطونو كي معمولاً ليكل كيږي: بي طرفه ، ازاده ، مستقله ، ملي ،اسلامي او داسي نور.مونږ ټولي دغه ډول پديدي نسبي ګڼونو ځكه دلومړۍ ورځي څخه وايو چي مونږ هيحكله بي طرفه نه يو.مونږ ټاكلي او مشخص هدف، طرف او ارمان لرو. زمونږ طرف دهرڅه دمخه زمونږ ګران هيواد افغانستان ، افغان اولس، دهغوئ ملي ګټي ،منلي رسوم ، عنعنات ،عقايد او مقدسات او وروسته له هغي بين المللي او عام انساني تعلقات او تعهدات دي چي په پوره ايماندارۍ به دهغي پلوي او دفاع كوؤ او نور به هم دي كار ته اړ باسو.

دازادۍ، استقلال او ملي موقف په باره كي زمونږ نظر دادي چي دقضاء او قدر دعام قانون له مخي مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نلري او هر اولس ، ، هر دولت او هر ځوک پرته له امتياز څخه مجبور او مكلف دي يو شان بين المللي عامه نظم ، منل شويو تعهداتو ،قوانينو او نورماتيفونو ته غاړه كښيږدي. دسر غړونو په صورت كي به زمونږ دريز دهميش دپاره متقابل وي.

دملي او بين المللي تناسب په سيالۍ كي به زمونږ



موضعګيري دتل دپاره د بين المللي اصولو او قوانينو په نظر كي نيولو سره سره دملي موقف څخه د كلكي دفاع په طرف وي.

اسلام زمونږ دافغانانو او ديوه مليارد څخه زيات مسلمانانو بر حق دين دي. په هغي پا بند او كلک معتقد يو. د نورو اديانو دپلويانو درناوي كوؤ او په مقابل كي ئي دجبر او زور استعمال روا نه بولو او يواځي دوما علينا الا ا لبلاغ اصل او حكم ته معتقد يو. خو هغه ځوک چي په ناروا او سپين ستركتوب سره تروريزم ،بنياد ګرائي او يا بل هر ډول خرافات داسلام دنوم سره تړي او پدي بهانه خپل ناروا سياسي اهداف پر مخ بيائي زمونږ دپاره هيڅكله دمنلو ورندي او پدي باره كي سپيناوي خپله ملي او اسلامي دنده بولو.

مونږ افغانستان دټولو افغانانو ګډ كور بولو او كومي دښمنئ او بي اتفاقئ چي دمغرضو هيوادونو او دهغوئ دبريڅو لخوا دورونو قومونو تر منځ ايجاد شوي دهغي دله منځه وړلو او دوروري دباوري فضاء درامنځته كولو دپاره به هڅي كوؤ. مونږ پدي كلک باور لرو چي دافغان اولس خوشبختي ، پرمختګ او پايښت په ملي وحدت كي دي. هغه به دستركو دكسي په خير دبين الافغاني او بين المللي منل شوؤ اصولو له مخي په پوره ايماندارۍ او تقوا سره ساتو.

مونږ دګاونډي ، اسلامي او دنړۍ دټولو هيوادونو سره د بين المللي قوانينو او اصولو سره سم سيال مناسبات او دوستي غواړو او په دغه اصولو پا بندي خپله ملي ، اسلامي او بين المللي مسؤليت او دين ګڼو او دمتقابل لوري څخه هم همدغه ډول تقاضا لرو.

مونږ په بين المللي منل شوؤ قوانينو ،اصولو ،تعهداتو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



منشورونو ،پریکړو ، . . .بانـدي دټولـو لویـو او وړو هیوادونـو یـو شـان پابنـدي غـواړو او داکـاردبین المللـي نیکـو اړیکـو ،دتروریزم لـه منځـه وړلـو اونړیـوالي سـولي دتـأمین عمـده او اساسـي اصـل او یوائیني ضامن ګڼو.

دا خپرونـه بـه پـه عمـده ډول پـه پـښتو او دري ژبـو خپریـږي او تنـا سب بـه ئـي یـوائې پـدي پـوري اړه ولـري چې څـوک څومره اوپـه کومـه ژبـه خپلـي لیکنـي کـوي او مـونږ تـه ئـي سـپاري هغـه لیکوالانـو تـه چې زمـونږ فکـري لار پخپلـو لیکنـو کي پـه نظر کي نیـسي او یـا پـه انتقـادي ډول مـونږ سـمي لاري تـه رهنمـائي کـوي مخکـي لـه مخکـي کـور ودانـي وایـو او دزړه لـه کـومي مننـه ور څخـه کوؤ.



# فلسفه علم دې؟

لـه هغـه ورځـې څخـه چې د لـومړي ځـل لپـاره باشعوره او دعقـل خاوندانسان پـدې نـړۍ او یـا دخدای دلـوی جهـان پـه کـوم بـل کـونج کـې سـترګې وغړولـې، پـه ژونـد کـې یـې دلـومړې ځـل لپـاره لمـر راوخـوت ورځ شـوه، پریـووت شـپه شـوه، پـسرلې شـو بـوټي شـنه شـول، اوړې شـو تخمونـه یـې ونیـول اوپاخـه شـول، منـې شـو تخمونـه یـې ورژیـدل، ژمـې شـو بـوټي وچ شـول او پـه ځمکـه راپریوتـل، اسـمان وریـځ شـو بـاران شـو ، ږلـۍ شـوه، واورې شـوې، پـه اسـمان کـې بریـښنا شـوه، غـړومبښ شـو او یـا یـې دطبیعـت بـې شـمیره رنګینیـو او خـدایي نـورو بـې شـمیره خلقتونـو تـه پـام شـو ،دهمغـې ورځـې څخـه فلـسفي څیړنـې شـروع شـوید ي.فلـسفي علـم ،همغـسې لکـه چې پـه دې لحظـوي بدلیـدونکي جهـان کـې مطلـق حقـایق وجـود نـه لـري ، هیڅکلـه مطلـق حقیقـت نـدې ، یـوائې دخـدای دلـوی علـم بـشري ذهنـي خلـف علـم ګڼـل کیـږي او دعینـې جهان ، ټولنې او شعور دعامو قوانینو څخه بحث کوي .

دبـشر دپیدایـښت پـه لومړیـو وختونـو کـې هـیڅ ډول فلـسفي انتزاعـي تفکـر او حتـا ابتـدایي قانونمنـدیو او ډیـرو سـاده علمـي کـړو وړومقولـو ،قوانینـو او قانونمنـدیو هـم وجـود نـه درلـود. او هـر عمـل او عکـس العمـل دغریـزې، احـساساتو اوعواطفـو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچه سرته رسيدل. نه دفسلفې او نه بله کومه داسې اصطلاح موجوده وه چې دعلم په واقعي مفهومرښتياې دلالت وکړي. بشرد بې شميره کلونو عملي ژوند او ټولنيزو مناسباتو په ترڅ کي لومړې دابتدايي علمي تفکر، عقل او وروسته له هغې څخه دانتزاعي نتيجګيريو څخه برخمن شو. ددغه انتزاعي تفکرکوچنۍ علمي سرچينې دااقتصادي او علمي -تخنيکي امکاناتو دپرمختګ په پروسه کې کرار کرار په فلسفي نظرياتو ، عقايدو ،فورمولبنديو او تيوريو بدلې شويدي . دفلسفې کلمه دلومړی ځل لپاره دميلاد څخه نژدی ۶۰۰ کاله پخوا فيثاغورث پخپلو ليکنو کې راوړی او نژدی ۲۵۰ کاله وروسته له هغه څخه افلاطون دغه کلمه ديوه خاص علم لپاره وکاروله. فلسفه يوه دوه ګړې ګډوله او مرکبه يوناني کلمه ده. Phileosophiaچې Phileo ددوست لرم او Sophia دپوهی معنی لری. خو ډيرو کلونو وروسته دفلسفې کلمې په اصطلاح په يوه داسې خاص علم دلالت وکړ چې دطبيعت، ټولنې، شعور او دمعرفت دپروسې دعامو قوانينو څخه بحث کوي. حال داچې په عالم الاسباب کې نه خاص علوم وجود لري ا ونه د طبيعت، ټولني او شعور په عامو قوانينو کی ذاتی توپير موجود دې او پوهانو تر نن ورځې پورې په فلسفې علم باندې دا هرډول ناحقه تورونه تړلي دي . فلسفه دعينې لوی جهان او ورپوری اړونده لوی علم او لويي قانونمندۍ دابدي تکامل په پروسه کې بشری نسبي ذهني علمي تفکر او قانونمندې نتيجه ګيرۍ ته ويل کيدې شي .د خدای لوی علم چې دهغې له مخې دا لوی جهان او دخدای ټول خلقتونه پيدا کړي ،په هر څه محيط او کامل علم دې. دهغې د ورشو څخه دباندې هيڅ ډول بله



قانونمندي وجود نلري. دلوی علم لويه قانونمندي دتناقص او د تناقض څخه مبرا او يواځې دمقدراتو له مخې دنوؤ پديدو او خلقتونو دپيدايش په پروسه کې د خصوصي قوانينو په شکل ، تغير او تحول پذيره ګڼل کيدلې شي. دخدای لوی علم او لويه قانونمندي دخدای دمقضي الامر ارادې (قضاء) له مخې ديوه لوی، ثابت او تغير ناپذيره ابدي حقيقت او واقعيت په حيث تغير نه منونکې دې.لوی علم بشري ايجاد او خلقت ندې او نه انساني عقل ، شعور، او مادي تخنيکي امکانات پدې قادر دي چې دلوی علم په عامو قانونمنديو کې تصرف وکړي او يا تغير راوستلې شي بلکه يواځي دقضاء او قدر په تناسب ددغه قانونمنديو دتغير او تکامل (ديالکتيک ) په پروسه کې مجبور او مختار پاتې کيدلې شي. همغسی چې جهان ابدي او لايتناهي دې لويه علمي قانونمندي هم دلوی جهان دموجوديت او ابديت په تناسب دهغې دموجوديت يواځينې قانونمند شکل ګڼل کيږي. يعنې دلوی جهان موجوديت او ابديت او لويه عامه قانونمندي يو تربله سره متقابل ديالکتيکی استلزاميت او علت او معلول تشکيلوي . دلوی علم د عامو قوانينو متماتيکی محاسبه او تجربي افاده دانساني امکاناتو څخه وتلې کاردې .دلوی علم عام قوانين په عينی شکل سره وجود لري او انسان دلوی خدای دعاقل، عالم او خلف مخلوق په حيث کولې شي دخپلو شعوري او ادارکي امکاناتو په تناسب دغه قانونمندي وپيژني او فورمولبندي يي کړي. خو دغه پيژندنه او فورمولبندۍ يواځې نسبي او په ځينې حالاتو کې کيدلې شي انحرافي ، کذبی بڼه ولری. ځکه ديوې خوا انساني شعوري طيف خورا محدود اودبلې خوا ځينې وخت غلط فکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراوشونه دغلطو تیوریو اوفورمولبندیو زیږنده ګرځي . نن مونږ پخپله دفلسفي مختلفو نظریاتو او مکتبونو تر منځ ددغسې اشتباهاتو او غلطیو شاهد یو.سره ددې چې فلسفی څیړني دبشر دپیدایښت دخوراپخوانیو مراحلو څخه شروع شوې او په اصطلاح فلسفه خورا قدیمی علم دې، ډیر زیات تحقیقات په همدې برخه کې سرته رسیدلي، دهرې مخروبې په دیوالونو، طاقچو او مخیزه تیږو، دهر مسجد، کلیسا، مندر او نورو بشري عبادتګاوؤ په دیوالونو فلسفي عبارات لیکل شوي او کتابخانې یې دهمدغه فلسفي اثارو څخه ډکې دي،خو ددې سره سره نن هم دا سوال پیدا کیږي چې فلسفه علم دې او که نه ؟ نن هم دفلسفي علم موضوع په دقیق ډول معلومه نده ،د شعور او مادې تر منځ ذاتي توپیر اوتضاد دفلسفې اساسي یوائینۍ مسئله جوړوي اودټولو فلسفي نظریاتو ، مکتبونو ،تیوریو او فورمولبندیو دویش ،تقسیم بندۍ ، او فلسفي مجموع الجزایر د جوړیدو لپاره اساسي معیار ، علت او محک ګڼل کیږی .هغه کسان چې شعور پر مادې مقدم بولي او پدې باور دي چې مادي جهان دخدای د "کن فیکون" دامر په صدور، دجهاني روح او یا مطلقې ایدهء په اراده پیدا شوې ، هغوۍ ته ایدیالستان او هغه کسان چې ماده پر شعور مقدم ګڼي او شعور دمادې ددیالکتیکي تکامل زیږنده بولي ، هغوۍ ته ماتریالستان وایي . ماتریالستان ،شعور دمادي نړۍ دتاریخی تکاملي پروسې په نتیجه کې یوائې دخورا متکاملې مادې یعنې انساني مغز خصلت بولي خو پخپله شعور غیر مادي ګڼي . ، حال دا چې د شعور او مادې تر منځ دغه ډول ذاتي تضاد وجودنلري او دعالم الاسباب ټولې پدیدي او خلقتونه د لوی



خدای په مقضي اراده ،پرته له توپیره د یو شان قانومندیو تابع، قایم باالذات اود خپل عالم خلف انسان د معرفت په خاطر مسخر ،مقدر او د استفادې وړ ګرځولې دي. مونږ پدي عقیده یو چي شعو ر نه یوائې د مغز بلکه متناسباً لږو ډیرد هرمادي موجود خصلت او مطلقه بې شعوره او مطلقه با شعوره ماده وجود نلري او په ماده او شعور دواړو کې یو شان ابدي قانونمندي جاري ده. دهمدې ځای څخه په فلسفي مسایلو او قضایاوؤ کې دعلم سره غیر علمي کړه وړه پیل کیږي ، عیني قوانین او قانونمند منطق د پوچ تخیل او تصور لار غوره اود ګمراهۍ په لار قدم پورته کوي او لا ترنن ورځې پورې د لاینحله معما په حیث باقي پاتې کیږي .بې علمي د غیر قانونمند تخیل او تصور له لارې په سوچه علمي ورشو کې د شته والي مشروعیت پیدا کوي او دهر بې علمه لپاره د غیر علمي فلسفو ، سفسطو او غیر قانونمند منطق ختمه او زمینه برابروي. مونږ دا نه وایو ، لوی خدای دا جهان قانونمند پیدا کړي ، قانونمند پایي او قانونمند بدلون او تکامل مومې. کله چې په دې جهان کې د خورا کوچنۍ ذرې څخه نیولې تر خورا لوی سماوي جرم او کتلې پورې په هیڅ حالت ،مکان او زمان کې بې قانونۍ او غیر قانونمند حرکت او بدلون ته ځای وجود نه لري او هره قانونمندي او قانون هم یوائې د قانونمند حرکت او بدلون په بنیاد تحقق پیداکوي ، یعنې چې پخپله حرکت او قانونمندي شکل او بڼه دموجودیت د هرې پدیدي او خلقت ګڼل کیږي ، څه ډول او په کومه بڼه او ماهیت دغه غیر قانونمند تخیل ،تصور او منطق په دغه سر تا پا قانونمنده ورشوکې دپښې ځای او تحقق پیدا کولې شي ؟دا واضح خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې نه دغه بې علمه فلسفې علمي ماهيت او نه څوک د خپلو دغه ډول فلسفو دعلمي ماهيت دثبوت لپاره کوم دليل لرلې شي. هغه پوهان چې په مختلفو بهانو او پردلوګونو هڅه کوي خپلې تخيلي غير علمي فلسفې او سفسطې په مختلفو نومونو لکه خاص علم ،عام قوانين ،عام مفاهيم ، ام العلوم ،انتزاعي او مجرد علم ، متودولوژيک علم ،د علومو سته (تنه )او داسې نورې بې مفهومه او مهملې نومونې چې غواړي په دوه خيږونو ودريږي او يا لکه د فيلمرغ په څير د بار په وخت کې له ځانه مرغه او د الوتلو په وخت کې اوښ جوړ کړي.

نه خاص علوم او نه خاصې قانونمندۍ وجود لري. هر علم او هره قانونمندي مشخصه او البته ځيني ځانګړتياوې او خصوصيات لري چې هيڅکله هر علمې مشخصتوب نه کمولي او نه له منځه وړلې شي. نو ځکه د فلسفې د علم دغه ډول افاده چې ګوندې دطبيعت ،ټولني او شعوردعامو قوانينو او مفاهيمو څخه بحث کوي ،هم سمه نه ده. عام قوانين او مفاهيم خارجي فزيکي وجود نلري. داچې ځيني پوهان لکه ارسطو ، دکارت او ځيني نور ،خاص او عام مفاهيم او قوانين او کل اوجز کله په يوه يا بل اړخ د فلسفي قضاياوو پورې تړي، پخپله ددوی فلسفي نظريات او تيورۍ يې بې بنياده او بې اعتباره کړيدي. زه پدې باور يم چې ځانګړي علوم وجود نه لري ،فلسفه لکه چې دمخه وويل شول د خدای د لوی علم بشري ذهني بديل علم دې نو ځکه داهم نا ممکنه خبره ده چې څوک په فلسفي علم کې عملي تجربي ثبوتي دلايل وړاندې کړې شي او يا لکه ځيني پوهان چې هڅه کوي د هغوی په اصطلاح د ځانګړو علومو له مخې په فلسفي مسايلو او قضاياوو ثبوتي دلايل وړاندې کړي



هم نا ممکن کار دې. د همدې بې ځايه هڅو او ناممکناتو په نتيجه کې خو ددې خته برابره شوې چې هر عالم پخپل آند په فلسفه جلا جلا تورونه وتړي او په مختلفو نومونو يې ونوموي .

دا غلطي اصلاً د فلسفې د نا سم حل څخه پيل شوې او په اصطلاح دغه سپې د همدغه د فلسفې د اساسي مسئلې په خيته کې مردار پروت دې. تر څو پورې چې دغه مرداري پاکه او د فلسفې د اساسي مسئلې په زړه کې سپيناوې را نه شي فلسفه به همدا اسې د ګمراهۍ په تورتم کې ځای پر ځای لکه بوينه څته پرته او په حقه به دهر چا هر تو رور پورې تړل کيدې شي.ددغه اساسي قضيې د سم حل په خاطر پکار دادي تر هر څه لومړې فلسفه د علم او دوهم د خدای د لوی علم د يواځيني خلف علمي بديل په حيث ومنل شي. دريم داچې ټول فلسفي مسايل او قضاياوې ځې د ورځني پيژندل شوو او منل شوو علمي مقولو او قوانينو په رڼاکې وڅيړل شي او وارزول شي او هيڅ ډول غير علمي تخيل ،تصور ،منطق،سحر ،جادو او خرافاتي غير علمي مذهبي عقايد په کې ونه کارول شي او نه ځای ورکړل شي. بشري ټولنه نن سبا د جمعي شعوري بلوغ هغې کچې ته رسيدلې نې کسان چې حق او باطل يو له بله سره جدا او په دې واحد لوی جهان کې د واحد خدای د سراسري واحدې قانونمندۍ غوره لار ونيول شي.

کله چې منو ، ځانګړي علوم وجود نه لري ،څه ډول فلسفي ته د علومو علم ويلې شو ؟دا پخپله ددې معنا لري چې فلسفه پخپله علمي ارزښ او ماهيت نه لري ، دعلمي ارزونو او څيړنو جوګه علم نه دي ، د بارازيت په څير يواځې د نورو علومو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لارې تغذیه او په هغه څه چې نورو علومو یو ځل شخوند وهلي ، شخوند وهي ،هضم او یو ځل بیا په سمه او نا سمه توګه پخپل آند فورمولبندي کوي ،یعنې چې فلسفه مړ ښامار په توره وهي. په دې صورت کې به فلسفه د چا په نزد څه ډول ارزش ولري ؟ په هغه صورت کې چې ځانګړي علوم وجود ونه لري په کوم دلیل فلسفې ته دمختلفو علومو دمیوو څخه د ډکو ځانګو د ونې د تنې نسبت کولي شو ؟د بلې خوا دمخه مونږ دا خبره هم کړې چې قانونمندي شکل د موجودیت دمادې او ددې لوی جهان دټولو پدیدو او خلقتونو لپاره عمومیت لري ، اوداسې ورشوګانې هیڅ چیرې وجود نه لري چې هلته دې یا قانون وجود ونه لري او یا دې د خاصو قوانینو لرونکې وي.د متودولوژیک علم په حیث د فلسفې منل ، په هغه صورت کي چې فلسفه علم ونه ګڼل شي مشکله بریښي او له بلې خوا ډیر متودولوژیک علوم وجود لري چې مونږ ورته فلسفه نه شو ویلې. زما په عقیده داټولی خبری هیڅ اساس نلری او پرته دفلسفی لفاظۍ څخه چی په هیڅ صورت سره پکی فلسفی منطقی تسلسل نشي مراعاتیدلې بل څه ندی.ماتریالستان هم شعور غیر مادي بولي خو احساس ته دمادیت حق قایل دی یعنې دهغوی په عقیده دمادې او شعور تر منځ داحساس او ادراک لار او پل واقع او یو تر بله سره پرې تړلي دي. پدې لار همیشنی لارویان ځي راځي یعنې شعوري احکام په مادي اعمالو او پروسو او برخلاف مادي اعمال او پروسې په شعوري احکامو ، ایدیالونو او ارزښونو بدلیږي. یا په بل عبارت پدې ترځ کې شعور په ماده او یا ماده په شعور بدلیدلې شي. حال دا چې دمادې دبقاء دعام قانون له مخې ماده نه له منځه ځي او نه دهیڅ څخه منځته



راتلای شي. بلکه یواځې دیوه حالت څخه بل حالت یا دیوې نوعې څخه په بله نوعه بدلیږي. که چیرې دغه کار ممکن هم وګڼو نو هغه غوټه چې دغه متضاده مادي او غیر مادي نړۍ یو تر بله سره تړي مادي ده او که یا غیر مادي؟ پدې باره کې "دعېنیت فلسفه" په رساله کې پوره اوږد بحث شویدي چې ځیني نقاط دلته دقضیي دوضاحت په خاطر رانقلوم. هلته لیکل شویدي "ذهنیت نسبي عېنیت او هر مشخص ذهنیت عیني واقعیت دې". ددې څخه داسې معلومیږي چې دذهنیت او عینیت تفاوت نسبي دې او په ماهیت کې ذاتي توپیر نلري. شعور ذاتاًزماني او مکاني قیدیت لري او په اصطلاح یواځې په ذهني ختمه او په معینه زماني مقطع کې منځته راځي، تکامل، تقرر او انحطاط مومي. یعنې په هیڅ کی شعور منځته نشی راتلای او دحداقل زمانی مقطع څخه په کم وخت کی نه یوه قضیه یا حکم درک کیدلې او نه دهغې په باره کې لازم حکم صادریدلط شي. دمثال په ډول انساني ذهن دیوې ساده قضي ددرک او دهغې په باره کط دحکم دصدورلپاره نژدې نیمې ثانیي وخت ته ضرورت لري . همداسې تکامل، تقرر او انحطاط ښیي چې په ذهن کې حرکت موجود دې یعنې دغه درې واړه پدیدي په ذهن کې دحرکت مستلزم دي او حرکت هم یو داشکالو دموجودیت دمادې څخه دې .ماده موجوده ده ځکه چې متحرکه ده او متحرکه ده ځکه چې موجوده ده. یا په بل عبارت مادیت او حرکت یو تربله سره په متقابل استلزام باندې ولاړدي.لوی خدای دخپل لوی علم دعامې قانونمندۍ له مخې دلوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول او همداسې قائم بالذات او خلل نا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پذیر گرځولي دي. همداسې ذهن دعطالت لرونکې دې چې عادت او مهارت دهغې مظاهر گڼلې شو. او عطالت هم دمادې خصلت دې. دبلې خوا ذهنیت او شعور دخپل شکل او محتوا په لحاظ یوه پروسه ده او هره پروسه هم دزمان، مکان، حرکت او مادیت مستلزم گڼل کیږي. دپورتنیو دلایلو په اساس حکم کولې شو چې هر مشخص ذهنیت عیني واقعیت دې او دفلسفې اساسي مسئله چې دهغې په اساس دایدلیزم او ماتیریالیزم نظریاتي جدایي او تقسیم بندي راغلې کوم اساس او واقعیت نلري .هیگل چې دعقیدې له مخې ایدیالیستوو دلمړي ځل لپاره یې د دیالکتیک اساسي عمومي قوانین فورمولبندي کړل. خو هغه دغه قانونمندي د جهاني روح یامطلقې ایده دتکامل دمراحلو داصولو په حیث منل، نه دمادي جهان دعامې قانونمندۍ په حیث .هګل په حقیقت کې هغه قانونمندي چې په مادي دیالکتیکي قانونمند شکل سره یې دهغه په ذهن کې وجود درلود د دیالکتیکي قوانینو په شکل فورمولبندي کړي ، په غیر صورت کې به دغه فورمولبندۍ او قانونمندۍ هیڅکله تحقق نه وې پیدا کړې .

که چیری دجهاني روح او مطلقې ایدۀ څخه دهګل مقصد خدای وي نو خدای کامل ذات دې او د هغه په ذات کې تغیر او تکامل متصور او ممکن ندې. خو بیا هم هګل کولې شول دفلسفي علم موضوع او اساسي مسئله دذهني تخیل او تصور پرځای د ذهني واقعیتونو په بنیاد څېړلې او فورمولبندی کړي وای او د خپل علمي فلسفي رسالت جاله به یې تر گودره رسولې وې ،خو هګل په اصطلاح دعیني ایدیالیست په حیث او یا که دقیق وویل شي ، د خپل وخت ذهني تخیلي ، منطقي



وتلې فیلسوف او عالم په توګه له بده مرغه د خپلو همدغو علمي فلسفي نیمګړتیاوو له کبله یې د خپل علمي فلسفي رسالت جاله له اوبو پورې نه ایستې شوه.

فیر باخ هم د ماتریالیست په حیث ټول عظیم مادي دینامیزم ،مناسبات ،قانونمندۍاو دیالکتیکي بدلون او تکامل یواځې وچ کلک او تنگ نظرانه میخانیکي او متافزیکي استمرار او تکرار وګڼه اود هګل د غیر قانونمند تخیلي ادیا لیزم د بېرستنې سره وړاندې وغورځاوه او میتافزیکي تحجر ته ارجحیت قایل شو . هغه پخپلو دغه کړو وړو سره پرته له دې چې له یوه متعصب تنګنظرانه موقف څخه بل متعصب تنګ نظرانه دریز غوره کړي بل هیڅ امتیاز تر لاسه نه کړ او دفلسفي علم اساسي مسئلې او موضوع قضیه او مشکل هم په همغه پخواني حالت لاینحل پاتې شو.

ویل کیږي چې مارکس او انگلز په اصطلاح دهگل دیالکتیک او دفیر باخ ماتریالیزم په ارګانیک ډول سره یو ځای او دلومړی ځل لپاره یې په فلسفه کی دديالکتیکی ماتریالیزم تیوري او نظر رامنځته کړ. ماتریالیستان تر دا نن ورځې پورې هم په دې عقیده دي چې شعور غیر مادي او د خپل اړونده مادي واحد (مغز )سره په مناسبت کې د فلسفې اساسي مسئله جوړوي او یواځې د همدغه مناسبت په بنیاد د ادیالیزم او ماتریالیزم یو تر بله سره متضاد نظریات او عقاید رامنځته شوي دي. دوی همداسې عقیده لري چې احساس مادي او کله چې همدغه احساس په شعوربدلیږي غیر مادي بڼه غوره کوي .خو زما په عقیده دا خبره ځکه سمه نه ده چې مادي واحدونه او د همدغه ماتریالیستانو په اصطلاح غیر مادي شعور هیڅکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارګانيک مرکب او جوړښت نشي جوړولې او که څوک د خپلې دغه ډول خبرې د رښتينولۍ مدعي اوسي ، نو د دوی په آند ارګانيک جوړښت ماهيتاً څه ته ويل کيږي او دغه مادي او غير مادي ارګانيک جوړښت مناسبت څه ډول جوړيدلې شي ؟

او يا د دغه مادي او غير مادي ارګانيک جوړښت د ارتبات غوټه به مادي وي او که غير مادي ؟

مونږ د مخه دا موضوع څيړلې چې شعور او نور مادي واحدونه پرته د ځينې نسبي تفاوتونو او خصوصياتو هيڅ ډول ذاتي توپير ونه نه لري او هره پروسه ، حرکت او بدلون په هره زماني مقطع او مکاني بعد کې چې اوسې ، همزمان او هم مکان ټولې قانونمندې پروسې او حرکتونه په ميخانيکي ،کيمياوي ، بيولوژيکي ، فزيولوژيکي ،ساحوي،تشعشعي،روحي او نورو ټولو ورشوګانو کې په متداخله لحظوي بڼه تحريکوي او په ټولو برخو او ابعادو کې متجانس، يو نواخت متناسب تعامل او پروسه جوړوي. زما په عقيده په عالم الاسباب کې ارګانيک جوړښت يواځې همدغه مادي واحد تجانس ، نه شليدونکي ابدي پايداره ارتباط ، تسلسل او مناسبت ته ويل کيدې شي. ماترياليستان سره ددې چې په خپلو څيړنو کې يواځې د علمي کړو وړو او روشونو پلوي او مدعي اوددې جهان په مادي واحد جوړښت پوره باور لري او په اصطلاح پخپلو دغه ډول سر تر پايه علمي مادي فعاليتونو وياړي ، خو بيا هم دوی هيڅکله په دې خبره فکر نه دې کړې چې که د دوی دغه ادعا په رښتيا سمه اوسي ،نو ولې په اکثره فلسفي مسايلو او قضاياوو کې چې د شعور او مادې د مناسبت يعنې د فلسفې د اساسي مسئلې په بنياد را منځته کيږي ، دوی خپل



زغرد او واضح نظر نه اظهاروي او د شک او ترديد په پوله کله يوې خوا او کله بلې خوا رغړي او خاصو علومو او خاصو ورشو ګانو ته بيا هم په شک او ترديد سره حق قايليږي ؟ په هره قدمه کې د تړلو دروازو او لا ينحله معماوو سره مخامخ کيږي او د دې په عوض چې د حل واقعي لار ولټوي د ګمراهيو لارنيسي او د غير قانونمند تخيل او منطق د بې بنياده اصولوله مخې دوی هم کذبي او انحرافي فورمولبنديو او تيو ريو ته غاړه ايښې ده.

ماترياليستان د شعوري او ټولنيزو مسايلو په اړه تر اوسه ايديالست پاتې شوي او څرنګه چې د فلسفې د اساسي مسئلې په دغه ډول ناسم تعبير سره مشکله ده څوک شعوري او ټولنيز قضايا په دقيق ډول وڅيړلې او وارزولې شي.په همدې سبب حتا کارل مارکس چې د ديالکتيکي او تاريخي ماترياليزم د تيوريولومړنې علمي څيړونکې او د ماترياليزم او ديالکتيک د ارګانيک جوړښت مؤسس وو ، هم ديته اړشوې وو چې دغه واحده قانونمنديد متضادو تيوريو په بڼه وڅيړي ،د ديالکتيکي ماتيراليزم او تاريخي ماترياليزم ځانګړې تيورۍ فورمولبندي ، حال دا چې په تاريخ کې ديالکتيک او په ديالکتيک کې تاريخ موجود او دغه دواړه د ماديت مستلزم او د هغوی تر منځ کوم ذاتي توپير نه شي په سترګو کيدلې .د همدې ځای څخه د فلسفي نظرياتي او تيوريکي سيستمونو ، ډلو او مکتبونو تر منځ پرته له کوم مقنع او اساسي علمي بنياد او دليل د ويش اونه پخلاکيدونکي دښمنۍ لړۍ له با با ادمه پيل او تر دې دمه دغه بې نتيجې او بې ثمره لوبه دوام لري چې پايلې يې هم پرته له تحريفي ،کذبې فورمولبنديو ، تيوريو ،نظرياتو ،عقايدو او غير علمي منطق څخه بل څه نه شو تصور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدلي. مارکس او انګلس په خپلو علمي څېړنو او تحلیلونو کې همېشه دغه ډول نیمګړتیاوې او نواقص احساس کړي او په وار وار یې هغې ته دقیقې اشارې او ګوتنیونې کړې دي. د مثال په توګه کارل مارکی لیکي: «ایده په مادي قوت بدلیږي، کله چې د پراخه پرګنو په عقیده باندې بدله شي» (د مارکس او انګلس کلیات... ). خو دوی او نور وما تیریالیستانو نه دي کړې شوي په دې باره کې مقنع او ثبوتي علمي دلایل وړاندي او یا د ننني مروجه علمي قوانینو له مخې خپلې علمي څېړنې، وړاند وینې او تحلیلونه سمبال کړي. ځکه چې دوی او ټولو ماتریالیستانو د مادې او شعور خپل کذبي تضاد د یوه واقعیت او دفلسفې د اساسي مسئلې په توګه بې قېد و شرطه منلې او کلک پرې ولاړ وو. لکه څرنګه په دې باره کې دمخه مونږ خپل دلایل وړاندې کړي، په نوموړې مسئله کې نه کوم بنیادي تضاد وجود لري، نه په دغه بنیاد د فلسفې کومه اساسي مسئله څوک رامنځته کولې شي او نه په دغه د علمي عقایدو، قوانینو او فورمولبندیو ویش او دیفرنسییشن را منځته کېدلې شي. په هغه صورت کې چې د ویش عامل، سمبول او محک بې بنیاده او په غلطه را منځته شوې او سي، نو په دغه بنیادونو که متضادې تیورۍ، فورمولبندۍ او هره ځانګړې عقیده رامنځته کیږي هیڅکله ربښتیني بڼه نه شي لرلې، او د خپلې ګستاخۍ او سپین سترګتوب څخه په بخښنه، اجازه راکړۍ ووایم چې ټولې نظریاتي تیوریکي څېړنې په پټو سترګو د غیر علمي تخیل د ګمراهۍ په لار روانې دي. او دهمدې کبله دغه ټول نظریاتي فلسفي مکتبونه او تیوریک سیستمونه په خپلو نظریاتي وضاحتونو کې همیشه دمشکل او



اشتباهاتو سره مخامخ دي او د هغوی فورمولبندۍ پرته دتحریف او تکذیب بله بڼه نه شي لرلې. خو دا خبره په هیڅ صورت سره ددې معنا نلری چې ګوندې دغه نظریات او فلسفي تیوریک سیستمونه علمي ارزش نلري او په هغې باندې سترګې پټې شي. په حقیقت کې دغه ټولې فلسفي څېړنې چې دماتریالیستي یا ایدیالستي نظریاتو خاوندانو لخوا شوي په حقیقت کې دبشري علمي څېړنو او تحقیقاتو ستری زیرمې جوړوي او هر یوه نظریاتي عقیده چې پخپل آند یې موجوده فلسفی حقایق او واقعیتونه دمشخصې لیدتوګې او زاویې څخه ځیړلي او په هیڅ صورت سره یوه نظریه دبلې نظریې ځای نشي نیولې او خلا یې نشي ډکولې تل به د خپلو خپلو ارزښتو څخه برخمنې وي. زما په عقیده ددغه ټولو مختلفو علمي نظریاتي څېړنو متودولوژیکي، ادبي، علمي منطقي، ترمنولوژیکي ارزښتونه او دهغې علمي او فلسفي زېرې به دهمیش لپاره دحقیقت او واقعیت په څیر پر ځای پاتې وي او هیڅکله باید له نظره ونه غورځول شي او سترګې پرې پټې نشي، خوزما یواځینې ضروري اصلاحي شرط او وړاندیز به داوي چې په دغه پخواني نظریاتو کې شته نیمګړتیاوې او غلطۍ د عېنیت د فلسفې د نوي لید لوري له مخې پوره او اصلاح شي. په اکثره مواردو کې د زمان او علمي ـ تخنیکي انکشافاتو فاکتورونه اساسي رول لوبولې شي. کوم نظر چې ما په پورته ډول عرض کړی زه پخپله د تدقیق او تأمل وړ بولم. که چیرې دفلسفي څېړونو دباصلاحیته پوهانو لخوا تصحیح، تکمیل او تائید شي نو لازم به داوي چې دفلسفي علم په اساسي مسئله، موضوع او ځینې نورو میتود ولوژیک، نصابي او مفرداتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسایلو او اړخونوله مخې پرې له سره غور وشي او فلسفي څېړنې دهغې په برابر تنظیم شي. دماتریالستي دیالکتیک پلویان وایي چې فلسفه یو خاص علم دې اود طبیعت، ټولنې او شعور دعامو قوانینو څخه بحث کوي او پدې باره کې کومه اضافي توضیح وجودنلري تر څو هغه شک او ابهام چې په پورتنۍ جمله کې موجود دې له منځه یوسي. ځکه پخپله دخاص علم او عام قوانین داسې مفاهیم دي چې اضافي توضیح ته ضرورت لري. دهرعلم قوانین پخپله پرته دتاکیدي تذکرڅخه یو څه نسبي عمومیتونه لري خو دخاص علم افاده یوه اضافی فوق العادگي ده چې دفلسفي علم دپاره دیالکتیکي ماتریالیزم پلویان ورته قایل شوي خو پدې باره کې دضروري او لازمي توضیح په هکله پټه خوله پاتې شویدي. داپه حقیقت کې یو ثرگنده تجاهل العارفانه اشتباه ده ، ځکه پدې باره کې که توضیح ورکړې شي سمدستي دهغې باره کې داسې پوښتنې راولاړیږي چې ځواب ویل ورته مشکل دي.هیگل او ځینې نورفلسفي عالمان فلسفه دعلومو علم گڼي. هغوی پدې توگه دیوې خوا فلسفې ته مافوق علمي حیثیت قایلیږي خو په حقیقت کې داخبره داسې معنا لري چې گوندې فلسفه یو پارازیت علم دې چې پخپلو پښو نشي ودریدلې او دڅټې غوندې په نورو علومو باردې.داگز ستنسیالیزم پیروان وایي علم بل شې او فلسفه بل شې دي. هغوی دا خبره غوره کړې ، ځکه که علم ورته ووایي نو دلیل ورته نلري او که دلیل ورته پیداکوي دهغی تر شا چې کومې پوښتنې راپیدا کیږي هغې ته ځواب ویل مشکل دې. نو منلې یې ده چې دسل هو څخه همدایوه نه ښه ده.ځینې فلسفه پوهان فلسفه مجرد او انتزاعي



علم شمیري او پدې عقیده دي داچې مجرد او انتزاعي عام مفاهیم خارجي وجود نلري نو څېړنه یې هم نه کوم اساس لري او نه ضرورت. دهغوی په نظر فلسفه دذهني تصوراتو او خیال بافیو علم دې.

لازمه ده دا یوه ثرگند حقیقت په څیر ومنل شي چې دلوی خدای لوی جهان دهغه ذات دلوی علم دقوانینو مطابق منځته راغلې، پایې او تغیر او تکامل مومي. نوری لاری پدي کې لټول پرته دگمراهۍ څخه بل انجام نشي لرلې .دپورتنۍ ډیری لنډې یادوني او توضیح په ترڅ کې دې نتیجې ته رسیږو چې دلوی علم قانونمندي دانساني ذهنگریو او ادراکي امکاناتو څخه پورته په عیني توگه دمادي لوی جهان دپیدایش سره سم په ابدي شکل موجود او دهغې تجربي عملي او متیماتیکي محاسبه هم دانساني علم، پوهې او تخنیکې ي امکاناتو څخه اوچت او ناممکن کارځکه گڼل کیږي چې میکره او ماکره جهانونه، سیستمونه او نظامونه همغسې چې دابعادو له مخې یوه لایتناهي ورشو تشکیلوي دخپل تنوع، تعدد او نورو هر ډول پارامترونو له مخې چې په هیڅ صورت دانسان په شعوري طیف کې نه ځائیږي هم لایتناهي دي. دغه ټول مادي موجودات دکوچنۍ ذرې څخه نیولې ترخورا لویو سماوي اجرامو پورې دخپل ټول لایتناهی تعدد ، تنوع او نورو لایتناهی تفاوتونو سره که دیوې خوا دمختلفو جهانونو ، نظامونو ، سیستمونو او منفردو مادي واحدونو په حیث په متقابل توازن، تعادل او استقرار کې واقع دي دبلې خوا همزمان په هغې کې کمي ،کیفي دیالکتیکي دینامیزم ،خلقتي ستاتیزم او ابدي تحول او تکامل جریان لری. یعني هر موجود په ځانگړې توگه او یا د سیستم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام په حیث دټولو لایتناهی تعدد ، رنگینیو ، تفاوتونو او مشابهتونو سره په همغه یوه لحظه کې همغه مشخص ځانګړې مادي واحد یا سیستم او نظام دې او هم ندې. حتا په هغه صورت کې که مونږ مادي جهاني موجودیت یو ساده میتافزیکي استمرار او تکرار قبول کړو بیا هم ددغه لایتناهي مادي واحدونو ، سیستمونو او نظامونو موجودیت او حرکت متیماتیکي افاده د بې شمیره انتګرالي او دیفر نسیالي معادلاتي سیستمونو او دهغوی د بې شمیره مشقاتو او نورو افادوی تسلسلونو پواسطه به په عالم الاسباب کې ناممکن کار وي. اوس پخپله ددې سنجش او تصور کیدلې شي، کله چې دغسې عظیم لایتناهي نظام په هرا ړخیز او لایتناهي بعدي لحظوي دیالکتیکي دینامیکي متحول او تکاملي پروسوي استمرار کې قرار لري متماتیکی افاده او محاسبه به یې ممکن کار وی؟آیا ددغسې یوه عظیم لایتناهي دیالیکتیکي دینامیک نظام عملي تجربه به په کوم لابراتوار کې ممکنه وی؟ بې له شکه دادبشر دامکاناتو څخه وتلې کار دې. لیکن لوی علم پرته له شکه ددغه عظیم جهان دلایتناهي مادي موجودیتونو لایتناهي مناسبتونو او لایتناهي دیالکتیکي دینامیک تحول او تکامل علم دې . دهغی هره یوه پروسه دلوی علم د عامې قانونمندۍ پواسطه افاده کیدلې او د د غه لوی جهان په عملي لابراتوارونو کې د تجربې وړ او ټول قضایا یې دقضا او قدر دتناسب له مخې په عیني توګه دانساني نسبي معرفت دپاره وجود لري. دغه لوی جهان دټول عظمت، تفاوتونو ، او دینامیزم سره سره متوازن، متعادل مستقر او هر څه پکی سیال پیدا دي او دلوی علم عامه قانونمندي ددغه



سیستمونو داستقراریت تضمین کوي .لازم دادي بشرددغه قانونمندیو مطابق عمل وکړي نه دهغې په ضد. زه پدې باره کې داضافي وضاحت څخه تیریږم خود مثال په توګه دومره وایم چې که زمونږ په شمسی نظام کې لمر دلوی والي، طاقت او مرکزیت سمبول دې نو ډیره کوچنۍ ذره دهمدغه لمر او دهغی په څیر لایتناهی نظامونو دجوړښت، پایښت او ابدیت سمبول او څښته ده. انسان، حیوان، نبات، جماد او دلوی جهان نور ټول مغلقترین موجودات چی دلوی علم د عامې قانونمندۍ له مخې خلق شوي واقعاً دیوه خارق العاده مافوق انساني طاقت او ذات دخلقت مظاهر او مخلوق ګڼل کیږې. ددغه مخلوقاتو دټولو اوصافو ، خواصو او دهغوی دجوړښت دخورا مغلقو سیستمونو پروګرام او قضایي جبر او دیترمینیزم په یوه کوچنی حجره او دهغی څخه په لا کوچنی جوړښت کی ځای پځای کول هم یواځی او یواځی دمافوق انسانی او یوه خارق العاده ذات صنع ګڼل کیدلې شي. پورتنې نظر دیوی طرحی په شکل وړاندی شو ترڅو دفلسفه پوهانو او عالمانو توجه دغه عمده مسئلې ته راوګرځي او دهغی له مخې دفلسفي علم دماهیت، موضوع اساسي مسئلې نظریاتي اړخونو او تیوریو په باره کې په نوې لید توګه لازمې فورمول بندۍ رامنځته شي .کله مو چې دا ومنل ، چې لوی علم په لوی جهان محیط علم او قانونمندي ده او دهغې د ساحې څخه یوه کوچنۍ ذره هم بیرون نشي پاتې کیدلې حتما دا سوال هم راولاړیږی چې آیا نور علوم په ځانګړې ډول وجود لري؟ که لري یې دهغوی مناسبتونه دلوی علم سره څه ډول دی؟دخدای لوی جهان دترکیب، فزیکي حالت او داسې نورو اوصافو له مخې متجانس، یو نواخت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميتافزيک، په يوه حالت پيدا او په همغه حالت فناء جهان ندی. هر مادي واحد، هر موجود هر مولود د پيدايش، بقاء، انحطاط او فنا مراحل لري. پخپله لويه قانونمندي د يوه منفرد واحد دبقاء په عموديت او ددغه واحد دنوع په افقيت کې کامل توافق او حتا شباهت هم نلری. دجهان ترکيبي تناسبونه او تفاوتونه، فزيکي، کيماوي او نور حالتونه پدغه قانونمنديو مستقيم تاثير لري او لازم تاثير او تغير منځته راوړي. مونږ حتا ديوه مشخص عنصر يا ترکيب په ارتباط مختلف فزيکي حالتونه لکه جامد، مايع، غاز، مختلف تشعسعات، مقناطيسي، الکتريکي، جاذبي ساحې، پلازمايي، فوتوني او نور حالتونه چې تر اوسه پورې يي مونږ نه پيژنو هر يو دځانګړو او متفاوتو قانونمنديو لرونکي دي. دبلی خوا دخدای لوی جهان دلايتناهي عدم تجانس، تنوع او تفاوتونو سره په لايتناهی تحول او تکامل کې قرار لري چې دهغې په تناسب او مطابقت قانونمندي هم په مستمر شکل سره تغير کوي. دغه قوانين او دهغې يو تربله ديالکتيکي تداخل پرته لدې چې دچالخوا پيژندل شوې وي يا نه دقضاء دحکم له مخې دطبيعي جبر په شکل جريان لري. ليکن بشري معرفت، پيژندنه هم کاملا بې تاثيره ندي او تل دقدر په تناسب تاثير لري (دقضاء او قدر په باره کی به په لازم وخت کې بحث وشي) بشري معرفت يوه تکاملي پروسه او بشري ضرورتونه او دعلومو څخه داستفادې سطحه هم تل په تکامل او تغير کې ده. خو ددغه علومو او قوانينو تحقيقي او تدقيقي کچه دلوی علم او حتا دفلسفي علم دعامو قوانينو دمعيارونو سره هيڅکله دمقايسې وړ نده او تل دنسبي او خصوصي حالتونو او تقريبي محاسبو



په شکل منل کيدلې شي. دفلسفې قانونمندۍ په سطحه دهغې برابرول او تنظيمول نه ممکنه ده او نه ضروري. په همدې علت ويلې شو چی پرته دفلسفي علم او عامې قانونمندۍ څخه ځانګړي علمي قوانين او پخپله علوم هم دبشري ضرورتونو په تناسب د استفادې وړ ګرځي. دغه علوم دانسانانو دجدي ضرورتونو له مخې منځته راځي او کله چې دغه ضرورتونه له منځه ځي پخپله علوم هم خپل شته والی دلاسه ورکوي ليکن دهغې فلسفي زړې يا فلسفي عامه قانونمندي پر ځای پاتې کيږي. دفلسفې څخه پرته نور علوم تل نسبي او تقريبي ماهيت لري ځکه چې هيڅ علم نشي کولې په يوه مسئله يا قضيه کې ټول مؤثر فکتورونه محاسبه کړې شي او دبلې خوا په ځينو مسائلو کې دډيرې دقيقې محاسبې ضرورت هم نه ليدل کيږي. که چيرې د پرنسيب له مخې دموضوع سره دقيق کره وړه وشي نو ويلی شو چې ځانګړي علوم په ځانګړې توګه وجود نلري او په حقيقت کې ټول علوم يو تربله سره دلويي عامې قانونمندۍ په چوکاټ کې تداخل لري او په تحقيقاتي او تجربي پروسو کې دهغې جدا کول ناممکن کار دې. يعنې ممکنه نده يوه فزيکي، کيماوي يا بيولوژيکي پروسه يا تجربه په خالص او ځانګړې توګه عملی شی بلکه هغه يو تر بله په متداخل شکل سره هم مکان او همزمان جريان لری. په ځانګړې علمي توګه ديوې مسئلې دڅيړنې په جريان کې ځينې مناسبتونه او فکتورونه په نظر کې نه نيول کيږي او ترې صرف نظر کيږي او يوائې دهرې مسئلې داهميت په تناسب ديوه ضريب په اضافه کولو سره دهغې تلافي کيږی. خو دا کار په هيڅ صورت سره ددغه علم دنسبيت او تقربيت درجه نشي کمولې. هر ځانګړې علم خامخا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفلسفي عامې قانونمندۍ خصوصي او تقريبي حالتونه او پديدې دي چې ددیالکتیک دمشخص اړخ په حيث دمشخص علم دلارې زمونږ دذهن دمحدود ميخانيکيت يا بيوفزيولوژيکيت دمختلفو اړخونو دانعکاس په هنداروکی منعکس کيږي او پدی ډول دفلسفي علم د عامې قانونمندۍ دلمړۍ درجې مشق په حيث په نسبي او تقريبي لحاظ دځانګړو علومو دمنځته راتلو سبب ګرځی. کيدلې شي دمختلفو علومو نوموړی ذهنی ميخانيکيتونه دوهم وار دذهن دفلسفی منطق په هنداره کی مجموعاً په استقرايي او قياسي ډول انعکاس ومومي او ددغه مختلفو علومو دمنطقي ارګانيک انتګريشن، قياس، تحليل او تجزيي په نتيجه کې دديالکتيک نسبي فلسفي قانونمندي رامنځته شي. فلسفي علم او فلسفي قانونمندۍ بيا پخپل وار دخدای دلوی علم، لويي قانونمندۍ، خدايي ټولو خلقتونو او لوی حقيقت دمعرفت په پروسه کې بشري ذهني نسبي عامه قانونمنده پيژندنه، قانونمندي او علم ګڼل کيږی. تل تحول او تکامل کوی او دتل لپاره دذهني نسبي حقيقت په توګه پاتې کيري. پدي توګه ځانګړي علوم او قانونمندۍ دبشر دشعوري کچې په تناسب دځانګړو ضرورتونو له مخې په مختلفو وختونو کې منځته راځي، داستفادې وړ ګرځي، ورو ورو خپل ارزش دلاسه ورکوي او له منځه ځي خو دهغې فلسفي زړې او يا که دقيق وويل شي دلويي قانونمندۍ او لوی علم دقانونمنديو خصوصي حالت په حيث دتل دپاره پاتې کيږي. لکه ځيني فزيکي، کيماوي، بيولوژيکي.... قوانين او يا دهغوی متيماتيکي ارزونه چې دتل لپاره خپل ارزش له لاسه نه ورکوي. پدې باره کې چې ايا



فلسفي علم ته دانتزاعي څيړنو په حيث ضرورت شته او که نه؟ که شته نو دغه ضرورتونه کوم دي؟ آيا فلسفه دنورو علومو دلاری تغذيه کيږی ؟.... او نور ځانګړي علوم څه ډول په ذهني تورتم کې دفلسفي علم دڅراغ په مرسته سمه لاره مخ په وړاندې نيولې شي ؟ پدې باره کې به په راتلونکي وخت کې لازم بحث وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوی جهان

دفلسفي او لوی علم د سرخط لاندې بحث کې مونږ دې نتیجې ته ورسیدو چې فلسفه دلوی جهان دلوی حقیقت او ټولو لایتناهی پدیدو او مظاهرو دمعرفت په پروسه کې دبشري ذهنګریو، مقدراتو او امکاناتو مطابق هر اړخیزه قانونمنده فورمولبندي او علمي افاده ګڼل کیږي. خو لوی علم دبشري ذهنګریو او مقدراتو څخه پورته په لوی جهان باندی محیط او دخدای دمقضي الامر ارادې له مخې دیوه لوی، ثابت او تغیر ناپذیره ابدي حقیقت او واقعیت په حیث تغیر نه منوونکې دی.

په دغه بحث کې دلوی علم او لوی جهان دمتقابل استلزامیت ذکر هم شوی چې په حقیقت کې د همدغه متقابل استلزامیت په بنیاد د خدای د لوی علم قانونمندي د ټولو خلقتونو او پدیدو د مادي موجودیت استلزامي شکل دموجودیت ګرځیدلی او دیوه موجودیت پرته دبل دموجودیت څخه، نشي متصور کیدلی.

دلوی علم دمحیط څخه وتلې هیڅ ډول بله قانونمندي وجود نلري، لوی علم دلوی جهان دلوی دیالکتیک دابدي همزمان ستاتیزم او دینامیزم علم ګڼل کیږي. دلوی علم په باره کې خبرې کول زمونږ دبحث موضوع نده یواځې دبشري ذهني فلسفي



درک له مخې دلوی جهان په باره کې ځینیي مسایل څیړو.

په پخوا وختونو کې چې لا دانسانانو شعور او پوهې کافي انکشاف نه وؤ کړې نو دهغوی درک او معرفت هم یواځې دخپل نږدې چاپیریال څخه تر هغه ځایه چې یې دحواسو مزې غزیدلې او ابتدایي شعوري منطق اجازه ورکوله دحواسو دامکاناتو او غریزي مجبوري ضرورتونو له مخې عملي او ممکن ګڼل کیدل.

دوی دطبیعي او اجتماعي سهولتونو او افتونو سره عملاً په دوه ګوني ډول مخامخ او یواځې داحساساتو په کچه یې دبشر په ذهن کې دخیر او شر، نیکی او بدی، دوستی او دښمنی او داسې نور، تمیز کول شروع شو. په همدغه اساس دوی ډلګی جوړولې او له ابتداء څخه درحماني او شیطاني قوتونو دموجودیت له مخې دبشري ټولنې دټولنیزو مناسباتو دوه ګونې دښمنانه احساساتي او دوستانه عقلاني تهدابونه کنبیښودل شول. دشعور او فکر په انکشاف سره بشر دبې شمیره پوښتنو سره مخامخ کیده او له بده مرغه دغه پوښتنو تل دوه ګوني احساساتي او عقلاني ځوابونه پیدا کول او تر ننني ورځې پورې ددې په عوض چې په علم او علمي منطق ډډه ولګول شي بشري احساساتو او شیطانیقوتونو تل د تلې ډیره درنه پله جوړه کړې او د بې شمیره متضادو، لاینحله او نه پخلا کیدونکو پرابلمونو دایجاد سبب ګرځیدلې دې. دبلې خوا بشر دهمغه ابتدا څخه ددې لوی جهان دلایتناهي پدیدو او خارق العاده رنګنیو په هکله عملاً بې تفاوته نه دې پاتې شوی. که ځینې کسانو تل شپې دستورو په نظاره سبا کړې، دهغوی حرکتونه او تګ لارې یې تعقیب کړې، په هغې کې یې مختلف اشکال، حرکات، حدود او ارتباطات پیدا کړی، بې ساري

(c) ketabton.com: The Digital Library



عظمتونه، بې شمیره نظامونه او د قدرت مرکزونه موندلي، پدغه لوی جهان کې یې خپل موقف او موضع تثبیت کړې، لازمې قانونمندۍ یې کشف کړي او فومول بندي کړي، دعلم او معرفت کړۍ، مرحلې، امکانات او متودونه ایجاد کړي، حق او حقیقت ته قایل او پخپله ددغه لارۍ لارویان او پیروان ګرځیدلي دي.

دوهمې ډلې دعملي درک او فهم له مخې زیارونه ګاللي او دبشري ضرورتونو او نیاز دپاره یې دمادي نعماتو سترې زیرمې ایجاد کړیدي. دریم، ثلورم او نورو دعلم، فرهنګ او داسې نورو ساحو کې ستر خدمتونه سرته رسولي او عملي نتائج یې ترلاسه کړیدي چې اول لاس تحقیقاتي لاسته راوړنو په باره کې معلوماتونه یې دلویو او کوچنیو مجموعو په شکل دنړۍ په عامه کتابخانو او ارشیفونو کې موجود دي.

زه غواړم یواځې ځینې پرنسیبي مسائلو او عامو قانونمندیو ته دخپل لید لوري او فهم له مخې اشاره وکړم. خو ددې علومو دمتخصصیونو دپاره پکار دي چې دنوي مادي تخنیکي امکاناتو، علمي پرمختیاوو، نظریاتو او متودونو په اساس هریو پخپله ساحه کې لازم تحقیقاتي مواد او نتیجه ګیرۍ وړاندي او په ارګانیک ډول دهغو له مخې ددې مادي، معنوي لایتناهي مناسباتو، دینامیک تحول او تکامل دپاره علمي قانونمند بنیاد کښیښودل شي او یواځې علم دټولو پدیدو، مظاهرو او مناسباتو دحقانیت او واقعیت دتثبیت لپاره یواځیني معیار او محک ومنل شي او داحساساتو او تخیلاتو رول یواځې داحساساتي او تخیلي مسائلو او پدیدو په ساحه کې محدود شي.



همغسې چې په فلسفي علم کې دغلطو، ناقصو او خامو فکري تراوشونو په نتیجه کې انحرافي او غلطو تیوریو او فورمولبندیو ځای نیولې وؤ دلوی جهان په باره کی هم دغه ډول انحرافي تیوریو، تخیلي نظریاتو، فرضیو، ارقامو او اعدادوهم ځای نیولې چې دمقنع ثبوتي دلایل وړاندې کول یې په هکله ډیر مشکل کار ګڼل کیږي.

دپخوانیو انسانانو لپاره هغه چاپیریال چې ژوند یې پکې کاوه ددې لوی جهان په معنی او مفهوم وؤ. تر کومه ځایه پورې چې یې مزل وهلې شو او نظر یې رسیده، په همغه ځای دهغوی جهان ختمیده او دهغې برید څخه وړاندی په اصطلاح دپیریانو، دیوانو، بلاګانو، جوج ماجوج جهان او یا مطلقه تاریکي مستقره وه .ددوی جهان کیدلې شو چې دطبیعي عوارضو، انساني دښمنیو او حیواني خطرونو پواسطه هم محدود شي. پدې باره کې مختلفو عقلي، عقیدوي، مذهبي او داسې نورو نظریو افسانو ځای نیولی وؤ او خلکو پری باور کاوه. داخبره اوس هم معموله ده چې "څلور کنجه جهان می ورپسې ولټوه" یا "داڅلور کنجه جهان ما ټول لیدلې" معلومیږي چې دهغوی په نظر دې جهان څلور کنجه درلودل او دهموارې پرتې ځمکې په شکل وو. دا ډول تخیلي کیسي او افساني دیوه نسل څخه بل ته تر ننني ورځې پورې ډیري پاتې دي او ډیر خلک پرې اوس هم باور لري.

افلاطون چې د ق م په ۴ پیړۍ کې اوسیده دلوی جهان په باره کې یې لیکلي نظریات پریښې دي. هغه دجیوسنتریزم دنظریې پیروي کوله. جیو په یوناني ژبه کې ځمکې ته وایي یعني هغه پدې عقیده وؤ چې ځمکه دجهان مرکز، پر ځای ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او لمر او نور ستوری دهغې چار چاپیر ګرځي. افلاطو دځمکې په کرویت عقیده نه درلودله.کوپرنیک ( ۱۵۴۳ ــ ۱۴۷۳ ) پولینډی عالم د لومړی ځل لپاره وویل چې ځمکه کروي ده هم پخپل محور او هم دلمر په مدار ګرځي. کوپرنیک دهیلیو سنتریزم دنظریي پلوي وؤ یعني لمر یي دجهان مرکز ګاڼه او پدي عقیده وؤ چې ټول ستوري په یوه سطحه کې دلمر نه ګرد چورلي. سره دځیني اشتباهاتو بیا هم دکوپرنیک نظر دجهاني معلوماتو په باره کې یو ستر انقلابی بدلون رامنځته کړ.

کانت، لاپلاس، کپلر او ځینی نورو دکوپرنیک اشتباهات اصلاح او دسماوي اجرامو دحرکت په باره کې یي ځیني فزیکي او متماتیکي معلومات وړاندې او شمې یې جوړې کړې.

لاپلاس دستورو او سیاراتو دپیدایش په باره کې خپله دنیبولا چې ګرم غاز ته ویل کیږي، کانت دګرد او دوړو او چمبرلاین دیخونو دکوچنیو ټوټو دموجودیت څخه دستورو او سیارو دمنځته راتګ په نظر و دریدل. هغوی داهم وویل چې لمر دکائناتو مرکز نه بلکه لمر هم دنورو ستورو غوندې یو ستورې او یواځې پ زمونږ دشمسي نظام مرکز ګڼل کیږي. ځمکه او نورې ددی شمسي نظام سیارې ترې ګرد چاپیر په خپلو معینو مدارونو ګرځي.

ددوی او ځیني نورو عالمانو دنظریاتو په اساس دکسموګوني یعنی دستورو او جهان دپیدایش، کسمولوژي، استرونومي، فضایي نسبتي تیوری او داسې نورو علومو او تیوریو اساسات فورمولبندي او اړونده څیړني پیل شو ې.

کله چې نیوتن دجاذبې عمومي قانون کشف کړ ،پدي



علومو کې نور ستر بدلونونه راغلل. دغه قانون یي دټولو اجرامو لپاره قابل دتطبیق وګاڼه او ددغه علومو ټول مسائل لکه دنورو فزیکي قضایاوؤ په څیر څیړل شروع شول.

په ۱۹۵۷ کال کې فضا ته دتوغندیو توغول پیل او بیا سپوږمۍ، مریخ او نورو سیارو ته سفرونه شروع او دغه توغوندي دټاکلو لارو ځیني په ټاکلو محلونو کې ښکته او ډیر بار ارزښته معلوماتونه ځمکې ته رالیږي او په حقه ددغه علومو او اړونده عالمانو ستر بریالیتوبونه ګڼل کیدلې شي.

کومه هرارشي چې دجهان پیژندني په باره کې پورته ذکر شوه عالمانو او یانورو پوهانو وړاندی کړې ، سره ددی چې هغوی پخپله هم پرې پوره باور نلري او هیچا تر اوسه جرئت ندې کړې چې په خپلو نظریو او فرضیو ټینګ ودریږي اویا دهغې په باره کې دمنلو وړمقنع ثبوتي دلایل وړاندې کړي ، بیا هم زه ستر برې او دمنلو وړ بولم . خو زما لپاره هیڅکله دادمنلو وړ نده چې دداسې احتمالي، تخیلي غیر دقیقو نظریو او فرضیو په اساس څوک وغواړي چې حقیقي علمي تیوری او فومولبندی جوړې کړي . لازم دادي چې هرې نظریي ته دهغې دمحتوا مطابق ارزش ورکړل شي او په پټو سترګو معجزه ونه ګڼل شي.

دفلسفي علم په بحث کې مونږ ولیدل چې څه ډول دمختلفو نظریو او مکتبونو پیروانو په ډیر څرګندو مسائلو کې یو بل ته ندي قانع شوي او خپلې لارې یې تر ننني ورځې پورې جدا ساتلي او تعقیبوي یي.

دلوی جهان په باره کې مسائل او نظریات لا ډیر مغلق او یو پیچلې ځنځیري سیستم جوړوي چې دیوه اړخ څخه تر بل اړخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې سفر او مزل یې ناشونې بریښي ځکه چې دغه پروسې ډېرې بطې او په اکثره مواردو کې ملیونونه کلونه دوام کوي او د مختلفو نظامونو او سیستمونو تر منځ مسافې چې د یوې مشترکې قضیې او فرضیې په ترڅ کې یې څېړل ضروري بریښي هم کله د ملیونونو نوري کلونو په اندازه وي. لا پخواني عالمان پدې عقیده وؤ چې د اجهان لایتناهي او د مختلفو بې شمیره ګلاکتیکونو "کهکشانونو"، سیستمونو او نظامونو څخه جوړ او د هر مجاور نظام، سیستم او ګلاکتیک او داسې نورو تر منځ د حساب څخه وتلې مسافې پرتې دي.

په کوم ګلاکتیک کې چې زمونږ شمسي نظام واقع دې ستوري یې مونږ اکثراً په غیر مجهزو سترګو لیدلې شو. اوس هم عالمان پدې باور دی چې زمونږ په ګلاکتیک "کهکشان" کې ۱۰۰ ملیارده زمونږ د شمسي نظام غوندي او لا دهغې څخه لوی نظامونه شته چې د همجواره نظامونو تر منځ مسافې ډېرو نورې کلونو ته رسیږي. که مونږ نور ګلاکتیکونه هم په نظر کې ونیسو نو تعداد، مسافې او مناسبتونه هر یو لایتناهي ته رسیږي. د دا ډول لایتناهي سیستمونو، نظامونو، مسافو او مناسبتونو د موجودیت او دهغې د همزمان ستاتیزم او دینامیزم په صورت کې د کومې محاسبې، متماتیکي افادې او عامې فومولبندۍ امکانات نه نن او نه په راتلونکي کې څوک تر لاسه کولې شي. ځکه چې حتا ډېر محدود او ځانګړي مسایل او قضایا باید همزمان په متعددو کاردیناتي سیستمو کې مطالعه او لازم نتایج تر لاسه شي چې اصلاً ناشونې کار ګڼل کیږي. نن چې کوم عالمان دا ډول محاسبې سرته رسوي فوق العاده احتمالي وي او هغوی تل هڅې کوي خپل



اشتباهات د متعددو احتمالي ضریبونو په استعمال سره اصلاح او تلافي کړي. خو کله نا کله بر خلاف دهغوی غلطۍ څو چنده کیږی.

د مخه اشاره وشوه چې دغه پروسې میلونونه کلونه دوام پیدا کوي. نو دیوې خوا د انسانانو د بې شمیره نسلونو عمر ددې لپاره کفایت نه کوي چې یوه پروژه تکمیل او د بلې خوا اوس چې شخصي او دولتي شرکتونه او مؤسسې غواړي عاجلې انتفاعي پروژې پکار واچوي، کله به څوک حاضر شي پداسې پروژو کې سرمایه ګذاري وکړي. د ریمه خبره داده، ډېر وخت کیدلې شي داسې هم پیښه شي، کوم نظام چې مونږ غواړو مطالعه او دهغې په اساس عامه قانونمندي فورمولبندي کړو میلونونه او یا لااقل ډېر ډېر کلونه پخوا له منځه تللي اوسي او زمونږ هڅې به خوشې په خوشې دیوه داسې انجام شوي عمل په باره کې سر ته رسیدلې اوسي چې په حقیقت کې فزیکي وجود نه لري او مونږ یوائې د هغوی د انعکاسي تصویرونو په څېړنو مصروف او طبعاً ب نتایج به یې هم ګټورې پایلې ونه لري.

ډېر وخت ځیني عالمان پخپلو محاسبو کې دوګانه «+» «- » نتایج تر لاسه کوي او دهغې له مخې په مثبت منفي، وجود او عدم وجود لکه ماده ـ انتي ماده، ماده ـ خلاء، ذره ـ انتي زره او داسې نورو مفاهیمو چې ګوندي ماهیوي تضادیت لري اطلاق کوي حال دا چې په اکثره مواردو کې هغوی ماهیوي تضاد نلري او یوائې قبول شوي او منل شوي صول، علائم او افاده کوي. زه نپوهیږم څه ډول پدغه مسایلو کې د دغه پوهانو باسواده او باشعوره ذهن او منطق دا منې چې د داسې بیحسابه انرژي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکو لويو کتلو تر منځ او يا اړخ ته دغه ډول تش په نامه خلا وجود لرلی شي. زه چې پدي باره کې شايد ډير ناڅيزه معلومات ولرم بيا هم زما ذهن او منطق هيڅکله دا نشي منلی او که څوک دديې خبري مدعي اوسي دهغه څخه زما پوښتنه داده چې ددغه يو جانبه بې حسابه پوتنسيال په مقابل کې چې نوموړي خلاء ته دديې ټولو کتلو دغورځولو دپاره موجو ددې کومه متقابل قوه مانع کيدلې شي ؟

زه پدې عقيده يم چې پدي لايتناهي لوی جهان کې ديوې ذري په اندازه خلاء او په بل عبارت مړه نقطه وجود نشي لرلې. که په رښتيا سره ددا ډول کوچنۍ خلاء دموجوديدو امکان پيدا شي نو دالوی جهان به يکې غرق او واقعي قيامت به جوړ شي. که چيري بيا هم داومنو چې داسې کوچنۍ خلاء پيدا شوه او دالوی جهان پکی غرق نشو نو دابه ددې معنا ولري چې همدغه دکوچنۍ ذرې په اندازه خلاء بيل جهان، هلته جداګانه قانونمندي او العياذ باالله هلته دبيل خدای حاکميت موجود دې. چې نشته !!!

همغسي چې دالوی جهان لايتناهي، مناسبات لايتناهي او بدلون او تکامل لايتناهي ګڼل کيږي همغومره دابحث هم اوږديدلې شي. ليکن دپورتنيو څه نا څه يادونو په نتيجه کې ويلې شو چې بشر دتل لپاره نه يوائې پدی علت چی دا جهان دابعادو، تعداد او تنوع له پلوه لايتناهي دې دکلي معرفت څخه عاجز دې بلکه دهغي همزمان بدلون او تکامل، ستاتيزم او ديناميزم هم داکار ناممکن ګرځوې.

څه ډول تعاملات دمثال په ډول زمونږ دنظام په لمر او دمشابه بې شميره نورو لمرونو په دننه کې پيښيږي چې



ددا ډول لايتناهي کمی نه ختميدونکې انرژي دتوليد باعث کيږي؟ پدي لوی جهان کې دمطلقو تورتمي ساحو يا تورو غارونو دموجوديت راز په څه کې دې چی هر څه يې په لمن کې ورلويږي دوباره يې څوک په حال نه خبريږی؟ خو ويل کيږی چی هر څه دهغې په غيږ کې داسې زيبښل کيږي چې دټولو موجوداتو ماليکولي، اتمي، پروتوني، الکتروني، پوزيتروني، نيتروني، کوارک، نيترين او دهغې څخه لاپسې کوچنيو ذراتو دجوړښتونو پنجري او پښتۍ داسې ورماتوي او يو په بل کې ورننباسي چې دلويو ستورو په حجم کتلو څخه دفوتبال دتوپ په اندازه او لا کوچني حجمونه جوړوي. سوال پيدا کيږي پدغه تورو غارونو کی چی ځينی کسان يې خلاء بولي دومره عظيمه قوه چې داکار سرته رسوي له کومه شوه چې ددغه عظيمو کتلو داجزاوؤ په ټټر کې چې کومي لايتناهي قوې موجودې دي دفع او بيا څه ډول يو تشکل رامنځته شو چې دغه عظيمی قوې يې پخپل کوچني حجم کې ټينګي ونيولې او ويې ساتلې. داسې هم ويل کيږي چې پدغه توروغارونو کې هر څه په حقيقت کې دنوي جهانونو دجوړښت په اوليه موادو بدليږي، کرار کرار تجمع کوي او کله چې بحراني کتلې ته رسيږي **BigBang** (لويه چاودنه ) کوي او هر څه په اصطلاح دلاپلاس او ګانت په نيبولا يعنې ګرم غاز او ګرد او يا دچمبرلاين ديخونو په ټوټو او يا په بل عبارت دنوي جهان دبناء په خښتو بدلوي او نوي جهانونه ترې جوړيږي. ددا ډول فرضيو وړاندې کول، منل او ردول درې واړه مشکل کار ديي. په هر حالت کيې يي عجله پکار نده او پوره غور او سنجش پری کول پکار دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کانت، لاپلاس او چمبرلاین د نظریاتو په هکله ډېر حسن نیت په صورت کې کېدلې شي د لوی جهان د بدلون او تکامل په پروسه کې ډېر کوچني عامل او ډېر خصوصي حالت په حیث ومنل شي نه د جهان د پیدایش د مبداء او یا په کل کې د هغې دعوا ملو په حیث.

ځینې کسان پدې باره کې عقیده لري چې ددې جهان زوړ دفتر اول او اخر نلري او څوک ترې نشي خبرېدلې، او د پوهانو او فیلسوفانو دتخیلي، تصوري او فنتازي تیوریو وړاندې کولو لپاره یې بوینه د خامو ختو ناپایداره پلندۍ برابره کړې ده. پدې باره کې زه پدې عقیده یم چې پدې جهان کې هیڅ شي بې پلمه نه ورکیږي، ددې جهان دزاړه دفتر ټولې پاڼې پوره دي او دامکاناتو په لاسته راوړلو سره هر وخت چې مونږ وغواړو دحاضر وخت په بنیاد ددفتر دابتدا څخه تر انتها پورې مطالعه او محاسبه کړو. دا موضوع په یوه بله لیکنه کې ما په کافي اندازه څېړلې ده.

ډېر وخت داسې هم پېښېږي چې ځینې کسان د خپلو فرضیو دتائید په خاطر دناقصو فکري تراوشونو او حتی کله نا کله دخود ساخته منطق او استدلال له مخې ځینې نوری فریې وړاندې کوي او په نتیجه کې اشتباهات لاپسې زیاتوي.

دمخه یادآوری وشوه چې کله نیوتن دځمکې دجاذبې عام قانون کشف کړ، انشتاین نسبي تیوري او همداسې نورو عالمانو نور فزیکې قوانین کشف کړل هغه دټول لوی جهان دپاره عام ومنل شول او دهغې په اساس یعنې دفزیک دعلم دقوانینو او البته دلوی جهان پورې تړلی نور مسائل او قضایا دکیمیا، بیولوژي، متماتیک او داسې نورو علومو له



مخې ثېړل کېږي. زما په نظر دا مسئله هم دپوره تأمل وړده. ځکه چې دا ډول علوم په ځانګړي توګه په حقیقت کې وجود نلري. ددې علومو په نامه کېدلې شي ځانګړې افادې لکه ۴ = ۲ + ۲ ، $H_2$ $So_4$ ، $E = mc^2$ او داسې نور مفاهیم او معادلې وجود ولري خو کله چې خبره تعامل او پروسې ته رسیږي دا افادې هیڅکله په ځانګړي توګه نه پاتې کیږي او دلمړۍ لحظې څخه تر پایه پورې په متداخل ډول هر څه دوام پیدا کوي او دغه علوم یوائې په متمم، مکمل او همزمان تداخل سره یوه پروسه تکمیل او یوه عامه قانونمندي افاده کولې شي. او بس.

اوس پخپله قضاوت کولې شو چې ایا ممکنه ده دلوی جهان او یا لوی علم عامه قانونمندي یوائې دفزیک دعلم یا دهغه دکوم ځانګړي قانون لکه دجاذبې قانون، نسبتي تیورۍ او داسې نورو په واسطه افاده کړو او که څوک غواړي دا کار وکړي او یا یې کړې وي څومره حق په جانب او نتائج یې څومره دقیق ګڼل کېدلې شي. دې کې شک نشته کله چې دعامې قانونمندۍ مسئله مطرح نه وي په خصوصي ځانګړو مسائلو کې ددغه علومو ځانګړي قوانین تر ننني ورځې پورې داستفادې وړوو، خو محاسبوي نیمګړتیاوې او تفاوتونه دمنل شوؤ او تجربه شوؤ دبې خطرۍ دضریبونو او یا د تدریجي اصلاحي پروسو «correction» په واسطه تلافي کیږي او دممکنه حوادثو دپېښېدو څخه جلوګیري کېدلې شي.

دمخه وویل شول چې دلوی جهان ځینې نظامونه له مونږ څخه دومره لیرې واقع دي چې نور دهغه ځایه څخه تر مونږ پورې په میلونونو کلونو کې رارسیدلی شي. ځینې وخت داسې هم پیښېدلې شي کله چې دلمړي ځل لپاره ددغه نظام څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ معلومات تر لاسه کوو پخپله دغه نظام له منځه تللې اوسي خو مونږ به هغه دیوه موجود نظام په حیث ګڼو ،ځکه کله چې نور له هغه ځایه زونږ په لور حرکت کاوه ، دغه نظام موجود وو او مونږ لپاره له منځه تللی او موجود نظامونو تر منځ مشکل ګڼل کیږي .

دا قضیه ددی دلیل هم کیدلې شي ، ووایو چې پدې لوی جهان کې هیڅ کومه پدیده بې پله لا درک کیدلی او له منځه نشي تللې او دهرې کوچنۍ او لویې حادثې او بدلون او تکامل په هکله معلومات د تل لپاره پاتې کیږي او د امکاناتو په صورت کې د پرنسیب له مخې هر ډول محاسبې ترسره کیدلې او هر ډول معلوماتونه لاسته راوړل کیدلې شي. مونږ کولې شو په دې باره کې ډیر ژوندي مثالونه راوړو لکه د **DNA** له لارې د وراثت تسلسل تثبیتول او تعقیبول ، او که په راتلونکې کې انسانان نور امکانات هم پیدا کوي نو کولې به شي د تیرو حوادثو او پروسو په باره کې معلوماتونه تر لاسه او د راتلونکې په باره کې قانونمندې دقیقې پیشګویي او اټکل وکړي. لیکن دلوی علم څښتن دلوی جهان په ټولو حوادثو او خورا کوچني حرکت باندې په تیره، حال او راتلونکې زمانه کې علیم البصیر دی.

همغسې چې د الوی جهان د ابعادو ، پدیدو د شکلي او ماهیوي تنوع، دینامیکي وجدي حالت، او نورو ذات البیني پروسو له مخې لایتناهي او محاسباتي افاده او قانونمنده فورمولبندي یې د بشري عملي امکاناتو څخه وتلې او ناممکن کار ګڼل کیږي په همدې توګه ددغه جهان ډیره کوچنۍ پدیده هم دننه پخپل ذات او ماهیت کې همدومره ډیره ژوره او په هغې



باندې د حقیقت په حیث کامل علم او معلومات پیدا کول د انسان د مقدراتو څخه وتلي او اچت کار ګڼل کیږي . حال دا چې په پرنسیب او نظر له مخې انسان لپاره ، چې د خدای خلیفه ګڼل کیږي کوم ممانعت نه شته ، خو په عمل کې ، څرنګه چې ددې کار لپاره کوم ضرورت نه لیدل کیږي ، نو یې عملي مقدرات هم موجود نه دي.

سقراط، افلاطو ، دهغوی څخه وروسته نور ډیر عالمان او حتا نننی ملایي حکمت او ځینې فلسفي نظریات اوس هم پدې عقیده دي چې دا جهان د څلورو عناصرو څخه جوړ شویدې حال دا چې تر نننۍ ورځې پورې د کشف شوو عناصرو شمیر له ۱۱۸ عناصرو څخه پورته ځغلي او د مندلیف په جدول کې لا ډیر نور ځایونه خالي پاتې دي. ځینې کسان مالیکول چې د ځانګړو فزیکي، کیمیاوي او داسې نورو خواصو درلودونکې دې ددې جهان د بناء اساسي خښته ګڼي او ځینې نورو عالمانو اتم تر دانژدې پرون پورې غیر قابل د تجزیې واحد ګڼه او پدې عقیده وو چې اتم پرته له شکه ددې جهان د جوړښت اساسي ډبره تشکیلوي. اوس چې اتم تجزیه شوې او دهغې په داخلی نظام کې مختلف نور کوچني واحدونه او حتا مستقل نظامونه موندل شوي بیا هم ذروي، هایدروجني او نور تعاملات او چاودني د اتم په نوم یادیږي.

زه په دې عقیده یم ، څرنګه چې د اتم په تشکل سره عناصر تشکل مومي ، نود عالم الاسباب ټول خلقتونه او پدیدې پرته له شکه د خدای په مقضي الامر اراده سره د اتم د جوړښت له لارې تشکل موندلې او په حقه سره ددې جهان د بناء خښته ګڼل کیږي.شاید داسې پوښتنه پیدا شي ، خورا کوچنۍ ذرې چې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه پورې يې بشر په ميندلو قادر شوې دکوارکاو نيترين په نومونو يادېږي چې دانرژی په درلودلو سره ځانونه ښکاره کوي ، نو ولې دغه کوچنۍ ذرې ددې جهان دبناء او د هغې پورې اړونده خلقتونو او پديدود جوړښت خښتې نه شي جوړيدلې ؟ ددې علت ډير عوامل کيدلې شي ، خو زه به ځيني دلته ذکر کړم .لومړې داچې دغه کوچنۍ ذرې دوامداره او پايداره ژوند نه لري او لکه چې دمخه هم ورته اشاره وشوه ، يواځې هغه وخت ثرګنديدلې شي چې انرژي ولري . خوداچې وروسته څه ورپيښيږي، دهغوی په دننه کې کومې پروسې جريان لري، په کومو نورو کوچنيو اجزاوؤ ماتيدلې شي او ددې لوی جهان په جوړښت او نظام کې څه ډول موقف لري هيچا ته ثرګنده نده او هيڅوک پرې نن هم نه پوهيږي. خو زما په عقيده لکه ثرنګه چې يو وخت اتم داسرارو پټه خزانه ګڼل کيده دهغې په منځ کې هر بعدي کوچنې واحد به هم دهميش دپاره دغه ډول پټ رازونه دځان سره وساتي .دوهم دا چې دغه کوچنۍ ذرې طفيلي او داتم په چاپيريال پورې تړلې ژوند لري او داتم دچاپيريال څخه د باندې يې پيدا کول دي. اتم پرته له دې چې نسبي پايداره ژوند لري ، په خپل بنياد کې د نسبي خودبقاء او خود کفاء پايداره جوړښتونو لپاره مقدر او مقضي قايم باالذات قانونمند پو تنسيال لکه ويلانس او داسې نور لري. په دې باره کې به په راتلونکي کې انشأالله توضيحي بحث وشي.

ثرنګه چې ددې لوی جهان اخري پولې ته څوک ندي رسيدلې چې دبل جهان خواته پښه وروا ړوي او نه هغې جګې څوکي ته څوک ختلې چې ښکته ژورې کندې ته ټوپ ووهي په همدې ډول ددې جهان کوچنيو واحدونو کو چنيو کوټګيو ته



سفر هم لاپای ته ندې رسيدلې او زما په نظر هيڅکله به زمونږ دذهن رڼا دغه تاريکو او ژورو کنجونو ته ونه رسيږي او نه به زمونږ فهم او درک پدغه کوچنيو محلونو کې دمعمولو پروسو او ورځنيو جريانونو دفورمولبنديو په افاده باندې قادرشي. خو هغه چا چې په قضاء کې ددغه جوړښتونو بنياد ايښې دې او دهغې دپاسه يې ددې لوی جهان ماڼۍ آباده کړي او دغه لوی نظام دهميش دپاره په همزمان متغير، متکامل ستاتيک او دينامک وجدي حالت کی ساتي طبعاً هره لحظه دخپل لوی علم دلارې دهغې په ټولو خصوصياتو ، اوصافو او قانونمنديو عالم او قادر دې.

عظمت، طاقت او لوی پوتنسيالونه په لويوالي کې په عادی او رواجی منطق برابره او منلی مسئله ګڼل کيږي ، خو دغه پديدې په خورا کوچنيوالي کې يواځې هغه څه دي چی دلوی علم او لوی جهان دابديت، متقابل استلزاميت او ابدي ديالکتيک اساسي زړې تشکيلوي او دبلې خوا داهغه يواځيني ممکنات دي چې انسان دخپل شعور او درک له مخې دميکره جهان دعظمتونو په اساس دماکره جهان عظمتونه تصور کولې ، مشابهتونه او مناسبتونه موندلې او په قياسي او استقرايي لحاظ دلوی جهان دپاره دلوی علم دقوانينو نسبي فورمولبندي او مقايسوي ارزوني کولې شي.

په همدې باره کې يو لنډ وضاحت. دلمر دننه دعظميمو ذروي انفجاراتو ، دهيلوم او نورو اړونده عناصرو دتجزيې، دميلونونو درجو حرارت ، دبې حسابه انرژيې توليد ،دفوتونونو دتسلسلونو پواسطه د ميلونونو کيلومترو په ليريوالي دهغی انتقال او دهغی پواسطه دنبات دکلوروفيل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنۍ حجره کې دفوتو سنتيز دعمليي په ترڅ کې دبې حسابه رنګارنګ غذايي ذخايرو توليد او يا هغه پخپله باالذات دټولو موجوداتو دبود ونبود او مرګ او ژوند علت او معلول ګرځول په رښتيا چې دعظمت معجزه ده او دنيمه باسواده انسان دادراک او فهم څخه اوچته مسئله به هم نه اوسي. خو هغه قوه چې داتم په هسته کې ددوه همجواره پروتونونو تر منځ او يا دهغوی تر ځنګ لکه دويده ښامار نيترون په سينه کې موجوده ده دعادي انسان خو لا څه چې عالمان يې هم پوره په راز ندي پوهيدلي او نه يې دسنجش دعهدي څخه وتلي شي . نو پدي باره کې دکهترۍ او مهترۍ اطلاق هم دپوره تأمل وړ دې.

نپوهيږم چا شميرلي او څه ډول يې شميرلي خو داسې وايي چې دانسان کوچني مغز د ۱۵ مليارده عصبي او نورو اړونده ريښکيو او بې شميره کوچنيو واحدونو څخه تشکيل شويدې چې عايق، نيمه عايق او هادی جوړښتونه لري او اړونده واحدونه او جوړښتونه په مستقيم او غير مستقيم ډول د هادی او نيمه عايق ريښکيو پواسطه تړی او يا يې دعايق حايل پواسطه جلا کوي. هر څوک فکر او سنجش کولې شي چې پدې کوچنيوالي سره دا څومره پيچلې او مغلق جوړښت دی. څومره بې شميره فعاليتونه سرته رسوي. څومره بې شميره او مغلق سيستمونه په شعوري او لا شعوري ډول اداره کوي، څومره بي شميره معلوماتونه دځان سره ساتي او دڅومره.... بې شميره لکه دفاعي ، معفيتي، ارثي، تکاملي او نورو اجرأتو قابليت لري او تقريباً په لحظوی شکل ددغه پديدو دمناسبتونو له مخې په نسبي قضاوت او نتيجه ګيرۍ هم قادر دې .

هو ! دا هم لويه معجزه او خارق العاده خلقت دي. که دننني



تخنيکي ـ علمي سويي مطابق دومره مواد راټول او دغه ډول مغلق ميکانيزم ترې جوړ چې اول ممکن ندې او که ممکن هم شي نو دهغي دځای پځای کولو دپاره به که دروغجن نشم ددې ځمکې څخه لوی سر پکار وي.

دبلې خوا انساني، حيواني او نباتي حجرات چې ميکره سکوپي واحدونه ګڼل کيږي او په هغې کې ډير زيات نور کوچني واحدونه چی ځينی يې تر واسه کشف او دځيني نورو په کشف لا تر اوسه دبشر لاس ندي بر شوې او سر يې پري نه خلاصيږي. زه پدي باره کې دقيق نه غږيږم ځکه چې پوره پري نپوهيږم خو داسي وايي چې پدغه کوچنۍ حجره کې دامينو اسيدونو تسلسلونه، د ۴۶ کروموزومونو واحدونه او يا ۲۳ جوړې کروموزومونه او په هغي کې DNA ,RNA او داسي نور واړه جوړښتونه چې تر اوسه پرې هيڅوک پوره نه پوهيږي موجود دي. DNA دتعجب وړ ډير کوچني جوړښتونه دي چې دانسان دوجود داعضاوؤ، اجزاوؤ، اوصافو او ټولو نورو کمي او کيفي جوړښتونو دارثي انتقال پروګرام پکي پروت دي. دغه پروګرام دانسانانو دموجوده څه دپاسه ۶ مليارده نفوس، دمختلفو اتنيکي ـ نژادي ګروپونو، مليتونو، قومونو، طائفو او منفردو انسانانو په افقيت او عموديت کي يو تربله سره څرګند تفاوتونه لري. يعني دانسان دوجود ديوي کوچنۍ حجرې څخه نيولي دبدن دټولو اعضاوؤ لکه قلب، جګر، پختورګو، سترګو، غوږونو، دسترګو درنګ، ويښتانو، دويښتانو درنګ، دپوستکي درنګ، دانسان دمغز مغلقترين جوړښت، بلکه دهر انسان دخصوصياتو په تفاوتونو او دزماني فاکتور ددياالکتيکي بدلون اوتکامل په عموديت او افقيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ټول کمي او کیفیاوصاف او خصوصیات هم پدغه پروګرامونو کې په نظر کې نیول کیږي. دهمدغه خصوصیاتو له مخې دبوسنیا د ۸۰۰ تنو مسلمانانو مړي چې څو کاله پخوا په جنګونو کې وژل شوي وؤ او همداسي د شهید محمد داودخان دکورنۍ اعضاوو ټول کسان تشخیص او خپلوانو ته سپارل شول. دازمونږ پدي کوچنۍ نړۍ کي دخلقت دعجاییاتو دډیری ساده، نیمګړې او ناقصې یادوني نمونه ګڼلی شو. راشئ پدی باره کي ډیر ژور فکر وکړو چي کومې پدیدي ته زیات ارزش قائیدلې شو. دانساني مغز ته او که ډیر کوچني DNA ته او داهم په نظر کي ولرو چې دغه ډول دخلقت عجائبات او معجزي به نورې څومره موجودي اوسي؟(د معجزي کلمه دلته یوائي په لغوي مفهوم سره راوړل شویده.)

راشئ پدي خبره هم فکر وکړو چې دا هر څه ټول خوشي په خوشي یوائي دعظمت او قدرت نمایش دې او که دې دڅه لپاره دي؟ او که دا هرڅه دحقیقت او واقعیت مظاهر او پدیدې دي چې پوهیدل او باور پرې کول پکار دي. نوموړې پدیدي که دیوې خوا دانتباه په خاطر دعظمت او قدرت نمایش هم اوسي دبلې خوا دعالي علمي کلتور نمایش هم دې چې انسان دباشعوره، عاقل، عالم خلف په حیث ددغه عالي علمي کلتور ددرک او عملي عام تطبیق او ترویج مسئولیت او مکلیفیت په غاړه لري. نه دا چې دخپلو شعوري، علمي او مادي تخنیکي امکاناتو په وسیله په ذات البینی انساني او عام خلقتي مناسبتونو او مسایلو کي دتبعیض او تنګنظرۍ څخه کاراخلي او دشخصی ګټو په خاطر لکه نن چی په نړۍ کي ظلم او ناروا دوام لري، په نورو باندی مظالم روا وګڼي.



زه باور لرم چي خدای لوی ذات دې. زما په شعوري طیف کي نه ځائیږي. زه په قاصر شعور او عقل ځان د خدای د لوی ذات او صفاتو د معرفت جوګه نه بولم. خو په هغه څه چي د خدای په باره کي د خدای په کلام کي ذکر شویدي، پرته له شکه باور او ایمان لرم او ټول شکونه مي په یقین او کلکه عقیده بدل شوي دي او همدومره دپاکي عقیدي په خاطر زما او بل هر چا لپاره کفایت کوي.

زه پدي هم عقیده لرم چي انسان خدای پدي جهان کي خپل خلیفه ګرځولې دې او هر انسان د خپلو مقدراتو له مخې په نسبي لحاظ دخدای په علم دپوهي مقدرات هم لري. خدای دا جهان او ټول خلقتونه قانونمند پیداکړي ،قانونمند پایي او قانونمند بدلون او تکامل مومي. هر انسان کولې شي یوائې ددي لاري په عملي او نسبي ډول دخدای په علم ځان پوه کړي. د خدای دذات او صفاتود معرفت لار دخدای کلام اوپه علم د پوهې لار عالم الاسباب او ټول خلقتونه دي. اضافه له دي لاري وجود نلري. تخیلات ، تصورات او نوري هر ډول هڅي پرته دوخت ضایع کولو څخه بل څه نه دي.

زه او بل هر څوک باید هڅه ونکړي عبث دخدای دذات او صفاتو په باره کي خبري وکړي. خدای انسان د خپل علم په معرفت مقدر او مکلف ګرځولې ترڅو دبشریت په ګټه دهغي څخه عملي استفاده وشي. انشاءالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عېنیت او ذهنیت دیالکتیک

ذهنیت نسبي عېنیت دی ځکه چې په کلي ډول عېني واقیعتونه نه شي منعکس کولی او هر مشخص ذهنیت په خپل ذات کې عېني واقیعت دی. همغسي چې د تلویزیون او سینما په پرده ځیرې او رنګونه د عیني واقیعت په څیر د نورو عیني واقیعتونو د نسبي عیني انعکاس په توګه منلي شو او دا ډول ډیر نور مثالونه هم کیدلای شي راوړل شي، دا هم باید ومنو چې ذهنیت هم په خپل ذات کي عیني واقیعت دی چې په نسبي لحاظ نور عیني واقیعتونه منعکس کوي. کله چې نوې پدیدې د دیالکتیکي تکامل او تغییر په نتیجه کې ظهور کوي، په نوي شکل او ماهیت د نورو پدیدو سره په دیالکتیکي ارتباط کې واقع کیږي او په نوي شکل او ماهیت په ذهنیتونو کې انعکاس پیدا کوي.

ذهنیتونه همیشه د تکامل په مختلفو دورو کې د عینیت سره په دیالکتیکي ارتباط کې واقع وو او نوموړو ارتباطاتو پخپله په ذهنیتونو کې ترننۍ ورځې پورې په شکل د اشکالو په خورا مختلفو ډولونو سره انعکاس پیدا کړیدي.

دچا ذهنیت د ذهنیت څخه بیګانه شوي او په خپله خیالي



تنګه دنیاګۍ کي چې اصلاً خارجي عیني وجود نه لري دیوه بې ساري قدرت، دیوې مطلقې ایده، دیوه جهاني روح او دا سې نورو په څیر یې تبارز کړیدی او د خپل ذهنیت له وریځو څخه یې ځانونو د پاره مجازي خدایان جوړ کړي دي.

ځیني نور چې د ذهنیت سترګي یې هم غړیږي او غواړي واقیعتونه په عیني ډول تشخیص او تعریف کړي د ذهنیت سره په اصطلاح ذهني کړه وړه کوی. د ریمه ډله هم غواړی چې فلسفي مسایل د واقعیت له مخې درک کړي خو هغوی د خورا عامیانه لید لوري څخه د غه مسایل ارزوي او د دغه مختلفو عقایدو، نظریاتو او افکارو په بحبوحه او تیل ناتیل کي علمیت او فلسفه له خپل اصلي قانونمند مسیره پریوتي، د قانونمند فکري تراوش تداوم شلیدلي او د علمي قانونمندۍ د تیوریتیکي اصولو د منطقي تسلسل په له منځه تلو سره پخپله منطق عامل د بې منطقۍ ګرځیدلي دي.

په بشري شعور کې، د حوادثو، پدیدو، بدلونونو او قانونمندیو یوا ځې ډیر کوچنې طیف انعکاس پیدا کوي او پاتي برخه لا شعور تشکیلوي. شعوري پدیدي او خلقتونه د انساني مقدراتو له مخې د بشري ذهنیګریو، امیالو او لاسوهنې معرض ګرځي او هیڅکله د انساني هوس، غرایزو، حرص او شخصي ګټو په خاطر د تعرض، نقصاناتو او د نظام د تخریب او تباهۍ څخه مصؤن نه شي پاتې کیدلې. خو د دې لوی جهان د خلقتونو، پدیدو او قانونمندو بدلونونو خورا ستره برخه بشري لاشعور جوړوي چې د بشري لاسوهنې او تعرض څخه مبرأ او یوا ځې د خدای د مقضي ارادې له مخې د لوی علم د قانونمندیو، اصولو او معیارونو مطابق په متداخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتګرالي تعاملاتو سره ددې لوی جهان قانونمند جوړښت ، پايښت ،بدلون او تکامل پايداره ساتي. شعور او لاشعور په قانونمند ديالکتيکي ارتباط کي قرار لري او قانونمندي ددغه ديالکتيک يواځيني اساسي لازمي او کافي شرط ګڼل کيږي. د شعور او لاشعور مناسبت او ديالکتيک يواځې او يواځې دهمدغه لويي علمي قانونمندۍ له لارې دتماس ، مماس ، تقابل او راز و نياز هغه کوچنې محل ، نقطه او ظريفه رابطه ده چې بشر په کې د خپل علمي استعداد ، شعوري درک، تقوا ،کرامت او نورو مناسبتونو او لارو چارو په وسيله د برحق معبود سره د الهام او پيغمبرانو «ع »لپاره د وحي او نبوي رسالت امکانات او علت جوړوي. پدې ډول د خدای رابطه د لوی جهان ، د هغې دټولو خلقتونو او په خاصه توګه د خپل خلف مخلوق انسان سره يواځې دعلم له لارې ده. ددغه خلقتونو د قانونمند پيدايښت ، پايښت ، بدلون او تکامل ،چې له يوې خوا د خدای دلوی ذات د عدل ،انصاف ،رحم ،کرم اود سترو نعمتونو د سخاوتمندانه پيرزويني اساسي عامل او وسيله ده هم يواځې د علم په بنياد عملي بڼه پيدا کوي او له بلې خوا د دين او شريعت په صراط المستقيم دخدای او جهان دمعرفت هر قدم او هره بيلګه هم د علم په مشعل روښانه کيږي او ددغه ابدي سفر يواځيني مرستندوی او رهنما هم يواځې علم ، قانونمندي او با الاخره بيا هم يواځې علم دې چې ټول دغه خارق العاد ناممکن مناسبات د خدای د مقضي ارادې له مخې د متقابل استلزاميت ، متقابل منفعت او متقابل ضرورت ، جبر او اختيار په بنياد ممکن ګرځوي. په نتيجه کې ويلې شو چې علم او قانونمندي په کل کې شکل دموجوديت دجهان او په



هغې پورې داړونده پديدو او خلقتونو ګڼل کيږي.

دشعور او لاشعور ديالکتيک په حقيقت کې د جهان دمادي موجوديت او دهغې دټولو پديدو او خلقتونود ټولو مناسبتونو د ديالکتيک د تهداب اساسي تيږه او زړې تشکيلوي.دعملي ژوند او تجاربوڅخه مونږ د عددي ،ګرافيکي ، عصبي ، روحي ، فزيو لوژيکي ،بيو لوژيکي او نورو پروسو له مخې کمي او کيفي شواهد په لاس کې لرو چې د همدغه شعور او لاشعور ديالکتيک څيړنيز مادي کميتونه او کيفيتونه جوړوي. پدې توګه ويلې شو چې د شعور او لاشعور ديالکتيک چې د خدای او انسان او بلکه د خدای د ټولو خلقتونو سره د قضاء او قدر د عام قانون په بنياد يواځې قانونمنده علمي رابطه جوړوي ، هم د مادي ارزښتونو له لارې افاده کيږي ،يعني چې دخدای او انسان تر منځ د الهام ،تلقين ،وحيي او ديته ورته نور و رحماني مناسباتو او معنوي قانونمند افهام وتفهيم رابطه وجود لري.

دمخه مونږ فلسفه د خدای د لوی علم دبشري ذهني خلف علم په حيث قبوله کړې وه. د شعور او لاشعور مناسبت او ديالکتيک چې د خدايي خلقتونو د پيدايښت ، پايښت ، بدلون او تکامل بنسټ ګڼل کيږي ، هم بايد د فلسفې اساسي مسئله وګڼل شي او ټولې مقولې ،قوانين ،فورمولبندۍ ،تيورۍ ،علوم او نظريات دفلسفې د اساسي مسئلې همدغه منبع زيږنده او دعلومو هر ويش ،تشخيص ، تفکيک ،تفريق هم په همدغه بنياد منځته راتلای شي. قرآن چې د خدايي احکامو ،اصولو اود لوی علم د شعور او لا شعور د ديالکتيک يواځينۍ او لومړنۍ معتبره منبع او مرجع ده ، په پرنسيپ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو علمي او ټولونیزو مسایلو او قضایاوو د علمي منطقي قانونمندۍ ریښه هم د همدغه قانونمند دیالکتیک او مناسبت په زړه کې ښخه ده. یعنې چې د علم او قانونمندۍ خالق په واقعي مفهوم او معنا خدای دی او یوائیني لیکلې محفوظ علمي سند قرآنکریم ګڼل کیږي. پدې باره کې به پخپل نور لازم بحثونه هم وشي، خو پدې ځای کې ددې خبرې ذکر ضروري ګڼم ،چې اسلامي فلسفه پوهانو د اسلامي فلسفي څیړنو په وخت کې یوناني، اروپایي او نورو فلسفي څیړنو او تیوریو ته مراجعه سمه نه وه. ځکه دوی له لومړۍ ورځې څخه د علمي قانونمند حقیقت زړې له لاسه ورکړ او دحقیقت د مستقیمې او لنډې لارې پر ځای د تخیل ،انحراف او حتا ګمراهۍ په کږلیچونو او ګړنګونو رهي شول. دوی د غربي غیر اسلامي فلسفو ټول ګناهونه ،غلطۍ، اشتباهات او نیمګړتیاوې نا خود اګاه او غیر شعوري د اسلامي فلسفو د علمي څرګندو او واضح قانونمندو مفاهیو په بوده او تنسته کې واخڼلې او په همدې لحاظ د اسلامي فلسفې رڼ علمي حقیقت تر ننه همغسې لا مکدر پاتې دې.شک نه شته چې په ټولو فلسفو کې ځیني مفرداتي، متودولوژیکي، ژبني منطقي، علمي او دیته ورته نور حقایق پراته دي او مراجعه ورته هیڅکله له ګټې خالي نه ده ، خو نه داسې مراجعه چې اسلامي فلسفه په کې خپل علمي قانونمند حقیقت له لاسه ورکړي اد نورو د سهوؤ، خطاوؤ او حتا د ګمراهیو په لارو روا نه شي. پکار دادي چې نورې فلسفې د علم او حقیقت مشعل له اسلامي فلسفې څخه تر لاسه او دهغې له مخې په خپلو څیړنو او علمي حقایقو کې سمون راولي.



ذهني خته هم بالذات دیالکتیکي تکامل او بدلون مومي او پخپل وار با الذات په خپل ذهنیت او نوروذهنیتونو کې لکه دعیني واقعیتونو په څیر منعکس کیږي اولازم تأثرات رامنځته کوي او ذهنیتونه او شعور یو په بل کي په نا مریي شکل لکه نور عیني واقعیتونه اوپدیدي دمتقابل انعکاس قابلیت لري او همدلته مختلفې شعور پدیدي سره تړل کیږي او دشپږم حس ،خوب ،تلقین او الهام دزیږندي علت او معلول ګرځي . دبلې خوا همغسې چه معین احساس ذهنیت منځ ته راوړی مشخص ذهنیت هم دخارجي عینیت څخه پرته معین احساس لکه په طبیعي ډول تحریکولې شي چې دا پخپله دذهنیت د عینیت د اثبات او د عینیت او ذهنیت ددیالکتیک د موجودیت د دلایلو څخه یو دلیل هم ګڼل کیدلې شي. د مثال په ډول کله چې یو څوک خپله تیره ناوړه خاطره په یاد راوړي یو ځل بیا د همغه تیرو خاطرو د عواقبو څخه متأثر کیږي.

په ذهن کې د ذهنیت دانعکاس ډیر معقول دلیل همغه دروسي عالمانو سچنوف او بالخصوص پاولوف غیر شرطي رفلکسونه مثال راوړل کیدای شي چه په حقیقت کې دیوه ذهنیت بیو پسیکولوژیکي او ځیني نور انعکاسات په بل ذهن کې ښئی. یا دا چې کله یو ذهن تکامل او تغیر مومي او نومورې تغیر دیوه روحي حالت « د کوچنیو ذراتو د انعکاس» په څیر پخپله په ذهن کي منعکس کیږی.

په ذهن کې دذهنیت د انعکاس پسیکو فزیولوژیکي، پسیکو شیمی اوپسیکو بیولوژیکي او داسي نورو علتونو تشخیص په اینده پوري اړه پیدا کوي چې دعلم او تخنیک او همداسي داجتماعي شعور د سطحې دلوړتیا په صورت کي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نه پتېدونکي ثبوت په څیر منځ ته راووځي. په ذهن کي د خارجي عینیت نسبي انعکاس همغه د پاولوف د شرطی رفلکسونو په اساس او د شعور د عمومي پروسي د تخنیک مطابق توضیا او تشریح کیدلې شي.

پدې باید کلکه عقیده ولرو هغه نړۍ چې مونږ په کې ژوند کوو د هرڅه د مخه مادي ده. مادي نړۍ یواځې او یواځې د مادي قوانینو په چوکاټ کې د تسلسلي پروسو او فعل و انفعالاتو په ترڅ کې بقا درلودلای شي او بیا هم یواځې د همدغه قوانینو مطابق تبارز، تغیر او تکامل کولې شي. کله چې مونږ د نړۍ او د هغې پورې د مربوطو پدیدو او قوانینو په مادیت اطلاق کوو، نو پخپله او بې له هر ډول شک څخه غیر مادی مفاهیمو، قوانینو او داسی نورو مفاهیمو او پدیدو ته په حقیقت کی ځای نشی پاتی کیدلی. یواځی د مادیت په لمن کې دیوه موجود او یوی پدیدي د موجودیت تبارز او تثبیت ممکن ګڼل کیدلي شي او دا هرڅه د لوی خدای د لوی علم د لوي قانونمندۍ له مخي په دې لوی جهان یعني عالم الاسباب کې ېې د بشر او نورو خلقتونو د پاره متناسباً قانونمند، مسخر او مقدر ګرځیدلي دي.

و، اي لینن پخپل اثر (ماتریالیسم او امپیریو کریتیسیسم) کی د مادي په باره کې هر اړخیز بحث کوي او په اصطلاح د ذهني ایډیالستانو په مقابل کې د ماتیریالیسم څخه دفأع کوي. هغه وایي د ما دې په نا مه کوم ټاکلې شې وجود نلري. ما ده یو انتزاعي فلسفي مفهوم دې چې په هر عینی موجود چې زمونږ په ذهن کې انعکاس پیدا کوي، دلالت کوي. (د لینن کلیات اتلسم جلد) و.اي لینن د انسان شعور معیار د حقیقت او



واقعیت ګڼي. حال دا چې دا سمه نده. ځکه چې مطلقه با شعوره ماده وجود نلري. زمونږ د ذهن شعوري طیف خورا کوچنې او ډېرو واقعیتونو د درک څخه عاجز دي او هیڅکله معیار د حقیقت او واقیعیت نشي ګڼل کیدلي. پدې ډول ماتریالیستان په شعوري او همداسي اجتماعي پدیدو کي ایدیا لیستان پاتي شویدي. کارل مارکس هم ماتریالیزم په دوه برخو یعني دیالکتیکي او تاریخي باندي ویشي، حال دا چې په دیالکتیک کي تاریخ او په تاریخ کي دیالکتیک وجود لري او دواړه د مادیت مقید او مستلزم دي.

ماده یوه فلسفی مقوله ده چې په ټول عینی واقیعت د لالت کوي. دیالکتیک د مادي د موجودیت یواځیني قانونمند شکل دي. ماده ابدي ده ځکه چې د مادي حرکت ابدي دي. ماده موجوده ده ځکه چي متحرکه ده او متحرکه ده ځکه چي موجوده ده. مطلقه با شعوره او مطقه بې شعوره ماده وجود نلري. حرکت، زمان مکان، شعور، قانونمندي،... د مادي د موجودیت شکلونه دي.

کله چې دی نتیجي ته رسیږو چې په نړۍ (البته د نړۍ څخه زما مرام د موجوداتو عام مفهوم دی ـــ عالم الاسباب) کي د خدای د مقضي او مقدري ارادې له مخې هیڅ مفهوم هیڅ قانون او هیڅ یوه غیر مادي پدیده او خلقت وجود نه لري او که لري یی یا د واقیعت څخه لیرې او یا فرضي، تصوري او نسبي شکل لري. شاید پوښتنه پیدا شي چي دا ټول روبنا یي او معنوی مفاهیم، مسا یل او قوانین خیر څه مفهوم لري او په څه ډول هغه توجیه کید لي شي ؟

هو ! که مونږ پخپل تحلیلي او تحقیقي نظر کې تنګ نظره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سو او دټولو علومو څخه په جرئت سره خلاقانه مثبت او صحیح بر داشت وکولې شو او ذهن د ذهن د کلمې دلفظ په چوکاټ کې نه بلکې هغه ټولې عیني پروسې سترګو ته نیغي ودروؤ چې نوموړی کلمه پرې دلالت کوي او په همدغه ساحه کې دخپلې پوښتنې لپاره ځواب ولټوو حتمأ خپل مطلوب او واقعي ځواب لاس ته راوړې شو . یا که لږ څه وړاندې ولاړشو او سیاست د سیاست دکلمې په لفظ کې وڅیړو چې هغه هم دمادیت حلقې ته داخلیږي داد مسئلې یو اړخ دې. دبلې خوا اول سیاست یو ذهنیت دې چې په مادي ډول په ذهن کې ځای نیسي او وجود لري. دوهم داچې سیاست دمتضادو طبقو ، قشرونو او دولتونو په مینځ کې د مناسباتو څخه عبارت دې او هغه ټولې مبارزې چې په اصطلاح د با با آدم څځه تردې دم پورې دمختلفو متضادو طبقو او قشرونو په مینځ کې دخپل حاکمیت داستقرار په خاطر تیرې شویدي ترې استفها میږي. اوس پخپله پوهیدلې شو چې سیاست مادي او که غیر مادي مفهوم دې .که مونږ د سیاست دکلمې تر شا دهغې مادي مفهوم ونشو لیدلې او هغه ټولې خوږې او ترخې خاطرې سترګو ته نیغې ونه دروو نو په څه ډول به مونږ وکولې شو د سیاست کلمه تشریح کړو او که یې تشریح کړو څه ارزښت به ولري او پرته ددغه مادي ماهیت څخه به دچا ددلچسپۍ وړ وګرځي. نو کله چې مونږ د سیاست کلمه په ژبه راوړو او یا یې په فکر کې را ګرځوؤ که غواړو او که نه دهغې تر شا ټولنه په خپل مادي حالت د ټولو تضادونو سره واقع ده او د سیاست کلمه نوره ممکنه نده چې وروسته له دې په معنوي حالت کې دې پاتې شي. همداسې که مونږ دفکر کلمه په فکر کې را ګرځوو او دهغې په باره کې فکر



کوو دغه موضوع دفکر دکلمې له چوکاټ څخه ووځي او په یوه سلسله بیولوژیکي ، فزیولوژیکي ، بیوشیمیکي ، پسیکولوژیکي او داسې نورو پروسو او تعاملاتو باندې بدلیږي چې په څرګند ډول معنویت ته پکې ځای نه پاتې کیږي .همداسې په سلګونو نور مثالونه راوړل کیدې شي چې باید مونږ ددغه تردد او دوه لاري څخه راوباسي خو بیا هم متاً سفانه ګورو چې مونږ ټول پدغه دوه لاري کې ولاړ یو یوې خواته راته دانسان د نازک احساس ، خیال او تصور تنګه ورشو او بله خوا دمادي پرزولو او ولاړولو ، تحول او تکامل لایتناهي پراخ جهان پروت دې او دا جرئت نه کوو چې ددغه دوه لاري څخه دعینیت په مستقیمه لار «صراط المستقیم»حرکت وکړو ښکاره خبره ده چې دتنګ او محدود نظر خاوندان ددوی دفکر جوړه تنګه دنیا ګۍ کې لارا ګیر او خوشې په هیڅ پسې ګرځي.

د پراخ او واقعي عیني نظر خاوندان ددغه توهماتو دتنګې دنیا ګۍ څخه وتلي او دخدای د مقضي الامر ارادې له مخې جوړ جهان په لمن کې هرڅه دهغې په ټولو تحولاتو او ارتباطاتو سره څیړي او وار په وار د حقیقت داني راټولوي او دمعرفت دناوې په غاړه یې امیل کوي.

کله چې دا قبلوو چې شعور ، فکر ، تصور او داسې نور په حقیقت کې دیو سلسله مادي تعاملاتو او پروسو څخه عبارت دې. نو دا خو دا معنا لري چې ګوندې فکر ، ذهن ، تصور ، شعور او نور په خپل ماهیت او ذات کې مادي دي. لیکن مادي خو مونږ هغه څه بولو چې دهغې احساس وکولې شو. عکاسي یې کړې شو ، کاپي یې کړې شو او نور. تصور ، شعور او فکر خو مونږ عکاسي ، احساس او کاپي کولای نشو نو پس باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل شي چې نوموړي پدیدي مادي نه بلکه معنوي پدیدي دي . زما په نظر دا چې مونږ هغه احساس ، عکاسي او کاپي کولې نه شو باید ووایم چې زمونږ دنن سبا احساس ، عکاسي او کاپي او ځیني نور د مادیت یوائیني معیار نشي ګڼل کیدې او دبلې خوا البته دا به زمونږ او د اوسني علم او تخنیکي وسایلو د وروسته پاتې والي ګناه وي چې دغه پدیدي نه شو درک کولې که نه زما په نظر تصور ، تفکر او داسې نور که نن نه نو سبا دا دراک او احساس وړ پدیدي دي. څرنګه کولې شو دا په ثبوت ورسوو چې تفکر ، تصور او داسې نور د احساس او ادراک وړ پدیدي دي ؟که مونږ ټول ژوندی او غیر ژوندی موجودات په نظر کی ونیسو ، وینو چې د انرژیتیکی پوتنسیال او تعادل ، ترکیب او تجزیي ، جذب او دفع ، انقباض او انبساط او ځیني نور قوانین او قضایا د شکلي تفاوت او تباین څخه پرته په هغوی کې عمومیت لري او په نوموړي لحاظ هم ژوندي او هم غیر ژوندي موجودات تقریباً نبضي خاصیت لري.که چیرې مونږ یوائې د انرژتیکي پوتنسیال موضوع په نظر کې ونیسو وینو چې ټول موجودات د خپل بقا او موجودیت په ترڅ کې یا انرژی اخلي او یا یي له لاسه ورکوي یا دا چې یو ډول انرژي په بل ډول بدلیږي چې البته دا ټول تغیرات د مادې په فزیکي حالت کې د تغیر باعث کیږي او د مادې د حالت تغیر پرته له دې چې د مادي پروسو او قوانینو په چوکاټ کې سرته ورسیږي په بل ډول ممکن نه د ي. پس دې نتیجي ته رسیږو: هر هغه حالت ، هر هغه خاصیت او هر هغه شکل د موجودیت د ا مادې چې مونږ مادې پورې ارتباط ورکوو پرته د مادي اتباط څخه هیڅ یوه پدیده د مادې سره ارتباط نشي لرلې په دغه جمله کې ذهن او



شعور هم د دغه خصوصیاتو څخه مبرا نشي ګڼل کیدلي. کله چې دا خبره منو ، نو دغه پدیدي حتماً د احساس او ادراک وړ هم دی. یا که قضیه لږ څه په ساده ډول مطرح شي. کله چې دیوه اتم داخلي انرژیتیکي پوتنسیال لوړیږي او یا ټیټیږي یعني کله چې الکترونونه اضافي انرژی اخلي او یا یي له لاسه ورکوي ، الکترون د ټیټی انرژی د مدار څخه د لوړی انرژۍ مدار ته تغیر د محل کوی ، یا په بل عبارت د هستې له مرکز څخه لیریوځي او که د انرژي اندازه نوره هم زیاته شي ځینی د دغه اتمونو څخه د هستې د ساحې څخه خارجیږی . د قضیي د عکس په صورت کې الکترونونه انرژی له لاسه ورکوی او له لوړو مدارونو څخه د هستې مرکز ته نژدي کیږي . په دواړو صورتونو کې د انرژۍ تفا وت او تغیر د کوچینیو زرو او تشعشعا تو په څیر لکه میزون ، نیترینا او کوارک چی تر اوسه کشف شوي او ځیني نور چې په راتلونکي کې به کشف شي له یوې مبدأ څخه بلې ته انتقا لیږي اویا د مستقل وا حد په څیر آزادیږي یعنی نوموړی مادي پروسې د اتم په مادي حالت او خواصو کي تغیر راولي او همداسې نوموړي ذرات یا نوموړې پروسې هم مستقل ما دي واحدونه ما دي حا لتونه یا نوي اشکال د موجودیت د ما دې منځ ته راوړي .که چیری موضوع دوباره لږ څه په عام ډول مطرح کړو وینو چې که حیه ، غیر حیه یا که پخپله مغز د انسان دې او یا ما ده په لایتناهی تبا ین او اشکالو سره چې مونږ تر اوسه پوری پیژندلی او یا به یي و پیژنو د پورتني چوکاټ څخه نشي خارجیدلې او مونږ کولې شو د انرژیتیکي پو تنسیال په مثال کې خپل مطلوب موضوعات په کلی ډول په پاخه او منطقی استدلال سره و څیړو او پدې کلکه عقیده پیدا کړو ، ما ده په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل او ډول سره چې ده د انرژیتیکي پوتنسیال د تغیر په صورت کې د هغې په خواصو او حالتونو کې تغیر راځي او د غه تغیر منطقاً قابل د درک دې. دې کې شک نشته همغسې چې مونږ د انرژۍ مختلف ډولونه تر اوسه پورې نه پیژنو او اوسنې علم او تخنیک د هغې په کشف ندې بریالی شوې د مادې دزیاتو ډولونو، حالتونو او د موجودیت د شکلونو په کشف هم نه یو بریالي شوي او هغه نه پیژنو. نو کیدلې شي شعور، تفکر او نور چې په مغز او نورو مربوطه اعضا وو کې د مادې د تسلسلی پروسو او تعاملاتو محصله ده او د پورتني مثال په ارتباط ویلې شو چې همدغه د انرژیتیکي پوتنسیال د تغیر او تفاوت په نتیجه کې چې مختلف روحی حالتونه منځ ته راځی، هم یو حالت د موجودیت د مادې څخه وی او همداسې باید اوسي. مونږ عملاً وینو، کله چې په وجود کې د شحم، شکري، مختلفو مالګو، او یا نورو توکو تناسب له منځه ځي د انسان په صحي او روحي حالتونو مستقیم تاثیر لري او قابل د کنترول، سنجش او ازمایش همدي. نو ځکه په اطمینان سره باید وویل شي، همغسې چې د علم او تخنیک په انکشاف سره تر ننۍ ورځې پورې بشریت د ډیرو ورو ذرو لکه میزون، نیترینا، کوارک او مختلفو تشعشعاتو په کشف بریالی شویدې د روحي حالت او شعور په مادي تحلیل او تجزیه باندې هم بریالي کیدونکي دي. زه نه غواړم دلته ګلوزوییزم یا دفوګت، بیو خنیر، مالیشوت او دیځکین نظریات چې ویل به یې: (فکر د مغزو پورې داسې اړه لري لکه صفرا چې د ځیګر پورې اړه لري) یا دا چې (روح د میز، نور او اواز څخه دومره فرق لري لکه چې نوموړي شیان په خپلو منځونو کې یو تر بله سره فرق لري). یا



لکه کانت چې ویل یې: (حیوانات مغلق ماشینونه دي) رد یا تایید کړم، یادهوبس، سپینوزا، لایب نیتز، یا هومه، یوهانس، مولر، وبر، هلی هولتس، فشنر، هربارت، وونت آلمانی او بالخصوص د سچنوف او پاولوف او ځینی نورو معاصرو پسیکولوژستانو چې په نوي لید توګه او طرز تفکر سره یې په دې هکله لیکنې کړې دي او خپل نظریات یې وړاندې کړي، په مشخص ډول خپل انتقادي نظر وړاندې کړم، ځکه په دی مقاله کی د هغې لپاره ګنجایش نشته. هو! دی کې شک نشته چې زما نظر د ځینو سره په اکثرو مسایلو کې په توافق او ځینو نورو سره په تضاد کې دې. زه فقط دومره وایم چې دا مسایل د زیات احتیاط وړ دي ځکه روحي پدیدې خپل خاص میخانیکیت لري او په عادي میخانیکي چوکاټ کې ځا ئیدلې او تشریح کیدلې نه شي او د هغې په نسبت دومره فوق العاده مغلقې او پیچلې دي په کومه اندازه چې په مغز او نورو ارګانونو کې انواع او اشکال د حرکتونو د میخانیکي حرکت په نسبت او د مغز مادی ترکیب دیوې ساده ما دي په نسبت مغلق او پیچلې دې. د بلې خوا شعور یواځې د انسان د مغزو او اعضا وو محصول ندې او یواځې په هغې پورې اړه نه لري بلکه په انساني شعور کې عمده رول انساني ټولنه لوبوي یعني د هغې د ختمې په برابرولو کې ټولنیز تاریخي او بیولوژیکي ارثي فاکتور د ډیر اهمیت وړ دې. زما په نظر د مادیت او معنویت او د هغې د حدودو د ټاکلو په مسا ئلو کې دا موضوع د جدي پاملرني وړ ده چې ما دي ذاتیت د کوچنۍ ذري څخه نیولې تر کلي مادي موجودیت پورې مطلق مفهوم دي او مادي خواص، اوصاف، حالتونه او نور د مادیت او غیر مادیت په ارزش کې هیڅ رول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وزن نه لري ، او کتله ،جرم ، وزن ،سُبستانسیون «ماهیت» ، انرژي ،ګراویتاسیون ، او نورټول نسبی مفاهیم کیږي . دمخه مونږ ویلي وو چې مطلقه باشعوره او بې شعوره ماده وجود نه لري ، په همدې بنیاد دا هم ویلې شو ،سره ددې چې په شعوري ،ادراکي ،عقلي او فکري پروسو کې د انساني مغز رول خورا ستردې ،خو یواځینې نه دي ،بلکه په دې پروسه کې د ذهني ختې په عمده رول هم څوک سترګې نه شي پټولې. د ما دې او شعور د مادیت او معنویت مسایًل یو تر بله یواځې په همدې چوکاټ کی فرق کیدلې شي او یواځې دهمدي تناسب له مخی هغوی، ته دمادیت او معنویت نسبی مقام قا یلیدلې او فرضولې شو . که نه په حقیقت کي ماده او معنا دواړه یواځې او یواځې مادي عیني واقیعتونه دي او ذاتي توپیر سره نلري ،ځکه چې دعالم الاسباب ټول خلقتونه او پدیدي خدای د خپلې مقضي ارادې له مخې د خپل خلف انسان لپاره مسخر او مقدر ګرځولي دي.په همدی لحا ظ ویلي شو چې د مادي او په اصطلاح معنوي جهان په مینځ کې داسي کومه غیرقابل عبور کنده « ژوره »او موانع نشته او داسې نده چې ګوندي دا دواړه یو تربله سره جدا جهانونه دي بلکه د ځیني ملحو ظا تو له مخې که لږ څه په غیر دقیق ډول سره وویل شي د یوه ختم او دبل شروع سره لازم او ملزوم او یو تر بله سره په ارګا نیک ډول تړلي او ژور دیا لکتیکي ارتبا ط کي سره وا قع دي. دمثال په ډول که مونږ د ما کره جهان دموجوداتو ځنځیر دمیکره جهان په لوري تعقیب کړو او با لاخره د سا حې پراخه ورشو ته قدم وروا خلو دا سي نشی پیبنید لي چې ګوندي ددې ځنځیر کومه حلقه دي موجوده نه اوسي او هیڅکله داسې هم نشي پیبنیدلې چې ګوندي په



دوراهی، کې واقع شو او یا دې له مونږ څخه په دي سفر کې لاره ورکه شي. ددغه ځنځیر ټولي حلقي کلکي سره تړلي دي. یا په اصطلاح د ما دیت مند ری، د هر مادي واحد په غوږ کي پرته ده خو که دموضوع جزئیاتو ته غور وکړو ، دا هریو بیل بیل قلمرو او هره محدوده جدا ګانه خواص لري ،او هر ځاي ځانګړي نسبي قوانین حکمفرما دي.

په دي ډول که مونږ دخارجی جهان په مقابل کي دساده غیر حیه موادو څخه نیولی ، د نباتاتو ، حیوانا تو او باالاخره د انسا نا نو عکس ا لعملونه او دخا رجي تا ثیرا تو د انعکاس مسایل په هر اړخیز ډول و څیړو او په دې صورت کي هم دغه ځنځیر له ا بتدا څخه تر انتها پورې تعقیب کړو دا به راته پوره پوره څرګنده شي چې ددي ځنځیر کړی، هم یو په بل پوری کلکي تړلي او ددغي سلسلي په مابین کي هم کومه موا نع او انقطاع نه لیدل کیږي.همداسې که د مسایلو په جزئیا تو با ندي د بحث په ترخ کي د مند لیف جدول ته نظر وا چوو لیدل کیږي چې ځیني عنا صر د کیمیا وي او فزیکي خوا صو له مخې ډیر فعال او ځیني نور یي غیر فعال او حتا نیترال حالت لري. دد وی، حسا سیت د مقنا طیسي ، الکتریکي ، رادیویي ،صوتي ، فضا یي تشعشعا تو او نورو امواجو او تا ثیراتو په مقابل کي کا ملاً متفا وت او په کمې او کیفې لحا ظ په مختلف ډول دهغوی، د تا ثیر څخه متا ثره کیږي.که مونږ د عناصرو د ولانسونو د قانون له مخي دغه سلسلي تعقیب کړو ، هم مختلف تفاوتونه په سترګو کیږي.نو دلته البته دا سوال او شک با ید پیدا شي ، کله چې غیر حیه موجودات یو خا ص ډول احساس نه لري پس ددوی، دغه د هري پدیدي او تا ثیر په مقا بل کې د متقا بل تاًثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دهغي څخه د مشخص برداشت علت څه شي دې ؟ يعني دا چې د هر مشخص تاثير په مقابل کې مشخص او ټاکلي تأثر ښئ ځرنګه تشريح کيدلې شي .شايد وويل شي ،د نو موړی عنصر دا خلي ماليکولي ، اتمي او ذروي جوړښت د دي کار مستلزم دې. پس د انساني شعور د پيدايښت تخنيک خير څه شې دې ؟ آيا هغه هم د انسان د مغز او نورو ارګانونو دداخلي جوړښت خاصه نده ؟په دواړو صورتو نو کې خارجي جهان په شکل د اشکالو سره په غير حيه او حيه موجودا تو او حتا انسان باندي تاثير کوي او دهغې په مقابل کې هريو په معين شکل سره مشخص عکس العمل ښئي . دې کې شک نشته چې دغه عکس العملونه يو تر بله سره فرق لري.خو که داسي پوښتنه هم راپيدا شي چې ايا ټول انسانان د معيني پديدي او تاثير په مقابل کی عين عکس العمل ښيي؟ هيڅکله نه. دغه عکس العملونه نه يوا ځې يو شي ندي بلکه اکثراو قات متضا د هم وي .ددې علت دادې چې د ټولو انسانانو د ذهنيت متفکره خته يو شې نده او دبلې خوا انسانان پرته لدي چې طبيعي محصول دې اجتماعي محصول هم دې او برعلاوه لدې چې دخپل شعور تابع دې د خپل شعور لەلارې د اجتماعي شعور تابع هم دې.که وغواړو چې د مادیت او معنويت ، احساس او انعکاس په هکله د مارکس او لينن نظر واورو هغوی داسې حکم کوی:

« معنويت د مادیت څخه پرته بل شې نه دې چې دانسان مغز ته دا خل شوې او په هغي کې يي تغير موندلې دې» عني کارل مارکس فريدريش انګلس د مادیت او معنويت تر منځ تباين ته هم قايل دي او هم نه دي . لکه چې دمخه ماوويل د شعوري



اوټولنيزو پديدو په هکله هغوئ ايدياليستي نظر لري يعني ايدياليستان پاتي شوي دي.(د مارکس. انګلس کليات جلد ۲۳ صفخه ۲۱ ). يا لنين ليکي « هره ماده په حقيقت کی احساس ته ورته د انعکاس خواص لری .» ( د و. ای. لينن کليات ،جلد ۱۸ ،صفحه ۹۱ ) يا (حرکت شير اقا ،د عينيت فلسفه ،ټوک لومړې ،صفحه ۱۳ ). دوی لکه چي دمخه هم ورته اشاره شوي د خپل ذهنيت د جبر له مخي واقعيتونه په قانونمند ډول افاده کوي ، خو ځرنګه چي هغوئ پدي ورشو کي ايدياليست پاتي دي ، ددغه جبر ، ددغه واقعيت او ددغه قانونمند حقيقت د پوهي او توضيح څخه عاجز دي. د غير حيه موادو د آميزش ، ترکيب او انعکاس مسايل د ډيري د لچسپی وړ موضوع ده. غير حيه جهان دې چې د طبيعت ټول اسرار په خپله سينه کې ساتي ، د نړۍ د ټولو مظاهرو د ظهور مسبب يوا ځې او يوا ځې متحرک ذرات دي چې په حيه او غير حيه جهانونو کي يو تر بله سره فرق نه لری مثلاً که دهايدرو جن اتم په نظر کي ونيسو که په اوبو کي دې که په امينو اسيدو نو کي او که په نورو هايدرو کاربنو نو او که حتا د انسان په مغز کي دې يو تر بله سره فرق نلري او که چيری داسی فرق موجود وي کيدې شي د مربوطه ماديوا حد دا جزاو دمتقابل د يالکتيک په نتيجه کې کوم جزئې انحراف د اتم په پنجره کې منځ ته را غلی اوسي. زما په نظر د د لچسپۍ وړ به دا وي چې که دغه د احساس او ادراک استازو پخپلو لمنو کي ډير څه را ټول کړي وي او مونږ د درياب څخه ځا ځکي ترې را اخلو او همدا سي هم ده .ځکه او سنې علم او تخنيک دومره پر مخ نه دی تللی چی دعناصرو او باالخصوص د هغوی د متشکله وړو ذراتو په ټولو رازونو او خواصو مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شو. حتاد هغوی په کيميا وي او فزيکي خواصو لا بشريت په کلي ډول ندي پوه شوي نو په اصطلاح د هغوی په ذهن او ادراکي خواصو خو په کامل ډول هيچکله نشي پوهيدلي. نو دلته په حقه سره ددغه ذراتو ذهن زمونږ په ذهن پوري خندلی شي او په حقيقت کې زمونږ ذهن د هغويی د ذهن جزګڼل کيدلي شي. همدغه متحرک ذرات دي پرته له دې چې بې شميره د يفرنسيالي او انتګرالي معادلې ي د هغوی د ټولو مشتقاتو او موهومي او متوالي حالتونو سره حل کړي په کلي ډول جهان د هغه په ټولو را زونو سره منعکس کوي. نو دلته دې نتيجې ته رسيږو چې د متحرکو ذراتو د ذهن دانعکاس نسبيت مطلق او کامل انعکاس ته تقرب کوي. يا په بل عبارت همغسي چې انساني وجود متفکر مغز لري او دنسبي عېني ذهنيت او نسبي عېني شعور څښتن دې د تقريبي مطلق عېني ذهنيت او شعور څښتن يواځې او يواځې په اصطلاح د ټولو متحرکو ذراتو کلي مجموعي متفکر مغز ګڼل کيدلي شي. يعني د هغوی شناخت تقريباً مطلق او کلي او په عالم الاسباب کې د خداي د مقضي ارادي له مخې د خداي د ارادي واقعي تمثيل ګڼل کيدي شي. زمونږ شناخت نسبی او جزيً دی. او يواځی د پرنسيب له مخې په لا يتناهی تکامل سره زمونږ ټولنيزذهن او شعور د هغوی ذهن اوشعور ته تقرب کولې شي. دهمدغه دمتحرکو ذراتود عکس العمل، تاثير، تشخيص او بر داشت په وا سطه ممکنه ده چې نن په مليونو ميله لرې موجوداتو ترکيب او خواص معلوميږي او دنورو سيارو او ستورو په هکله حقايق لاس ته را وړو، يا د فضايي بيړيو په وا سطه د ځمکی د اعماقو په هکله څرګندوني او معلوماتو نه لاس ته را وړل کيږي. که د موسيقۍ



په پردو کې ښکلي اهنګونه دي، که د نقاش د زړه په وينو ليکل شوې رنګينې تابلو ګانې، که د شاعر او ليکوال د پاکو احساساتو کارنامې او هنګامې، که د انقلاب د زنده باد چيغې نارې او سورې او که کارګري دوران جوړونکې تحرک او د ينا ميزم دا ټول د متحرکو ذراتو د تشخيص، تفريق او تحرک مستلزم او مولود دې. دا جهان په عالم الا سباب کې دخدای دمقضي ارادي او لوی علم له مخې يواځې او يواځې د هغوی موجود، مولود او مظاهر ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعوري پدیدي او د جبر او اختیار دیالتیک

جبر او اختیار «قضاً او قدر» دد یالکتیک دعام قانون په څیر همغسې چې د طبیعت او ټولني په ټولو ساحو کې عمومیت لري او په خپل دیالکتیکی تضاد، تحرک او قانونمندۍ سره د مختلفو پدیدو د منځته را تګ سبب او علت او معلول تشکیلوي، په شعوری پدیدو کې هم په اصطلاح چی د مادي موجودیت خاص حالتونه، شکلونه او ماهیتونه جوړوي خو ذاتي توپیر نلري هم دجبر او اختیار عام قوانین جاري دي.

جبر او اختیار د هرڅه دمخه په نظام کې قانونمندي، تعادل، پایداري او استقرار دي چې د نظام پایښت او قانونمند بدلون او تکامل تضمینوي. جبر او اختیار یعنې سیال متقابل موجودیت، سیال موجودیت یعنې عدل، انصاف او دنظام تعادل، او تعادل د بقاء او پایښت په معنا دي. خدای سیال ذات دي نو ځکه یې دا لوی جهان دانصاف، تعادل او دمتقابل سیال قانونمند موجودیت په بنیاد هست کړې دي..

اختیار که د یوی پدیدی، منحیث د پدیدي، دذاتي پایدارۍ، بقاٌ او سکون په معني دي او دزاړه نظام ساتل غواړي، جبر د



حرکت بدلون او تکامل مستلزم او دنظام بدلول غواړي. په دې معنا چې جبر او اختیار د سکون او حرکت همزمان او هم مکان دیالکتیک، د زاړه او نوي نظام همزمان او هم مکان سیاله مبارزه او ځکه خو په نتیجه کې جبر او اختیار دنظام د پایښت او ابدیت مستلزم ګڼل کیږي. دیوی پدیدی د جبر او اختیار د دیالکتیک راز هم یوازی او یوازی پدغه مناسبت او زاویه کی لټول کیدلی شی.

اختیار څرنګه چی دیوی پدیدی د ثبات او سکون مستلزم ګڼل کیږي او سکون په حقیقت کې وجود نه لري، نو ځکه تیریدونکی نسبی خصلت لری. جبر چی د تحرک تغیر مستلزم او دیالکتیکي عامل او لوکوموتیف حیثیت لري، البته چي ابدی بڼه لری. خو د اختیار سکون او نسبیت هیڅکله ددې معنا نه لري چې د جبر او اختیار یعني دقضاء او قدر عام قانون دې په عدم دیالکتیکي تعادل او یوطرفه جاده بدل او په یو جانبه برترۍ او رجحان دي واوړي. همغسې چې ماده ابدي او په لایتناهی ډول متبارزه او متباینه ده د جبر او اختیار قوانین هم ابدي او د مادي د تباین او تبارز په تناسب هر ځای جاري دی. هر چیرې چې ماده ده هلته جبر او اختیار وجود لري. مطلق مختار او مطلق مجبور نه وجود لري او نه یې لرلې شي. هره پدیده او هر موجود په نسبی لحاظ لږ و ډیر مختار یا مجبور دی. کله چی نوی پدیدی نوی اضداد او د مختلفو پدیدو په منځ کی نوی مناسبات او ارتباطات ټینګیږی، د جبر او اختیار قوانین هم د پیښ شوی تکامل او تغیر مطابق په نوی ماهیت او شکل سره تبارز کوی.

څرنګه چی هر شعور د انعکاس تو یو خاص او معین

(c) ketabton.com: The Digital Library



كمپلكس دى نو ځكه شعور يو خاص او انعكاس په عام ډول دمادى د موجوديت شكل ګڼل كيږى او دجبر او اختيار قوانين پكې جريان لرى.

شعور كه فردي دې او كه اجتماعي تاريخي پديده ده اوزماني قيديت لري. د وخت په تيريدو سره انكشاف يا انحطاط مومي ، تغير كوي ، ځيني قضايا او مفكورې ، ځيني نورو نوو قضايا وو او مفكورو ته ځاى پريږدي .يعنې دا چې په ذهن كي مغلق ترين شكل د حركت جريان لري. حركت پخپله شكل د موجوديت د مادى دى حركت بې له مادى او ماده پرته له حركت ځخه وجود نشى لرلى نو د ذهن حركت هم د ذهن په ما ديت دلالت كوي.

همدا سې هره شعوري پروسه زماني قيديت لري او يوازې په ټاكلي وخت او زماني مقطع كې تحقق موندلې شي. مختلف ذهنيتونه يوه قضيه په مختلفو ټاكلو وختونو كې درك او دهغې په باب حكم صادرولې شي. ددغه ذكر شوې زماني مقطع ځخه په كم وخت كې ممكنه نده چې ذهن موضوع يا درك او يا دهغې په باره كي لازم حكم صادر كړي. په همدې ډول د مكاني فاكتور ځخه پرته هم دشعور يا ذهنيت تصور ممكن ندې. دا دري واړه فاكتورونه چې ذهن متحرك دې او ذهن نشي كيدلې په زماني او مكاني لحاظ د معينې اندازې ځخه زيات متراكم يا متباعد شي پدې دلالت كوي چې ذهن عطالت لري او عطالت هم شكل دموجوديت د مادې او پدې دلالت كوي چې ذهن مادي دې .

بله مسئله چې د ذهنيت په ماديت اطلاق كوي هغه د ذهنيت دينا ميزم او عطالت دې. كه مونږ پسيكولوژيكي حقايق او



قضايا په نظر كې ونيسو وبه وينو همغسې چې ذهنيت په زماني او مكاني لحاظ بې اندازې محدوديدلې يا لوئېدلې نشي د خپل عطالت او دينا ميزم په تناسب سر كشه او پخپل واك هم دې. همدغه د ذهنيت دينا ميزم او عطالت له كبله دې چې ذهنيت او فكرپه سملاسې توګه د آرزو سره سم تغير نشي كولې او هر مشخص ذهن او فكر ټاكلې نسبي استقرار يت لري. څرنګه چې دينا ميزم او عطالت يوازې او يوازې دمادې خاصيت دې ، نو دا يو بل دليل د ذهنيت دمادىت لپاره ګڼل كيدې شي .ذهن دې چې دبل هر مادي واحد او بل هرمادي كميت او كيفيت په نسبت ډير لوى عطالت لري او كله چې دتحجر مرحلې ته ورسيږي تحول او تغير دعقيدي په كلي ډول ناشوني ګرځي .

زما په نظر عادت د ذهني عطالت او دينا ميزم ځخه پرته بل شې نه دې چې انساني ذهن او فكر پكې پرته له دې چې فكري انرژي په پوره اندازه مصرف او په كار واچوي په نسبتاً لږه انرژي توجه سره د يوې قضيي ځخه بلى قضيي ، د يوه مفهوم ځخه بل مفهوم او د يوى پروسې ځخه بلې پروسې ته تيريږي او دهغې اخذ او افاده كوي.

د فكرى عطالت او دينا ميزم اثبات مونږ او تاسې هر يو د يوې ساده او د ټولو لپاره ممكنې تجربې له لارې كولې شو. مثلاً كه مونږ يو څو مشخصې پديدي او مفاهيم په نظر كې ونيسو او په منظمه توګه په كافي سرعت سره په تكراري ډول په هغې فكري مرور وكړو (پدي شرط چې فكري تمركزموجود اوسي ) و به وينو چې سملاسي مونږ خپل فكر په يوه نقطه او يا يوه معينه مقطع كې نشو درولې او حتماً له مونږ ځخه د يوه مفهوم ځخه بل مفهوم ، له يوې پديدي ځخه بلې پديدي او يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لااقل دهغوی له یوه جز نه بل جز ته را څخه تیریږي. پدي تجربه کې عملاً فکری عطا لت او دینا میزم درک کیدلې شي.

که چیرې فکر او ذهن غیر ما دي وای نو په هره یوه نقطه او مقطع کې چې مونږ هیله درلودلې د هغې درول به ممکن وای.

فکر کوم نورو دلائلو راوړلو ته به اړتیا نه وي. چې لومړی مونږ د شعور ، فکر او ذهن په ما دیت او بیا په هغې کې د جبر او اختیا ر د دیا لکتیک په استمرار با ندي متیقن شو. حرکت او عطا لت د ما دیت او ما دیت د جبر او اختیار مستلزم دې. ځکه لوي خداي دا لوي جهان دخپل لوي علم له مخي قانونمند پیدا کړي او جبر او اختیار «قضاٌ او قدر» دخدای دلوی او واحد جهان سراسري عامه قانونمندي ده .که وغواړو په عا م ډول په رو حي پدیدو کې دجبر او اختیا ر د قانونمندۍ او دیا لکتیک په باب خپل نظر وړاندې کړو ویلې شم چې هغه په دومره اندا زه الستیکي او په ځیني حا لاتو کې نا مرئې او لامدرک دې په کومه اندازه چې روحي پدیدي د نورو محسوسو پدیدو په نسبت لطیفي او الستیکي دي.

په عملي ډول مونږ او تاسي هر یو ددغه فکري جبر او ائتیار، ددغه دیالکتیکي تضاد دمبارزې او مناقشې په ډګر کې وا قع او عملاً هره شیبه د هغې په نسبت متأثریو .نو ښه به دا وي چې په نظري ډول هم ددغه جبر او اختیا ر او د هغې د دیا لکتیک څخه ځان خبر کړو.

تا ریخي حقا یق او پسیکو لو ژیکي تحقیقا ت دا ښیي چې ا نسان تل هڅه کړیده په لمړې وار د ځا ن څخه لرې شیا نو په با ب معلو ما ت لاس ته را وړي او دهغوی سره خپلې ستو نځې او مبا رزه سر ته ور سوي او بیا په اصطلاح د خپلو وریجو څخه



کسکر ټول کړي. حا ل دا چې دا مبا ر زه نه سرته رسیدلې او نه به ور سیږي. همدا سبب دې ا نسا ني فکر چې خپل ځا ن ته ډیر نژدې وا قع دې د خپل ځا ن په هکله بې فکره پا تې شوې او تر نن ور ځې پورې یې خپل هویت او ما هیت نه د خپل ځا ن او نه د نورو په وړاندې تثبیت کړې شوې. نو ځکه د هر چا هر تور لاس پخپله د ذهن او فکر په سپینوکالیو پاک شوې او له فکر څخه هم ځا ن پخپل ځا ن او یا جها ن کی ورک وو او بې مور ده دو مره لوی شوې چې پخپل ځا ن کې نه ځا یده او یو خا رق العا ده قد رت ترې جو ړ شوې او ځا ن یې د ځا ن لپا ره بلا ګر ځیدلې او لکه ((ځا نځا نی ښا ما ر )) په ځیر په ځا ن خوله لګوی او دخپل ځا ن او جها ن په خوراک نه مړیږی او کله تری ځان په ځان او جهان کې ورک شي او دهر چا او هر څه غلامۍ ته غا ړه ږدي. په هر صو رت ذهن په هر مو قف کې چې وو د جبر او اختیار قوانین د تل لپا ره هلته جا ري وو او دبشر په ذ هن کې یې انعکا س پیدا کړیدې. یوې ډلې د وا قیعت یو اړخ نیولې او هغه یې مطلق ګڼلې او بلې ډلې متقا بل اړخ پورې ځا ن نښلولې دې.

دریمه ډله بیا د دواړو په ما بین کې یو تنا سب او تعا دل ته قا یل شویده. یو شمیر دا سي نظر هم لري چې د فکر د دیا لکتیکی تحول لمړۍ پړاو جبر او د تعقل په پړاو کې انسا ن مختار بولي حال دا چې پخپله په تعقل کې هم جبر او اختیار مو جود دی.

همد ا سبب دې چې د تا ریخ په اوږد و کې مختلف جریا نونه لکه قد ریه، جبر یه یا معتزله او اشعریه او یا د دوی بین البیني جر یا نونه منځ ته را غلي دي او لا تر ننۍ ورځې پورې د هغوی شخړه روا نه ده په لویدیزه نړۍ کی هم د یتر مینزم او اندیتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منیزم پوره مینه وال او پیروان لري.

ځرنګه چې پخوانې فلسفي افکار محدود وؤ اکثراً یا په یوه خوا کې پاتې کېدل او یا یې په متزلزل او متردد ډول د هغوی ترمنځ اهتزاز درلود، نه یې شو کولی دد غه اړخونو په منځ کې ارګانیک دیالکتیکي ارتباط ټینګ کړي.

مارکس او انګلس دلومړي ځل لپاره د هګل دیالکتیک او دفیرباخ ماتیریالیزم، لکه چې دمخه هم پرې بحث وشو، په ارګانیک دیالکتیکي بڼه، خو ددوه ځانګړو تیوریو یعنې د دیالکتیکي ماتیریالیزم او تاریخي ماتیریالیزم تیورۍ په تباین او تفریق سره فورمولبندي کړلې او له بده مرغه دې خبرې ته متوجه نه شول چې په تاریخ کې دیالکتیک او دیالکتیک تاریخ وجود لري. شک نه شته چې دوی په ډېرو مسایلو او قضایاوؤ کې هغه کوله چې علمي کره وړه ولري، خو دا چې دوی د شعور او مادې د تضاد په بنیاد د فلسفې د اساسي مسئلې ناسمې طرحې ته هم متوجه نه شول او دټولنیزو او شعوري قضایاوؤ په اړوند تر اخره پورې ایدیالیست پاتې شول.

سره ددې چې هغوی په وار وار له همدې سببه په خپلو څېړنو، تحلیلونو او فورمولبندیو کې د ډېرو مشکلاتو او لاینحله پرابلمونو سره مخامخ وو، بیا هم دوی ونه کړې شول ددغه مسئلې دحل سمه لاره پیدا او خپلې نیمګړتیاوي، سهوې او غلطۍ اصلاح کړي.

زما په عقیده تر څو پورې چې دعلمي مسایلو سره غیر علمي یعنې تخیلي، تصوري سحري، جادویي اویا بل هر ډول خرافاتي کره وړه وجود ولري او تر څو پورې چې د عالم الاسباب



د ټولو خلقتونو او پدیدو په څېړنو، تحلیل او فورمولبندیو کې یوائې ااو یوائې علمي قانونمند کره وړه رواج پیدا نه کړي، ترڅو پورې چې د انسان په ذهن دا مفکوره ځای ونه نیسي چې علم او قانونمندي انساني خلقت نه دې، بلکې یوائې په معرفت یې مقدر او مکلف ګرځیدلې دې، تر هغې به خرافات او مزخرفات په علم او علمي ورشو کې باقي پاتې وي.

ددې قضیې دښې او سالمې پوهې په خاطر له هر څه دمخه به ضرورداوي، پوه شو چې، علم، قانون او قانونمندي څه ته وایي؟ په دې خبره که ټول نه وي، نو اکثر کسان پوهیږي چې، علم د مستمرې قانونمندۍ د قوانینو با مسما نوم دې، خو ددغه مفاهیو سره ناسم کړو وړو حتا پوهان د شک او غلط فهمیو سره مخامخ کړیدي. دمثال په ډول مونږ ترافیکي اصول او مقررات هم د علم او قانون په نومونو یادوؤ، په ملک کې بې شمیره مالیاتي مقررات هم د قوانینو او علم په نومونو یادوؤ، د هیوادونو اساسي قوانین که مطلق ظالمانه، مشروطه او حتا که په اصطلاح دموکراتیک هم دي مونږ یو شان د قوانینو په نومونو یادوؤ او حتا هیڅوک پدې باره کې هیڅ ډول تفکیک او تمیز ته هم حاضر نه دي. همداسې د نیوتن دجهاني جاذبې عام قانون او درګوني قوانین (قانون دانرژي، قانون د تناسب دقوې او تعجیل او قانون د تساوي د عمل او عکس العمل)، د انشتین د نسبتي تیورۍ قوانین، سقراط، افلاطون، ارسطو، کانت، دکارت، هګل، مارکس، انګلس، لینن، البیروني، فارابي، ابن سینا، رازي، ابن رشد، ابن خلدون او ډېرو نورو هم خپل قوانین او فورمولبندۍ، چې دهغوی د ذهنیګریو څخه خالي نه دي ایجاد کړېدي. دوی ټول مدعي دي چې دا هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی لاسته راوړنې دي . هیڅ یو بل ته نه غاړه ږدي ، نه کامپرامایز ته قایل دي او هر څه خپل شخصي ذهني محصول ګڼي او په همدې خاطر علم د هر کس او هر چا د لوبو ناڅکه او ناولی ګرځیدلې ده. ملیونونه کلونه انسانانو په دې نړۍ کې ژوند کړې ، له تاریخي دورې څخه هم زرونه کلونه تیریږي او په دې ټوله موده کې علمي او غیر علمي ، حق او نا حق ، منطقي او مزخرف نظریات او عقاید په جبر او رضاء په خلکو منل شوي دي. هر څوک ځان ددغه کار جوګه او مستحق ګڼي او نن پخپله علم ،قانون او قانونمندي په ټول صراحت او وضاحت سره چې باید لرلې یې ،په حقیقت کې د مزخرفاتو ، مجهولاتو او شخصي ذهني غیر منطقي تخیلاتو په جړه مشوړه او ګنج الفساد بدل شوي دي. په دې باره کې حقایقو ته به په راتلونکي کې پخپل نوبت مراجعه کیږي ، داوسني بحث د لنډ والي په خاطر غواړم همدومره ووایم چې ،حقیقي علم ،قانون او قانونمندي یواځې هغه ده چې خدای د هغې له مخې دا لوی جهان او د هغې ټول خلقتونه او پدیدې پیدا کړي دي. یعنې چې علم خدایي خلقت دې ، انسان یې د خلقت څخه عاجز او یواځې دخپلو مقدراتو په کچه د هغې په معرفت مکلف ګرځیدلې دې. په علم باندې د معرفت ټولې د تخیل او تصور ، سحر او جادو او نورو مزخرفاتو ټولې لارې تړلې دي. یواځې د منل شوو مقولو ، اصولو او قوانینو له لارې ممکنه ده دخدایي خلقتونو په قانونمندیو علم او پوهه حاصله شي.

زما له نظره په زړه پورې به دا وي چې که مونږ وکولې شو په مشخص ډول په شعوري پدیدو کې د جبر او اختیار په قضا یا وو او مسایلو باندې په ټا کلې توګه بحث وکړو او په نوي



لیدتوګه دهغې دیا لکتیک توضیح کړو.

دمخه د تفکر او ذهن تحرک او تغیر ته اشاره وشوه پخپله حرکت او تغیر د جبر او اختیار مستلزم دې د بلې خوا څرنګه چې د حرکت او تغیر مقولې د پدیدو ددیالکتیک اساس تشکیلوي نو دیالکتیک هم پخپله په نوموړي مفهوم کې نغښتې دې. په تفکر کې د جبر او اختیار نور قضا یا او مسایل د همدې مرکزي قضیې څخه استنبا طیږي. او هغه پدې مفهوم چې آیا دغه حرکت او تغیر مثبت دې یا منفي ، صعودي دې یا نزولي ، تکاملي دې یا انحطاطي ، اختیاري دې یا مجبوري او یا داسې نور.

وا قیعت دا دې چې دتفکر او ذهن په ساحه کې د مختلفو قضا یا وو اختیاري او مجبوري اړخونو تثبیتول ډیر مغلق او پیچلې کار دې ،ځکه چې په مغز او ذهني ختمه کې د حرکتونو سیستم او تسلسل ډیر مغلق او پیچلې دیې. که چیرې مونږ دا موضوع د یوه منفرد تفکر او ذهن د ننیو قضا یا وو د مختلفو اړخونو په منځ کې د جبر او اختیار د دیالکتیک له نقطې نظره څیړو طبعاً د اجتماعي تفکر او ذهن دقضا یا وو د مختلفو اړخونو د جبراو اختیار د دیا لکتیک څخه تو پیر لري.

همدا سې د منفرد اوټولنیز شعورد متقابل جبر او اختیار قضا یا بیا ددی دوا ړو سره مطابقت نلري. همدا سې د منفرد او ټولنیز شعور او طبیعت دجبر او اختیار قضا یا طبعاً د پورته ذکر شوو قضا یا وو سره دمقا یسې وړ نه دي. په حقیقت کې دا هر یو بیل بحث تشکیلوی چې د هر نقطې نظره د تحقیق او تدقیق وړ مسائل پکې پراته دي. دبلې خوا دا چې مونږ نوموړي قضا یا او مسائل د کومې نقطې نظره او کوم لحاظ څخه څیړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره مسئله کې بیا نور شقوق منځ ته را تلای شي.

البته په دې باب زیات لیکني او څیړني شویدي او زه نه غواړم د داسې موضوعاتو دمینه وا لو لپاره اشکال نمایې وکړم بیا هم باید ووایم دا موضوعات پوره مغلق او ترننني ورځي پورې پدي باره کې لږ بریا لیتوبونه تر لاسه شو یدي .البته د هغې پوره او کامل تحقیق د را تلونکو نسلونو دنده ده او په هغوی پورې اړه لري. زه یوا ځې کولې شم نو موړې موضوع ددې کوچینۍ رسالی په چوکاټ کې په نوي طرز تفکر او لید توګې د مشخصې زاویې څخه د مباحثې میدان ته وا چوم او دمینه وا لو افکار پدې باب تحریک کړم.

ځکه په دې باره کې د موثقو معلوماتو را ټولول پرته له دې چې تخصصي پوهې ته اړتیا لري، پرا خه امکانا تو او پر مختللي وسائلو او مجهزو تحقیقاتي مرکزونو او کمپلکسونو ته هم پوره اړتیا لیدل کیږیز.

زه پخپلو کاملاً محدودو شرا یطو سره هڅه کوم داسې یوه قضیه دمباحثی میدان ته وا چوم.

د مثال په توګه که مونږ د فکري تحول او فکري تحجر چې دیوې پدیدې دوه متضاد دیالکتیکي اړخونه دي په نظر کې ونیسو او هغه د جبر او اختیار په تله کې وا چوو پرته له دې چې زیات تعمق وکړو وینو چې په ذکر شوی قضیه کې دوه اړخیز جبر او اختیار موجود دې همغسې لکه چی په هره یوه بله پدیده کې موجود دې.

که چیرې د انساني تفکر نور قضایا شاته وا چول شي او یوازې ددغه دوه عمده مرکزونو د دیالکتیکی تقابل له مخې د تفکر مسایل و څیړل شي وینو چې تفکر د خپل تشکل په لمړۍ



مرحله کې کله چې د مختلفو طبیعي اجتماعي او پیسکولوژیکي عوا ملو د مستقیم او غیر مستقیم تاثیر لاندې واقع وي، د فکری تحول او الستیکیت جنبه یې ډیره زیاته قوي او تقریباً پرته لدې چې خپل دا خلي متقابل عطالتي عکس العمل حس کړي په ډیره عجولانه او حریصانه توګه د نوو معلوماتو نو او اطلاعاتو په را ټولولو بوخت او په هغې کې د یوه ورک هدف په لټه کې وي ، تر څو هغه پیدا او دهغی په خوا کی د فکری استقراریت خیمه ووهی. فکر وروورو د نسبي تحجر د زیاتیدو له کبله په ځان درنیږي. خپل پخوا نې الستیکیت د لاسه ورکوي او جبراً یو څه د خپل ټا کلي هدف په توګه مني او دهغی په خوا کې استقراریت پیدا کوی.

همدا وخت دې چې د فکري تحجر مرحله په چټکۍ سره شروع کیږي فکر وروورو د همدی یوي مفکوري په ګرد چا پیر متمرکز او وار په وار دهغې دغا ړې غړوندې د همدې یوه موږي پورې سرې غوټې کیږي او دفکري تحـول امکانات یې محدودیږي. پخوا دوه اړخیز جبر او اختیار ته اشاره وشوه هغه په دی مفهوم چې که په لمړی پړا و کې فکر د فکري الستیکیت اختیار په لاس درلود او دفکري عدم انکشاف د جبر لاندې وو په دوهم پړاو کې که فکر دفکري انکشاف د اختیار لرونکې دې دفکري تحجر او انجماد جبر په جال کې را ګیر شویدې او سره ددې چې د اطلاعاتو او حوادثو په منځ کې واقع دې هغه یې باید منلې او قبلولې. خو دا چې فکر نور خپل الستیکیت په نسبي ډول له لاسه ورکړې او د انجماد اړخ یې قوي شویدې یا په بل عبارت د جبر په مقابل کې یې خپل اختیار بایللی دی، نو ځکه نوې مفکوري چې په حقیقت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوائیني ټولنیزي لاسته راوړني ګڼل کیږي، نه تنها منلې یې نه شي، بلکې په کرکه ورته ګوري او هغه اجتماعي فسق او فسا دګڼي.

دهغو ځوانانو په باب چې د استفت( د و ر ) پړی په لاس ور غلي او ټول تحولات په پوره ذوق سره تعقیبوي او په حقیقت کې ددغو تحولاتو اساسي محرکین او د موجوده اجتماعي جوړښت معما ران ګڼل کیږي. د متحجر فکر خاوند دځان سره ځونګیږي او افسوس کوي چې ځوانان خراب شول، د ټولنې را تلونکي به څرنګه شي او لا زیاته کړي چې زمونږ څه ښه وختونه وو.

البته اوس مونږ قضاوت کولي شو چې څرنګه هغه متجسس، متحول او الستیکي فکر چې په پوره مینې او ذوق سره یې ټول نوي اطلاعات را ټولول، اوس ولې دهغې داوریدلو، لید لو او پوهیدلو څخه دا سې موړ شو.

کله چې دې د نوو موضوعاتو مینه وال او په خوا کې یې دا سې کسان وو چې همدې موضوعاتو ته هغوی په کرکه کتل او نن چې دې پخپل ماحول کې تغیر او تکامل ته په کرکه سره ګوري دا سې کسان شته چې هغوی ددې موضوعاتو د را ټولولو په مینه او مزه نه مړیږي او دهمدې شرا یطو په تحلیل او تجزیه او دهغې څخه د ښه درک او قضاوت له مخې خپلې را تلونکي ته په پوره امید وا ری سره ګوري. سوال پیدا کیږي څرنګه کیدلې شي چې دوه انسا ني ذهنه په یو ډول شرا یطو، ځا ی او حتا کورنۍ کې یو د ټولنې د تکامل موجوده تګلاره آبا دي او دوهم یې بربا دي بولي. همدلته دې چې د پورته ذکر شوې قضیې یعنې دفکري تحول او فکري تحجر د یا لکتیکي



تقابل او جبر او اختیا ر څرګندیږي.

ددې ځا ی څخه دا هم څرګندیږي کله چې ذهن خپل الستیکیت په نسبي لحاظ له لاسه ورکوي، ورو ورو متحجر او پدې لوري یې عطالت زیا تیږي نو دا ددې دلیل هم کیدلی شي چې په ذهن کې یو بل ډول حرکت هم موجود دې چې په ذهن کې د ما دیت د کمي او کیفي تنوع د ترسب او تغیر د حرکت په نا مه یا دیدلې شي. په همدې علت ویلې شو چې په ذهن کې د کمي تغیرا تو بدلون په کیفي تحولاتو با ندې چې د دیا لکتیک اساسي عمومي قانون ګڼل کیږي هم تحقق مومي. نو دفکري عطالت او فکري استقراریت تغیر پخپله د فکري ما دیت د تغیر مستلزم دې او دا بیا په خپل وار د ذهن په ما دیت دلالت کوي.

د پورتني بحث څخه دا سې معلومیږي چې ذهن غیر ما دي نه دې. که چیرې غیری ما دی وای نو هغه به تل الستیکی هم وای او هر وخت به ځوان، تحول غوښتونکی او تل به ئې د اجتماعی شرا یطو د تحول سره سم تحول کولی نو څرنګه چې هیڅ ذهن پورتنی امکا نات نه لری هغه غیر ما دی هم نه شو منلی.

څرنګه چې متحجر فکر دزړی پدیدی په حیث با ید د متحول او ځوان فکر په وړاندی تسلیمۍ ته غا ړه کښیږدی. خو دا کا ر دفکری تحجر د جبر له مخی په خو ښۍ سره نشی منلی.

نو ځکه د خپلې بقا په خا طر د مقتدر حریف په وړا ندې د حیلې او انحرا فا تو دلارې مخ ته ځي. زاړه فکرونه په دا سې پړاو کې که دقدرت خا وند وي، په مطلق العنا نیت اتکا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د کمزورۍ په صورت کې د مایوسۍ او تدریجي فکري مرګ ګنج ته پنا وړي.

باید ووایم چې پورته ذکر شوې موضوع د اجتماعي شعور او ذهن په باب هم صدق کوي. سره لدې چې په ټولنه کې نوې تحول خوښونکي قوتونه تل په نمو او هغوی تل د نوو شرایطو سره په هر لحاظ د موجوده وضعې تحول او بدلول غواړي او بیا هم ټولنیز شعور د یوې مفکورې، نظر او ایدیولوژۍ په چوکاټ کې خپل د تقبل او منلو پخواني خواص له لاسه ورکوي او په هغه دینامیزم سره چې یې ترلاسه کړې دې غواړي د خپل تحکم په لور وړاندې ولاړ شي او لکه څرنګه چې ورته مخکې اشاره وشوه دا چې د نوو قواوو په مقابل کې ورته د استدلال او منطق توان نه دي پاتې په فکري تحجر، دګم او مطلق العنانیت اتکا کوي او طبیعي ده چې د خپلې بقا د پاره هر ډول انحراف روا ګڼي او په دې ساده حقیقت نه غواړي ځان پوه کړي، دا چې سل او زر یې زړه پدیده ګڼلې او س یې د خپل زړښت وخت هم را رسیدلی دی، تاریخ ددې شاهد دی، داسې نظریات او مفکورې که په مذهبي او یا ایدیولوژیکي ساحو کې وې او که د اجتماعي اقتصادي نظامونو په چوکاټ کې تل یې خپل مترقي خصلت د لاسه ورکړې او د مارکس په اصطلاح د نوو تحول خوښونکو قوتونو لپاره ځولنی ګرځیدلې دي.

کمونیستانو خپله ایدیولوژي «علمي کمونیزم» د تل لپاره مترقي ایدیولوژي ګڼله خو له ډیره بده مرغه د ژوند په ټولو سطوحو او اړخونو کې یې ډیر سطحي او دګماتیک کړه وړه درلودل، کارل مارکس خو ویلي وو چې پاک ارمانونه د پاکو



لارو او پاکو هلوځلو پواسطه ترلاسه کیدلی شي. لیکن په اصطلاح کمونستانو د پاکو شعارونو د پردې لاندې ډیر ناپاک نیتونه لرل او پالل. دوی په هیڅ وجه د دغه ارزښتونو او معیارونو جوګه نه وو او د همدغه بې ارزښتۍ او دګماتیزم په ترګمۍ کې د تاریخ کندې ته ولویدل.

کپیټالیزم چې لا پخوا زړه پدیده وه او د تاریخ ټولې بدنامۍ، ظلم، ناروا، چورو چپاول د دوی په هویت ثبت دي او د ټولو اولسونو شتمنۍ یې غصب کړي او په یویشتمه سلیزه کې ئې نړۍ د قطعي نابودۍ د ناورین سره مخامخ کړې، نړیوال امپریالیزم هم نن فکري تحجر په ټپو ړوند کړي او د أتالیتاریستي حرص او آز له مخې د نابودۍ په څنډه ولاړ، زوال ئې حتمي او ورپسې قدم به یې د نابودۍ کندې ته ولیدل وي !!!

همداسې که مونږ د احساس او شعور دیالکتیک په نظر کې ونیسو او فرض کړو چې احساس مادي او شعور غیر مادي دې پرته لدې چې ددې موضوع جبر او اختیار او د هغې مختلف دیالکتیکي جوانب وڅیړو کفایت کوي فقط یو سوال مطرح کړو:

په څه ډول او کومه وسیله د یوې مادي پدیدې ارتباط د یوې غیر مادي پدیدې سره ټینګیدلی شي؟ ایا هغه پل چې ددې دواړو پدیدو په منځ کې پروت دی، او یا هغه غوټه چې دا دواړه پدیدې سره تړي او د هغې په منځ کې دیالکتیکي علت او معلول منځ ته را وړي تصور کیدلی شي؟ او که څوک یې تصور کولی شي په څه ډول؟ هغه پیوند چې ددې پدیدو په منځ کې واقع دی د مادیت او که غیر مادیت په خټه لیم شویدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عينيت او ذهنيت د ديالکتيک په رساله کې دې موضوع ته اشاره شوې چې احساس شعور منځ ته راوړي او شعور احساس تحريک کولې شي، پرته لدې چې عيني خارجي عارض موجود اوسي.

نو که مونږ داومنو چې احساس مادي او شعور غير مادي دې دا بايد هم ومنو کله چې احساس په شعور بدليږي دا مفهوم لري چې ماده له منځه ځي او کله چې شعور په احساس بدليږي نو د هيڅ څخه ماده منځ ته راځي. حال دا چې د مادې د بقاد عام قانون له مخې مونږ پوهيږو چې ماده نه له منځه ځي او نه د هيڅ شي څخه منځ ته را تلای شي نو ځکه ويلې شو چې د احساس او شعور ديالکتيک او متقابل جبر او اختيار هم د دوه اړخيز ماديت مستلزم او ښکارندوی دې. دبلې خوا پوهيږو چې هر انسان مختلف روحي حالتونه لري او بيا هغه شيبه په شيبه بدليږي. اول بايد دا سې سوال مطرح شي، کله چې شعور غير مادي اوسې نو په څه ډول دا مختلف روحي حالتونه منځ ته راځي؟ ښايي وويل شي دا تغيرات په مغز کي پيښيږي او دهرې روحي وضعې مطابق مغز هم يو خاص حالت ځان ته غوره کوي. زه هم دا منم خو د نه منلو او د پوښتني مسئله دا ده چې د مغز دا خاص حالتونه څرنګه په يو غير مادي محيط کې په مختلف ډول انعکاس پيدا کوي او کوم ډول تعاملات په کومو تعاملاتو بدليږي چې دا سې مختلف روحي حالتونه منځ ته راوړي؟ يا که دا سې يوه مسئله مطرح کړو، يو تن خپله يوه ډيره ترخه پخوانۍ خاطره په فکر کې را ګرځوې د مسال په توګه د موټر ټکر، مرمۍ خوړل يا د ګوتي د پريکولو ترخه خاطره را يادوې. دفعتاً په خپله سينه يا بله کوم مربوطه عضو کې



ددرد احساس کوي. نو بيا بايد داسې سوال مطرح شي چی په څه ډول دغه غير مادي روحي خاطرې مادي مغز متأثر او هغه په سينه يا بله مربوطه عضوه کې درد پيدا کړ؟ په څه ډول غير مادي خاطره په مادي پروسه، احساس او عمل باندی بدليدلې شي؟

داسې ډير زيات قضايا او مسائل مطرح کيدلې شي چې په هغې کې لږ څه تعمق مونږ او تا سې پدې متيقن کولې شي او بايد مو متيقن کړي چې د ماديت او غير ماديت پيوند هيڅکله جوش نشي خوړلې. ماده دمادې څخه متأثره کيدلې او يا بله ماده متأثره کولې شي. دمادې خواص، دمادې موجوديت، مختلف شکلونه يوازې او يوازې کيدلې شي، چې مادي اوسي، پدې بايد معتقد او متيقن اوسو او له همدې زاوئي او ليد لارې له مخې دا مسايل وڅيړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایدیالیستي او ماتریالیستي دیالکتیک

په فلسفي ادبیاتو کې د ایدیالیزم او ماتریالیزم او ایدیالیستي او ماتیالیستي دیالکتیک مفاهیم ترننۍ ورځې پورې مروج او ډېرو مولفانو په لیکنو کې لیدل کیږي .که څه مخکې له مارکس، انګلیس او لینن څخه وو او که وروسته له هغوی، څخه هر یوه د پورتنیو مفاهیمو په منځ کې فارقه حدودو او پولو ته قایل وو او نن هم قایل دي .یا په بل عبارت دغه دواړه مفاهیم دد وی په نظر د تاریخي پدیدو په حیث په مختلفو تاریخي دورو کې د متضاد متقابل موقف او تناسب څخه برخورداره وو .

مخکې له دی چې د نوموړو پدیدو د ماهیت او محتوا او دهغې په منځ کې د تباین او تفریق په مسئله په مشخص ډول بحث وکړو غواړم وو وایم چې دیالکتیک د ابدي او لایتناهی عینی پروسې په څیر تل جریان لري او په ذهنیتونو کې یې ترنن ورځې پورې د مختلفو مفاهیمو، مقولو، قوانینو، علومو او پدیدو په حیث انعکاس او تبارز موندلي دي. دیالکتیک عام او کلیي سراسري پروسه ده. دهغې څخه که غیر حیه جهان دې که نباتات، حیوانات، انسان او که ما فوق انساني



ټولني یا موجودات (که چیرې موجود اوسي) دهغوی د ترکیب او تکامل په تناسب برداشت، احساس، ادراک او دهغې څخه په لوړه سویه پیچلې معرفتي او پذیرشي پروسې او انعکاس صورت نیسي.

که چیرې په تیره لنډه تاریخي دوره کې په بشري ذهن کې د دیالکتیکي پروسو انعکاس ،پذیرش او ادراک ته نظر واچوو ،وینو چې په لمړنیو پړاونو کې انسان نا خود اګاه د خپل ماحول سره په دیالکتیکي ارتباط کې واقع وو او پرته له دې چې هغه تعریف کړي په شکل د اشکالو سره نوموړو دیالکتیکي پروسو دهغوی په ذهنیتونوو کې انعکاس پیدا کاوه.

هغوی دورځني پراتیک او علمي دیالکتیک په نتیجه کې کرار کرار د انتزاعي فکرونو او دیالکتیکي تیورۍ خاوندان شول. منفرد څیزونه او پدیدې د ماضي، حال او استقبال او همداسې د خپل ماحول او چاپیریال سره په ارتباط کې څیړل شروع شول. دیالکتیک هم له یوې ورځې څخه بلې ته په الفاظو مقولو او داسې نورو مفاهیمو په څیر د اشخاصو او ټولنو د دیالکتیکي درک په تناسب تبارز مونده. پخواني یوناني یوه هر اکلیت پرته له دې چې هغه په کوم نامه یاد کړي دغه دیالکتیکي واقیعت درک او اظهار کړ چې: «په نړۍ کې هر څه تغیر مومي او ددغې تغیر انګیزه په دې کې ده چې د نوموړو پدیدو خواص د هغوی په اضدادو باندې څه ډول بدلیږي. مونږ دیوه ګل بوی دوه واري نه شو بویولې.» (تاریخ فلسفه در جهان اسلام، ۳۲ مخ).

د لومړۍ ځل لپاره چې د دیالکتیک مفهوم منځ ته راغې د سوال او ځواب په له لارې په خبرو کې برلاسې او قدرت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا سې د مفاهیمو او اشیا وو د طبقه بندۍ فن او مهارت ته ویل کیده.

زینون، ارسطو او افلاطون هم پخپل وار سره په دیالکتیکی مفاهیمو کی نسبي تسلسل او ترتیب منځ ته را وور.(همغه ځای.۳۶، ۴۶ او ۶۰ مخونه).

په اتلسمه میلادی پیړۍ کې د ډیرو پوهانو په لیکنو کې او ځینې دیالکتیکي مقولې او قوانین په جلا توګه تعریف او هڅه یې کیدله هغې ته د یوه سیستم او تیورۍ په څیر تشکل ورکړي.

هیګل نوموړې هدف د « اکمال » درجې ته ورساوه. یعنې دا چې هیګل دیالکتیک او د دیالکتیک تر ټولو اساسي قوانین تعریف او ځینې نور عام قوانین یې البته د شعور او مطلق عقل په ساحه کې دجفتو مقولو په حیث فورمولبندي کړل. هګل د عینې ایدیالیست په حیث فکر کاوه چې د مطلقې ایده د تکامل مراحل یې په ایدیالیستي دیالکتیکي قوانینو کې طبقه بندي کړیدي. حال دا چې هغه نا خود اګاه د ذهنیت د مادي قانونمند تاثیر لاندې ماتیریالیستي دیالکتیکي قوانین په تخیلي بڼه فورمولبندي کړي وو.

با ید وویل شي چې په افغانستان، چین هند او ایران کې هم له ډیر پخوا څخه ځینې پوهانو لکه البیروني، فارابي، ابن سینا، ابن رشد، کنفوسیوس او ډیرو نورو پخپلو لیکونو او اثارو کې ماتیریالیستي دیالکتیکي قوانین او مفاهیم څرګند کړي او د خپل چاپیریال او پیښو سره یې دیالکتیکي کړه وړه درلودل.

پدې څو محدودو کرښو کې نشي کیدلې د دیالکتیک تا



ریخچه یا تکاملي پروسه توضیح یا تشریح شي. خو دومره با ید وویل شي چې ماده تل موجوده وه او وي به او دیالکتیک د هغې د موجودیت یوا ځینې شکل او وجدي حالت ته ویل کیږي. خو د ابتدا څخه د ماده د دیالکتیک سره د انسان د ذهنیت د ادراک غوښتې په لازمه اندازه نوی تړل شوي. نو ځکه یې په مفاهیمو مقولو او قوانینو کې تبارز هم نه شو کولې او هر افهام او ادراک که ځانګړې دي او که ټولینیز په ذهني خته کې د بیو پسیکولوژیکي او نورو فاکتورونو په څیر تمرکز او تجمع پیدا کوله تر څو پدې با ب د فکري تراوش پوتنسیال ته ور سیده. ځینی وخت دا سې هم کیدلې شول چې خام فکرونه د ناقصو نظر یا تو په څیر یا قسماً او یا په کاذب ډول یوه دیالکتیکي پروسه تمثیل او یا څرګنده کړي. د مثال په توګه له پخوا څخه هم ماده موجوده وه او هم دیالکتیک. خو ځینو کسانو ماده یوا ځې په میخانیکي او میتافزیکي حالت او عدم ارتباط او تغیر کې لیدله او وینی یې او ځینې نور بیا دا ټول تبدلات، تحولات، ارتباطات، او تغیر په هیڅ کې وینې او دې ساده مسئلې ته نه ځیر کیږي چې د څه شي تبدیل په څه شي؟ هیڅ څرنګه بل هیڅ ته تحول او تقرب کولې شي؟ او که یې کولې شي ددې تحول معیار او مقیاس به څه وي؟ د یوه هیڅ د نورو هیڅ سره د ارتباط او اړیکو وسیله په څه ډول پو هیدې شو؟ دا او دا سې نور نظریات د خام او ناقص تفکر محصول ګڼل کیدې شي او په اصطلاح ناقص فکر دې چې دوریځو څخه او بنا ن جوړوي او یا په بل عبارت سره وو ایم سره ددې چې هم ماتریالیزم او هم دیالکتیک موجود وو، بیا هم ځینې پوهان د مړی مادي غلا مان وو او په هغی کې یې دیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکتیک نشو لیدلي. ځني نور چې بیا ایدیا لیستان هم وو د ځیني مسائلو سره یې دیا لکتیکي بر خورد درلود او لکه چې پورته ورته اشاره وشوه داسې فکر یې کاوه چې د جهاني روح، مطلق عقل او داس نورو مسایلو مراحل یې د دیا لکتیکي تسلسل او قوانینو په چوکاټ کې ځای پر ځای کړي او پدې تو ګه یې هڅه کوله عیني وا قیعتونه او قوانین د کاذبو مسایلو او مفکورو د اثبات د پاره وسیله وګرځوي. هیګل دیا لکتیک یوازې د مطلق عقل د تکامل د پړاوونو دهارمونیزم محصول او مولود ګاڼه.

پدې ډول مادیت او دیا لکتیک تر ډیره وخته پورې د بشریت په ذهن کې په منفرد شکل سره ژوند کاوه. ترڅو چې مارکس او انګلس وکولې شول د لومړي ځل لپاره دیا لکتیک او مادیت د اوهام پرستۍ او کاذبو نظریاتو څخه وباسي او د فیرباخ ماتریالیزم اد هکل دیا لکتیک سره په ارګانیک ډول یو ځای کړي. دوی هڅه وکړه د دغه قوانینو څخه په استفادي سره په ټولنیزو، اقتصادي او نورو مسایُلو لکه په روسیه کې د سوسیالیستي انقلاب د بري، د شوروي ټولني د جوړیدو او په شرقي اروپا کې د نړیوال سوسیالیستي نظام په جوړیدو کې تري ګټه واخلي. خو د دي ټولو خبرو سره سره، څرنګه چې دوی د ټولنیزو او شعوري پدیدو په هکله لا ایدالیست پاتې وو او د دغه پدیدو د عیني قوانینو څخه بې خبره وو، په همدي علت یې نهایي پریکړې او نتایج په واقعیتونو نه وو ولاړ او دغه لوي نړیوال نظام ونړیده.

د پورتنی لنډی یادونې څخه منظور دا وو چې یو وخت ټولې پدیدي په جدا ګانه او منفرد ډول درک کیدلي او د ضرورت له



مخې د هغویې سره لازم برخورد کیده. خبري چې دانسانانو تر منځ د مفاهمي او ارتباط اسانه طریقه وه دانسانانو دیالکتیکي ارتباط هم تر هرڅه د مخه د خبرو په ورشو کې ټینګ او د معاشرت پدي ساحه کې یو پربل باندي دبرلاسي بازار تود شو. که څه هم د انساني ټولنې د ابتدایي مناسباتو څخه پرته د نورو پدیدو دیا لکتیکي ارتباطاتو درک اسان کار نه وو خو بیا هم انسانان د مادي ژوند سره بې مینې پاتې کیدلي نه شول او د معاشرت او ارتباط په ترڅ کې یې خپل متقابل اړیکي درک کړي او له ډیر پخوا څخه ځینو پخوانیو هو ښیارانو پخپل وار سره همغسې چې وو ځیني دیا لکتیکي څرګندوني کړیدی او پخپلو نظریاتو کی یې هغې ته انعکاس ورکړیدې.

د اتلسمې پیړۍ څخه را پدی خوا دیوې خوا علم او تخنیک ډیر پرمخ ولاړل. انسان مجبور وو په ټولنیز او طبیعي لحاظ سره خپل متقابل دیا لکتیکي ارتباطات په عملي او نظري تو ګه د خپل چاپیریال سره پراخه کړې، طبعأ نو موړو افکارو په ذهنیتو کې هم انعکاس پیدا کوو. دبلې خوا څرنګه چې بشري ټولنو په عمومي تو ګه د عقیدي له مخې په مذهبي او ایدیالیستي ایډیالونو او موازینو اتکاء درلودله د لومړي ځل لپاره دایدیا لیستي دیا لکتیک مفکوره رامنځته شوه. حال داچې ایدیالیستي ایدیالونه دانسان لپاره نه مسخر دي او نه مقدر نو ځکه یې په معرفت هم قادر نه دي. زما په نظر دیالکتیک دمادي هغه وجدي حالت دي چې دهغې په ابدي دینامیزم دلالت کوي او په بې شمیره قوانینو، مقولو او علومو سره افاده کیدلي شي. خداي دا لوی جهان مادي او قانونمند پیدا کړیدي. ماده او دیالکتیک یوتربله لازم او ملزوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانسان په معرفت مسخر ګرځيدلي دي . غير مادي جهان ،قانونمندي ،خلقتونه اصلاً وجود نلري او که وجود هم ولري نو انسان د هغي په معرفت قادر نشي ګڼل کيدلي .

کله چي مو ديا لکتيک پدی ډول تعريف کړ. نو پخپله په ديالکتيک کي ايديا ليزم ته ځا ی نه پا تی کيږي. او د ايديا ليستي ديا لکتيک مفهوم يوا زي کيدلې شي د نسبي مفهوم په حيث د فا رقه فا کتور په ځير استعما ل شي. خو ښه به دا وي چی د ديا لکتيک د کلمي په څنګ کي په هيڅ صورت سره د ايديا ليزم کلمه استعما ل نه شي.

کله چي ديا لکتيک د مادي موجوديت دټولو اشکا لو متحول، متغير او متکامل دينا ميک حالت ته ويل کيږي . ديالکتيک د مادي دابدي دينا ميزم بهترينه افاده او مسميَ بهِ نوم ګڼلي شو . ځرنګه چي دينا ميزم دمادي خصلت دي .نو ځکه ماده پرته له ديالکتيک اوديالکتيک پرته له ما دي وجود نشي لرلي.

پدي صورت کي نو دهيکل او د هغه څخه دمخه ايديا ليستی پو ها نو ديا لکتيک څه وو او په څه ډول ايد يا ليستی نظر يا ت په ديا لکتيکی تسلسل او شکل کي ځا يدلي او يا د ديا لکتيکي منطق د قوا نينو او مقولو دلاری تو ضيح کيدلي شي ؟. حقيقت دا دي کوم شي چي وجود و نلري هلته ديا لکتيک هم وجود نشي لرلي اوداايديا ليستی ديالکتيک مفهوم هم پوچ او بی معنا دي چي تر او سه پوري ځيني مفا هيم وو چي ابتدا يي ما دي منبع يي نلرلي او په ديا لکتيکي چو کاټ کي ځای په ځا ی شوي دي. علت يي دادي چي هر غير ما دي مفهوم او تصور دهرڅه دمخه مشخص ذهنيت دي او هر



مشخص ذهنيت عيني واقعيت دي .او په هر عيني واقعيت کي ديالکتيک وجود لري .دغه پوهانو فکرکړي چي ګوندي العياذ با ا لله دخدای دذات او صفاتو ديالکتيک يي کشف او توضيح کړي يا د مطلقي ايده ، مطلق عقل ، جها نی روح او داسي نور ... خو په حقيقت کي هغوی، دخپلو ذهني پروسو د ديالکتيک بيان کړيدي .حال داچي انسان د تل لپاره دخدای دپيژندني او توصيف څخه عاجز دي. شک نشته چي مارکس د هګل دايدياليستي ديالکتيک په مقابل کي دماتريا ليستي ديالکتيک تيوري طرحه کړه خو دشعوري او ټولنيزو پديدو په هکله ټول ماترياليستان تر اوسه هم ايديالست پاتي شوي او تاريخي ماترياليزم يي دديالکتيکي ماترياليزم څخه جدا کړ حال داچي په تاريخ کي ديالکتيک او په ديالکتيک کي تاريخ وجود لري .

ما تير يا ليستی د يا لکتيک د خپلی حکمروا يي او قلمرو څخه خا رج هيڅ ډول ما دي ورشو ګا ني او محدودې په رسميت نه پيژني او زما په نظر نه کله چيري دا سي ورشو ګا ني وجود لـر لـې شي.

ديا لکتيک کلي اوعا م مفهو م دې په خپله حکمروا يي کي هيڅ ډول تجزيه او ملوک الطوا يفي هم نه مني.

ما ده يوا زې په د يا لکتيکي شکل کي و جود لرلي شي او ديا لکتيک هم يوا زې او په قطعي شکل سره يوا زي په ما ده کي تبا رز کولې شي. په همدې دليل د ايد يا ليستي ديا لکتيک مفهوم او يا د ما تير يا ليستي ديا لکتيک څخه د تا ريخی ما تير يا ليزم مفا هيم تفريقول درست نه بريښي البته په نسبي لحا ظ د فلسفې د ديا لکتيک او يا دهغې څخه هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشخص ډول په نورو علمي ساحو کې د يالکتيکي مفاهيم او اصطلاحات د ضرورت په صورت کې او يا د موضوع د زيات توضيح او يا تشخيص په خاطر او يا باالاخره پدې خاطر کله چې ضرورت نه وي موضوع په زيات عمق او ابعاد و سره مطرح بحث شي او يا کله چې مطلوب لوستونکي يا اوريدونکي په ټولو ابعادو او عمق سره د موضوع دفهم قدرت ونلري. کيدلې شي ځينې داسې اصطلاحات استعمال شي خو دا په هيڅ صورت دا مانا نه لري چې دا يو تر بله جدا او غير مرتبط بحثونه دي. ديالکتيک بايد په همدې عمق او ابعادو سره و پوهيږو او په همدې چوکاټ کې د مسائلو سره برخورد وشي.

۲۴-۱۱-۱۳۶۳



# شعور او لا شعور

شعور او لا شعور که ظاهراً يو له بله سره متضاد د يالکتيکي مفاهيم جوړوي، خو په حقيقت کې د همدغه پديدو او خلقتونو د اطلاعاتي او معلوماتي، کيفيتاً او ماهيتاً متفاوتو محرکاتو او تمبوني د ځنځيري همغي يوې سلسلې څخه بل څه نه دي، چې يو ځل بيا د همدغه پديدو او خلقتونو د اګاهۍ او شعور متفاوتې لوړې او ټيټې کچې، معيارونه او محک څرګندوي .لا شعور ته تحت الشعور يا فوق الشعورهم ويل کيدی شي. مشکله ده په دې باره کې د پديدو او خلقتونو د احساس او ادراک د کهترۍ او مهترۍ، برترۍ او بد ترۍ معيارونه او رجحان درجه بندي او تميز کړل شي.

نو موړی مفاهيم تل نسبي ماهيت لري او زما په نظر هر پلو ، اړخ او ساحه کې، د همغې پديدې او خلقت چې په کې متحسسه او مدرکه ده د برترۍ او امتياز څرګندوی ده. کله چې د شعور او لا شعور کلمه مونږ په ژبه راوړو ، سملاسي بايد دا سوال هم ورسره پيدا شي چې دچا او څه شعور د چا او څه د لا شعورۍ په نسبت او يا بر خلاف .يوازې پدې صورت کې به مونږ ددې مفاهيمو سره علمي او سم برخورد کړې او وسي .که چيرې د شعور او لا شعور د مفاهيمو او سنې لفظې منا سبت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د ماهیوي عینیت سره صحیح او معیاري قبول کړو ځیني لاندی موضوع ګانې د یا دونې وړ بلل کیږي.

په پخوانیو لیکنو کی ورته اشاره وشوه چی هر شعور دانعکاساتو او احساساتو د ټاکلي کمپلکس څخه عبارت دې چې په نسبی ډول عیني واقیعتونه منعکس کوي او په مختلفو مادي واحدونو کی حقایق په متفاوت ډول پرته له دې چې کوم اړخ ته امتیاز قایل شو ،څرګند یږی.

ماده او شعور یوتر بله د یالکتیکی علت او معلول تشکیلوی او یوتر بله سره نه شلیدونکي اړیکي لري. دا ساده یا دونه ددې لپاره پوخ دلیل کیدلې شي ، ووایو چې شعور د خپل مادي واحد په نسبت له خارجه څخه کومه وارده شوې پدیده او حالت ندي بلکه پخپله د مادې د تکامل په پروسه کې دهغې دوجدي حالت سره متناسب اود خداي دمقضي الامر ارادي او لوي علم دقانونمندیو په بناٌ ، یوتربله لازم ملزوم او علت او معلول جوړوي . شعور په حقیقت کی د هر مادې واحد د مادی موجودیت د لحظوي بدلیدونکي وجدي حالت ،کلی ترین شکل یا په بل عبارت د هغه د دیالکتیکي عمومی حالت او وجد محصله ګڼل کیږی. یا کهلا په څرګنده او ساده ډول وویل شي ، هر ټاکلی شعور یوا ځې د ټاکلي مادي واحد د ټاکلي دیالکتیک په نتیجه کې منځ ته را ځي. دیالکتیک دمادي هغه مسما بهِ نوم دي چې دهغې په ځانګړي ابدي دینامیزم دلالت کوي ( ډاکتر صاحب شاولي پدي نظر دي چي دنوم پرځاي خاصیت ولیکل شي، خو زما په عقیده دیالکتیک خاصیت نه بلکه دمادې « هر مادي واحد ،پدیدي او خلقت» باالذاتهِ بنیادي جدا ناپذیره وجدي حالت څخه عبارت دي



،چي دمادي موجودیت دبناً مسبب او اساسي علت ګڼل کیږي ، نومونه هم معمولاً هر وخت دمادي واحدونو ماهیتونه نه افاده کوي ،نو ځکه ما مسما بهِ نوم لیکلې ، یعني اوصاف ندي بلکه ماهیت او سُبستانسیون دي ، یعني همدغه مادي واحد د همدغه مشخص وجدي حالت په بناء وجود لري او که چیري دغه وجدي حالت بدلیږي نومورې مادي واحد په دغه کمیت او کیفیت نشي پاتي کیدلي.نو ځکه ښه به داوي چي نوم( یعني مسمي بهِ نوم ) ورته ووایو ځکه چي ټاکلي نه بد لیدونکي حالت افَاده کوي او خواص کیدلي شي تغیر پیدا کړي خو دموجوده مادي واحد ماهیت تغیر ونه کړي. دخواصو په تغیر سره اصل شئ او پدیده له منځه نه ځی لکن دماهیت په تغیر سره اصل شئ په پخواني حالت نه پاتیږي او بل حالت غوره کوي .

زه د محترم ډاکتر صاحب دنیوکي او ارزوني سره ځکه موافق یم چې تر اوسه پورې مروجي تیوري ګاني همدا ډول حکم کوي. یعني پوهان شعور د هغه نسبي متکامل خلقت چي مرکزي عصبي سیستم او عقل ولري یعني د انسان د مغز او مرکزي عصبي سیستم خاصیت بولي .دا تیوري ګاني د مادي واحدونو او خلقتونو د مادي جوړښت د ماهیت او سوبستانسیون په بناء نه بلکه په تخیلي او تصوري ډول رامنځته شوي او دواقعیتونو سره هیڅ ارتباط او اړیکي نلري.
په همدي علت د « عینیت فلسفي »نظریاتي تیوریکي لید لورې د واقعیتونو په بناء ټولو نظریاتي علمي ، فلسفي ټولنو او مکتبونو ته د نوي فورمولبندیو وړاندیز کوي او پخپله یي هم ددغه حقایقو او واقعیتونو له مخې د علمي او فلسفي قضایاوو او مسایلو څیړنه پیل کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شعور په هکله له ډېر پخوا څخه هو ښیا را نو ډېری لیکني کړېدي ،چې د هغه وختونو د شعور د سطحي د لو ړوالي او د هغوی د فردي ذکا وت او تجسس ښکا رندوی دي . لکن دلاشعور په باره کي ز ما نه کومه مشخصه فورمولبندي او څېړنه په سترګو شوي او نه د شعور په کنډه کې د تش په نامه توازن په خاطر د لاشعور کلمه ، پرته له دې چې توضیح ، تفسیر او فورمولبندي شي او یا یي په ضرورت بحث وشي ، په بې مفهومه او کور کورانه ډول راوړل شویده . د مخه مونږ د شعور او لاشعور د ځانګړو مفاهیمو دافادې ، فورمولبندۍ، دیالکتیک ، ضرورت او اهمیت په اړه پوره مطالب وړاندې کړي ، همدغه مسًله مو د قضاء او قدر د خدایي علم د عام قانون له مخې، د انساني ذهني فلسفي خلف علم د اساسي مسًلې او دخپل معبود سره د انسان د خلف په حیث د ارتباط د یوځینۍ لارې او چارې په توګه فور مولبندي کړې ده. په راتلونکي کې به هم ټول فلسفي مسایل د همدغه لید لوري او نظریاتي عقیدې له مخې فور مولبندي او څېړل کېږي. په دې باره کې ، په پخوانیو نظر یا تو با ندی ،د اوس لپاره ،زه نه غوا ړم بحث وکړم ځکه چې په دا سې کو چنیو رسا لو کې د هغې څېړنه ممکنه نه ده ،خو دومره با ید حتماً ووا یم چې په پخوا زما نو کې ددې مو ضوع سره په عمومي تو ګه علمي کړه وړه نه کیدل او اکثراً په فردي تخیلاتو ،پوهه او ذکاوت ډېره لګول کیدله او حقا یقیواځې د نا دره دانو په څیر دځیني پوهانو په لیکنو کې میندل کیدلې او یواځې د ژور و فکرونو خا وندا نو او دقیق څېړ ونکو لخوا ممکنه ده د عینیت د فلسفې د نوي نظریاتي لید لوري په مرسته د علمي مقولو ، قوانینو او تیوریو په بڼه فورمولبندي



شي.

هغه و خت چې ما رکس او انګلیس د نوی نړۍ لید په توګه ما تیریا لیزم او د یا لکتیک په ارګانیک ډول سره یوځای کړل ، د دغه ډول تیوریو د جوړښت امکانات متصور وو او کیدلای شو ل د ټولو پدیدو او په هغه جمله کې، د شعوري اولا شعوري پدیدو او د هغوی د دیالکتیک سره د علمي کړو وړو لا ره جوړه او د ټولو مسایلو څېړنه یواځې په نسبي علمي قانونمند ډول پیل شوي واي. خو څرنګه چې هغوی د شعور او ټولنیزو پدیدو په برخه کې ایدیالیست پاتي شوي وؤ او هغوی ونه کړای شول ټولنیزي پدیدي او شعوري مسایل د پخواني تخیلاتو او تصوراتو څخه راو باسي او همغه پخواني زاړه کړه وړه ورسره کیدل نو ځکه د غه ډول توقع کول ترې هم په نا امیدۍ بدله شوه . په ظاهر کي منل شوي وه چي ګوندي د مسایلو او قضایاوو سره به علمي کړه وړه کیږي خو په حقیقت کي د ټولو مسایلو سره په پخواني زاړه تخیلي غیر علمي او خرافاتي کړه وړه لا تر اوسه دوام لري . د وی شعور او ټولنیزي پدیدي یواځې د مادي پوري مربوطي ګڼي خو د مادیت څخه یي منکر دي ، اوس پخپله فکر کولې شو چې څه ډول دوی مادي او غیر مادي (معنوي )جهانونه د یوې قانونمندۍ لاندې راوستلې شي ، کوم یو چې د قضاء او قدر د عام قانون له مخې خدای په عالم الاسباب کې یواځې د مادي قوانینو په بڼه د انسان او نورو مخلوقاتو لپاره مسخر او مقدر ګرځولي دي. پدي باره کي د عینیت فلسفې نظر له پخوا څرګند دې چې « ذهنیت نسبی عینیت او هر مشخص ذهنیت عینی وا قیعت دي» . کله چې مو ذهنیت او شعور د عینی وا قیعت په څیر و منل نو په هغي کي د دیالکتیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجوديت منل هم حتمي دي . پخوا دا خبره هم مونږ منلي وه چي مطلقه بي شعوره او مطلقه باشعوره ماده هم وجود نلري او شعور اولا شعور دديالکتيکي تقابل په حيث دهر مادي واحد نه شليدونکي وجدي حالت ګڼل کيږي . کله چي شعوراولاشعور دهر مادي واحد جزلا يتجزا اوپه ذهن اوشعور کې ديا لکتيک هم وجود لري نو دا خبره هم بايد ومنو چي په هرمادي واحد کي دشعور او لاشعور ديالکتيک شته او په دغه پروسه کي شعور اولاشعور هم يو په بل بدليدلي چي د وحي ،الهام ،شپږم حس اوداسي نورو نامرئي اګاهيو اوشعوري پروسو سرچينه هم دهمدغه منبع اومناسباتو زيږنده ګڼل کيږي . په نتيجه کی ويلی شو چی د خارجی عينيت څخه پرته پخپله د ذهنی ختمی او شعوردا خلی ديا لکتيک هم د موجوده شعورد تغير او دنو يو شعوری پرو سو د منځ ته را تلو باعث ګرځی .او د شعور او لا شعور ټول موضوعات بايد دهمدغه زاويې دليدلاري له مخي و څيړل شي. دا چې ذهن د داخلي ديالکتيک دادلون بدلون ، يو ذهن په بل ذهن او يا کوم خارجي عينيت په ذهن کې انعکاس مومي فکر کوم په عمومي ډول د شعور منځ ته را تلو او پيدا کيد و په تخنيک کې به ډير تو پير نه وي موجود او په وا قعيت کې شعوري پروسي د انعکاسا تو د ديا لکتيکي ارګا نيک کامپلکس د ترکيب څخه عبارت دې او کوم خاص ماهيوي تفاوت پکي متصور ندې.انساني شعوري مقدرات د انساني اختيا راتو په کچه ، په خدايي نظام کې ، انساني خود سري رامنځته کوي او په حقيقت کې شيطاني قوتونه د خپلو شخصي ګټو په خاطر دغه لوی جهاني نظام ړنګول غواړي .پوښتني پيدا کيږي:ايا دوی دا حق لري ؟



ايا د حق ، عدالت او انصاف پلوي قوتونه دا حق لري ، دوی ته ددغه کار اجازه ورکړي ؟ خو لاشعوري پروسې چې د خدای د مقضي ارادې او د خدای د لوی علم د عامې قانونمندی له مخې، ددې لوی جهان ارګانيک تناسب همغسې لکه چی پخوا ورته اشاره وشوه شعور او لا شعور د هر ما دی وا حد ظاهراً دوه متضا د خو په حقيقت کې واحد ديا لکتيکي اړخونه تشکيلوی او هيڅ ما دي وا حد مونږ په اصطلاح پرته له داسې ديا لکتيکی تضا د څخه نشو ميندلې .ددې سره سره هم مونږ په ډيرو ليکنو کی وينو چی شعور يوا ځی د مغز زيږنده ګڼل کيږی او يوائې او يوا ځې شعور د همدغې متکا ملې ما دي خاصه بولي .زه پدي عقيده يم چي انسان او بل هر مادی واحد د مختلفو داخلي اوخارجي قواوو د تاثير څخه متحسس او متأثردي .دغه قواوي په هر مادي واحد کي دخپل تأثير معين اومشخص مرکزونه لري او دهغوی دفاکتورونو دويکتورونو محصله دخپلو خپلو مرکزونو څخه تيريږي ،خو دا هيڅکله ددي معني نلري چي ګوندي داحساس او درک موٌثريت يوائي په دغه مرکزونو کي وجود لري . پدي جمله کي دشعوري اوفکري تأثيراتو او تأثراتو دويکتورونو محصله هم شک نشته چي د ذهني شعوري مرکز يعني انساني دماغ څخه تيريږي .پدي صورت کي هم هيڅکله دا ددي معني نلري چي ګوندي دانسان په وجود کي يوائينی متحسسه او مدرکه ماده دانسان مغز دي . دانسان مغز هم پخپله دشعور اولاشعور د ديلکتيک او علت اومعلول معرض ګڼل کيږي او پخپله چي هم په بي شميره مهلکو مرضونو اخته اوسي ، دځان څخه کاملاً بي خبره وي اودمرستي په خاطر د لاشعور دروازه ټکوي دمرستي

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلب کوي او دلاشعور دلاري ئي اکثر بلا ګاني دفع کیږي.پدي توګه په ټولو مادي واحدونو کي اګاهي او عدم اګاهي عام واقعیت دي خو نسبیت منل پکي حتمي دي.

پدي توګه په انساني وجود مختلفي داخلي او خارجي قوي تاثیر کوي اودهري قوي دویکتورونو محصله دخپلو مرکزونو څخه تیریږي . دغه تأثیرات او تأثرات او یا په بل عبارت وجدي حالت په مجموع کي دانسان روح اوروان جوړوي چي تر ننني ورځي پوري نا مکشوفه علم ګڼل کیږي . په همدي علت انساني رواني اوپسیکولوژیکي مرکز هم یوندي اوموږ ځکه انساني شعور کمپلکس داحساساتو اوانعکاساتو ګڼلي دي او د همدي نظر مطابق شعوري پروسي د ځیرني او معرفت وړ حالتونه ګڼل کیږي .د روان شناسی په باره کي دعلومو دعدم موفقیت او وروسته پاتي والي اساسي علت زما په نظر همدادي چي دذهن ،شعور، فکر،روح اوروان په واقعیت اوعینیت او دهغي په مادیت څوک باور نلري .حال داچي خداي دا جهان مادي اوقانونمند پیداکړي او دانسان د معرفت په خاطر ئي مسخر او مقدر ګرځولي دي .زه پدي عقیده یم چي مادیت قانونمند اوقانونمندي مادي ده او په عالم الاسباب کي غیر قانونمند جهان اوغیر مادي قانونمندي وجود نلري . څرنګه چی انسان خداي پدي جهان کي خپل خلف ګرځولي دي .که چیري غیر مادي جهان او غیر مادي قوانینو وجود درلودلي هغه به ئي هم دانسان په معرفت مسخر او مقدر ګرځولي وي. پدي باره کي دمخه پوره دلائل ذکر شویدي.ډیر پوهان دغه مسائل یواځي دخداي په ارادي پوري مربوط ګڼي اود هغي په باره کي ځانته دخه ویلو اجازه نه ورکوي او هغه څوک چي پدي



باره کي ځانته دخه ویلو اجازه ورکوي، څرنګه چي په رواني مسائلو کي مادیت او قانونمندۍ ته قایل ندي اوعقیده پري نلري،نو پرته دتوهماتو ، تخیلاتو اوسفسطو هیڅ کومي قانونمندۍ ته يئ لاس نه رسي . پسیکولوژی ډیره پراخه ور شو لری او تر ننني ورځی پوری لا نا مکشوفه علم ګڼل کیږی .په هغی کی مختلف شقوق منځ ته را تلای شي. پدغه شقو قو کی تفریق او تباین هم په را تلونکی کی یوا ځی د د قیقو تحقیقاتو او تحلیل په ترڅ کی کیدلی شی. پدي اساس انسانی پسیکولوژیکی مرکز یو ندی بلکه ډیر دی. سره ددی که په غیر د قیق ډول داومنو چی د انسانی پسیکولوژۍ قواوو کرښې د «ویکتورونو محصله» د مغز څخه تیریږی بیا هم دا ددي معنا نلری چی دانساني شعور یوا ځنی مولد او منبع د هغه مغز دی.

د شعور په منځته را تللو کی اساسی رول په اصطلاح شعوری ختہ لوبوی چی په هیڅ صورت سره یوا ځی په مغز پوری اړه نلری او دبلي خوا شعوري او رواني حالتونه یو تر بله سره فرق لري . زما په نظر شعوری پروسی او انعکاسات د همغه مادی واحد په ټولو مادی ابعادو پوری اړه لری . داسی ذهنی ختہ او داسی فوق العاده ذهنی او شعوری ارګانونه او مادی واحدونه وجود نلري چی هلته دی لا شعور ځای و نلری او داسی مادی واحدونه هم نشته چی هلته دی شعوری انعکاسات او تعاملات موجود نه اوسی.

یو ځل بیا دا ددی دلیل کیدی شی چی د مادیت ، شعور او لا شعور متقابل استلزامیت او موجودیت هرډول نسبیت منلی شی یا په بل عبارت د نسبیت هرنهایت ته تقرب کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی لیکن په هیڅ صورت سره دغه نسبیت مطلقیت ته نشی رسیدلی او نه باید دچا خوشباوری او شخصی علاقمندی هغه دی سرحد ته ور سوی.

ددی موضوع سره یوا ځی پدی ډول بر خورد کول پکار دی. همغسی چی زما شعور د بل چا او بل څه دلا شعور په نسبت شعور ګڼل کیږی په همدی ډول د بل چا او بل څه شعور بیا زما د لا شعور د متقابل تناسب په نسبت هم باید شعور وګڼل شی.

کله چی د هر مادی واحد شعور د داخلی یا خارجی عارض د دیالکتیک (د هغه د مادی موجودیت د کلی ترین شکل) په مقابل کی د هغه تشخیصی، تدارکی او یا په مجموع کی د نوموړی عارض په باره کی د یوه واحد حالت او پوتنسیال په څیرو منو د شعور او لا شعور په موضوع د خپل پخوانی محدود چاپیریال څخه راووزی او د هر مادی واحد د نه شلیدونکی خصلت په څیر تبارز کوی یعنی دا چی هر متکامل مادی واحد په هغه جمله کی دانسان مغز هم د لا شعور پیټی په اوږو لری او هر خورا ساده متشکل مادی واحد بیا هم څه نا څه شعوری تشخیص او تدارک لرینو ځکه ویلی شو چی شعور او لا شعور د دوه متضادو دیالکتیکی اړخونو په څیر د هر مادی واحد خاصه ده او پخپله مادیت، شعور او لا شعور یو تر بله سره متقابل استلزامیت لری په نتیجه کی ویلی شو چی شعور او لاشعورهم د مادی د موجودیت د شکلونو څخه یو شکل ګڼل کیږی. او دا پخپله د مادي په قانونمندۍ دلالت کوي.

مخکی وویل شو چی شعور او لا شعور دواړه نسبی مفاهیم دی نو ځکه د شعور او لاشعور په باره کی پخوانی نظریات



هم باید د همدی نسبیت په تناسب وارزول شی او یوازی د همدی نسبیت له مخی کولی شو چا ته عالي او چا ته ټیټه درجه شعور قایل شو او دا تریخ واقعیت هم ومنو چې مطلقه با شعوره او مطلقه بې شعوره ماده وجود نلری او نه به یي و لرلې شي.

هره ماده په نسبی لحاظ د انعکاس، تشخیص، درک او داسې نورو خواصو او خصوصیاتو لرونکی ده.

دا موضوع هم د پوره غور او دلچسپۍ وړ ده: هغه څه چې زما لا شعور درک کوي زما شعور د هغې د درک څخه عاجز دې.

د مثال په ډول پخپله په انساني مغز پدغه ډیره متکامله او منکشفه ماده کې ډیر ژور او پیچلي تعاملات او بدلونونه د خارجي او داخلي عواملو په نتیجه کې پیښیږي.

مغز یا انکشاف مومي یا انحطاط، مغز په مختلفو مهلکو امراضو اخته کیږی یا همداسې د بدن نورغړي د داسې آفتونو سره مخامخ کیږي او تل په هغې کې تغیرات او تحولات جریان لري خو زمونږ شعور د غې ټولو تغیراتو په نسبت بې شعوره پاتې کیږي. په هغې کې انعکاس نه پیدا کوي او نه مونږ ورڅخه خبریدلې شو. لیکن زمونږ لا شعور پدې باره کې نه یوازې د کامل شعور لرونکې، بلکه د داسې تحولاتو په نسبت مخکې له مخکې کامله پیشبیني او پوره مقدماتي اماده ګي لري یعنې نه یوازې د مستقیم عمل او عکس العمل د قانون او پرنسیب له مخې بلکه د دغه عمل د مشتقاتو د قانون له مخې هم عکس العمل ښودلي شي. که و غواړو نو موړې مطلب د متماتیک په ژبه عرض کړو نو ویلی شو چې زمونږ لا شعور د داسې پیښو د بالفعل وقوع په نسبت خو لا څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې د ځو ومې درجې مشتقا تو په چو کا ټ کې پیشبیني لري او د تحول او تبدل د ماهیت او اهمیت له مخې زمونږ لا شعور د نومورو مشتقا تو د سلسلې له مخې آګا هي پیدا کوي او دهغې په مقا بل کې متقا بل تد ا فعي یا تعرضي حا لت غوره کوي. لیکن زما شعور د شعور سره سره په اصطلا ح د غفلت او حما قت په د را نه خوب ویده دې او پدې با ره کې د خپلې لا شعورۍ په نسبت د هر ډول درک څخه عا جز دې. اوس پخپله قضا وت کولې شو او پدې پو هیدلې شو چې زمونږ شعور ځومره لا شعوره او لا شعور مو با شعوره دې. که لږ څه نور هم د قضیې عمق ته متو جه شو سرې په دوه لا رې کې وا قع کیږي او پدې نه پو هیږي چې اوس کوم یوه ته شعور او کوم یوه ته لا شعور ووایي. ددې قضیې سره پدا سې بر خورد کې مونږ په حقیقت کې د مسئلې په دیا لکتیک با ندې پو هیدل شروع کوو. د شعور او لا شعور موضوع یوا ځې د همدې زا ویې څخه پخپل اصلي ما هیت او شکل سره لیدل کیدې او توضیح کیدلې شي. دهغې د نسبیت راز لکه څنګه چې مخکې ورته اشا ره وشوه هم په همدې مقطع او منا سبت کې لټول پکار دي. تر اوسه پورې ددې موضوع سره یو اړخیز او یا په بل عبا رت سره ذ هني بر خورد شویدي او پرته ددې چې د موضوع دیا لکتیک په نظر کې ونیول شي د مسئلې په یوه اړخ با ندې ډیره لګول شویده . د پورتنیو یا دونو په ترڅ کې مونږ ته با ید ددې جرئت پیدا شي چې دشعوري او لا شعوري مفا هیمو د پخوا نیو قبول شوو معیا ري اصطلا حي چو کا ت څخه را ووځو او په نوي ما هیت سره د هغه د دیا لکتیک او دوا ړو متضا دو اړخونو سره دا مسا یل مطا لعه او بر رسي کړو.



که چیرې د شعور منځ ته را تلو تخنیک په نظر کې ونیسو یو ځل بیا مونږ د شعور او لا شعور د دیا لکتیکي تقا بل او تضا د په موجودیت متیقن کوي. که د شعور د منځته را تګ تعریف تکرار کړو او یوا ځې پدې اکتفا وکړو چې شعور د انسا ن په ذهن کې د خا رجي عیني جها ن انعکا س ته ویل کیږي نو هغه وخت چې ذهن په ذهن کې ا نعکا س پیدا کوي او یا کله چې پخپله په ذهن کې خورا پیچلي تعا ملات پیښیږي او شعوري حا لت بدلوي هغې ته څه ویلې شو.

که چیرې دا سې وا قیعتونه قبول نکړو دا معنا لري چې خیر ذهن پخپله هغه مړه خټه ده چې په هغې کې هیڅ نوع تغیر ، تکا مل ، تحول او تعا مل صورت نه نیسي او نه پو هیږو په څه ډول خا رجي عیني جها ن منعکس کولې شي .ځکه دا سې مړه خټه د انعکا س قدرت او خا صیت هم نشي لرلي او بلکه په قطعي شکل سره ووایم دا سې مړه خټه په هیڅ صورت سره وجود نشي لرلې .زما په نظر د شعور د منځ ته را تلو د تخنیک وا قیعت به دا سې وي چې دیوې خوا پخپله په ذهني خټه کې دهغې د دا خلي دیا لکتیک په اسا س عظیمترین تحولات او تغیرات منځ ته را ځي البته چې نو موړي تحولات او تغیرات د ذهني خټې په کلي تر کیب ،ا ووجد ي حا لت کې تغیر را ولي او طبعاً د هغې پذیرشي او تقبلي خوا ص او دانعکا س امکا نا ت یې هم تغیر مومي د بلې خوا کله چې خا رجي عا رض دکومې لارې په ذهني خټه تا ثیر کوي او هغه متا ئثره کوي په ذهني خټه کې یو سلسله مختلف النوع تغیرات ،تحولات او تعا ملات صورت نیسي .

ذهني خټه د خپل پخوا نې ما هیت او حا لت او د موجوده تحول او تغیر مطا بق د نو موړي تا ثیر په مقا بل کې مشخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



عکس العمل ښیي. همدغه عکس العمل د هر ما دي وا حد په چوکاټ کې چې اوسي د همدغه ما دي وا حد یو ډول شعور ګڼل کیدې شي. ځکه چې هغه لا علی التعین عکس العمل نه دې ،هغه هد فمند او مشخص عکس العمل دې. د هغې خوا ص ، اوصاف ، تکتیک او تخنیک که دهغه ما دي وا حدونو په چوکا ټ کې دي چې د تکا مل په عالي مدا رجو کې وا قع دي او که ډیر سا ده ما دي وا حدونه دي په نسبي لحا ظ یو بل ته سره ورته دي. پدې با ره کې په سل ګو نو مثا لونه را وړل کیدې شي او هر یو یې مو نږ پدې متیقن کوي چې د انعکا س مسا یل د هر ما دي وا حد په چو کا ټ کې چې اوسي یو بل ته په نسبې لحا ظ ورته هد فو نو د لاس ته را وړلو په خا طر صورت نیسي نو ځکه با ید مونږ هغه شعور وبولو دا چې هغه د عا لي متکا مل بیو لو ژیکي ما دي وا حد په سویه دي او که د سا ده ما دي په سو یه. ددې مطا لبو دیا دونې څخه وروسته که مونږ بیا یو ځل د شعور او لا شعور مسا یل مخې ته را وا چوو کولې شو لا پسې د هغې د دیا لکتیک په عمق کې ور دا خل شو او هغه پدې معنا چې هر ما دي وا حد د تکا مل په هره درجه کې چې او سي د ټولو پدیدو د درک او په هر څه پو هیدلو څخه عا جز دي. یعنې دا چې با شعور ترین ما دي وا حد پخپل ذات کې د لا شعورۍ فیصدي لري چې ددغې ما دي وا حد د شعور د لاشعور د شعور لرونکې ده یعنې هغه څه چې زمونږ په شعور کې نه منعکس کیږي حتماً زمونږ په لا شعور کې په شکل داشکا لو سره انعکا س پیدا کوي او طبعاً د هغې د قوې کر ښې « ویکتورونه» زمونږ دلا شعور د شعور د مر کز څخه تیریږي.

پس په هر ما دي وا حد کې په اصطلاح همغسې چې شعوري



مر کز او سیستم لري زمونږ لاشعوري اګاه سیستم هم موجوددي . اوس را ځئ پدې با ره کی فکر و کړو چې کوم یوه ته شعور او کوم یوه ته لا شعور ووایو .ددې دوا ړو مفا هیمو په منځ کې کوم تنا سب او تعا دل ته سره قا یل شو ؟پدې با ره کې فکر وکړو چې پخپله شعور د چا مخلوق دې ؟آیا د کوم شعور مخلوق دې او که د لاشعور ؟مو نږ ډیرې پدیدې او مو جو دات وینو چې په کلي ډول د لا شعور مخلوق ګڼل کیږي. لیکن هیڅ شې اوکومه پدیده مونږ نشو پیدا کولې چې په ګُلې ډول دې د شعور مخلوق اوسي ٠ دا هم کاملاً څرګند واقعیت دې چې هر عا لیترین شعور په قطعي ډول د لا شعور مخلوق دې ٠ یعنې ددغه خلقتونو خلقت یواځي د خدای د مقضي ارادي له مخې کیږي.که دانسان شعور او ارادي په کي لاس وهنه کولې ، څه بد بختي به یې نه وي رامنځته کړي. شکر خپل خدای ته چې زمونږ سر نوشت یې دې ځینې انسانانو ته په لاس نه دې ورکړې .خو مونږ د عالم الا سباب د قانونمند موجودیت څخه پدې حقیقت او واقعیت هم باوري یو چې بې علته هیڅ یو خلقت او پدیده نه شي رامنځته کیدلې. لازم دادې په یوه بل حقیقت او واقعیت باور ولرو چې زمونږ لا شعور دخدای د مقضي الا مر ارادي له مخې زمونږ د شعور د زیږندې علت او مسبب ګرځیدلې دې. زه پدې عقیده یم چې زمونږ او بلکه دهرڅه دلا شعور بې شمیره عاملین دخدای دلوی علم ، لویي قانونمندۍ او مقضي الا مر ارادې له مخې د خدای دلوی جهان دخارق العاده خلقتونو اونظام ، تابع اوبې قیدوشرطه ابدي معماران او محافظین ګڼل کیږي. خو زما ، ستا او دبل هرڅه شعور هغه یاغي ،باغي ،مخربه ، سرکشه او خود پسنده قوه اوعاملین دي چې هرڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفس ،غريزي ،شهوت ،حرص او په اصطلاح ټولو نورو شيطاني قواوو داغيز لاندې دخپلو ناروا خواهشاتو څخه ځاروي اوبل چاته پکې هيڅ حق قايل ندي.او حتا ځيني نبيان«ع» ددغه شيطاني قوې دشر څخه په امن نه دي پاتې شوي العياذبالله. کوم څه چې لاشعور دخداى دارادې له مخې اباوي، زمونږ شعور پرته دهغې دتخريب څخه هيڅ کومه بله علاقه نلري. که چيرې شعور وجود نلرلې ،پدې جهان کې به واقعي سوله او بلاتشبيه جنتي ژوند تأمين وې.

بل که مونږ د شعور او لا شعور کمي او کيفي تنا سب په باره کې غور وکړو او هغه لايتناهي تعا ملات او مناسبا ت سترګو ته نيغ ودرؤو چې مونږ په مستقيم يا غير مستقيم ډول د هغې د تا ثير څخه متا ثر يو ،ليدل کيږي هغه څه چې زمونږ په لاشعور کې انعکاس پيدا کوي په هيڅ صورت د هغه څه سره د مقا يسې وړ ندي کوم چې زمونږ په شعورکې منعکس کيږي ٠ پورتنې نظرزه د يوې علمي طرحې په څير د داسې موضوعاتو مينه والو لپاره وړاندې کوم ٠ دې کې شک نشته بنه به داوي چې پدي باره کې تحقيقات او لازمې تجربې سرته رسيدلې واى او پدي کوچنۍ رساله کې په نوموړو موادو په مشخص ډول بحث شوې واى خو څرنګه چې د داسې تحقيقاتو لپا ره وسايل او امکانات موجود ندي او بلکه په ځيني موضوعاتو کې تخصصي مسلکي پوهه هم ايجابوي نو ځکه مې يواځې پورتنۍ طرحه د داسې مسايلو د مينه والو لپاره وړاندې کړه او پدې باره کې د زياتو تحقيقاتو سلسله هغوی ته سپارم.



# شپږم حس
# که
# د شعور او لا شعور ديالکتيک؟

دا موضوع په ۱۳۶۸هجري شمسي کال کي د«اخبار هفته» په «۵۵» ګڼه کې په يو څه تصرف او تلخيص سره چاپ شوي وه اود مفهوم د پوهاوي په برخه کې يې ځيني تيمګړتياوې رامنځته کړې وې. غواړم يو ځل بيا هغه په مکمل ډول دحرکت نشريې محترمو لوستونکو ته دارزونې لپاره وړاندي کړم.

انسانان د خپل پيدا يښت له لومړۍ ورځې څخه تل ديوه نامعلوم علت په واسطه ځوريدلي ،ديوي نامعلومي منبع او مرجع څخه ورته د خوښۍ يا غم الهام شوې ، ديوه پټ اثر د تاثير له مخې يو څه ته هڅيدلي او ديوې خارق العاده قوې په ذريعه يوه لورته لټيدلي خو ندې پوه شوې چې دا ټول هرڅه ، څه ډول پيښيږي او دزيږندې انګيزه او علت يي له کومې سرچيني څخه دې .

دوۍ ندي پوهيدلي چې کومه خوشالي يې خندوي او کوم نامعلوم غم ودرد يې ژړوي. کله داسې هم پيښه شوي چې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوښۍ او غم په نرۍ پوله دریدلي او غم وخندا یي شریکه شویده. نیکان ددغه راز او الهام له برکته لوړو درجو ته رسیدلي او بدانو ته لوی شیطاني طاقت ګرځیدلي دي. پیران ددغه پټ راز په قوت نوي او نوي مریدان راټولوي او مریدان هڅه کوي دهمدغه لاري د پیرۍ درجي ته ورسیږي. پدي ډول دغه نا معلوم علت هر چاته دشک، تردید، تشویش، خفګان، خوښۍ او نورو ډیرو غیرموجه الهامونو او اګاهي دمنبع په حیث دهرچا او باالخصوص داروا پوهانو د توجه وړګرځیدلي، خو هیڅوک پدي نپوهیږي، په څه ډول ځیني پیښیدونکي پیښي مخکي له مخکي دانسانانو په ذهن کي راګرځي؛ د کومي ناوړه پیښي دوقوع څخه دمخه دظاهري علت څخه پرته انسان غمجن معلومیږي؛ یا بي له کوم علت څخه خوشحاله بریښي او نن هم ددغه رحماني او شیطاني خوبونو انګیزه او منبع دټولو له نظره پټه خزانه پرته ده.

دي او دېته ورته ډیرو نورو مسایلو دبشر د پیدا ایښت له لومړۍ ورځي څخه د هغوۍ ذهنیتونه مصروف ساتلي او تل یي دي ته هڅولي چي دغه پټ راز، دغه نامعلومه سرچینه، دغه دخیر او شر منبع، دغه دضعف او قدرت اساسي محرک په هره وسیله او هر چیري چي ممکنه وي وڅیړي، پټ رازونه یي نړیوالو ته افشاء او یا یي دخپل تحکم وسیله او قمچینه وګرځوي.

پدي باره کي هیچا خپلي هڅي ندي سپمولي او خپل هر اړخیز مفید نظریات یي مینه والو ته وړاندي کړي، خو له بده مرغه دهیچا نظر رڼایي ته ندي وتلي. زه غواړم د ځیني پوهانو او مختلفو نظریاتي عقیدوي مکتبونو او سیستمونو نظریات



البته دخپل نظر داظهار سره یوځای د موضوع مینوالو ته وړاندي کړم.

شپږم حس، داخلي حس، نبوغ، کرامات، انچوییشن او یا په بل هر نامه چي دغه پدیده مونږ یادولي شو دلاتین کلمي intuitio ,intueri » څخه اخستل شوي اولغوي معنا یي (په ځیر سره ګورم) او په اصطلاح کي دثبوت څخه پرته د مستقیمي نظارې او کتني دلاري دحقیقت لاس ته راوړلو ته ویل کیږي. «ښاغلي ډاکتر شاولي د نبوغ یا ( Genious ) په باره کي داسي نظر لري چي په انساني فزیولوژي کي د مطالعي وړ مسئله ده او په پارا سایکالوژي پوري اړه نلري. لکه چي احصائي ښودلي ده، دزیږیدلي ماشومانو په منځ کي تقریباً په۲۰ فیصده کوچنیانو کي نبوغ وجود لري، خود نامناسب او خراب چاپیریال له وجهي څخه ډیره لږه فیصدي دجامعي له خوا پیژندل کیږي او له بده مرغه په ځیني جوامعو کي لکه افغانستان سل په سلو کي ضایع کیږي.

شعور او لاشعور د فروید په نظریاتو کي په لاندي ډول افاده او په مختلفو کتګوریو ویشل شوي دي:

| | |
|---|---|
| شعور | Super Ego |
| ماتحت شعور | Ego |
| لاشعور | Id |

Id : ذاتي غرایزدي چي دنطفي د پیدا ایښت څخه وجود لري؛

Ego : وروسته له زیږیدو څخه منځته راځي؛

Super Ego : هغه وخت پیدا کیږي چي انسان یا سړي په ښو او بدو پوه شي.

د فروید په نظر Id , Ego , Super Ego سره په مجادله کي واقع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما شعور یواځې په فلسفي کې وجود لري چي د مادې په مقابل کې استعمالیږي. لا شعور په فلسفي کي یا د مادي سره مترادف دې او یا باالکل نه استعمالیږي.»

په فلسفي لحاظ شپږم حس د مستقیمې معنوي پوهې او تفکر د یو شکل په مفهوم افاده کیږي چې دا پخپله د تأمل وړ خبره ده دا البته همغه د تخیلي او تصوري تیوریو نظر دي چې پوهان تر اوسه ورته معتقد او باور پرې لري. (ټول فلسفي او د اروا پوهني ادبیات او فلسفي قاموسونه).

همغه نظر چي محترم ډاکتر صاحب شاولي وړاندي کړي، تر نن ورځې پوري په فلسفه او روانشناسۍ کي مسلط او مروج تخیلي او تصوري تیوریک نظر ګڼل کیږي. د کوم یوه په مقابل کي چي مونږ خپل د عینیت فلسفې مقابل نظر وړاندي کړې.

افلاطون وائي: فکري تخیل د مستقیم دانش یو شکل دي چي د ناګهاني او له انتظاره پرته روشنۍ په څیر راپیداکیږي او د عقل او زده کړي امادګي ایجابوي. پدي توګه افلاطون د خپلو ذهني پروسو د تاثیر لاندي چي په عیني شکل وجود لري متأثر دي، په پورتني عبارت کي د مستقیمي کتنې د لاري د تجربي شعوري پروسي تخنیک افاده کوي او نپوهیږم په کوم دلیل همغه د فکري تخیل سره یو شي ګڼي! زما په نظر تجربي معرفت یوه مرحله ده، فکري تخیل بله مرحله، تصور او نور مراحل... او شپږم حس بعدي مرحله ده. یعنې د افلاطون پورتنې عبارت د شپږم حس سره مستقیم مناسبت نلري. ما د غه نقل قول د لته د یوه اروا پوه په تقلید راوړې. معنا داچې اروا پوه د شپږم حس د پروسې په ماهیت ندې پوه شوې. افلاطون ستر رسالت سرته رسولې او د بشریت په وړاندې یې خپل دین ادا



کړې دې، بده داروا پوه اشتباه ده. خو ددې ټولو اشتباهاتو او ګناهونو جرړه د فلسفي مسایلو، موضوع، او مفاهیمو په عدم درک کې نغښتې ده چې د عېنیت په فلسفه کې نژدې ۲۵ کاله پخوا څیړل شوې او له بده مرغه حتا د پوهانو تر اګاهي تر اوسه نده رسیدلې. لیکن یوه عادي پیښه د ثانیو د ننه د هرچا تر غوږو رسیږي.

دکارت وای: «شپږم حس زما په نظر د حواسو په ناپایداره ګواهۍ او غولونکي نامنظم تخیل باندي عقیده نده بلکه د دقیق او واضح عقل تصوردې، دومره ساده او دومره واضح چې هیڅ شک نه پریږدي چې ایا مونږ فکر کووا او که یا په عیني شکل سره د واضح او دقیق عقل پایداره تصور دې چې د عقل او تصور د طبیعي نور پواسطه منځته راځي او د خپلې سادګۍ له مخې د خپل اصل څخه هم لا پسې دقیق او واضح ښکاري.»

دکارت د فکري تخیل او مستقیم دانش تر منځ فرق ته قایل دې خو نوموړې د غه پروسې په ډیرې خوشبینۍ سره څیړې او داخلي حسي معرفت ته د عیني واقعیتونو د مستقمي حسي کتنې د معرفت سره د پوره شباهت خو لا څه چې د هغې څخه یې لا هم واضح ګڼي. البته دکارت د ساینس دان په حیث چې نوموړې پروسې د عیني واقعیت په څیر څیړې د ستایلو وړدي. خو پدي کې شک نشته چې هم په فلسفي لحاظ او هم د دکارت په نقل قول کې څرګنده او بربنډه مبالغه معلومیږي. فلسفه شعر نه دې چې د شعري احساساتي وجدي حالتونو، د بدیع او بیان ادبي مختلف صنعتونو او رنګینیو یاد قافیوي، عروضي، ردیفي، ازاد شعر او مسجع نثر د قیوداتو له مخې په کې څوک استثناأتو او فوق العادګۍ ته قایل او هرڅه د شعري

(c) ketabton.com: The Digital Library



قريحو ،احساساتو ،عواطفو ،غرا يزو په کچه په نظر کې ونيول شي. فلسفه د ژورو فکرونو ، ژورو تحليلونو ،قانونمنديو ، قانومندو فورمول بنديو او تيوريو علم دې او هرڅه دژور درک او په طلايي تله تلل کيږي. مونږ پوهيږو چې واقعيتونه او حقيقتونه دومره په اسانۍ نه شي ترلاسه کيدلې . حتا په مستقيمه نظاره کې هم دپديدو ظاهري شکل مونږ تل په نسبي توګه ليدلې شو او زمونږ حواس او مرکزي عصبي سيستم کومه ديجيتال کمره نده چې د دکارت په قول ،شکلونه او ځيري داصلي واقعيتونو څخه هم ښکلي ښکاره کړي. نو ځکه ويلې شو په پورتني دوارو حالتونو کې دفلسفي مسايلو سره رښتيا هم شاعرانه احساساتي کړه وړه شويدي.

هګل په خپل فلسفي سيستم کې په دياليکتيکي ډول مستقيم او غير مستقيم معرفت ته انطباق ورکړې او داخلي حس دحسي مستقيمي نظا ري او کتني د معرفت په ځير ځيړل کيږي. اول خو شپږم حس يا دشعور او لاشعور دياليکتيک دمستقيمي کتني دمعرفت سره هيڅ ډول مستقيمي اړيکي نلري ؛دوهم : هګل دياليکتيک يواځې په مطلقه ايده او هغه هم دمطلقي ايده دمراحلو په طبقه بندۍ او تکامل کې ويني. پدي ډول هګل دعيني ايدياليست په حيث هغه پروسو ته چې په عيني ډول په هر ذهن کې جريان لري او دشعور او لاشعور دياليکتيک او شپږم حس يې منځته راوړې ، ندي قايل . پداسي مواردو کې معمولاً تيو رۍ دقيقي نه وي او تخيلي ،تصوري او انحرافي بڼي لري . پوښتنه پيداکيږي چې خير هګل پورتنۍ فورمولبندي په کوم علمي بنياد او دکوم منطق له مخې کړې ده.



فيرباخ وايي: بې قيد و شرطه ،بې له شکه ،دلمر په ځير ځرګند ... يواځې حسي مظاهر دي ، نو ځکه دشپږم حس دمعرفت راز هم په احساس کې متمرکز دې. ( فيرباخ ،منتخب فلسفي اثار ،مسکو ،۱۹۵۵ جلد ۱ ، صفحه ۱۸۷ ) . دمخه ما وويل چې احساس ، تجربي ادراک او پراګما تيک تجربي معرفت دشپږم حس او دشعور او لاشعور ددياليکتيک سره هيڅ اړيکي او مناسبتونه نلري. شک نشته چې دشعور ،درک ، فهم او ذهني زيربناء ذخيري داحساس دلاري اکماليږي او په نتيجه کې دشعور او لاشعور او شپږم حس دپاره ختمه برابريږي ،نو مستقيمه کتنه او پرګما تيک معرفت په دغه پروسو تاثير لري .خو ځرنګه چې اکثر پوهان او ټول فلسفي عقيدتي انستيتو تونه دذهنيت ، شعور ، ټولنيزو قوانينو او ځيني نورو پديدو په ماديت باور نلري ،دفلسفي اساسي مسئلي ،موضوع او ځيني نورو قضاياوؤکي بنيادي اشتباه کوي او تيو رۍ تخيلي او انحرافي بڼه غوره کوي او حدث ددغه تيورۍ اساسي بنياد تشکيلوي ،نو ځکه ويلي شو چې احساس او شپږم حس تر منځ ډير لوي واټن پروت دي . فيرباخ ځرنګه چې ماترياليست متا فزيست وؤ ،دهګل په ايدياليستي دياليکتيک يا نپوهيده او يا يې پري باور نه درلود ، په هر صورت دهغه د شپږم حس تيوري يا اساس او بنياد نلري او يا يې لا اقل درسته افاده کړې شوي نه ده.

آ. برګسون ليکي: شپږم حس لکه يوه غريزه ده چې په مستقيم ډول او دمقدماتي امادګۍ څخه پرته دارګانيزم دسلوک شکلونه ټاکي.

زيګموند . فرويد شپږم حس دخلاقيت پټ غير شعوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابتدايي پرنسيب بولي. اوځيني بوژوازي فلسفي مکتبونه شپږم حس القاء او الهام او کاملاً خارق العاده غير شعوري پروسه مني. حال دا چي خدای دا جهان قانونمند او دانسانانو دپاره مسخر پيدا کړي او په معرفت يي مقدر او مکلف ګرځولي دي.

دماترياليستي دیالکتيک پيروان د شپږم حس دمفهوم اساسي علت او معقوليت دشعور دغير مستقيم والي په اوصافو کي ګوري، کوم يو چي داحساس او معقوليت يووالي ثرګندوي (دشعور دغير مستقيم والي اوصاف هيڅکله داحساس او معقوليت ديووالي دثرګندوني په معني ندي، ځکه چي ماترياليستان تر نن ورځي پوري هم په هغي باور نلري، بلکه داحساس او معقوليت يووالي دمستقيم شعوري معرفت تجربي پروسه تشکيلوي ) او پدي عقيده دي چي دمعرفت علمي پروسي او دنړۍ دادراک او شناخت مختلف هنري شکلونه ( ادراک او معرفت دهنري شکلونو سره مستقيم اړيکي نلري ) هروخت په ثرګند، منطقي او حقيقي ثبوتي شکل سره نشي ترلاسه کيدلي ( دا ځکه چي هغوی د شعوري او ټولنيزو مسايلو په برخه کي ايدياليستان پاتي دي ). اکثر وخت انسانانو ته په ډيرو مغلقو او پيچلو مسايلو او وضع کي دفعتا په ذهن کي دحل لار ورګرځي . ( دا استدلال علمي بنياد او علمي منطقي تسلسل نلري. ددي په مقابل کي کفايت کوي وويل شي چي خداي دا جهان قانونمند پيدا کړي او په علم کي معجزي وجود نلري .دوی‌ ددي پر ځای چي د شپږم حس دوقوع او ظهور دليل او علت توضيح کړي د اساسي مسئلې دمرکز څخه ليري په شکمنو مدارونو کي طوافونه کوي او دتت



او خړپړ سراب له مخي دخپل شک تخيلي او تصوري مجازي تصويرونه وړاندي کوي ) د شپږم حس رول هغه وخت عمده دي کله چي دمعرفت دموجوده او پيژندل شوؤ طريقو څخه خارج ديوه مجهول څيړلو ته ضرورت پيښيږي. دشپږم حس د معرفت دلاري ټول هغه مشخصات نشي ترلاسه کيدلي کوم چي ديوی قضي دثبوت دپاره ضروري ګڼل کيږي. شپږم حس يا داخلي حس بله خاصه او جدا لاره نلري ( حال دا چي دغه مناسبت هيڅکله مستقيم نه بلکه يواځي دشعور او لا شعور دديالکتيک دلاري په غير مستقيم ډول تامينيږي )کومه يوه چي داحساس ،تصور او تفکر دمنل شوي لاري څخه پرته دي ترلاسه شي. شپږم حس دهغوی په عقيده يو خاص تيپ دتفکردي چي دهغي مختلف عناصر په لږو ډير لاشعوري شکل سره شعور ته داخليږي. همدغه دشعور او لاشعور ديالکتيک د خدای او دهغه دخلف بنده تر منځ د مناسبت او ارتباط وسيله جوړيږي. دداخلي حس له مخي دحقيقت او افکارو نهايي هدف په ثرګند ډول سره پيژندل کيږي او دوی‌لپاره کافي دي چي حقيقت پري وپيژندل شي خو ددي دپاره چي ځان او نورو ته پري قناعت ورکړي شي کافي نه ګڼل کيږي ځکه ددي دپاره ثبوت پکاردي. ثرنګه چي دغه ټولي پروسي په عيني شکل سره واقع او دشعور او لاشعور دديالکتيک دلاري يو پر بل متقابل تأثرات واردوي ،نو ځکه دعيني واقعيت په څير ټول انسانان او په هغه جمله کي ماترياليستان دهغي څخه متأثر او متحسس دي ، واقعيتونه يي په ذهن کي انعکاس پيداکوي خو ددرک څخه يي عاجز دي ، ځکه چي دوی‌ پدغه ساحه کي په کلي ډول ايديالست پاتي دي او غيرعلمي فکر کوي . که

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـورتنۍ څـو جملـي پـه غـور سـره ولولو معلـو میـږي چـې دعلمـي منطقـي تسلـسل څخـه بـي محتـوا دي .ددي اساسـي علـت دادي چـي ماتریـا لیـستان د خپلـو ماتریـا لیـستي عقـا یـدو سـره سـره دشـعوري او ټـولنیزو پدیـدو پـه بـاره کـي ایـدیا لیـستي عقیـده او نظر لري.

داوؤ پـه ځغلنـده کتنـه کـي د شـپږم حـس پـه بـاره کـي دپوهـانو تـاریخي ،علمـي ،فلـسفي عقیـدتي نظـر او د هغـي پـه بـاره کـي زمـونږ تبـصره .پـه اکثـره ذکـر شـوؤ نظریـو کـي د حقیقـت زړي او دانـي پـه څـر ګنـد ډول لیـدل کیـږي ، ځکـه پـه حقیقـت کـې هـر نظـر د عینـي واقعیتونـو څخـه سـرچینه اخلـي خـو لـه بـده مرغـه هـر څـوک دغـه واقعیتونـه دخپـل ذهنیـت پـه نـا ثیقـل شـوي هنـداره کـي ګـوري او یـوائې دهغـې لـه مخـې پـه همغـه تناسب قـضاوت کـولي شـي .پـه همـدي علـت واقعیتونـه لکـه لعلونـه پـه ایروکـي پټ او تیـت و پـرک پراتـه دي. لازم دي هغـه یـو یـو راټـول ، دذهنیګریـو پایـداره رټـي یـي لـه مـخ څخـه پـاکي او وروسـته لـه هغـي دمنـل شـوو اصـولو (د عینیـت د فلـسفي د لیـد لاري ) لـه مخـي دمعرفـت د نـاوي پـه غـاړه امیل شي .

دپـورتني تحلیـل څخـه پـه نتیجـه کیـرۍ سـره څـه ډول دا منلـي شـوچې ګونـدې مـونږ دي دقناعـت وړ نتـائج خـو لا څـه ،چي حتـي دفلـسفي ،اروا پـوهني ، شـعور ، لاشـعور او ډیـرو نـورو مـسایلو پـه بـاره کـي ابتـداي بنیـادي څیړنـي پیـل کـړي اوسي ؟ پـره لـه شـکه، چـي دننـني علمـي تخنیکـي انکـشافاتو پـه عـصر کـې مـونږ لا دعلومـو دانجـړ مـشوړي دتـار سـر نـدي پیـدا کـړي ، حـال دا چـې ډیـر پخـوا لا مـونږ ددي پـوره امکانـات درلـودل چـي دعلومـو بـي سروسـامانه وضـعي تـه دپـاي ټکـي کښیـښودل شـي او نـن چـي



دغـه امکانـات لا پـه زیاتـه پیمانـه موجـود دي دمخـه تـر دي چـي خبیـث شـیطاني قوتونـه د عـام بـشریت دذهنیـت کټـۍ پخپـل خباثـت سـره تومنـه ( تخمیـر ) او عـام بـشریت پـه خپـل بـلا قیـد وشـرطه خـدمت ګـذاره غلامـانو بـدل کـړي ، بایـد هرڅـه دټـولنیزو ښـیګڼو دبهیـر اصـلي مـسیر او جریـان تـه پریـوځي . شـیطاني قوتونـو تـه هوښـیار ځـان ، خـو احمـق عـام بـشریت پکـار دي او ډیـر هوښـیار احمقـان یـي د سـرمایي دمسمریـسم پـه چټـل خـورۍ د خپلـو نـاولو ارمـانونو دپـوره کولـو پـه خـاطر ګمـارلي دي .حق لـرو ووایـو چـي شـعور «ځانځـاني ښـامار» او قـامخوره مـاهي جـوړ شـوي ،شـعور دغـه خبیثـانو لا وختـه دخپلـو ګټـو پـه خـاطر احمـق ګرځـولې ، شـعور نـن اغـواګري ده ،شـعور بلـواده ،شـعور بغـاوت دي ،شـعور دروغ دي ،خیانـت دي ،جفـا ده ،جنـګ دي ،تبـاهي ده ، تنګنظـري ده ، حـرص دي او ټولـو نـورو شـعوري بـد بختیـو څخـه منـتج دټـول باشـعوره انـسان او انـسانیت دپـاره دشـرم ،کرکـي او نفرت څخه ډکه ننني نړیواله وضعه ده ...ا و نور.

هـو !دموجـوده نړیـوالي وضـعي او د بـا شـعوره انـسان د کلتـوري ژونـد د محـصلي څخـه پـه قـضاوت سـره خـو همداسـي معلـومیږي چـي ګونـدي پـه رښـتیا هـم پـه موجـوده نـاوړه او نـاروا شـــعوري طریقـــه پرتـــه د بوالهوســـۍ ،غریـــزي ،خودخـــواهۍ ،شـهوت او نـورو منفـي اعمـالو بـل څـه متـصور نـدي . یـوائې ځینـي احمقـان دي چـي د سـرمایي حـرص لیـوني کـړي ، خپلـه خوشبختي یـوائې دنـورو پـه بـدبختۍ کـي وینـي او کـه پـدي پـوه شـي چـي نړیـوال ددوئۍ سـره یوشـان خوشـبخته کیـږي ،حاضـر دي جهانیـان او جهـان یـو ځـاي د تبـاهۍ کنـدي تـه وغورځـوي.خـو زمـا پـه عقیـده موجـوده واقعیتونـه بـل ډول ګـواهي ورکـوي او هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدي معنا چي عام اولس هیڅکله احمق نشي پاتي کیدلې . دا جهان نه ختمیدونکي غذايي او انرژيتیکي زیرمي لري . په هغي د علمي ــ تخنیکي لاسته راوړنو برلاسي هر ډول امکانات زمونږ په واک کي راکړي او د پراخ نظر خاوندان پدي عقیده دي ، هر څومره غذا ، پوشاک ، انرژي ، او نوري هر ډول ذخیري چي وغواړي ،جوړولي شي ،نو د هر ډول حرص او تنګنظرۍ څخه مبراء او په عام بشریت د پوره رواداري په ټولو اوصافو متصف دي . دوئ بلا تشبیه د خدايي عام سخاوت ،پیرزوئیني ،عدالت او انصاف له مخي جهان د جهان په پراخه لمن کي په هر اړخیز امکاناتو سره ویني ، څیړي او ارزيابي کوي. پدي توګه شعور د شعور په حاکمیت کي او یا په بل عبارت په شعور سالارۍ کي دیوي خوا د شعور د ذهني تنګنظرانه تاریک سلول په محاط محیط کي د بنده بندګي او منفي تفکر ، منفي عمل او منفي ژوند جوړ شوي او په اصطلاح زمونږ په کوچنۍ نړۍ کي یي د بابا ادم «ع» څخه تر دي دم پوري په ناوړه قهر امیزه ورانوونکي دینامیزم او طوفان بدل شوي چي پایلي یي نن مونږ په افغانستان ، پاکستان ، عراق ، فلسطین او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي وینو او ډیر زر به په ټوله نړۍ خپله لمن وغوړوي او قیامت به جوړ کړي . د بلي خوا که لږڅه انساني ،منطقي او علمي فکر وشي بشریت د موجوده زیرمو او امکناتو په لرلو سره ځانته بلا تشبیه جنتي ژوند جوړولي شي . او هیڅ ډول حرص ، تنګنظرۍ ، جنګ ،ظلم ،ناروا او نورو غیر انساني کړو وړو د پاره هیڅ ضرورت او حاجت نه پاتي کیږي او زما په عقیده پر ځاي ده چي د حق او باطل او یا په بل عبارت د قانونمند منطق او غیر قانوني بغاوت او ماجراجویي په پوله



دعادلانه او غیر عادلانه جنګ په خاطر په عظیم دینامیزم سره د قشونو سوق الجیش او صف بندي تکمیل او همدغه مسئله به په عمده او اساسي بشري تضاد باندي بدله شي. دا د مسئلي سیاسي اړخ دي . زمونږ هدف د موضوع فلسفي او علمي اړخ څیړل دي . ښه به داوي د موضوع د ښه پوهاوي په خاطر د شعور او لاشعور او شپږم حس د منځته راتګ په میخانیکیت یو څه بحث وشي. خو مخکي له دي غواړم د فروید هغه نظر چي لاشعور او ماده مترادف ګڼي او محترم ډاکتر صاحب ورته اشاره کړیده ، او سره د دي چي پدي باره کي لازم بحث شوي هم دي ، بیاهم لنډه یاد اوري وکړم. زه د فروید د غه نظر سره کاملاً همنظر یم او زه بلکه وایم چي شعور او ماده هیڅ ډول ذاتي توپیر نلري او دواړه یو شان مادي واقعیتونه جوړوي . خو دفروید دغه نظر په قاطعیت سره ردوم چي هغه لاشعور د مادي سره مترادف ګڼي او د خپل ذهن خود ساخته او خود بافته مهمل تخیلي او تصوري لفظ «Id» په ذریعه افاده کوي او شعور غیر مادي ګڼي. دا همغه بي مفهومه قضئي ته ورته ده چي نن هم حواس مادي او شعور غیر مادي ګڼل کیږي چي البته په هکله یي پوره بحث شویدي.

ـــ شعور : ټول مادي انعکاسات چي د حواسو دلاري انساني ذهني سیستم ته داخلیږي ،په مرکزي شعوري عصبي سیستم کي متقابل عکس العمل پیداکوي او په دغه سیستم کي د قانونمندي شعوري پروسي په شکل ذخیره کیږي شعور بلل کیږي.

ـــ لا شعور : هغه مادي انعکاسات چي د حواسو انساني طیف یي له درک څخه عاجز دي او د انسان په مرکزي عصبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعوري سيستم کې عکس العمل نه پيدا کوي ، بيا هم دانسان ذهني سيستم (ذهني ختهي ) ته داخليږي ، په مرکزي لاشعوري عصبي سيستم کي متقابل عکس العمل پيدا کوي او په دغه سيستم کي دقانونمندي لاشعوري پروسي په شکل ذخيره کيږي لا شعور بلل کيږي . يعني زه پدي عقيده يم چي د انعکاس لاشعوري مرکز هم وجود لري او دخداي دمقضي ارادي مطابق فعاليت کوي . والله اعلم.

ټول هغه څه چې په شعوري سيستم کې انعکاس نه پيدا کوي حتماً په لا شعوري سيستم کې منعکس کيږي. انساني شعوري طيف دلاشعور په نسبت په فيصدي کې نشي راتلاي او ډير کوچني دي. نو ځکه خو شعور سالاري د تعصب او تنګنظرۍ په مرضونو اخته ده. مونږ يوائي سره او بنفش او دهغوئ تر منځ رنګونه او شعاعات ليدلي شو ،صوتي امواج چي دڅپي اوږوالي ئي ديوه «هرڅ» څخه تر شلو زرو «هرڅو» پوري اوسي انساني روغ غوږونه يي اوريدلي شي. په همدي ډول دنور و انعکاساتو او تأثراتو خورا کوچنې طيف په شعوري او پاتي خورا پراخه ساحه په لا شعوري مرکزي سيستم کي منعکس کيږي . د شعور او لاشعور نسبي پرتله په ساده توګه داډول کيدلي شي چي شعور دانسان مقدرات دي او لاشعور دخداي د مقضي الامر ارادي په کچه د متقابل تناسب او قانونمندۍ له مخي تحقق پيدا کوي. خداي په کل کي دجهان دعام قانونمند همزمان ستاتيک ،ديناميک ،متحول يعني ديالکتيکي نظام خالق دي او پخپله دغه نظام ئي دشعور او لاشعور دقانونمند و مقضي او مقدرو ارادو يعني دقضاء او قدر دعام قانون له مخي دټولو خلقتونو دخلقت په ټولو



مراحلو مقدر ګرځولي دي .لا شعور په ټولو امکاناتو او لويه قانونمندۍ سره دخداي مقضي اراده تمثيلوي او شعور په عالم الاسباب کي دانسان او ټولو خلقتونو مقدرات ګڼل کيږي .
انسان دخپلو شخصي ګټو په خاطر دخپل شعور او مقدراتو څخه سوء استفاده کوي ، شخصي ځانګړي موخي تعقيبوي او په نړيوال نظام کي معمولاً تخريبي اعمال سرته رسوي اود نظام تناسب او تعادل له منځه وړي ،لاشعور برعلاوه لدي چي دخداي دمقضي ارادي له مخي د ټولو خلقتونو دخلقت مسبب ګڼل کيږي ، دشعور ټولي وراني ويجاړي او نيمګړتياوي چي دجهاني نظام په ارګانيک تناسب کې يي رامنځته کوي ، د خپل عضويت له لاري په قانونمند متناسب عضويت او ترکيب بدلوي . پدي توګه ويلي شو ،پدي جهان کي دخورا مغلقو خلقتونو دخلقت مسبب پخپله په اصطلاح لاشعور يعني دخداي دلوي علم لويه قانونمندي ده. په نتيجه کي ويلي شو ،زمونږ لاشعور په حقيقت کي دټولو خلقتونو دخلقت اوددي لوي جهان دمتناسب ، قانونمند ، ديالکتيکي استقرار مسبب ګڼل کيږي. هر څوک چي دغه قانونمندي ورانول غواړي د مقدراتو په سرحد کي به حتماً دقضاء څپيره په مخ مني. دا داسي قانونمندي ده چي پدي لوي جهان کي که يوه ذره بي ځايه کيږي يوائې ددي قانون له مخي به وي .

طبيعيون پدي نظر دي چي ټول خلقتونه دطبيعت مخلوق دي او دخداي دذات څخه منکر دي. داروين هم يو ددغه جملي څخه وؤ چي انسان دطبيعت ددوامداره تحول متکامل ترين مخلوق ګڼي. زه هم دا منم او دخداي قانون هم دامني .خو د نه منلو وړ خبره داده چي اول دداروين او نورو پلويانو په نظر به

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعت څه ته ویل کیږي؟ د طبیعت په نوم مشخص کوم شي وجود نلري. مختلف خلقتونه، پدیدي، عناصر، مرکبات او داسي نور چي متکاملترین خلقت یې انسان ګڼل کیږي ځیني کسان طبیعي پدیدي بولي. اوس دي دداروین پلویان لطفاً ووایي چي کوم یو له دغو پدیدو څخه مختلف خلقتونه او یا یو له هغو څخه پیدا کولي شي. انسان چي خدای پدي جهان کي خپل خلیفه ګرځولې دي، ایا یو داکتر، پروفیسور، اکادمیسن چي ټول علمي تخنیکي وسایل او امکانات هم په واک کې لري کولې شي یوه ډیره کوچنۍ عضوه جوړه او هلته یوه ساده قانونمندي برقراره کړي. ۱۵ ملیارده عصبي ریښکۍ په یوه موټي مغز کي ځای پځای کول، په DNA کې چې ذره بیني کوچني عضوي واحد دې، دانسان دجوړښت مغلقترین ارثي سیستم په ټول تاریخي، عضوي او نور ارګانیک دیالکتیکي متحول پروګرام او داسي نور بي شمیره سیستمونه ځای پځای کول، او ټول دغه بي شمیره خلقتونه په همزمان ستاتیک دینامیک وجدي متحول حالت کي دابدي متعادل، متوازن جهاني نظام په حیث ساتل په اصطلاح دهري طبیعي پدیدي او په کل کي ددغه ټول خلقتي خاًتیک (نامنظم) نظام دامکاناتو څخه وتلي کار ګڼل کیږي. دا خبره هم سمه نده چي ځیني کسان دختو او ګټو څخه خدایان جوړوي، یا ځان ته دخدای نسبت کوي او یا ځیني هڅه کوي دخدای په ذات او صفاتو او څرنګوالي باندي خبري وکړي. دا ډول اعمال، مفکوري او عقاید هیڅ ډول علمي، عقیدتي او منطقي بنیاد نشي لرلي او نه دباور او منلو وړ دي. خدای هغه ذات دي چي د خپل لوي علم له مخي یي دا خارق العاده خلقتونه، او لوی جهان پیداکړي



او په خارق العاده ډول یي پخپل نظام کې ساتي. افلاطون، ارسطو او نور دمثُل نظریات وړاندي کوي. په عالم الاسباب کي د مثُل په عالم باندي علم او معرفت دانسان دپاره نه مسخر، نه مقدر او نه ممکن ګڼل کیږي او نه دمثُل دنظر دخاوندانو په قول دمثُل په مثال څوک رښتیني تیوري ګاني جوړولي شي. دبلي خوا افلاطون مثُل قائم باالذات ګڼي او ارسطو هغه په معقولاتو پوري تړي او پدي عقیده دي چي معقولات یواځي په عقل کي وجود لرلي شي او دبلي خوا عام مفاهیم چې اصلاً خارجي وجود نلري. خو فارابي ددي دواړو پوهانو دنظریاتو تفاوت بنیادي نه ګڼي او هغي ته یواځي ظاهري ارزش او تباین قایل دي. زه نه غواړم دبحث په اوږدولو سره داصل موضوع څخه لیري ووځم خو دومره باید ووایم چي دوی دریواړه په خپلو خبرو کي رښتیني او حق په جانب ندي. او ددي علت دادي چي دوی موضوع بي بنیاده او ناسمه مطرح کوي، دموضوع په مدار ګرځي او په متواتر ډول کله موضوع ته داخل او کله تري ووځي. څرنګه چي دوی دخپل ذهن دقانونمند منطق څخه بحث کوي، حق په جانب دي ځکه چي پخپله ذهن عیني واقعیت دي. خو داچي دوی ذهن عیني واقعیت نه ګڼي دموضوع دمدار څخه لیري ووځي او په ناسمه لارروانیږي. زما په عقیده واقعیت دواقعیت څخه لیري او جدا فکر کول پخپله ناسم کار دي.

انسان، سازمان او ټولنه دخپلو مقدراتو په محیط کي په غفلت او سرکشۍ ګرم او ملامت ګڼل کیږي. دا دهرڅه څخه دمخه یوه زماني مقطع او معین محاط محیط جوړوي. واقعیتونه او حقیقتونه زماني او مکاني قیدیت لري اود هغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتغير په تنا سب تغير كوي. نتني حقيقت او واقعيت نه پرون داسي وو او نه به سباته داسي اوسي. ممكنه نده څوك پخواني واقعيتونه په پخواني كميت او كيفيت سره نن دڅيړنو لاندي ونيسئ. هر انسان، هر جمعيت او هره ټولنه د خپلو مقدراتو له مخي يوائي دخپل زماني او مكاني واقعيتونو په څيړنو باندي قادر ګڼل كيدي شي. دتيري او راتلونكي قانونمندۍ راسپړل او پيشګويي كول په كل كي د خداي په قضاء پوري اړه لري، خو په پرنسيب كي دحال دقانونمندۍ دژورو څيړنو له مخي ممكنه ده چي تيري قانونمندئ راوسپړل شي اودراتلونكي قانونمندۍ پيشګويي وشي نه داچي دحقيقت او واقعيت په غياب كي څوك تخيلي او تصوري تيوريګاني جوړي كړي. پدي جهان كي په پرنسيب كي ناممكنات وجودنلري خو مغلقي قانونمندۍ او اوږدي زماني او مكاني فاصلي يو بل سره جدا كوي او ليري باسي. نپوهيږم څه ډول ځيني پوهان ددغه ټولو موانعو، مشكلاتواو حتي ناممكناتو څخه قدم اړوي او په داسي ډيرو مهمو او مغلقو مسايلو كي په تشو تخيلاتو، تصوراتو، حدسياتو او فنتازي ډډه لګوي او په پټو سترګو ناممكني فيصلي ممكني ګڼي. دخداي په قوانينو كي بي له شكه داسي احكام، اوامر او حتي هدايات وجود نشي لرلي چي خپل بندګان دي په ناممكناتو مجبور وګرځوي او يا دي دهغي په خاطر تعذيب كړي. داسي سهوي، خطاوي او ګناهونه يوائي دبنده څخه سر وهلي شي.

پدي توګه واقعيتونه دمستقيمي تجربي او يا دوسايلو په مرستي سره د مشخصو متودونو او روشونو دلاري څيړل كيدلي او مطالعه كيدلي شي. زمونږ ضرورت او رسالت اوز



مونږ چاپيريال په حاضر وخت كي زمونږ دپاره موجوده واقعيتونه او حقيقتونه تشكيلوي. تير واقعيتونه دنن او نتني دسبا په څير ندي او يوائي موجوده واقعيتونه مونږ دپاره مسخر او مقدر ګڼل كيدې شي. دماضي او مستقبل په لور هره لار دحال دقانونمندۍ له مبدا څخه شروع كيږي. كه حال ونه پيژندل شي د تير او راتلونكي پيژندل ناممكن دي. ددي څخه بله منل او كول بيهوده كار دي. دچا هدف چي كار نه كول وي، په ناشوني كار پوري نښلي. دمثال په ډول چي يو مليون كاله پخوا به څه تيريدل؟ داسمانونو دبره او لاندي څه شي وجود لري؟ شروع او ختم ددي جهان چيري دي؟ اوديته ورته پوښتني. په دي باره كي بهترين مصداق د قرآن دلاري دخداي د «كن فيكون» د آمر صدور دي. دا په هر لحاظ خورا علمي او منطقي پريكړه ده. ځكه چي جهان په لحظوي دياالكتيكي بدلون كي دې، قديم وجود نه لري او په همغه قديم كي په لحظوي توګه بدل شوې، حال هم په لحظوي بدلونكې دې او په موتې كې يي څوك د يوې لحظې لپاره څوك ساكن نه شي ساتلې او ابد په ابدي نظام كې هيڅكله ابد ته نه شي رسيدلې او دمخه مونږ وويل چې په ټولو زماني او مكاني ابعادو كې دمختلفو قضاياوو څيړل يوائې د حال د قانونمندۍ د پيژندګلوۍ له مبدأ څخه پيل كيږي، نو ځكه د قديم او ابد څيړنه او پلټنه كول بې معنا او بې مفهومه كار دې او ځكه خو دغه ټول مفاهيم او حقايق په قانونمند او منطقي بڼه دخداي د «كن فيكون» په آمر كې خلاصه شويدي. خو په تير، حال او راتلونكي هميشه پوره علم لري. يوائې انسان ددغه حكم له صدور څخه په انتباه، كولې شي په خپل دنيايي ژوند او

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاط محيط کې کولې شي د حال د قانونمندۍ له لارې د قديم او ابد په قانونمنده لار تعقيب کړي ، ځکه چې جهان قانونمند پيدا دې ، قانونمند پايې او قانونمند بدلون او تکامل مومې ، د همدغه قانونمندۍ په بنياد انسان د خپل خداي له طرفه د خدای د خليفه په حيث د دې جهان او په هغې پورې اړونده خلقتونو او پديدو په معرفت مقدر او مکلف ګرځيدلي دي. دا کار شونې دې ،په دې کې علمي قانونمند منطق او امکانات وجود لري. په فلسفي څېړنو کې که غير اسلامي فلسفه پوهان د خپل تعصب له مخې د دغه ډول او د پټه ورته ډېرو نورو قرآني علمي لاس رسيو څخه بې برخې وو ، اسلامي پوهانو ته پکار وو چې خپلې علمي ،فلسفي څېړنې يې د قرآني علمي اساساتو په بنياد ، لکه څرنګه چې په ابتداء کې پيل شوې وې ، تر اخره پورې دوام ورکړې وې اود غرب او شرق د تخيلي او خرافاتي فلسفو په جال کې سوټ بوټ نه وې تړل شوي . پدې خاطر ويلې شو چې د « کن فيکون » د امر د صدور څخه بله علمي او منطقي پريکړه نشي په سترګو کيدلي . مونږ د نورو بشري علمي حقايقو څخه منکر نه يو ، خو لکه څرنګه چې مونږ په مختلفو مواردو او پيښو کې ورته اشاره کړې ،حقايق په دغه بحثونو او تيوريو کې د نادره دانو په شکل پيدا کيږي ، زياته برخه يې انفرادي ځانګړي تخيلي بحثونه جوړوي ، نو ځکه هر قدم وړاندې د بن بست او تړلو دروازو شاته پاتيږي او يا د ګمراهۍ ناوړه پيښو سره مخامخ کيږي .

د پورتني بحث په ترڅ کې چې په ژورو علمي او فلسفي مسايلو ، لکه د شعور او لاشعور ديالکتيک ، د خدای سره د انسان د اړيکو لارې چارې او د دې لوی جهان قانونمند



پيدا ايښت ، پايښت ،بدلون او پرمختګ ،چې مونږ مليونونه کلونه، وړاندې وروسته خوادثو په څېړنه مقدوروي ، په حقيقت کې مونږ په يوه بل ستر تصميم او وضاحت مکلف ګرځوي چې پرې سوچ وکړو اود حل لارې يې ولټوو .

دا البته يوائې پدې خاطر هم نه چې ګوندې مونږ ډېر ژور او جدي بحث پيل کړې او يوائې مونږ د دې جوګه يو پدې باره کې څېړنې وکړو ،قضاوت وکړو ،سپيناوې راولو او پريکړه وکړو .داکومه پټه او مجهوله خبره نه ده ، کله چې يو دهقان د خپل پټي په کنۍ کې کوډله او ديره جوړوي ،هيڅکله دا پوښتنه نه له ځانه او له بله نه کوي ،چې دا چا جوړ کړيدي ؟ کله چې يو موږک د خپلې استوګنې لپاره سوړه جوړوي ، هيڅ شک ،ترديد او ويره نه لري چې ګوندې د بل چا به وي او په زغرده په کې منډې رامنډې وهي. کله چې يوه مرغۍ ځاله جوړوي ، هغه پرته له شکه خپل حريم او ملکيت ګڼې او نورې مرغۍ هغه ځای ننوتلو ته نه پريږدي. د شاتو مچيو ګبينې ته که څوک نژدې کيږي ، چيچې يې او که د ميږي په مېنه پښه کښيږدي هم ارام به دې پرې نږدي. دا ځکه چې دا خبرې له هيچا څخه پټې او مجهولې نه دي ، نو چاته پوښتنه او شک هم نه پيدا کيږي. خو کله چې سورلنډي پردي کور ته د چرګ پسي ننوځي ، زړه يې له ويرې ترې بوټ وتلې وي او په اندکه کشپش،د عامو خلکو په اصطلاح ، د سور لنډي غوندې تښتي. پدې دواړو حالاتو کې خبره معلومه ده ، پټه پنا ه نه شته ، هر څوک خپل موقف او د بل موقف ، خپل ملکيت او د بل ملکيت پيژني او انسان خو لاڅه چې د حيواناتو ، مرغانو او خزندوتر منځ هم شخړه اود عوه د نګله منځته نه شي راتلای او هر يو د خپل موقف په تناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه حق او نا حق ګڼي. خو کله چې خبره د سترو عظمتونو، خارق العاده خلقتونو، حتا د خدای د خلافت وارثینو، انسانانو د امکاناتو څخه وتلي ظرافتونونه او پدیدي په سترګو کیږي، عالم او پوه انسانان خو لا پر ځای پریږده، د ساده انسان څخه هم ډیر ساده انسان، حیوان، الوتونکي، خزندې او نور مخلوقات د خپلو خپلو مقدراتو او خدایي قضاء د قوانینو سره سم پرته له سر غړونې ژوند او ګذاره کوي. همدغه پخواني انسانانوو چې لا د علم او تخنیکي پرمختیاوو ابتدایي څرک او کوم وسایل هم نه په سترګو کیدل، دوی د عادي او فوق العاده خلقتونو ترمنځ تباین او تمیز ته قایل وو. د هغوی په اړه یې همغسې چې لازم وو قضاوت کاوه. کله یې چې لمر او اور د یخنی په وخت کې ډېر تودې کړې او یا چې د باران اوبو تنده ورماته کړه نو یې د مهربانه خدایانو په حیث ومنل او که به یې د دغه ډول نورو منابعو څخه ضرر، قهر او غضب لیده، نو به یې د جبار، قهار او دې ته ورته نومونو سره پیژندل. دغه قضاوتونه او څیړنې په مجموع کې د عادي بې سواده انسانانو له خوا پیل شویدي، ځکه چې په هغه وختونو کې نه تعلیمي موٴسسو وجود درلود او نه سیستماتیک تعلیمي نصاب، پروګرام او درسي موادو. پدې باره کې اضافي بحثونه اصلاً ګنجایش نلري. دې کې شک نشته چې خدای څوک نه شي لیدلي. د لوي ذات، لوي خالق او صانع، لوی حقیقت او د لوي علم څښتن په حیث تري څوک څه ډول انکار کولي شي. د خدای دین، د خدای لار او شریعت فردي او اجتماعي ضرورت دي. د خدای حکم د خدای د لوي علم، لوي قانونمندی او لوي منطق له مخې د جهان د معرفت، حفاظت او



متعادلي، متوازني استفادي په معنا دي کوم یو چې زمونږ د ژوند حاد ترینو مجبوریتونو او ضرورتونو ته خورا منطقي ځوابونه وای. هر څوک به هرڅه غواړي ووائي. د علم، قانونمندی او منطق په مقابل کې عبث خبري ګنجایش نلري. خدای مونږ د خدای د خارق العاده خلقتونو له مخې پیژندلي او باور پري لرلي شو. د خدای مقضي الامر اراده زمونږ په تارو پود کې ابنل شوي او د خدای د لوي علم لویه قانونمندي، زمونږ د شاوخوا خلقتونو قانونمند بنیاد تشکیلوي. هغه څوک چې د خدای څخه منکریږي د دغه واقعیتونو او قانونمندی څخه څه ډول کولي شي منکر شي، کوم یو چې زمونږ د ضرورتونو او مجبوریتونو زیرمي او یوائیني حقیقتونه او واقعیتونه ګڼل کیږي.

پورته مونږ وویل د هر مادي واحد وجدي حالت که شعوري دي یا لاشعوري، دوامداره تغیر کي دي. شعور او لاشعور په هره پدیده او خلقت کي په اصطلاح دوه متضاد دیالکتیکي اړخونه تشکیلوي خو په حقیقت کي د انسان د اُرګانیزم د مختلفو پروسو تسلسل دي چې ذاتي تو پیر په کي نه شي لیدل کیدلي او په نتیجه کي د شعور او لا شعور واحد ذاتي حقیقت یعني د شپږم حس د ایجاد علت و معلول او یا په بل عبارت د خالق او مخلوق د مقضي او مقدرو ارادو رابطه ټینګیږي، همد لته د خدای د خلف انسان د مناسبت او ارتباط د راز غوټه د خدای د مقضي ارادي له مخې د خپل خالق د ذاتي موجودیت سره تړل کیږي، په همدي زماني تاریخي مقطع کي د فلسفي د عمرونو عظیمه لاینحله معما د حل لار پیدا کوي او د خود ساخته او خود بافته تخیلي او تصوري بې بنیاده تیوریوؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلسله د ابد لپاره شلیږي . ډاکتر صاحب شاولي د شپږم حس په باره کې پخوانیو نظریاتو ته داسې اشاره کوي: « شپږم حس په پارا سایکو لوژي ( parapsychology ) پوري اړه لري . پارا سا یکولوژي هغه موضوعات مطالعه کوي چې نننې ساینس د هغې د توضیح څخه عاجز دي . پورتني موضوعات تیلي پاتي ( Telepathy ) غیب ګویي ( Clairvoyan ) مستقیم درک ( Intuition ) او نور خارق العاده حوادث دي.

په فیزیولوژي کې یو قانون دي چې د انسان په جسم کې هر عمل د یوه ساختمان یا اناتو میک جوړښت پواسطه سرته رسیږي . تر اوسه پوري د انسان په مغز کې داسې ساختمان ندي کشف شوي چې د هغې په تخریب سره شپږم حس له منځه ولاړ شي. لکه د سترګو په تخریب سره چې بینایي له منځه ځي » . پدي باره کې د شپږم حس په فورمولبندۍ کې فکر کوم په کافي اندازه وضاحت شوي دي. هلته ما اشاره کړي چې شعوري او لاشعوري پروسې د انسان په وجود کې واحد تسلسلونه جوړوي او په خپل منځ کې ذاتي فرق سره نلري . د مثال په ډول مونږ د سرو او بنفش شعاعاتو تر منځ رنګونه او یا په بل عبارت هغه شعاعات چې د څپې « موج » اوږود والي یې د هغې تر منځ وي لیدلي شو یعني زمونږ په شعوري طیف کې راځي. د هغې دواړو خواوي زمونږ د شعوري طیف څخه خارج واقع دي .خو په حقیقت کې د هغې دواړو خواوؤ ته په کم تفاوت یو شان امواج دي او هیڅ ذاتي توپیر سره نلري.په همدي علت مونږ لاشعورته تحت الشعور او فوق الشعور هم ویلي شو . نپوهیږم ولي تر اوسه پوري ساینس پوهان دغه موضوع ته نه دي متوجه شوي. او نه یوائې په فلسفي بلکه ټولو علمي مسایلو کې یې



ستر مشکلات او لا ینحله معماګاني رامنځته کړیدي. څرنګه چې لا شعوري پروسې او د شپږم حس تأثرات د ټولو مادي موجوداتو د پاره عمومیت لري او د یوه اُرګان پوري مقید نه ګڼل کیږي نو ځکه د کوم اُرګان د فعالیت څخه په ولیدلو دغه حس هم له منځه نه ځی.

که مونږ د ایکس « X » شعاع ،الکترو مقناطیسي امواج او یا نور ذرات او شعاعات چې انساني حواس ئې د احساس او ادراک څخه عاجز دي او یا که داسې تأثرات چې انسان ئې په احساس قادر دي په نظر کې نیسو په حقیقت کې یو شان شعوري او لاشعوري سیستمونه متأثر کوي. یوائې په دومره تفاوت سره چې په یوه حالت کې ئې زمونږ حواس احساسوي او په دوهم حالت کې ئی زمونږ حواس نه احساسوي . پرته له دي د حادثي په ماهیت کې اضافه له دي بل کوم تفاوت نه لیدل کیږي او دغه تأثرات د نومورو پروسو ټوله ساحه متأثره کوي او په عکس العمل کې به ئې هم تفاوت همدومره وي چې په یوه حالت کې شعوري او په دوهم حالت کې لا شعوري اوسي. د شعور او لاشعور تر منځ دیالکتیکي ارتباط موجود او بعدي پروسه لکه څرنګه چې د مخه توضیح شوه دوام پیدا کوي. په مادي قانونمندیو چې څوک پوهیږي ،ورته پوره معلومه ده چې دغه تغیرات د کوچنیو ذراتو او انرژي د کمي او کیفي تغیر پرته منځته نشي راتلای او د انرژي او ذراتو د کمي او کیفي تغیراتو سره د اطلاعاتو او معلوماتو مبادله حتمي ده. څرنګه چې تغیرات یوائې په قانونمند شکل سره صورت نیسي د شعور او لاشعور د دیالکتیک په نتیجه کې د اطلاعاتو مبادله یا د شپږم حس منځته راتلل هم قانونمنده بڼه لري او د سنجش

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړ ګڼل کیږي .

د اسې معلومیږي چې د شعور او لاشعور دیالکتیک په حقیقت کې په هر مادي واحد ، هره پدیده او هر خلقت کې ، دقضاء او قدر ،جبر او اختیار او دیترمینیزم او اندیترمینیزم دخدائ عام قانون له مخې دخداي او انسان ،خداي او نورو خلقتونو د مقضي او مقدرو ارادو ژوندي تمثیل ګڼل کیدي شي . فکر کوم چې سر کشه او باغي بندګان به پدي دنیا کې د خپلو سرکشیو او بغاوتونو جزا او نیکان به دنیکیو احسان دخداي دمقضي ارادي او د همدغه عام قانون دمقد راتو له مخې متقبل کیږي. پخپله دخداي دمقضي ارادي له مخې هر حکم چې صادریږي او هر مادي واحد په لاشعوري شکل متقبل کیږي پخپله دنیکۍ او بدۍ دجزاء په معنا دي. دالقاء ،الهام او وحي امکانات هم دهمدغه قانون ، د همدغه دشعور او لاشعور ددیالکتیک دلاري ممکن ګڼل کیږي. البته د خداي دمقضي ارادي دتعمیل په خاطر په نورو مواردو کې نوري لاري چاري او قانونمند امکانات وجود لري. غواړم یو ځل بیا تأکیداً ووایم چې خداي پدي جهان کې دانسان دپاره ټول قانونمند امکانات برابر او انسان ئې پري مقدر او مکلف ګرځولي دي ،نو ځکه خو به انسان دبغاوت او سرکشۍ په صورت کې مقصر ګڼل کیږي. که چیري دا جهان قانونمند پیدا نه وي نو به انسان هم مقصر نه ګڼل کیدي او پخپله بې قانوني به دهغه دپاره دبرئت لوي دلیل ګرځیدلي.

د پورتنۍ نه چندان اوږدي توضیح په ترڅ کې مونږ دي نتیجې ته رسیږو چې شعور او لاشعور دقضاً او قدر د عام قانون څخه منتج وجدي حالت او محصلي په توګه ددي لوي



جهاپه ختمه کې ذره په ذره ابنل شوي دیالکتیکي تقابل جوړوي او په کل کې دنظام دپایښت ،تحول او تکامل سبب ګرځي.

د شپږم حس په موضوع کې د اطلاعاتو او معلوماتو تأخیر او تقدم د ارزونې وړ او چې څه ډول دا پیښیږي یو لنډ مکث کول به پري دګټې څخه خالي نه وي. د طبیعي علومو او ساینس دقانونمندیو له مخې پدي پوهیدلي شو چې ددي جهان د لوی نظام دډیري کوچنۍ ذري تر کچې پوري لاعلي التعین په تصادفي ډول تغیر دمحل او حرکت نشي کولي. هر څه د معینې قانونمندۍ له مخې په قانونمند شکل سره پیښیږي او تر شا دپلټنې او څیړنې په خاطر ځانګړي مشخصې نښې نښاني پریږدي. ددغه حرکتونو تنوع ،ارګانیک ترکیب او تناسب ددي لوي جهان مادي موجودیت ،رنګونه ، خوندونه ،روشني، تاریکي ،حرارت ،برودت ،انرژیتیکي پوتنسیال ، غذائي زیرمې اود ټولو نورو پدیدو او خلقتونو مادي زیربناً جوړوي .لوي خداي دخپل لوي علم دعامي قانونمندۍ له مخې دلوي جهان مادي موجودیت ، حرکت او ابدیت یو تر بله سره لازمي ابدي علت او معلول،قایم بالذات او خلل ناپذیر ګرځولي دي .

محترم ډاکتر صاحب واي چې «د اسلام دعقیدي په اساس یوائې خداي ابدي قایم با الذات دي نورټول د خداي په اراده فنا منونکي دي ». دا خبره سمه ده . خو که مونږ په مستقیم ډول خداي ته د علت او معلول نسبت وکړو او پخپله ئې د عالم الاسباب دکون و فساد په پروسه کې شامل وبولو ، خداي به پخپله معرض د علت واقع شي ، او خداي د علت ومعلول څخه بې نیازه ذات دي او په عالم الاسباب کې ئې ټول خلقتونه دمقدراتو په کچه مختار او په قانونمند شکل قایم باالذات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځولي دي . والله اعلم . دداسي يوه خود كفاء او خود بقاء نظام موجوديت پرته دكامل او مقتدر خالق او صانع څخه ممكن او متصور نشي ګڼل كيدلي او يواځي دخداي ، د خداي دلوي علم او لوي جهان متقابل استلزامي موجوديت يو تربله سره متقابلاً دكمال او جلال مظهر ګرځيدلي شي . دلوي خداي او لوي جهان دمتقابل مستلزم ابدي نظام بقاء يواځي د خداي د لوي علم دقضاء او قدر د لوي قانونمندئ په بناء جوړيدلي شي .پدي توګه دلوي خداي دلوي علم له مخي دلوي جهان موجوديت يو تر بله متقابل دري ګوني لازمي شرط ګڼل كيږي او يو له بل څخه پرته ئی اصلاً موجوديت ،مظاهر او معرفت متصور ندي او يواځي په كل كي يو تربله متمماً ،مكملاً او مستلزماً قابل دنسبي شناخت ، افادي او معرفت ګرځی. په عالم الاسباب كي د موجوده شرايطو له مخي انسان يواځي همدغه ډول قضاوت كولي شي .ددي څخه پورته يواځي خداي ښه پوهيږي او بس. سره ددي چي دخداي او انسان تر منځ مستقيمه شعوري رابطه وجود نلري او د معرفت څخه ئی عاجز دي خو دشعور او لا شعور دیالکتیک او وجدي حالت دخداي دلوي علم دلوي قانونمندئ له مخي ددغه نسبي معرفت زيربناء جوړوي. دغه زير بناء په حقيقت كي دانسان دپاره مسخر او مقدر مادي موجوديت دي. په هغي كي مادي قانونمندي موجوده ده . د شعوري قانونمندئ سره په ارتباط كي ده. كه چيري دغه مناسبات دانسان دپاره په ګويا ژبه ترجمه شي ،لكه چي ډير له دغو منا سبتونو څخه ترجمه شوي هم دي. لكه ځيني متماتيكي ،فزيكي ، هندسي قوانين چي په ګرافيكي ژبو خبري كوي او مونږ په هغي پوهيږو .



ډاكتران ډير ښه پوهيږي ،خو مونږ هم د بيولوژي څخه پدي پوهيږو چي دانسان په وجود كي بي شميره وړي او غټي غُدي موجودي دي چي په لاشعوري ډول دانسان دوجود نظام دخارجي او داخلي عوارضو ،حوادثو او امراضو په مقابل كي دفاع كوي. پدي پروسو كي دخداي اراده لومړي په مادي پروسو كي انعكاس پيدا كوي او بيا دهغه پروسو سره په ديالكتيكي تقابل كي واقع كيږي چي دانسان دپاره قابل داحساس او قابل ددرك دي او يو مشترك وجدي حالت رامنځته كوي. نوموړي وجدي حالت معمولاً دطبي الاتو په ذريعه په ګرافيكي ، عددي او يا نورو شكلونو سره افاده او ډاكتران پري بلا شكه پوهيږي. دډاكترانو پرته عادي خلك هم نن پدي خبره پوهيږي چي پانقراس په وينه كي شكره تنظيموي. كله چي شكره په وينه كي زياتيږي ،پانقراس انسولين توليدوي او د شكري اندازه په وينه كي كميږي او نورمال حالت غوره كوي. برخلاف ،كله چي شكره په وجود كي كميږي پانقراس ګلو كاګون توليدوي او دارګانيزم فعاليت داډول تنظيموي چي د شكري اندازه په وينه كي لوړه شي . د عينيت په فلسفه كي مونږ داموضوع وڅيړله چي پوهانو ،په هغه جمله كي ماترياليستانو هم ، څه ډول په غلطئ سره په شعور او ادراك باندي د احساس بدليدو ته دمادي له منځه تګ په ستر ګه كتل .حال دا چي ټولو د انرژي د تحفظ په قانون او د مادي دبقاء په قانون باندي پوره عقيده درلودله. او همدلته يوه ستره نه جبرانيدونكي عظيمه اشتباه او بلكه ګناه رامنځته او ټولو فلسفي عقايدو او نظرياتو خاوندان په مختلفو لارو روان او په نتيجه كي مختلف او كاملاً متضاد فلسفي مجموع الجزائرئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړ. په دغه قضيه کي د انسان او دهغه د احساس او ناقص شعور او عقل يعني د نسبي ماديت او معنويت مسًله مطرح بحث وه او بيا هم قضئي ناقصه او ناسمه پايله او پريکړه درلوده،دشعور او لا شعور په ديالکتيک کي دمطلق ماديت او معنويت او يا په بل عبارت دمطلق شعور او نسبي شعور ، چي دا هر يو په حقيقت کي نسبي مفاهيم دي ، قضيه مطرح بحث ګڼل کيږي. که په پخوانۍ قضيه کي دمادي او شعورتر منځ د پل جوړيدل هدف وؤ په دوهمه قضيه کي منظور دمطلق شعور او انساني نسبي شعور تر منځ دپله تړل په کار دي (دمتماتيکيaxioma ـــ تعارفاتو له مخي دا منل شوي چي که چيري يو مطلق او يا لايتناهي کميت ياعدد په کوم عدد تقسيم او يا تري کوم عدد کم شي بيا هم هغه مطلق او لايتناهي پاتي کيږي ) . دمخه مونږ ويلي وو چي خداي په کل او جز کي واحد دي ،خلقت او پديده نده ،انسان ئی دمعرفت او توصيف څخه دهميش دپاره عاجز دي .دهر هغه څه په معرفت او توصيف چي انساس قادر شو ، خداي نشي ګڼل کيدلي. نو ځکه په دوهمه قضيه کي دشعور او لاشعور تر منځ د پله په تيريدو سره انسان دعالم خلف په حيث يوائي دخداي په علم معرفت پيدا کولي شي نه دهغه په ذات او په صفاتو. ځکه دشعور اولاشعور رابطه دمستقيمي نظاري او تجربي حسي ـــ ادراکي پروسو دکچي څخه په ډيره لوړه سطحه مناسبات ،اړيکي او تعاملات ګڼل کيږي.

دغه ډول مناسباتً موجود دي اود شعو او لا شعور د ديالکتيک په پروسه کي چي د انسان پاره دخداي اراده په مقدرو شعوري پروسو بدليږي او مونږ عملاً دخداي د مقضي



ارادي د بالوسيله امکان دلاري د خداي د علم څخه مستفيد کيږو او يوائي دهمدغه رابطي له مخي انسان دخداي د عالم خلف په حيث ګڼل کيدلي شي . ددغه رابطي له لاري زمونږ په شعوري سيستم او ذهني ختمه کي دخداي د مقضي ارادي له مخي مادي شعوري پروسي او تحرکات ايجاديږي چي په طبي مدرنه وسايلو او الاتو کي دارقامو ،ګرافيکونو او نورو فاکتورونو په څير داسي انعکاس پيداکوي چي مسلکي کسان پرته له ترجمانۍ څخه هم پري پوهيږي. په همدي خاطر مونږ په جرئت سره ويلاي شو چي دشعور او لاشعور دديالکتيک په پروسه کي مونږ دخداي په علم دشپږم حس ،خوب ، الهام ، القاء ، وحي او نورو لارو پرته ددي لاري هم لازمه اګاهي پيداکوؤ. ددغه موضوعاتو په جزئياتو او ميخانيکيت باندي بحث کول مادپاره مشکل او يو ډول ګستاخي هم معلوميږي او يا لا اقل اضافي مطالعه ورته پکار ده ، خو بيا هم زه غواړم په خپله سويه دغه موضوع دهغي دميخانيکيتونو په کچه د بحث ډګر ته پري باسم تر څو مسلکي پوهان دغه موضوع دموجوده علمي ـــ تخنيکي امکاناتو له مخي پخپل آند په هر اړخيز ډول وڅيړي او دخداي دارادي په رازونو ځانونه پوه کړي.

دانسان دبدن د متابوليزم پروسه يوائي دتاير ايت د غُدي دفعاليت په صورت کي فعاليت کولي شي. همداسي دتريخي ،جګر ،توري ،او بي شميره ارګانونو او غُدو يوتر بله سره تړلي او مربوط عضوي فعاليتونه ،يا دانسان دبدن دعضويت داندوکرين او ايکسوکرين جمعي مربوط فعاليتونه دخداي د خارق العاده لوي علم له مخي تنظيم او دشعور او لاشعور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددیالکتیک ددقیق نظام له مخي فعالیت کوي. دغه لوي او ډیر مغلق نظام بالاخره یوائي هغه وخت فعالیت کولي شي کله چي دهیپوتالاموس hypothalamus غُده چي په مغز کي ده سالم فعالیت وکړي. ددغه غُدي دغفلت په صورت کي یعني کله چي ځیني اانسانان د خداي د احکامو څخه نا فرماني او بغاوت کوي او مسکرات ، مخدرات او نور مواد استعمالوي ، ټول ترشحات او انزایمونه په صحیحه توګه نه ترشح کیږي او یا نه توزیع کیږي. بدن دسالم فعالیت څخه پریوځي ،دزیات افراط او تفریط په صورت کي انسان دقضاء دجبر څپیړه په مخ خوري ،په مهلکو مرضونو اخته کیږي ،مور معیوب بچیان زیږوي او نور او نور او ددوذخ عذابونه بلا تشبیه پدي دنیا کي ویني. مونږ پدي پوهیږو چي ټول خلقتونه ،عضوي او غیر عضوي جوړښتونه ترکومي کچي دقیق او مغلق دي. دغه حرکتونه په هر صورت کي قانونمند دي . غیر قانونمند تصادفات هم وجود نلري . دغه حرکتونه دخداي دلوي علم دلوئ قانونمندی له مخي ، یا په ظاهرکي دمختلفو علومو او متماتیک د قانونمندیو مطابق منځته راتلاي شي اوبس. نو ځکه دهمدغه قانونمندیو پواسطه افاده کیدلي هم شي .

تاًخیر او تقدم د قضي لکه چي دمخه ورته اشاره وشوه ، هم دقانونمندی له مخي پیښیدلي شي . دا ټول حوادث دخداي دلوي علم ددقت په کچه منځته راځي. که داسي نه وي دانظام به تر اوسه نه وي پاتي. همدا سبب دي چي مونږ باید په خداي او دخداي په علم ایمان ولرو . ددغه خلقتونو د جوړښت په سرشت کي ټول معادلاتي حالتونه په ټولو مغلق ترینو اشکالو او ارګانیک تعاملي شکلي جزئیاتو سره ، د ۲+۲ څخه نیولي تر



انتګرال ، دیفرنسیال ،سینوسوئید ، پارابولیک ، هایپر بولیک ، کیمیاوي ویلانسي قوانین ،بیولوژیکي اونور او نورو علومو دقوانینو دجزئیاتو ترکچي اښل شویدي. یعني قانونمندي په ټول تار وپود پدي لوي جهان کي دخداي دلوي علم او مقضي ارادي له مخي موجوده اوبرقراره ده او انسانان ئي دهغي په شناخت او معرفت مقدر او مکلف ګرځولي دي. پدي علومو کي دغه ټول حالتونه ،په هغه جمله کي دتاًخیر او سبقت مسًله او داسي نور ممکن او په لازم وخت کي تحقق پیداکوي . همدا سبب دي چي ځیني وخت د شپږم حس او یا نورو پروسو دلاري مونږ دیوي حادثي دپیښیدو دمخه په هغي اګاهي پیداکوؤ. که مونږ وغواړو په یوه سیستم کي یو حکم ، یوه اګاهي ، یو حالت او اداره رامنځته کړو د همدغه قوانینو په معرفت او شناخت دغه عمل سرته رسولي شو. مونږ کولي شو دهر مادي واحد دوجدي حالت دافادي معادله ولیکو. که چیري مونږ ددغه معادلي دلمړی او یا ددوهمي درجي مشتق له مخي یو اتومات جوړ او په دغه سیستم کي ئي نصب کړو ،کیدلې شي په لازم تقدم سره عمل وکړي ، دمتصورو پیښو څخه لازمه اګاهي پیداکړو ، دوقوع څخه ئي جلوګیري او یا مرسته ورسره وکړو . مونږ دغه کار دموجوده علمي ـ تخنیکي امکاناتو څخه داستفادي په کچه سرته رسوؤ ، خود خداي جلا جلاله د لوي علم او مقضي ارادي له مخي په څه خارق العاده عظمت او ظرافت چي هیڅ تصور ئي ممکن نه دي ،سرته رسیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي او غیر اسلامي فلسفي !

په پرنسیب او ماهیت کې زه هیڅ ډول فلسفي ویش ته نه قایل یم ،نه پرې باور لرم ،نه د فلسفي مجموع الجزایرو دموجودیت لپاره کوم دلیل وجود لري او نه د قانونمند تداخل پرته پروسې ،تعاملات او علوم په ځانګړي ډول په دې جهان کې چیرې ووجود لرلې شي. ځکه چې جهان ،نظام او قانونمندي په کل کې واحده ده او دواحدې فلسفي دعامي قانونمندۍ پواسطه افاده کیږي. ځیني کسان هڅه کوي فلسفي قانونمندي په اصطلاح د ساده میخانیکیتونو او ځانګړو حوادثو دقانونمندیو پواسطه افاده او په اصطلاح ساده او عام فهمه کړي. ساده میخانیکیتونه او دحواسو لوبي ددې په عوض چې فلسفه ساده کړي هغه په سفسطه اود لارې د سر په بحثونو بدلوي. دمخه مونږ وویل چې دا ټول ژور علمي او فلسفي بحثونه ډیر ساده لوحانه او عامیانه پیل شویدي ، ځینو ددغه بحثونو څخه له نیکه مرغه د وخت په تیریدو سره خپل علمي ماهیت بدل کړې ، خو په ځیني د هغو کې پرته له ظاهري بڼې بل هیڅ ډول بدلون نه دې رامنځته شوې.فیثاغورث د میلاد څخه ۶۰۰ کاله پخوا ویلي وو چې «عدد اصل د ټول جهان دې» او



اکثره مسایل او حتا ټولنیز قضایا یې د اعدادو د ځانګړو ارقامو پواسطه افاده کول او ځیني کسان ترنن ورځې پورې هم په هغې باور لري. (تاریخ فلسفه در جهان اسلام ) د «حنا فاخوري او خلیل جر لیکنه ،د عبد المحمد آیتي ژباړه ، ۳۳ مخ» حال دا چې متماتیکي ارقام او اعداد، خو لا څه چې ،متماتیکي فورمولبندۍ یوائې هغه وخت قانونمندي، افاده کولې شي ،کله چې هغه په فزیکي ، کیمیاوي ، بیولوژیکي ،فیزیولوژیکي او نورو میخانیکیتونو کې په حرکت راشي. په غیر صورت کې متماتیکي ارقام ، اعداد او فورمول بندۍ د هیڅ ډول قانونمندۍ د افادې جوګه نه دي. ارسطو هم دعامو قوانینو ،مفاهیمو او کل په عوض داجزاوؤ او حسي پدیدو له لارې فلسفه قابل دافادي ، تحلیل اوفهم ګڼله. حال دا چې شعوري تعقلي پروسه د ساده حسي میخانیکیتونو په بنیاد رامنځته او په ذهني خته کې د تعاملاتو په ترڅ کې د شعور ،تعقل او ادراک مختلف ماهیتونه او بڼې غوره کوي. همدا سې ، کومه ارزونه او تعریف چې ارسطو د شکل او صورت څخه دجسم دداخلي اتمي او مالیکولي جوړښت پرځای ،په غلطه ، دهغه خارجي جوړښت منلې وو ، تر اوسه پورې په فلسفه کې په خپل ځای پاتې دې. دکارت هم چې د بېځایه خوشباورۍ له مخې په متماتیک او خپله تحلیلي هندسه خارق العاده باور پیدا کړې وو ، هڅه یې کوله د ټولو علومو مادي او ماهیوي ارزشونه له منځه یوسي او ټول علوم په ایدیالیستي بڼه او ماهیت د مادي ارزش څخه خالي او بې محتوا کړي او د تحلیلي هندسې د متماتیکي قوانینو پواسطه افاده او عملي کړي. حال دا چې د ټولو علومو عملي او نظري ارزشونه یوائې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادي كمي او كيفي ارزښتونو پواسطه د مقايسې او ارزونې وړ دي. ماؤ دزي دون هم په خپلو فلسفي اثارو كي هميشه هڅه كړي چې د ساده ميخانيكيتونو ، ځانګړو ورزنيو عملي حوادثو قوانينو په ذريعه فلسفه ساده او عام فهمه كړي .ليكن دداغه ډول غير قانونمند استقرائي او قياسي تخيلي لوبو او د ساده مفاهيمو په ځغلنده حركتونو كي فلسفه معمولاً له خپلې لارې بې لارې كيږي او ددي په عوض چي ساده شي فهم يې د دغه بې شميره پديدو څخه د نتيجګيرۍ په پروسه كې مشكليږي .پورتني مثالونه مونږ په دې باوري كوي چې د دغه ډول فلسفي نا سالمو ، نيمګړو او حتا غلطو فكري تراوشونو رښتې د فلسفي طرز تفكر او شعور پر هنداره ډيري پاتې دي او اكثره ددغه كاذبو ، په اصطلاح علمي ، مفاهيمو ، قوانينو او تيوريو ، د خپل علمي ارزش په څنګ كې مذهبي تقدس هم پيدا كړې او سرغړونه يا په مقابل كې يې څه ويل هر څوک د مذهب څخه د سرغړونې په تور محكوميدلې شي. مونږ په دې باوريو چې دين او علم يو شان د خداى دلوى علم په مرسته د خداى ، دخداى د لوى جهان او ټولو خلقتونو معرفت او د بشر په ګټه سالمې ، بې غرضانه او منصفانه استفادې ته ويل كيږي. راتلونكو ځوانو نسلونو ته پكار دي چې خپل دغه رسالت درک او دخپلو علمي استعدادونو ،علمي ـ تخنيكي پرمختياوو او مدرنه وسايلو او امكاناتو په مرسته ټولې رښتې د خپل شعور او ذهن له هنداري څخه پاكې او درښتيني علم د مستقيمې لارې رښتيني لارويان وګرځي.

البته دموضوع دپوهاوي د اسانتيا او تفكيک په خاطر كيدلي شي د متودولوژيک روش په حيث ،موضوعاتي



او يا بل هرډول ويش چې په هيڅ صورت به د بنيادي ماهيوي تباين په معنا نه وي ، رامنځته شي. پورتنۍ موضوع ما پدي خاطر عنوان كړي چي په فلسفي نظام كي بې مورده فلسفي ملوک الطوائفي د سترو اشتباهاتو او ابهاماتو باعث شوي او فلسفي علمي فضاء ئي تته او خړه پړه كړي ، بايد چې لازم وضاحتونه رامنځته او دشكونو فضاء رڼه شي .

زما د پورتني تذكر سره چې ، واقعاً په پخوانيو نظرياتو ،عقايدو ،انساني تخيلي او تصوري مذهبي او علمي ليوالتيا او انګيرنو ، تيوريو ، قوانينو او حتا علومو باندې د ځانګړو بشري ذهنيګرانه تأثيراتو او تأثراتو رښې او سيورې پروت وو او په خپل نوبت د بې شميره كذبي او تحريفي تيوريو ،عقايدو ،اديانو ،مذاهبو او مجازي خدايانو سبب ګرځيدلي دې.يوازې د اسلام د اكمل دين په ظهور سره په بشري ژوند كي ستر علمي ،اجتماعي ،مذهبي ،سياسي ، اقتصادي او عقيدوي بې ساري او بې بديله ژور كمي او كيفي انقلابي هر اړخيز بدلون رامنځته او د ټولو مسايلو او حوادثو سره د واقعيتونو له مخې علمي ،منصفانه او عادلانه كړه وړه پېل شول . ددې لوى جهان د لوى قانونمند نظام ،د هغې قانونمند پيدايښت ،پايښت ،پايداري ، او قانونمند لحظوي بدلون او تكامل پخپله د هغې د علمي قانونمند موجوديت مشهود ثبوت او دليل ګڼل كيږي.ددې خبرې يو بل انكار نه منونكې اعجاز او معرف ثبوت او دليل دا دې ، چې دغه هراړخيز كمي او كيفي علمي بدلون او ستر معجز ارزښتونه د يوه معلوم الحال امي انسان په وجود كي تحقق پيدا كړ او دهيچا د پاره دشک او پوښتني دليل په لاس نه شو ورتلاي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک په هر موقف او موضع کې چې وو هک پک پاتې شول. دجهان ، دین ،مذهب او خدایانو په باره کې زاړه طلسمات رنګ او دژوند دټولو شئونو سره علمي کره وړه پیل او یوائې علم دجهان او ټولو خلقتونو دپیدایش ،بقاء،تعادل ،توازن ،تحول او تکامل معیار او محک ومنل شو . علم همیشه هغه منطق ،هغه دلیل او هغه وسیله ده چې یوائې په منلو یې هرسړي مجبور ګڼل کیږي او په مقابل کې یې دبرهان اودعوي داقامی امکان هیڅا لپاره وجود نلري. یوائې داسلام دین ،داسلام برنامه ،داسلام اصول او مناسبات دي چې دلومړۍ کلمي ،لومړۍ جملي اولومړي بیان څخه یوه امي انسان ته داقرء په حکم سره دقرئت ،لوح ،قلم ،کتاب ،علم او دیته ورته عباراتو په تکرار تأکید کیږي ،ټولو تبعیضونو ته دپای ټکي ږدي ، بشریت دپاره دعادلانه ذات البیني مناسباتو او سولیز ګډ ژوند ابدي برنامه او شرایط وړاندي کوي او دبشري ژوند دټولو اړخونو ،طبیعي او شعوري ټولو پدیدو سره په حقیقت کي واقعي علمي کره وړه پیل او لوي واحد خداي ،لوي واحد علم او لوي واحد جهان یوتربله لازم وملزوم ابدي قائم باالذات حقیقت او نه شلیدونکي بالذاةِ قانونمند واقعیت جوړوي او دخداي دمقضي الامر ارادي له مخې علم ،دین ،فلسفه ،واقعیتونه او عملي ژوند په یوه محور او پایداره بناء باندي اتکاء پیداکوي. که ارشمیدس ویلي وؤ چې «ماته د اتکاء نقطه راکړې زه دانړۍ په بل مخ اړوم» نوموړي نقطه چې ټولي واهي تخیلي تیورۍ ،عقاید ،نظریات او بې بنیاده وابستګۍ او تړونونه ړنګوي او هرڅه دپاره عیني واقعي بنیاد او اتکاء پیداکوي او دهر ډول شک او شبهي امکان له منځه



وړي ،یوائې هغه حقایق دي چې داسلام دظهور او اسلامي هر اړخیز انقلاب په نتیجه کي شرف دمعرفت پیداکوي. هو !دلوي خداي دلوي علم له مخي همزمان ،هم مکان ،متحول ،ستاتیک دینامیک قانونمند جهان پیداکول او په دغه لوي عظمت سره دغه لویه سراسري ابدي قانونمند ي دیوه امي انسان په ژبه ، نه د یوه کتاب په شکل چې دکوم سفر څخه یې له ځانه سره راوړې اوسي بلکه ددرویشت کلن عملي روزمره ژوند په اوږدو کې پداسي عباراتو افاده کیدل چې د ادبیاتو ،شکل او محتواله مخي یې ساري وجود نه درلوداو لو ی اعجاز ګڼل کیږ ي.حتماً هم هغه وخت ،هم نن اوهم په راتلونکي او ترابده پوري قابل قبول او بلا شکه حقیقت او واقعیت په حیث منل په کار دي. د خدای ټول خلقتونه اعجاز دي خو تر ټولو لوی اعجاز علم دې. زما په عقیده انسان لپاره دژوند دهدف ،با شعوره کار او عمل ، ډاډ من سرنوشت ، عقیدي ،دخیر ښیګڼي ټولنیزو ارزوګانو او دیته ورته نورو انساني مسئولیتونو لپاره بله ډاډمنه تکیه ګاه وجود نلري . یوائې دعلم له مخي خدای انسان خپل خلیفه وټاکه ،دا جهان دخدای دعلم له مخې قانون مند پیدادې ، ددي جهان او نظام بقاء ، معرفت ، حفاظت تحول او تکامل یوائې دعلمي کړو وړو له مخي ممکن دي .

داسلام دمخه چې په هر قوم ،قبیله او محل کې ځانګړو ادیانو او مجازي خدایانو وجود درلود او اکثر خدایان به یا محلي واکداران او یا پخپله د بندګانو په لاس او فکر جوړ مخلوق ګڼل کیدل او په ځیني مواردو کي به دخدایانو تعداد دبنده ګانو له تعداد څخه هم زیات وؤ او دواحد خدای ،واحد علم او واحد جهان دمفکوري او مقولي سره یې هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمون نه درلوداو دیوه ساده منطق لرونکي انسان پرې باور نه شو کولی، نو ځکه بې بنیاده او مجازي خدایان او ادیان هم نور دچا دپاره دمنلو وړ نه وؤ او خود منسوخ او پر ځای یې د اسلام مبین دین دټول بشریت لپاره سراسري واحد ابدي دین په حیث ومنل شو. فلسفې او دین واحد علمي مفهوم ،مضمون او رسالت پیدا کړ او په حقه سره ،لکه چې پورته اشاره وشوه په ټولو ساحو کې بنیادي علمي انقلاب رامنځته شو.

ددغه انقلاب اساسي مفاهیم څه ډول ارزیابي کیدلي شي ؟

۱ــ هغسي چې د اسلام په دین کې د وحدانیت مسًله په قاطعیت سره مطرح شوي ، په بل هیڅ دین او علمي تیوری کې نه وه مطرح شوي. حتي په مسیحیت کې دوحدانیت مسًله د خدای ،دخدای ځوي او مقدس روح « اب ، ابن او روح القدس » دتثلیث په دري ګوني اقنوم ولاړه ده .

۲ــ دخدای وحدانیت دخدای د علم په بناء د « کن فیکون» د مقضي حکم په صدور د خدای د واحد لوي جهان د پیدایش مستلزم وګڼل شو او د علمي مقدراتو له مخي انسان دخدای دعاقل او عالم خلف په حیث په قانونمند ډول دجهان په معرفت مأمور وګرځیده او دجهان وجود ،تحول او بقاء یو اځي دعلم په بناء مقیده شوه او دا همغه داتکاء نقطه ده چي دمخه تردي یي دبشر دپاره شرف دمعرفت نه درلود .

۳ــ د « کن فیکون» دحکم په صدور او دعلم په بناء دجهان پیدایش ،تحول او بقاء قیدیت او دهغي دتیر ،حال او راتلونکي دڅیړلو امکان ، دخدای دعلم او فلسفي اساسي مسًلې او موضوع ته په قاطعیت سره ځواب وواېه او په فلسفه کې یي بې مورده خیالبافیو ،تصوراتو ،اوهامو ،سفسطو او



نورو تړولو انحرافي تیوریګانو ته د پای ټکي کېښېښود . هغه تیوري چې ویل به یې « اغاز و انجام ان کهنه کتاب افتاده است» پوچه او بې معنا وګڼله او دهر چا دپاره یې د « کن فیکون» په حکم او مقوله همدا نن ورځ او دمادي وجد موجوده حالت د کار د پیل په خاطر خورا مناسب زمان او موضوع وګڼل.

۴ــ علم او قانونمندي دجهان دپیدایش ،تحول او بقاء د عمده اصل په حیث ،دجهان سره دهر ډول کړو وړو طریقه او وسیله وګڼل شول او طبعاً په دغه ډول منظم نظام کې غیر قانونمند کړو وړو ته ځای نشو پاتې کیدلې او ټول روحي ،عصبي او عقلي ناروغان او لیونیان باید په خپلو دتداوی په مرکزونو تقسیم او یا لا اقل نن دغه ضروري عمل انجام شي او نړۍ دهغوی دشر څخه وژغورل شي .

۵ــ په بشري ټولنه کې د اسلام ظهور د انقلاب په واقعي مفهوم سره غیر قابل دتصور هر اړخیزه ژور کمي او کیفي بدلون وؤ او دهري پوښتني ځوابګویه ګڼل کیږي. خدای وجود لري؟ خدای چیري دي؟ دا جهان څه وخت پیدا شوې؟ روح وجود لري؟ د تناسخ مسًله څه ډول ده ؟ روح څه شي دې ؟ روح مقدم دي که ماده ؟ خدای ځوک لیدلې او پیژندلې شي ؟ فلسفه علم دې؟ دفلسفي اساسي مسًله څه ده ؟ دفلسفې موضوع به څه وي ؟ ... دا ډول ټولو مسائلو او قضایاوؤته یو اځي د اسلامي انقلاب دظهور او اسلامي فلسفي له مخي پخپل وخت مقنع ځواب ویل ممکن دي. دغه ډول ځینو پوښتنو ته د « عینیت فلسفه» کې د اسلامي انقلاب د بنیادي تحولاتو او حقایقو له مخي ځوابونه ویل شوي او ځیني نوروته به ځوان نسل دهمدغه احکامو دلاسته راوړنو په بنیاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوابونه ووای. نن چې جمعي شعور دبلوغ مرحلې ته رسیدلی ، نن چې علم او تخنیک دارګانیک منطقي تحلیل په مرحله کې دي او نن چې ددغه اوبې شمیره نورو پرابلمونو په موجودیت کې نړیوال هغې ته دځواب له ویلو څخه عاجزدي او غواړی دځانونو د بقاء او تحکم په خاطر خپل اولسونه دهرډول غفلت او تباهۍ په مرضونو اخته کوي ،فلسفي ته او بالخصوص د اسلام په بناد نوي رامنځته شوي علمي فلسفي ته شدید ضرورت لیدل کیږي ترڅو دغه ټولو پوښتنو ته ځواب ووایي. مونږ غواړو د دغه فلسفي قانونمندیو او دعلومو دچټک پرمختګ په بنیاد پوهان ، ځوانان او ټول هیوادوال« **افغان فلسفي څیړنیز مرکز** »جوړولو ته راوبولو او دهر اړخیز خلا ډکولو او ابتکاراتو هیله یې وکړو .

په همدې ځای کې یوه ډیره ساده او څرګنده پوښتنه راولاړیږي ،کله چې اسلام دعلم په بناء ټول قانونمند جهان او خلقتونه دي ، اسلا م دعلم په بناء بشري عادلانه او منصفانه قانون او مناسبات دي ،اسلام دعلم په بناء پخپله علم ،فلسفه او قانونمندي ده ، اسلام دعلم په بناء دین ،مذهب ،طاعت او عبادت یعنې دنظام او ټول بشریت ترقي ،انساني سولییزګډ ژوند او ځان او بل یعنې د خدای د قانون له مخې دځان ،ټولني او په کل کې د ټولو خلقتونو عادلانه او منصفانه ساتنه ده او عالم بشریت په دغه مرحله او زمان کې ددي سزاوار او مستحق وؤ ، چې دغه ډول مکمل دین ،قانون او نظام ولري او پکار داوو عالم بشریت دا مشترک مسؤلیت ، په مسؤلیت سره په غاړه واخلي او منطقي ځواب یې ورته ووایي.ایا دا لازمه وه چې اسلامي پوهان او فیلسوفان د پخوانیو تخیلي ،تحریفي او



حتا کاذبو فلسفو په پله قدم واخلي او د اسلام د حقیقي علمي فلسفې د صراط المستقیم څخه بل خوا مخ واړوي ؟که دمخه تر دي ددي کار دپاره منطقي بنیاد وجود نه درلود ،داسلام په ظهور سره دغه بنیاد هم ایجاد شو . باید دصداقت ،عدالت او علمي مقضي او مقدري قانونمندۍ او ارزشونو په بنیاد متقابل مستلزم هم اهنګ عام بشري نظام هر اړخیز سراسري عالمي

علمي منطقي مناسبات برقراره شوي واي . لیکن له بده مرغه نه اسلامي پوهان او فیلسوفان دغه علمي بنیادي بدلونونو ته متوجه او نه ددغه عظیمو علمي ارزشونو په ارزش وپوهیدل او دهمغه پخوانیو زړو فلسفو لارویان او تعقیبوونکي پاتې شول او په علمي څیړنو کې هم پخواني زوړ بنیاد ،ن پخوانۍ زړه فلسفه او پخواني زاړه مناسبات تر نننۍ ورځې پورې لا همغسې زړه په زړه پاتې دي . په پیل کې ځیني مقدماتي بدلونونه رامنځته خو څرنګه چې په پخواني زاړه ترنګړ کې اضافه لدي څه نه ځائیدل او نه زاړه قوتونه نوو بدلونونو ته اماده وؤ ، یښمن هم په کمین کې او ډیر هر اړخیز امکانات یې په لاس کې لرل ، نو له همغه ابتدا څخه دفشار ساحه ایجاد او په تنګیدو شوه ، له یوي ورځې څخه بلې ته واقعیتونو ،قانونمندیو او وضعي سیاسي اقتصادي بڼه غوره کوله ،کهنه پرست او کانسرواتیف مرتجع قوتونو د لازم پوتنسیا ل په ترلاسه کولو سره نوي بدلونونه پر شا وتمبول او دټولنیز ژوند په مختلفو اړخونو کې دمختلفو شعارونو دبیرغ لاندي حادترین تضادونه ،مخالفتونه ، مقاومتونه او بیرحمانه تباهۍ دوام درلود او تر نن ورځې پورې لادوام لري او نړۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندسي تصاعد په سرسام آوره زیاتیدونکي تعجیل سره دتباهۍ ګرنګ په لور کشوي ، ټول نوي قانونمند علمي بنیادونه ،نوې فلسفې او نوې تیورۍ دزړو فلسفو او زړو تیوریو دزړو برستنو لاندي سا خپه پرتي دي او ترڅو پوري چې نوې فلسفه دخبیثو قوتونو دباستیل څخه ازاده نشي ،ترڅو چي حقیقت او علم معیار دحقیقت ونه ګرځي او ترڅو چي نړیوال سراسري علمي ،کلتوري پروفسیونالیستي انقلاب بریالې نشي ، نړۍ ته به هیڅوک دقطعي نابودۍ څخه نجات ور نکړې شي .

شاید پوښتنه پیدا شي چي فلسفه دنړۍ دبود و نبود ، دټولنیزژوند مختلفو اړخونو او انساني خیر ښیګڼو پوري څه اړه لري ؟ دا جهان قانونمند پیدادي او په قانونمند کړوړو سره یواځي ټاکلي قانو نمند نتایج ترلاسه کیدلې شي او دتحریف او مسخ کیدو امکان په کې کم لیدل کیږي. ځکه خو شیطاني قوتونه هڅه کوي واقعیتونه په خپل واقعي شکل برملا نشي او په خړو اوبو کی ماهیان ونیسي. په همدي خاطر ځینی فاسدې او حریصې کړۍ حتا هڅه کوي دعلمي ـ تخنیکي پرمختګونو مخنیوې وکړي ترڅو لاسته راوړني یي یواځي دهغوۍ په کنترول کي پاتي شي. په همدي خاطر د علومو او فلسفې اساسي مسایلو ،موضوعاتي نصاب اومفردات ،دقضایاوؤ او فرضیو طرحي ،دعلومو دمتودولوژۍ او دتحقیقاتي موادو دذاتي اوصافو ، خواصو ،نوع ،کمیت او کیفیت سره تناسب او مطابقت و نلري.

ساینسي علوم مثبت علوم اونتایج یی باید همیشه مشخص او ټاکلي وې.خو دمخه مونږ وویل چې ځا نګړي علوم



وجود نه لري او ټولې پروسې او ټول علوم په متداخل انتګریشن او متداخل تعامل کې سره قرار لري ، خو په عملي ژوند کې مونږ دغه د موادو متداخل انتګریشن او متقابل عکس العملونه ،تأثرات او متأثرات په محاسبه کې نه شو راړلې او اکثر وخت ددغه ډول محاسبو ضرورت هم نه لیدل کیږي ،او دا کار دې ته ورته وي لکه څوک چې د ډبرې سکاره د طلا په تله ګرام ګرام وتلي ،نو ځکه خو نتایج هم د واقعیتونو سره سمون نه لري. لیکن په عمل کي ډیر وخت داسي پیښیږي چي عین قضایا مختلف متفاوت نتایج ولري چې علت یي د تیورۍ او علمي ـ تخنیکي انکشافاتو عمدي تحریف او مخنیوي او د جمعي شعوري سطحي ټیټوالي اوسي . دي کې شک نشته چي په عمل کي شاید قضایاوؤاو مسایلو کي سل په سلو کي ډیر ودقیقو نتایجو ته ضرورت نه اوسي او دټاکلو ضریبونو پواسطه نتایج دقناعت وړ وګرځي ،خو په تیوریکي مسایلو کي یواځي سل په سلو کي دقت او صحت لازمي او کافي شرط ګڼل کیږي . ځکه چي په تیو ریکي مسایلو کې که د یوه میکرون په اندازه انحراف را منځته شي ، په عملي ساحه کې کیدلې شي هغه په عظیمه اشتباه او ګناه بدل شي. په نظریاتي قیاسي استقرائی تحلیلونو او نتیجګریو کي هم نظري انحرافات دکوم دقیق علمي روش او پرنسیبونو له مخي نه تعقیبیږي او په سترو اشاباهاتو منتج کیدې شي. په صحي مسایلو کي دفوق العاده دقت سره سره چې چارې سرته رسیږي بیا هم دغه ډول اشتباهات کله چي دلسګونو ،او سلګونو زره انسانانو په تباهۍ تمام شي، وروسته له هغي لازم تدا بیر نیول کیږي.همداسي تیو ریکي انحرافات حتي کیدلې شي په عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحه کي د ۱۸۰ درجو مخالف نتايجو سبب هم شي. متماتيک ، فزيک ،کيميا ، بيا لوژي ،فزيو لوژي او ډير نور چي ساينسي او مثبته علوم ګڼل کيږي ، قوانين يي کاملاً يو تر بله او پخپله د هر علم په ساحه کي سره فرق لري . مثلاً په فزيک کي د مخانيک ، نور ،ذروي ، کوانت ، ګراويتاسيون ، الکترومقناطيسي امواجو ،ساحه ، ذرات ، تشعشعات او نورو ساحو کي قوانين کاملاً يو له بله سره فرق لري .علوم نن ډير تخصصي او په ډيرو کوچنيو څانګو ويشل شويدي . د مخه ما پدي موضوع بحث کړي وؤ چي ځانګړي علوم وجود نلري او اکثره پروسي او علوم په متداخل شکل سره موجود او جريان لري.د علومو په دومرههمزمان وسيع او پراخ ديفرنسييشن او تداخل سره نن د هيچا د پاره ممکنه نده خپله ځانګړي علمي لار په مسلسل ډول تعقيب او تري ورکه نشي . يواځې فلسفي علم د خداي دلوي علم يواځيني انساني ذهني خلف علم په حيث ددې جوګه او ستر رسالت لري ځانګړي علوم د خداى د لوى علم په صراط المستقيم رهنمايي او د ګمراى څخه يي وژغوري . دغه رسالت ، موقف ، موضعګيري او علمي کيفي ارزش له نيکه مرغه فلسفي د اسلام دظهور څخه وروسته هغه وخت تر لاسه کړچې دين او علم خپل واقعي علمي ماهيت او محتوا پيدا کړله . پدي توګه يواځي دفلسفي په لمن کي ، يواځي د فلسفي قوانينو او ديالکتيکي هر اړخيز متودولوژيک روش له مخي ممکنه ده ټول علوم په ارګانيک انتګراسيون سره په سراسري کلي منطقي قانونمندۍ واوړي او په زړه پوري علمي سيستم ايجاد او برقرار شي ي . خو له ډيره بده مرغه نه نړيوال د تعصب او تنګنظرۍ له مخي ددغه حقيقت منلو ته حاضر شول



اونه اسلامي محققين او علماء پدي قادر شول چي د اسلامي فلسفي دنوي کيفي علمي ماهيت څخه په استفادي سره زړه فلسفي بناء ړنګه او په نوي علمي بنيا د هغه اباده کړي . بر خلاف هغوی، پخپله دزړو فلسفو په زنګ وهلو کړيو او انحرافاتو کې راګير او د اسلامي فلسفي علمى حقايق او ارزشونه يى مکدر کړل . د خداى دذات او صفاتو په باره کي يي د مشکوکو تعبيرونو ، تفسيرونو او اظهاراتو له مخې اسلامي امت او ټول نړيوال په شک او ترديد کي پري ايستل او پخپله همدوي د خداى دذات او صفاتو په باره کې تخيلي او تصوري طرحي ، تيوريې او نظريي وړاندي کړي. حال دا چي خداى لوى ذات دې ، د انسان په شعوري طيف کې نه ځائيږي او د خداى لوى ذات د انسان د پاره هيڅکله مسخر نشي ګڼل کيدلې او نه د هغه په مقدراتو کې راتلاى شي نو ځکه انسان د هميش د پاره د خداى دذات او صفاتو د معرفت څخه عاجز دې. پدي باره کې تخيلي او تصوري تيوري هيڅ ډول ګنجايش او مورد نشي لرلي او نه بايد څوک دا ډول بي ځايه هڅي وکړي.

زما په عقيده مونږ چي قادر نه يو په عالم الاسباب کي ټول موجوده حقايق عملاً وپيژنو ،څه ډول ممکنه ده خداي د کامل حقيقت په حيث په ټوله معنا او مفهوم وپيژندلې شو ؟ انسان خپل خداي يواځي د خداي د بي ساري خلقتونو له مخي پيژندلي شي. د خداي پيژندنه زما په نظر همدومره ضرور ده چي کامل ايمان پري ولرو او زمونږ ټول شکونه په يقين بدل شي ،د خداى د دين د اصولو ،احکامو ،اوامرو اونواهيو په واقعي مفهم ځانونه پوه کړو ، طاعت او عبادت يي وکړو او دا هرڅه د ټول بشريت لپاره يو شان د ښه خدمت په لار کې د هر اړخيزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفادي ورړ وګرځوو .

تر اوسه پوري چي د پوهانو کوم فلسفي نظريات ما لوستي دي ، ډير نامتو فيلسوفان چي په کومه موضوع يي عقل کار ندي کړي ، ددي په عوض چي په خپله ناپوهۍ اعتراف وکړي ، ځان پوه کړي او وروسته له هغي خپل تحقيق ته دوام ورکړي او دبي منطقه غير علمي استدلال ځخه تيرشي بر خلاف په تجاهل العا رفا نه سفسطو ، مبهمو او مهملو عباراتو ، تيوريو او انحرافاتو شروع کوي او د هغوی دغه کړه وړه پخپله د هغوی د ناپوهۍ او بي منطقۍ عامل ګرځي او په مجموع کي فلسفي بهير نه جبرانيدونکي زيانونه ګالي. د پورتني بحث ځخه وروسته په لږ سوچ سره مونږ دي نتيجي ته رسيږو چي د علم ،منطق او خداي لار يوه ده . پکار دادي همدغه لار ونيسو او تر مقصود منزله ځانونه ورسوؤ .



# مرګ او ژوند
# فنا او بقاء

مرګ او ژوند ، فنا او بقا دواړه غبرګي مقولې او مفاهيم په حقيقت کې يو بل ته ورته معنی لري ، ليکن تر نننۍ ورځې پورې مرګ او ژوند په خاص ډول يواځې په اصطلاح د ژوندي شيانو لپاره او فنا او بقا لږ ځه په عام مفهوم سره د ټولو موجوداتو دپاره استعماليږي ٠

مرګ او ژوند يا فنا او بقا په ټولو پديدو کې د متقابلو متضاد و ديالکتيکي اړخونو په حيث وجود لري ٠ هيڅ مادي واحد او هيڅ کومه پديده د داسې ديالکتيکي تقابل ځخه پرته وجود نلري ٠ مرګ او ژوند يا فنا او بقا د ټولو مبارزو اساس او د هر ډول تکامل او تغير محرک او انګيزه ګڼل کيږي . مرګ د نوي ژوند شروع او زيږوونکې او د هر نوي ژوند لارد مرګ په لور ده ٠ هره پديده او هر مادي واحد همزمان او هم مکان د مرګ او ژوند نوزاد په غيږ کې روزی او لويوي او په موازی ډول د داسی متقابل او متضاد جدو جهد په مسير کې واقع دي. هر مادي واحد همزما ن د خپلې بقا او فنا په لور حرکت کوي .مرګ سره له دې چې د هرې پديدي او هر ما دي وا حد ابدي ملګرې دې بيا هم نسبي خصلت او ماهيت لري. ژوند د مادې مطلق او ابدي خصلت دې ځکه چې ماده تل ژوندۍ او ابدي ده ٠ مړه ماده وجود نلري او نه به يی ولر لې شي ٠ ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی ده ځکه چې موجوده ده او موجوده ده ځکه چې ژوندۍ ده. لیکن دا چې د مادې د موجودیت ډولونه یو تر بله سره فرق لري او همداسې دا چې ماده د مختلفو حرکتونو او د هغې د مختلفو کمپلکسونو په چوکاټ کې بقا لري او مختلف مادي واحدونه تشکیلوي نو ځکه ویلې شو چې ژوند هم مختلفې درجې او ډولونه لري. تر ننني ورځې پورې د مرګ او ژوند پدیدي او مقولي یواځې دمادي واحدونو د ځینې خاصو حالتونو او کمپلکسونو پورې منسوب او تړل کیږي او د هغې له مخې د ژوند ي او غیر ژوندي موجواتو تقسیم بندي او غلط تعبیرونه منځ ته راغلی دي. حال دا چې مړ اصلاً وجود نلري. هر مرګ لکه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه نسبي دې او هرمړې په خپل ذات کې مړ ندې. ځینی د ژوند شکلونه په پخواني ډول په همدغه مادي واحد کې دوام لري او ځیني نور د ژوند مستقل ډولونه د نوموړي نسبي مرګ په نتیجه کې منځ ته را ځي. یعنی د ژوند هغه مستقل ډولونه چې د پخواني ژوند په بندیخانه کې بندیان ؤو او نه یې شو کولې د هغه د امپراطورۍ څخه سر د باندې وباسي او یا د هغه د تحکم څخه سر غړونه وکړي خو بالاخره د مرګ او ژوند د دیالتیک په نتیجه کې نسبي مرګ منځ ته راځي او د امپراطورۍ د بند یخانو دروازي ړنګیږي. یوه لور ته د مرګ ویرجنه او غمجنه فضاٌ، د ژوند آخری شیبې آخري ساکښنه، آخري لیدنه کتنه، آخری آرزوګاني او امیدونه د ژوند دپاره آخرین تلاش او جدوجهد، آخرین احساس او درک او داسې نور. بل لورته د نوي ژوند لمړۍ شیبې خوشحالي ګانې، لمړنۍ ساکښنه او سترګي غړونه، لمړنۍ هیلي او آرزوګاني، لمړنۍ د ژوندنا ري سوري



، هوا او هوس او دې ته ورته نور ۰ داسې دې دیوه مادي واحد او یوې پدیدي د مرګ او ژوند دیالتیک او واقعیت. زما په نظر دا هغه څه دي چی باید قبول شي او د داسې لید لوری په رڼا کې د مرګ او ژوند پورې مربوط مسآئل په عیني ډول وڅیړل شي ۰

برخلاف د ایدیالیزم طرفداران ماده او ژوند سره جدا کوي او هغه دجهاني روح، مطلقې ایدهٔ او داسې نورو په رواداری پورې مربوط ګڼی ۰ که چیرې جهانی روح وغواړي ځیني مادي واحدونو ته روح بخښي او نور ټول مادي واحدونه مړه بولي ۰ د هغوی په نظر روح هیڅکله نه مري ۰ کولې شي ماده ترک کړي او په آزاد ډول ژوند وکړي پدې توګه هغوی داسې عقیده لري چې ژوند پرته دمادې په آزاد او مستقل ډول هم وجود لري. لیکن واقعیت داسې دې همغسې چې مړه ماده وجود نشي لرلې او نه یی لري د مادې څخه پرته په آزاد او مستقل ډول ژوند هم وجود نلري. ماده تل ژوندۍ او ژوند د مادې خصلت او یو د اشکالو د موجودیت څخه دیې. غیر مادي یا د مادې څخه پرته ژوند په هیڅ صورت سره وجود نشي لرلې. د خدای مقضي اراده همداسې حکم کوي او خدای عالم الاسباب د خپل لوی علم له مخې همدغه قانونمند پیدا او دخپلو مخلوقاتو لپاره مسخر، مقدر او داستفادې وړ ګرځولي دې. ژوند د هر مادي واحد په چوکاټ کې په هر شکل د اشکالو سره چی اوسي یواځې د همغه مادي واحد د دیالکتیک یعنې د هغه د کُلي مادي موجودیت د انرژیتیکي پوتنسیال او انرژیتیکي تعادل، تبادل او تقابل، وجدي حالت او نورو محصول او مولود دې او بس ۰ هرکله که پورتنې ذکر شوې انرژیتیکي پوتنسیال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انرژیتیکي تعادل، تعامل، تبدل او تقابل، تغیر کوي او یا له منځه ځي ژوند هم یا تغیر د شکل کوي یا د موجوده مادي واحد په چوکاټ کی په نسبي لحاظ له منځه ځي .

د بلی خوا همغسې چې ماده په لایتناهي شکل سره متبا رزه او موجوده ده د هغې د انرژیتیکي پوتنسیال او انرژیتیکي تعادل، تعامل، تبادل او تقابل ډولونه هم لایتناهي دي او په لایتناهي ډول سره د فنا او بقا په لور حرکت کوي .نو د مرګ او د ژوند مسائل او شکلونه او ډولونه هم د هغې سره معادل او متناسب دي .

پورتنۍ بحث په عالم الاسباب کې د خدای د لوی علم د قوانینو له مخې چې انسان پرې مقدر ګڼل شوی ،ترتیب شویدې . دې کې هم شک نشته چې پدې جهان کې هیڅ عمل، هیڅ حرکت ،هیڅ تأثیر او تأثر او پدیده ،پرته له دې چې له ځانه پوره نښي او علا ئم پریږدي له منځه نشي تللی او دغه نښو او علا ئمو له مخې انسان همیشه مقدر دې چې د دغه پېښو ماضي ،حال او مستقبل د ځان د پاره معلوم کړي.د دې څخه پورته د انسان د مقدراتو څخه اُچت ګڼل کیږي او یوازې د خدای د کلام او یا هغه علومو له مخې چې د خدایي کتاب په بنا منځته راغلي استنباط کیدلی شي. خارج له هغې ، زه پدې عقیده یم ،چې د انسان په مقدراتو کې نشي راتلای او هرڅه که څوک ووایي د اضافه ګویي او خلاف ګویي څخه پرته به بل څه نه وي . تر اوسه پوري په مختلفو فلسفي نظامونو کې د دغه ډول اضافه ګویي او خلاف ګویي ګاني ډیري شویدي او کومه محصله ترې چا نده ترلاسه کړې. الغیب عندالله.



# فلسفي لار

مولانا ابوالکلام ازاد ،په ۱۹۴۸ م کال کې ، کله چې د هند د ښوونې او روزنې وزیر وو ،د «هند د سراسري ښوونیز کنفرانس» د پرانیستو په وخت کې وویل: «حتا د فلسفي عمومي تاریخ هم د یونان څخه شروع او د اروپا په اوسنۍ فلسفه پای مومي ،او چینې او هندي فلسفي تفکر یوازې په څنډه «حاشیه »کې پاتې دي. دا د فلسفې همغه عمومي تاریخ دي چې د هند په پوهنتونونو کې یې زده کړه کیږي .لکن تاسې ټول دا منۍ چې په نړۍ کې د فلسفي تفکر دغه ډول بدلون او تحول د حقیقت سره سمون نلري . نن څوک نشي کولی د ما بعد الطبیعه او فلسفي تفکر په ورشو کې د هند په سترو لاسته راوړنو سترګې پټې کړي . دا سمه ده چې په وروستیو وختونو کې هندي فلسفي څیړنیزو موادو په هندي پوهنتونونو کې رواج موندلی لکن دغه فلسفې هغسې چې لازمه ده د نړۍ د فلسفې په عمومي تاریخ کې منلې مقام ندې نیولی .»(د سرو پالي رادا کریشنان تر څارني لاندې د لیکوالنو ډله ،د شرقي فلسفي تاریخ ، سریزه ، لومړي مخ ).

د مولانا ابوالکلام ازاد د دغه وړاندیز له مخې د هند د ستر فیلسوف، د «جنتا» پارټۍ مشر او وروسته د هند صدراعظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رادا کریشنان په مشرۍ د فلسفي څېړنو ستره ډله جوړه او هغوی دغه څېړنې دا ډول پیل کړې: « ایراني شاعر نړۍ د زاړه کتاب سره تشبیه کړې چې لومړی او وروستی پاڼې یې ولیدلې دي .

ما زآغاز و زانجام جهان بي خبریم
اول و اخر این کهنه کتاب افتاده است »

او په پورته ذکر شوي لومړي مخ کي لیکي : « بشر له هغه وخت څخه چي شعور پیدا کړ ي،ددغه ورکو شوو پاڼو په لټه کي شو یدي. همدغه لټه او دهغي پایلي فلسفه نومېږي . فیلسوف دفلسفې دماهیت د توضیح په باره کې کتابونه لیکي،لکن شاعر دغه مطلب په یوه بیت سره افاده کوي .»

هندي ټولنه چې د ډېري اوږدي مودي څخه په فلسفي څېړنو کې تجربي لري او دشلمې پیړۍ دعلمي ـ تخنیکي پر مختللي امکا ناتو څخه هم بر خمنه ده ،داسي یوه بااعتباره هیًت باید د شلمې پیړۍ د علمي ـ تخنیکي ټولو پر مختګونو او امکاناتو څخه په استفاده د فلسفي موضوعاتو او فلسفي اساسي مسئلې د څېړنو د پاره نوې علمي قانونمند بنیاد ایجاداو فلسفي څېړنې د نوي عصر او نوي ایجاباتو سره سم پر مخ تللي وای.

په ډېر تأسف سره باید ووایم دغه با اعتباره هیًت خپل تاریخي رسالت ته ندي متوجه شوې، اوسره ددي چې دبشري ژوند په ټولو اړخونو او د علم وتخنیک په ټولو ساحو کې د تصورڅخه اوچت بدلونونه راغلي ، لکن دوی په خپلو فلسفي څېړنو کې د میلاد څخه دمخه معیارونو یعني مابعدالطبیعه تخیلي او تصوري فلسفو او د هغي څخه راوروسته نورو زړو



نورمونو او عقایدو ته وفادار پاتې شویدي . نن هم که دهند لویه فلسفه اونړیوالې فلسفې د نړۍ دقدیمي « کهنه کتاب » دورکو پاڼو په لټه کي اوسې او غواړي د هغي دپایلو له مخې د فلسفې راتلونکي سرنوشت وټاکي، نو پایلي به یې همغه زړې فلسفې او زړې سفسطې پاتي وي.

ددغه «کهنه کتاب» دمخې او شا ، پاڼو په باره کي مونږ دمخه لیکلي وو چي ټولي پرځای دي او هیڅکله به ددي ضرورت نه وي چې فیلسوفان خپل با ارزښه وختونه د کتاب دزړو پاڼو په راټولولو مصرف کړي .که څوک پدې عقیده وي چې پخواني مادي وجدي حالتونه دخیال او تصور له مخې د «مُثُل» په بڼه په تجربي لحاظ څېړل ممکن دي ،زما په عقیده د عبث خیال او تصور پرته بل څه ندي .

هره فلسفي وضعه ، حالت او مسًله که دپرون ورځې وه او که دسبا ورځې ، که بې شمیره کلونه پخوا وه او یا همدومره کلونه وروسته ،څېړل یې دهمدا نن ورځې او بلکه دموجوده لحظې دوضعې او حالت له مخې پکار دي . بل امکان او بله لار یې هیڅ وجود نلري او دا ځکه چې مادي وجدي حالتونه په مستمر لحظوي دیالکتیکي تغیر کي قرار لري او هر ډول تیر او راتلونکي تغیر یواځې دموجوده حالت د قانونمندۍ د معرفت دلاري پیژندل ممکن دي . ځکه چې جهان په لحظوي بدلون او تغیر کې قرار لري او قدیم په قدیم کې هیڅکله نور وجود نه لري، حال هم څوک په یوه وضعیت او حالت کې څوک نه شي ساتلې او ابد به هم هیڅکله ابد ته ونه رسیږي ، خو دا چې قانونمندي شکل د موجودیت دمادې دي او په ماده کې هیڅ بدلون نه شي رامنځته کیدلې ، مګر یواځې په قانونمند شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ، یعني دا جهان همغسې چې قانومند پیدادې ، قانومند پایي او قانونمند بدلون او تکامل مومي. پدي قانونمنده پروسه کې دډیري کوچنۍ ذرې په کچه تناقص نشي پیښیدلې . ددغه قانونمندیو سلسله دهمیش لپاره په هر لوري په ځنځیري ډول کلکه تړلې ده او تل په قانونمند شکل سره د زمان او مکان په عمودیت او افقیت کې تعقیبیدلې شي. په هغه صورت کې چې مونږ یوائې دموجوده وضعې له مخې دحال ،تیر او راتلونکي مادي وجدي حالت فلسفي څیړنه ترسره کولې شو او فلسفه هم په عالم الاسباب کې دخداي دلوي علم یوائینې انساني ذهني خلف علم ګڼل

کیږي او انسان دهغي په معرفت مقدر او مکلف ګرځیدلي دي ،نو فلسفه هم دهمدغه مقدراتو او امکاناتو له مخي په عالم الاسباب کي د خداي دلوي علم انساني ذهني معرفت او قانونمندې افادي ته ویل کیږي. په دې صورت کې نه زاړه کتابونه چیرې پاتې دي ، نه یې د رژبدلو پانو لټون ته څه ضرورت لیدل کیږي. دا جهان قانونمند پیدادې او قانونمند پایي ،انسان دغه قانونمندي پیژني او په قانونمند شکل سره ئي فورمولبندي کوي او همدي ته فلسفه ویل کیږي. همغسي چي مونږ په عالم الاسباب کې دخارق العاده او فوق العاده جهانونو دټولو مزایاوؤ څخه مستفید کیدلې نشو د هغي په معرفت قادر او مکلف هم نه یو او منطقاً ورته ضرورت هم نه لیدل کیږي. پدي باره کي مونږ یوائي هغه څه منلي او باور پري کولي شو چي دخداي په کلام کې یې ذکر شوې اوسي . دهغې پرته په نورو جهانونو ،عالم الارواح او دخداي په ذات او صفاتو انسان نه مقدر



دې او نه مکلف . پورته چي کوم عبارت په هندي فلسفه کې لیکل شوې چې ګوندې «فیلسوف دفلسفي دماهیت د توضیح په باره کي کتابونه لیکي،لکن شاعر دغه مطلب په یوه بیت سره افاده کوي»

هم د منلو وړندیې. شعر د فلسفې د افادې ژبه نه ده او نه فلسفي قضایا او مسایل په شعري ژبه ممکن دي او نه ضروري. شعر مقید کلام دي ،شعر احساسات دي ،عاطفه ده ، غریزه ده ،شعر مبالغه،غلو او اغراق دي ،شعر ادبي صنعتونه او رنګینۍ دي او دغه توکي دفلسفې د قد او قامت سره نه جوړیږي . پخپله شاعران وایي چې شعر معنا نه لري ، خو فلسفه یوائې دمعنا داره ، دقیقې او قانونمندې افادي ژبه ده. کوم مواد چې شاعر په شعرکې دخپل زړه د پټ راز د افادې لپاره په ګونګه ژبه ، چې یوائې پخپله پرې پوهیدلې شي ،او که داسې نه وي ،نو بیا خو شعر نه ګڼل کیږي ، او رښتیا هم ،کله چې یو حقیقي رښتینې فطري شاعر د سر په بیه د حقیقت اظهار ته اړووځي ، د سد سره ډډه نه شي لګولې او نه د شعور ،عقل او هوش سره سمون لري ،نو باید په ګونګه ،مهمله ،مجمله ، مجهوله او نورو دیته ورته ژبني افادو سره افاده شوې اوسي او ددې خبرو سره سره بیا هم دغه افاده رسوای عالم او دهرچا لپاره مفهوم هم اوسي. دیته ویي اصلي شعر او اصلي شاعر !

هر شاعر او هر څوک چي هڅه کوي علمي یا فلسفي شعر ولیکي ، پخپله دا هڅه د شعر دفلسفي دمنطق سره سمون نلري . شعر هیڅکله قانونمنده پدیده نه ګڼل کیږي .په شعر کي قانونمند استمرار وجود نلري او همیشه ګذرا پدیده ده ، نو ځکه خو تعریف نلري او شرط ندې چې معنا دې هم ولري. نو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ممکنه ده معناداره او قانونمنده پدیدي د شعري همیشه ګذرا پدیدي پواسطه افاده شي ،پداسې حال کي چې فلسفه قانونمندي فصیحي ، بلیغي ،ساده او لنډي قانونمندي افادي ته ویل کیږي او بیا هم پداسي حال کي چي تر نن ورځی پوري یو شاعر حاضر ندي حتي پخپله خپل شعر معنا کړي. اصلي فطري شاعران د خدای ، خدايي خدمتګار مخلوق دې. هغوی هیڅکله دځه او چا لپاره شعر نه لیکي. د هغوی شعر یوائې د غیر ارادي دروني احساس په بناء دهغوی د حقیقت چیغه ده او بس.فلسفه علم دي ، علمي طرحه ده ، مسًله ده قضیه اودهغي قانونمنده افاده ده ، قانونمندي او د هغي څخه قانومنده استقرائي او قیاسي نتیجګیري ده او دا دواړه یوتر بله سره هیڅ ماهیوي او شکلي شباهت او ورته والي نلري او په هیڅ قالب کي سره جوړ نه راځي. سره ددي چې زه هم اکثراً دفلسفي شعرونو او فلسفي شاعرانو یادونه کوم او په عرف کي هم دا خبره مروجه ده چي فلان ښه فیلسوف او بسمدان ښه عالم شاعران دي او دې کې هم شک نشته چې شعر ښکلي کلام اولوی امتیاز دې او هر بل بې کیفیته او بي محتوا کلام ته کیفیت او ښکلا ورکوي نو ځکه هر څوک هڅه کوي خپل عبارات او مفکوري په شعري بڼه افاده کړي . خو ددي ټولو خبرو سره زه پدي عقیده یم چي د فطري شعري احساس څخه پرته د بل هر ډول احساس او مفکوري په لرلو سره شعر خپل شعري ارزش او کیفیت له لاسه ورکوي.زه غواړم دلته د سترو فیلسوفانو د شعرونو نموني راوړم :

اګریک ذره رابر ګیري از جاي
فرو ریزد همه عالم سرا پاي

"مولانا جلال الدین بلخي"



واړه ته ئي خندول که ژړول کړي زه پخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم
هر یو مخ کله لایق وي د آبرو اوښکې نه دروميي په مخ د هر ناولي

زړه یې مه بوله تور کاڼې دصحرا دې
په لیدو دزخمي زړه چې زخمي نه شي

"رحمان بابا"

دکون ودفساد دمحصلې محسوس وجود یم
په زر رنګه نمایم که وم وم که نه وم نه وم

"غلام دستګیر «رڼګ»"

پدې اشعارو کي ډیر ژور فلسفي مفاهیم پراته دي . لکن دیته په هیڅ صورت فلسفه نشي ویل کیدلې. ځکه چي پدي شعرونو کې نه کومه قضیه او مسًله طرحه شوې،نه کومه فورمولبندي شته او نه کوم قانونمند منطقي او تیو ریکي ثبوت .

د بشر دفلسفي پوهي څخه ډیر زیات او بلکه بي شمیره کلونه تیریږي ،په فلسفه کي ټول عمر بهترین مغزونه په کار بخت وؤ ،او فلسفه چي تر هر بل علم څخه په فصیحه ،بلیغه، منطقي او علمي ژبه خبرې کوي،بیا هم تر نن ورځي پوري فلسفه په رښتیني توګه نه ځان پیژني

اونه جهان.او شعر چي په هرلحاظ مقید کلام ګڼل کیږي ، څه ډول یي د فلسفي افادي وړ ئی ګڼلي شو ؟ په علم او فلسفه کي فصاحت او بلاغت لازمي او کافي شرط ګڼل کیږي چې په شعر کي وجود نه لري.

زه په ټول ارادت او ژور احترام سره د پوهانو هغه ستر رسالت چي د تاریخ په اوږدو کې یي خپل ټول ژوند فلسفي او نورو علمي څیړنوته وقف کړې ،کړاوونه،ظلمونه او حتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګونه يي منلي خو دعلمي حقيقت ويلو څخه نه دي منکر شوي او مونږ لپاره يي ستري علمي زير مې په ميراث پريښي دي ، په پوره درناوي سره ستايم. شک نشته چي علمي حقيقتونه او واقعيتونه د سطحي په مخ برملا ندي پراته او دبې ساري زحمتونو او کړاوونو پرته دخاصو شرائطو ،وسايلو ،مادي بيز ،عصر ،زمان او نورو بې شميره فاکتورنو پورې هم اړه لري او هيح ممکنه نه ده ټولې لاسته راوړني په يو وار په يوه عصر وزمان کې په لازمو معيارونو سره ترلاسه شي. هغه لاسته راوړني چې پخوانيو پوهانو پخپلو نيمګړو او ناسمو شرايطو او ناڅيزه امکاناتو سره لرلي مونږ يي دعلم او تخنيک د پرمختګونو په پراخه امکاناتو سره نشو ترلاسه کولې.خو که مونږ نن پدي خبرو پسي ګرځو چي ګوندي دا جهان د څلورو عنصرو څخه جوړ دې هم سمه به نه وي . څرنګه چي علمي حقايق د پيړيو پدي ذخيره شوو پانګو کې يواځي لکه په بحر کې څاڅکي دنادره دانو په څير پيدا کيدلې شي. دي کې هم شک نشته چې ډيرو له دغه علمي زيرمو او تيوريو او حتي علمي شخصيتونو د تقدس او پرستش مقامونه حاصل اود اولسونو په عقيدت بدل شويدي او بايد داحترام وړ وګڼل شي ،نن يواځې زمونږ په نړۍ کې په زرګونو اديان او مجازي خدايان وجود لري او هرڅوک خپل خدای برحق بولي ، حال داچې يواځې يو خدای معبود برحق ګڼل کيږي .ايا ممکنه ده په اوسني جمعي بشري شعوري معيارونو او علمي ــ تخنيکي امکاناتو سره دغه ټول علمي او مذهبي تحريفي ازدحام چي په غير قابل تحمل محموله او نا بکاره بيرو کراسۍ او طاقت فرسا عطالت بدل شوې ، په کلي او مجموعي ډول پرته د تشخيص او



تفکيک ، دحقيقت او واقعيت په توګه ومنو ؟ حال داچې حقيقت په ټولو حالاتوکي واحد دي.

زه پدي عقيده يم ، تفکيک ضروري دې. که علمي حقايق دي او که مذهبي تعدد ، دواړه يو حقيقت افاده کوي. چند پارچګي خو لا څه چي دوګانګي هم پکي دمنلو وړ نده. نن دا يوه اړينه خبره ده چي علمي حقايق دلفظي انجړ مشوړو او دمهملو او مجهولو نامفهومو خبرو دګڼ بازار څخه راووځي او د علمي منل شوو قوانينو او معيارونو له مخي په علمي پاخه بنسټ د راتلونکي لپاره پلانګذاري شي. ډير کسان نن هم علم او دين دوه متضادي او مخالفي پديدي ګڼي او همزمان او هم مکان په يوه قلمرو کې دهغي شتون ناممکن بولي. زما په عقيده علم او دين دواړه دمعرفت ،پوهي ،نظام ،عدالت ،قانون ، اداري ، ...او ديته ورته ټولنيزو جمعي بنسيګنو يو شان رسالت په غاړه لري او په خپل منځ کې هيڅ ډول ذاتي توپير سره نلري. علم دين او دين علم دي ،ځکه چي دواړه يو شان دمعرفت رسالت لري. که څوک دا خبره راسره نه مني ، زما وړانديز دادي ، راشئ دواړه پديدي د علمي قوانينو او معيارونو له مخې وڅيړو او لازم نتائج په لاس راوړو . پدي صورت کي به هيچا لپاره دمخالفت امکان موجود نه اوسي. تر څو چي دغه ډول سپيناوي رامنځته نه شي ،دفرصت طلبه انسانانو اوبه به همداسي د بوسو لاندي رواني او واقعيتونه به دپوچواو مهملو الفاظو اوسفسطو په بحبوحو کي پټ او لا درکه پاتي وي.

يکار دادي ټولې فلسفي ــ علمي تيورۍ د نوي علمي ــ تخنيکي لاسته راوړنو په کچه دمنل شوو معياري قوانينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



،مقولو ، تيزسونو او تر منولوژيکي جوړښتونو مطابق فورمولبندي او عامه ذهنيتونو ته وړاندي شي او دعلمي حقايقو دتيوريکي قيوداتو له مخې دتحريفي تيوريو او لفاظيو مخه ونيول شي.

په افغانستان کي وروستۍ قسمي مطبوعاتي ازادي ددي سبب شوي چې په هيواد کې بې شميره ګوندونه ،سازمانونه ،ټولني ، ويديو ، اوديو او چاپي خپروني دروا او ناروا اهدافو په خاطر ايجاد ،دمختلفو سليقو له مخې داشخاصو ،افرادو په نومونو چې اهليت ، شخصيت او اولس او هيواد ته وفاداري يي دپوښتنو لاندې دي ، افتخاري بنيادونه ،ټولنې ،منارونه او نور تاسيسات نومول کيږي ، غير مسؤلانه القاب ، رتبي ، مقامونه، نشانونه ورکول کيږي او په باره کي يي دحقيقت څخه ليري تبليغات شپه او ورځ دوام لري ،او پرته لدي چې سيمه ئيز ،قومي ، لساني ،مذهبي او داسي نور تعصب اميزه عداوتونه او دښمنۍ رامنځته کړي بله موخه نلري ،واقعاً نه يواځي يي دافغاني ټولنې ټولنيزه فضاء مکدره کړي بلکه تر شا داسي د بي مسؤليته بيګانه پرستو « شخصيتونو » ډلي اوتحريفي غيرواقعي اسناد او مطبوعات پريږدي چي دافغانانو دننۍ غميزي د حل څخه به د هغي سپيناوې او حل ډير مشکل وي. ښه به داوي چي ددولت او حکومت د ټولو ادارو په ټولو پوړيو کې قوانين او اصول په جدي ډول مراعات او دراتلونکي وخت لپاره رهنمودي مقررات ايجاد او مراعات شي.



# فلسفي قانونمندي

ډير ځله په ذهن کې دا سې پوښتې راولاړيږي ،څه ډول ممکنه ده چې دزمان او مکان په دومره اوږده او فراخ بُعدي عموديت او اُفقيت کې ، ډير ډيرکلونه د پوهانو او فيلسوفانود ژوند د خلاقه علمي فعاليت محصله دې نه يواځې مساوي په صفر بلکه په منفي نتايجو او محصله منتج شي ؟ څه ډول هغوۍ کولې شول د خپل با ارزشه وخت سرمايه ګذاري دداسي قمار په تخته وکړي چي د ګټني چانس يي هيڅ موجود نه اوسي؟ دوۍ د خپل ورځني ، مياشتيني ،کلني او دعمر د کار نتايج څه ډول ارزول ؟ دوۍ تري راضي وؤ ؟ که نه وؤ. ولي يي دغه بې بنياده او بې ګټې کار ته دوام ورکاوه ؟ دوۍ دهغه امتياز څخه چي په ټولنه کي يې ددغه بي ثمره فعاليت په نتيجه کي ترلاسه کړي وؤ ،او دخاص وعام د مادي او معنوي هرډول امتياز او احترام څخه برخورداره وؤ ،څه ډول احساس کاوه ؟ او دا ډول نوري پوښتني.

۶۰۰۰ کاله دتارخي دوري اونژدي ۳۰۰۰ کاله له هغه وخت څخه تيريږي چي دپوهانود فلسفي څيړنو ليکلي اسناد مونږ ته راپاتې دي . پدې دومره اوږده موده کې دفکر او پوهي ټول وتلي او نامتو کسان ،اکاديمۍ ، پوهنتونونه ، ټول علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزونه او مادي زیرمي د پوهانو او علومو په خدمت کې ږ وې. پخپله پوهانو څیړنیز اصول، متودولوژي، مقررات او قیودات ایجاد او فورمولبندي کړیدي او څیړونکي یې هدفمند منتج کار او فعالیت ته متعهد او مجبور ګرځولي. ولې دوئ قرنونه قرنونه دخپل عملي او نظري فعالیت په موده کې دومره بې مسؤلیته او بې تفاوته پاتې شویدي؟ دوی خو پدې ښه پوهیدل چې هر فعالیت، دتصمیم، فعالیت او منتج مثبت یا منفي لاسته راوړنې څخه جوړ دي. او خصوصاً په علمي فعالیتونو کې د ممکنه نتایجو وړاندوینه او محاسبه هم مخکې له مخکې کیدلې شي. د هرې ورځې په مازیګر او یا لا اقل د هر فعالیت په ختم کې یو ساده دهقان یا تجار د خپلې ګټې او زیان اندازه ځان لپاره معلوموي. دوی پدې باره کې هم هیڅ فکر ندې کړې چې ولې خدای د «والعصر ...» یعنې د مازیګر په وخت چې سود او زیان پکې معلومیږي قسم یاد کړیدې؟ د خدای په کلام کې دوخت دارزش او اهمیت په باره کې په کراتو کراتو یادونه شویده. ولې ټولو دغه پوهانو دغه اصل په نظر کې ندې نیولې؟ او پراخه پرګنې یې ترنن ورځې پورې په ګمراهۍ کې ساتلې دي. پوهان دا حق هم نلري چې یوائې په خپلو اعترافاتو د خپلو ګناهونو لوی پیټې سپک کړي. ځکه دعلومو لار په اصطلاح دسد سکندر ترشا مطلقي تاریکي ته نده ورته چې هرڅوک دې پکې لار ورکه او ګمراه شي. دعلومو لار رڼه، ټاکلې او معلومه ده، یوائې اشخاص دي چې دناپوهۍ له مخې او یا تجاهل العارفانه عمدي په غلطه لار او غلط لوري قدم اخلي او په پایلو یې سترګې پټوي. دهرې علمي پروسې اغاز، دوام او منتج مثبت یا منفي انجام معلوم



او په مشخصه او دقیقه توګه دهغې وړاد وینه کیدلې شي.

دې کې شک نشته چې ډیر پوهان خپلو علمي اصولو او پرنسیپونو ته حتا د ژوند په قیمت تل وفادار پاتې شوي او هوډ او عقیده یې نده ماته کړي. سقراط د شکران د زهرو ګوټ ته د خپلو عقیدوي اصولو د ماتولو په نسبت ارجحیت قایل شو، برونو په سرو لمبو وروخوت خود خپلې عقیدې پت یې وساته، ګالیله چې ځمکې ته ګرده او خوځنده ویلې وؤ، هیڅ ګوابن له دې عقیدې ونه ګرځولې شو او ډیرو نوروهم پدې لارکې مرګونه، زندانونه او د زغم څخه وتلې شکنجې ګاللي، دخپلې عقیدې پت او تقدس یې ساتلې او ورته وفادار پاتې شویدي.

رابه شو د فلسفي په باره کې د ځینو فیلسوفانو خپلو څرګندونو ته: فیثاغورث نږدې ۶۰۰ کاله دمیلاد څخه دمخه لیکلي «عدد اصل دکائناتو دې.»(تاریخ فلسفه در جهان اسلام، دحنا فاخوریا او خلیل جر لیکنه، دعبد المحمد آیتي فارسي ژباړه، ۳۳ مخ)؛ سقراط چې دفلسفي پلار یادیده او دافلاطون اُستاد، ځینې اصول وړاندې کړي چې یو له هغو دادي «ټول محسوس عالم موجود ندې. ځکه چې بل عالم هم وجود لري، چې پدې عالم کې د هغې داشیاوؤ د حقایقو د سیوري پرته بل څه مونږ په خپلو حواسو نه شو درک کولې، په بل جهان کې وجود لري. او هغه دمُثُل، دمجردو افکارو او ازلي حقایقو عالم دي.» (همدغه کتاب ۴۵ مخ)؛ افلاطون وای «فلسفه دقدر وړ ذوق دي» (همدغه کتاب، ۴۸ مخ)؛ ارسطو علوم په نظري، عملي او صناعي تقسیموي، چې شامل د الهیاتو او ماوراءالطبیعه دي، او هغې ته ارسطو «فلسفهً

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولـي» واي .» (د همدغه کتاب ۶۰ مخ ) ، کانت او هګل په اواخرو کي د حواسو په باره کي شک پيدا کړ او ويل ئي « عقل يوائيني داور دي چي کولي شي د حسي مدرکاتو په باره کي قضاوت وکړي. اما کانت وويل چي رياضيات د تجربي څخه مستقل او د تجربي د مخه يو حقيقت دي،د پنځو مجذور پنځه ويشت کيږي او د حواسو تصديق پوري اړه نلري.» (تاريخ فلسفه ، دويل دورانت ليکنه ، د عباس زرياب فارسي ژباړه ، ۲۲۸ او ۲۶۳ مخونه )؛ ؛ماترياليستان پدي عقيده دي « څرنګه چي د ذهن تاثير په بدن باندي انکار نه منونکي دي ،پس ذهن هم بايد د جسم او تن په څير ، لکه صفرا ،مادي او جسماني اوسي .» دکارت واي « فکر کوم پس وجود لرم .» ؛ايديالستان واي « دد کارت په قول څرنګه چي زمونږ وجود زمونږ د مفکورې وروسته عرض وجود کولې شي، نود نورو شيانو وجود هم زمونږ د مفکورې مديون او هغه وخت موجود يدلې شي چې زمونږ د حواسو پواسطه درک او ذهني وجود پيدا کړې ؛ جسم د مفهوم څخه پرته بل څه ندې او ماده يوائې مجموعه د تصوراتو ده.» او بالاخره ، د مخه مونږ د «فلسفي لار» په موضوع کې وليکل چې د شلمې پيړۍ د لومړۍ نيمايي په اخرو دوه کلونو کې چې علم او تخنيک په کافي اندازه پر مخ تللې، قوي او با صلاحيته فلسفي ټيم چې د «سروپالي رادا کرشنان» په مشرۍ تاکل شوې وؤ ، هم دې نتيجې ته ورسيده چې د جهان په باره کې د فلسفي څيړنو د کتاب لومړۍ او اخري پاڼې ورکې دي او « بشر له هغه وخت څخه چې شعور يي پيدا کړې،ددغه ورکو شوو پاڼو په لټه کې شو يدي. همدغه لټه او دهغې پايلي فلسفه نوميږي . فيلسوف د فلسفي د ماهيت د توضيح په باره



کې کتابونه ليکي ،لکن شاعر دغه مطلب په يوه بيت سره افاده کوي .» او پدي باره کي يو څه لنډ بحث او ضروري يادونه همغلته هم شويده.

د پوهانو په پورتنيو څرګندونو تبصره ددي د پاره چي موضوع اوږده نشي لازم نه ګڼم او د بلي خوا د مخه هم پدي موضوعاتو کافي بحثونه شوي دي. خو دومره بايد ووايم او درانه لوستونکي هم پخپله قضاوت کول شي چې د فلسفي ډيرو ژورو او اساسي مسايلو سره په پورتنيو تيوريکي فورمولبنديو کې څومره سطحي ، غير مسؤلانه او ساده لوحانه کړه وړه شوي او د خپلو مقدراتو او امکاناتو څخه وتلې مسايلو لکه د عالم الارواح جهان او حتي د خداي ذات او صفاتو په باره کې يې پرته د هر ډول صلاحيت او قانونمند منطق څخه کورکورانه تصوري او تخيلي بحثونه کړيدي.

د تيرو فلسفي بحثونو ،تحليلونو او څيړنو څخه مونږ دي نتيجې ته ورسيدلو چې د خداى ټول خلقتونه او په هغه جمله کې انسان هم د خداى د عالم خلف مخلوق په حيث ، يوائې د خپلو خپلو مقدراتو په کچه مختار او د دغه محدودې څخه وتلې د خداى د مقضي ارادې د جبر تابع ګڼل کيږي. په همدې دليل مونږ پدې عقيده يو چې په عالم الاسباب کي مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نه لري. مونږ پدې هم پوهيږو چې انساني شعوري طيف څومره محدود او د هغې څخه وتلې ورشو بشري لا شعور پورې اړه لري. لا شعوري ورشو ګاني يوائې د شعور او لاشعور د ديالکتيک له مخې په قانونمنده بڼه او همداسې د الهام او وحي په شکل هم په نسبي توګه قابل د درک او فهم ګڼل کيږي . پدې باره کې د شپږم حس تر عنوان لاندي موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په کافي اندازه بحث شویدي.دا ممکنه نده چې هر څوک د هر څه په باره کې بې بنیاده فلسفي بحثونه وکړي او علمي قانونمند حقیقتونه او واقعیتونه دې ترلاسه کړي . په همدي ډول که مونږ یوه قضیه ، یوه فرضیه او یا هر ډول بله علمي مسًله بې بنیاده او یا په غیر علمي شکل طرحه کړو ، نه یې علمي قانونمنده منطقي افاده ممکنه ده او نه په حقیقت او واقعیت باندي ولاړه منتجه نتیجه او فورمولبندي تري ترلاسه کیدلې شي. په نتیجه کې ویلې شو ، ټول فلسفي مسایل چې تراوسه پورې په واهي ، تخیلي او تصوري غیر واقعي بنیاد باندې بنا ء شویدي ،د هغې توضیحي افاده ، فورمولبندي او تیوریکي جوړښت نه دواقعیت سره سمون لري او نه پکې علمي قانونمند منطقي تسلسل منځته راتلې شي. په حقیقت کې پخپله دغه روش او ناسمې طرحې هر څیړونکې په غیر علمي او غیر منطقي استدلال مجبورکړې ، ځکه د ناسمې قضیي د طرحې په بنا ء ممکنه نده منطقي قانونمنده علمي فور مولبندي رامنځته شي . په نتیجه کې د اکثره پوهانو فلسفي هڅې عمداً اویا ناخود اګاه په مهملو ، نامفهومو او مغلقو عباراتو او سفسطو باندې بدلې شویدي . ولي پوهانو خپل علمي مسائل او قضایا ناسم او بې بنیاده طرح کړیدي ؟ولي هغوی تر اوسه په خپله دغه عظیمه غلطۍ ندي پوهیدلي ؟او بیا ولي دوی پدي نپوهیدل چې ټولي فورمولبندۍ، پریکړې او نتائج یې غلط او د منلو وړ ندي ؟ ځکه د هرې علمي مسًلې د نتیجي په صحت او غلطۍ پوهیدل ممکن کار ګڼل کیږي. سره ددې چې ډیرو پوهانو وقتاً فوقتاً شعوري یا لاشعوري ، مستقیم یا غیر مستقیم د خپل ذهني جبر د تاثیر او درک لاندي



ځینې ډیري دقیقي یادوني اوفرمولبندۍ کړیدي ( ځکه چي هر څوک ، هر وخت عملاً د خپل ذهن د تاثیرلاندې دي او کیدلې شي ځیني وختونه په لاشعوري ډول قانونمندې دقیقي علمي څرګندونې وکړي لکه هګل چي نا خود اګاه دعیني ایدیالیست په حیث فکر کاوه ، د مطلقي ایده د تکامل د مراحلو دطبقه بندۍ د قوانینو دیالکتیک فورمولبندي کوي ،برخلاف ماتریالیستي دیالکتیکي قوانین یې فورمولبندي کړي وؤ . په فلسفه کې ددغه ډول بې بنیاده مسًلو طرحه له ډیره بده مرغه چې عمومیت لري . اساسي مشکل پدې کې دې چې پوهان د خپل ذهني جبر د تاثیر لاندې د ځیني حقایقو دقیقي څرګندونې کوي ،خو په علت او دلیل یې نه پوهیږي او د موجوده خرافاتي ، جادویي ،پیریانو ،دیوانو ، بلاګانو او دې ته ورته کیسو ، داستانونو ،فلمونو په بنیاد د ناسمو ،دواقعیت څخه لیري او مزخرفو فورمولبندیو د وړاندي کولو جرئت پیدا کوي او یوه ډله نور پوهان په پټه ، سترګود هغوی د دغه ټول ناسم اعمال ستایي اوفلسفه د ګمراهۍ لار نیسي ،کومه قانونمنده فورمولبندي او تیوري او د قناعت وړ نتائج په لاس نه ورځي او په همدي علت فلسفي هم تر اوسه پوري نزولي انحطاطي مسیر طي کړي دي. نن هم ټولو نړیوالوته ناسمې طرحې ، تحریفي تیورۍ او کاذب حقایق سم بریښي . فلسفه پخپله پخپل ځان د تخیلاتو ،تصوراتو ، ابهاماتو له لارې د هر ډول تورونوعامل ګرځیدلي ده. پکار دادي چي فلسفه د خپل علمي ماهیت مطابق خپل هویت تثبیت کړي که نه نو هر څوک به حق لري وواي چې « هر څه پوچ او بې معنې د فلاسفه وو په کتابونو کي پیدا کیږي. »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړي علوم دعملي تجربي تدریجي اصلاحاتو «Korrektion» او دځیني تدقیقي علمي ضریبونو د استعمال دلاري نسبي علمي حقایق او نتائج ترلاسه كولې شي او سره ددې چې ځانګړي علوم د ځانګړي واقعیت او حقیقت په څیر وجود نلري بیا هم د «احتیاج مادر ایجاد» د مقولې په بناء یې كافي علمي زیرمې او حقایق ایجاد كړیدي . فلسفه چې دعامو قوانینو او عامو مفاهیمو د علم په حیث عملي تجربې امكانات نلري ،دځانګړو علومو دغه ډول عملي تجربې قانونمند نتایج او حقایق كیدلې شي د نسبي عملي تجربې فاكتور په حیث ومنل شي او د همدغه نتایجو د قیاسي استقرایي منطق په بناء فلسفه نه یواځې په تخیلي او تصوري بلكه په نسبي عملي او تجربي شكل ارزول كیدې شي او دهغې د نتایجو د قیمت ګذارۍ دپاره ډیره مناسبه لار او وسیله ګڼل كیږي . په نتیجه كې ویلې شو چې فلسفه یواځې تخیلي او تصوري علم نه بلكه د عملي تجربې واقعیتونو په بناء نسبي عملي تجربي علم ګڼل كیږي او همداسې فلسفي علمي نتایج دخدای دخلف علم په حیث د لوی جهان د لابرا توار دعملي نتایجو په بناء د عملي ارزوني قابلیت لري.

په پای كې پدې ساده تقسیم بندۍ او تفكیك قناعت كوو :
هر فلسفي علم او قانونمندي ځانګړې علم او قانونمندي ګڼل كیدې شي . لكن ځانګړي علم او قانونمندي آو یا دهغوی میخانیكي مجموعه هیڅكله فلسفي علم او قانونمندي نشي ګڼل كیدلې. هر علم قانونمندي ده لكن هره قانونمندي علم ندي . د مثال په ډول اتشفشان ،زلزله ، سیلاب ، انقلاب ، انفلاق ، احساسات ،عواطف ،غریزه ، شعر او ډیر نور سره ددې چې



قانونمندي پیښي او اعمال ګڼل كیږي خو علمي فورمولبندي، تیوري ،افاده او تعریف یې ممكن ندي. ځكه چې هر یو له دغه پیښو په عین شكل دوهم وار نه تكراریږي یعني استمرار پكې وجود نلري ،او علم مستمري قانونمندۍ ته ویل كیږي. د خدای علم په ټولو علومو او قانونمندیو محیط علم دې او سره ددې چې انسان په ځمكه او جهان كې د خدای خپل خلیفه ګڼلې او فلسفه چې مونږ په عالم الاسباب كې د خدای د علم خلف علم بولو ، حتا په كوچنۍ قضیه كې یې د خدای دعلم قایم مقام نه شو ګڼلې. ځكه چې خدای په ټولو زماني ، مكاني ،كمي ،كیفي ابعادو او اوصافو هر وخت علم لري. او انسان ددغه ډول امكاناتو څخه د تل دپاره عاجز او یواځې د خپلو انساني مقدراتو او شعوري امكاناتو په تنګ محاط محیط كې مقدر او مكلف ګرځول شویدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فلسفه او ځانګړي علوم

۱ــ **فلسفه** : فلسفه دعالم الاسباب او ټولو خلقتونو دخلقت ، تغیر او تکامل « دیالکتیک » دڅیړنې او قانونمندي افادي علم ته ویل کیږي .

ــ **دفلسفي موضوع**: یواځي عالم الاسباب او د هغې پوري اړونده قانونمندۍ څیړي . خارج له هغې « عالم الارواح او دخدای ذات او صفات » دانسان په مقدراتو کې نه راځي ، دانسان لپاره نه مسخر دي او نه مقدر او نه خدای انسان د هغې په معرفت مکلف ګرځولې ،نو ځکه یې دمعرفت او پوهې څخه د همیش لپاره عاجز دي او یواځې په هغه څه پوهیدلې شي چې دخدای په کلام کې یې ذکر شویدې او باید باور او ایمان پري ولري .

## ــ فلسفي اساسي مسایل :

ــ « ذهنیت نسبي عېنیت او هر مشخص ذهنیت عېني واقعیت دې» ؛

ــ «دا جهان یواځي په قانونمند حالت او ټبه سره وجود لري ،قانونمند پیدا ،قانونمند پایي ،قانونمند بدلون مومي او



تکامل کوي. یعني قانونمندي شکل دموجودیت دمادې دیې»

ــ « ماده متحرکه ده ځکه چې موجوده ده او موجوده ده ځکه چې متحرکه ده. ماده پرته له حرکته وجود نلري. حرکت شکل دموجودیت د مادې دې » ؛

ـ « مطلقه بې شعوره او مطلقه با شعوره ماده وجود نلري» ؛

ـ « مطلق مختار او مطلق مجبور نشته »

ــ « فلسفه دین او دین فلسفه ده،ځکه چې دواړه یو شان د خدایي خلقتونو د معرفت متضمن دي» ؛

ـ « ماده قانونمنده او هره قانونمندي مادي ده»

ــ « ځانګړي مستقل علوم په حقیقت کې په مستقل ډول وجود نه لري » ؛

ــ « غیر مادي ایدیا لیستي فلسفي په عالم الاسباب کې حقیقت نه لري » ؛

ــ« حرکت په عالم الاسباب کې د خدای دلوی علم دعامې قانونمندۍ او دهغې دټولو خصوصي حالتونو په پروسه کې دټولو پدیدو دظهور او متقابلو اړونده مناسباتو دعلت او معلول مسبب ګڼل کیږي» ؛

ــ « دا جهان همغومره متنوع ،متفاوت ، رنکارنګ او متغیر دې لکه څومره چې حرکتونه متنوع، متفاوت ، رنګارنګ او متغیر دي. دا جهان همغوره ابدي دې لکه څوره چې حرکت ابدي دې.لوی خدای دخپل لوی علم دعامي قانونمندۍ له مخې دلوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول او قائم با الذات اوخلل ناپذیر ګرځولې او یواځې دقضاء او قدردلوی علم دجبر او اختیار له مخې په هغې کې تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدې شي.»

ـ « ... او داسي نور په هره ساحه کې اساسي مسایل فورمول بندي شي.

**ـ فلسفه مجرد علم دي که مشخص؟**: مشخص پدي مفهوم چې یوائې په عالم الاسباب کې د خلقتونو او پدیدو د پیدایښت ،پایښت ، بدلون او تکامل د دیالکتیکي قوانینو څخه بحث کوي او د خدای د ذات او عالم الارواح د موجودیت د قوانینو د معرفت څخه پدې جهان کې د همیش لپاره عاجز او یوائې په هغه څه ایمان او باور ولرل شي چې د خدای په کلام کې یې ذکر شوې او یا د علم او قانونمند منطق د اصولو او قوانینو سره سمون لري .

مجرد پدې مفهوم چې د عالم الاسباب د دیالکتیک د خورا عامو قوانینو څخه بحث کوي . څرنګه چې ټول خلقتونه په عملي او تجربي قانونمند ډول عرض وجود کوي او د انسان دلپاره په زماني او مکاني ،افقي او عمودي ابعادو کې همیشه د تجربي وړدي نو فلسفي علمي نتایج هم د ځانګړو علومو د عملي تجربي قانونمندو منطقي نتایجو له مخې د قیاسي استقرائي قانونمند منطق په بناء نه په تخیلي او تصوري بلکه په نسبي عملي او تجربي شکل ارزول کیدې شي.د شعور او لاشعور د دیالکتیک په پروسه کې هم لاشعوري حقیقتونه او واقعیتونه د خدای د مقضي ارادي له مخې په شعوري پروسو او حقیقتونو او واقعیتونو بدلیږي او دا د فلسفي عملي تجربي افادې یوه بله لار او طریقه ګڼلې شو .

**ـ د فلسفي او ځانګړو علومو دیالکتیک:**

د مخه مونږ دې خبرې ته اشاره کړې چې ځانګړي علوم په ځانګړي ډول وجود نلري او ټولې پروسې او قوانین د مختلفو



خلقتونو او پدیدو د کمیت ، کیفیت او نورو خصوصیاتو له مخې په متعادل او متناسب متداخل ډول جریان پیداکوي او د مختلفو ځانګړو خلقتونو د ظهور او ایجاد سبب ګرځي. دغه خلقتونه د مختلفو لویو او کوچنیو نظامونو په حیث د خپل ذات البیني متعادل او متناسب دیالکتیک له مخې لوی او واړه نظامونه او په کل کې د عالم الاسباب لوی نظام جوړوي. دغه بې شمیره نظامونه ،پدیدې او خلقتونه د خپلو ځانګړو ذاتي خصوصیاتو له مخې لکه فزیکي حالت یعني جامد ،مایع ،غاز ،تشعشعي ،الکترو مقناطیسي ،جاذبي « Gravitation »او نورو ساحوي تفاوتونو ؛ مادي جوړښت لکه عضوي ،غیر عضوي او په عضوي کې لکه نباتي ، حیواني ؛ د ترکیب له مخې لکه فزیکي ،کیمیاوي او بیولوژیکي او ډیرو نورو خصوصیاتو له مخې د قانونمندی په ټولو ابعادو او جهتونو کې یو تر بله سره کاملاً فرق لري. په مجموعي ډول د یوه تعامل چې په متداخل شکل سره په مادي واحد کې جریان پیداکوي ،همزمان او هم مکان د دیالکتیکي پروسې په حیث د ټولو قانونمندیو په نظر کې نیول او په متداخل ډول د هغې محاسبه ډیر مشکل او حتا ناشونې کار دې. په همدې علت د فلسفي او ځانګړو علومو تر منځ ویش « Differentiation » مجبوري لازمي ګڼل کیږي.

د فلسفي او ځانګړو علومو د مجبوري لازمي ویش په هکله ما دغه یو ډیر ساده مثال ذکر کړ. د فلسفي او ځانګړو علومو د مناسباتو او دیالکتیک په باره کې د مخه ماڅه ناڅه ذکر کړې دي. بیا هم که لازمه وه ، اضافي بحث به پرې وشي.

د دغه ویش دوهم علت به زما په نظر دا هم وي چې په ځانګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



علوموکي ،څرنګه چې ډیر دقت ته ضرورت نه لیدل کیږي او دعملي تدریجي تجربي اصلاح او همداسې د تدقیقي ضریبونو په کارولو سره ځینې قانونمندې محاسباتي نیمګړتیاوې رفع کیدلې او یا اقل کچې ته راټیټیدلې شي . که چیرې له دغه پرنسیب څخه ګټه پورته شوې نه وای،نه به ځانګړو علومو د نن ورځې په کچه پرمختګ کړې وې او نه به فلسفې د خپلو نتایجو د تصدیق په خاطر عملي ثبوتي دلیل درلودلې.اوعلمي څیړنې به په کل کې بې نتیجې او منجمدې پاتې وې.

که چیرې فې مادي واحد عنصر ، مخلوط او یا مرکب په نظر کې ونیسو او یوائې د حرارت فاکتور ته په ترتیب سره تغیر ورکړو ، وبه وینو چې د حرارت په تناسب د دغه مادي واحد فزیکي حالت د مادي منجمد څخه مایع ، غاز ، تشعشعي ، الکترومقناطیسي ،فوتوني او ډیر نور حالتونه غوره کولې شي. که چیرې مونږ د قوانینو بدلون یوائې په دغه یو بعدي مسیر کې په نظر کې ونیسو ، وینو چې: په جامد حالت کې ساده میخانیکي فیزیکي قوانین جاري دي ؛ په مایع حالت کې په هایدرولیکي ؛ په غازاتو کې په آیرودینامیکي ؛ په تشعشعي حالت کې د شعاعاتو د قانون ؛او په الکترو مقناطیسي ؛ فوتوني او نورو ساحو کې په نورو کاملاً متفاوتو قوانینو بدلیږي « د دې په څنګ کې په هره مرحله او هره قدمه کې نور په لسګونو قوانین زیږي او هر یو خپلې خپلې ریښې ځغلوي ، خو هغه مونږ په نظر کې نه نیسو ځکه مونږ موضوع د یو بعدي حالت په یوه مسیر کې څیړو » . بیا هم که مونږ یوائې ساده ترمودینامیکي قانوني تسلسل په دغه مسیر کې په نظر کې ونیسو . وینو چې: په جامد کې د حرارت انتقال د مالیکولونو ،



اتمونو او ذراتو د اهتزاز د قوانینو ؛ په مایعاتو او غازاتو کې بیا هم په متفاوت شکل د کتلوي مقدارونو د کانونشن «حرکت» په شکل ؛ او په نورو ساحو کې بیا هم په نورو متفاوتو قانونمندیو او کله چې فوتوني حالت یعنې کله چې سرعت د نور سرعت « ۳۰۰۰۰۰ کیلو متره في ثانیه » ته رسیږي قوانین کاملاً په بل ډول تغیر کوي او علم تر اوسه پدې نظر دي چې هیڅ مادي واحد له دې پورته سرعت نشي ترلاسه کولې او دا اخرین حد د سرعت کڼل کیږي چې تر اوسه یې بشر پیژني ،خو زما په نظر ، پدې باره کې مطلق حکم صادرول نه منطقي دې او نه ضروي . تر اوسه پورې مونږ موضوع په یو فاکتوري خطي مسیر کې او هغه هم د یوه ډیر ساده شکل په نظر کې نیولو سره څیړلې ده. که چیرې مونږ څو فاکتوري او څوبعدي حالتونه د دغه ساده قضیې وڅیړو موضوع به نوره هم مشکله او که چیري مونږ موضوع د یوه ساده واحد عنصر ،مخلوط او مرکب په چوکاټ کې نه بلکه د څو عنصري ، مخلوط او مرکب په چوکاټ او یا د هغې څخه هم پورته د غیر عضوي ،عضوي ، نباتي ، حیواني او یا د هغې څخه هم پورته د ذهني مادي واحدونو او کامپلکسونو په چوکاټ کې مطاعه کول غواړو .

محترم لوستونکي څه فکر کوي ؟ ننني بشري جمعي شعور او موجوده علمي ــ تخنیکي وسایل به یې د محاسبي له عهدې څخه ووځي؟ په قاطعیت سره ویل کیدې شي چې په نظري ډول په پرنسیپ کې هو ، خو په عملي ډول نه ! ! ! لکن د خدای په لوی علم کې د دې کار لپاره ټول قانونمند امکانات برابر شویدي . او پخپل وخت سره به که ژوند باقي وو د امکان په صورت کې لازم بحث وشي . په غیر صورت کې به راتلونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسلونه یي حتماً د تحقیق او محاسبي دعهدې څخه څه نا څه ووتلې شي . ما دا نسبتاً ساده مسئله د قضایاوو داِشکال د نمایش په خاطر نده ذکر کړي بلکه د فلسفي مسایلو د مختلفو بعدونو دعمق او بیا هم د ټولو مشکلاتو سره سره ، په هغې کې د حل دلارو دموجودیت دنمایش هڅه وکړه. او یواځې په همدي خاطر !

دا ډول قضایا په مختلفو ساحوکې په مختلفو شکلونو ، بعدونو او ژورتیا سره مطرح کیدلې شي .

دمخه ما آیرو دینامیکي قوانینو ته اشاره وکړه.غواړم دپورتنۍ مسئلې دلا ښه پوهاوي په خاطر په تخنیکی چوکاټ کې په مسئله بحث وکړم .د هوا بازۍ د تاریخ شروع روسان د مژایسکي خوامریکایان د رایټ د ورونو د ابتکار څخه بولي.په هر صورت هوابازي په عملي ډول د شلمي م پیړۍ دشروع څخه پیل او نژدي دیوي پیړۍ په عمر کې یي لوړ افقونه تسخیر کړیدي.په ابتداکې پوهانو فکر کاوه ، کله چې د طیارې د الوتنې په وخت کې دهوا ذرات په طیاره لګیږي ،دپورته کیدو « دبرداشت» قوه تولیدیږي . وروسته ژوکوفسکي په اثبات ورسوله چې آیرودینامیکي د برداشت قوه د هوا دفشار دتفاوت په نتیجه کې چې دالوتنې په وخت کې د طیارې « الوتکي» دوزر دلاندې او باندې سطحو تر منځ منځته راځي ، ایجادیږي .وګورو چې آیرودینامیکي قوانین د سرعت د فاکتور په تدریجي تغیر سره څه ډول تغیر کوي ؟ په ابتدا کې د الوتکو دپاره هم په یو څه تفاوت د موټر د انجن څخه استفاده کېده او هغه پدي معنا چې دالوتکې په انجن کې سلندرونو په ستاره اي شکل سره قراردرلوده چې پکو ته یي دوراني حرکت ورکاوه او



هغوی د کشش قوه تولیدوله . پدې انجنونو سره ممکنه وه الوتکه یواځې له ۳۰۰ تر ۴۰۰ کیلومتره في ساعت سرعت ولرلې شي. دد ي څخه پورته د پکي د مقاومت زیاتوالي د سرعت د زیاتیدو مخه نیوله . د سرعت دزیاتوالي په خاطر پوهانو دزاړه حکمت له تجربو څخه په استفاده د جیټ انجن کشف کړ ، خو پکه د کشش دقوې دوسیلي په حیث پاتې شوه . پدې صورت کې نیمه قوه پکي او نیمه نوره د توربین څخه په سرعت سره خارج شوو غازاتو تولیدوله او الوتکې له ۷۰۰څخه تر ۹۰۰ کیلو متره في ساعت اعظمي سرعت نیولې شو. بشر زیات سرعت ته ضرورت درلود او ددې کار لپاره بې پکي خالص جیټ انجنونه جوړ شول او پدې وسیله دالوتکې چټکتیاد غږ له چټکتیا څخه واووختله.ددي سرحد څخه په اووختلو آیرودینامیکي قوانینو تغیر پیداکړ او ددي په بناء باید دالوتکي جوړښت هم تغیر کړي واي او مونږ نن وینو چې دغږ څخه چټکي الوتکي د نورو الوتکو په نسبت بل ډول جوړښت لري . دالوتکې دجوړښت په تغیر سره د الوتکې سرعت زیات اود غږ د سرعت دوه ،دري برابره او لا نوره هم زیات شو .دانجن دننه کمپریسور او توربین دمقاومت دزیاتیدو په نسبت بیا پرابلم پیدا شو . دالوتکي او دغږ د سرعتونو تناسب په « M » سره ښودل کیږي اود « ماخ »دعدد په نوم یادیږي . لازم داوو ، کومې الوتکې چې د غږ دري برابره او زیات سرعت درلود بې کمپریسوره او بې توربینه جیټ انجنونه ورته جوړ شوي واي . نن دغه ډول انجن لرونکې الوتکې موجودې او اکثره بې پیلوټه الوتکې دا ډول انجنونه لري ،خو دهغي دپاره پکار دادي چې لومړي یي بله الوتکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته آو تر لازم سرعته ورسوي ، څرنګه چې دغه ډول الوتکې یا اکتشافي او یا الوتونکي بمونه وي ، نو بعدي پروازئي درادار او په ځیني مواردو کي د پیلوټ پواسطه کنترولیږي .

پوهان نن دنوروا و نورو ، حتي فوتوني انجنونو د جوړولو په فکرونو کې دي چې همزمان هر چیرې چې وغواړي حاضر او هر ډول امکانات ولري . پدي بحث کې مونږ یوائې د سرعت د پارامتر په تغیر سره وویل چې قوانین په ټولو مراحلو کې په کافي اندازه تغیر کوي .که مونږ د ټولو پارامترونو د تغیراتو تأثیر په نظر کي ونیسو دا مسًله به لابغرنجه هر اړخیز نوربعدونه هم پیدا کړي . په نتیجه کي ویلې شو که پرنسیباً دفلسفې او ځانګړو علومو ویش ناممکن بریښي ، عملاد ًمجبوریت له مخې لازمي ګڼل کیږي . دفلسفې او ځانګړو علومو د دیالکتیکي عدم ارتباط په صورت کې که فلسفه عملي تجربي ثبوتي دلیل دلاسه ورکوي ، ځانګړي علوم هم ممکن نده چې خپل واقعي موقف ،لار او ګودر پیدا کړې شي . د هغې متقابل دیالکتیک ضروري او جبري او لازم وملزوم ګڼل کیږي.



# مقضي او مقدره « د خالق او مخلوق » اراده

مقضي او مقدره ارادې د قضاء او قدر د قانون په لوی جهانګیر محاط محیط کې ،یوتر بله سره د لوی جهان او دهغې د ټولو خلقتونو د پیدا ښت ، پایښت او دیالکتیکي بدلون او تکامل ،علت او معلول انګیزه او یوائیني لوی علمي قانونمند وجودي وجدي حالت ګڼل کیږي . انسان د خدای دذات د پیژندنې او توصیف څخه دهمیش د پاره عاجز دې. پدي صورت کې هر چاته دا پوښتنه پیدا کیدلې شي چې د خالق او مخلوق ترمنځ د ارتباط لار او وسیله به څه ډول وي ؟ په کوم دلیل او وسیلي سره خدای او انسان ارادي دیالکتیکي ارتباط لرلې او انسان د خدای د عالم خلف په حیث لازم دیالکتیکي مقدرات حاصلولې شي ؟مونږ ددي خبرې شاهد او پوهیږو چې د مادیت او معنویت په غیر واقعي بنیاد د فلسفې داساسي مسًلې مطرح کولو ، په فلسفي نظام کې څومره بې مورده ځانګړتیاوې ،تناقضات ، موضعګیرۍ او اختلافات رامنځته او لا تر اوسه په خپل حال باقي پاتې دي. فکر کوم ، هغه ډیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمده او اساسي مسئله او د هغي په اړوند نور فلسفي قضایا مونږ وکولې شول د عینیت د فلسفې د موضعګیری له مخې په ثبوتي ډول فورمولبندي او شاید د پوهانو د توجه او قناعت وړ ګرځیدلې اوسي. زمونږ په آند ډیرو فلسفي مسایلو ته په دغه تیوریک بحث کې ځواب ویل شوې ، د شک او تردد جرړې له منځه تللي او په لازم لوري د تحرک پوره امکانات برابر شویدي.

همداسې په فلسفي بحثونو کې مونږ د عالم الارواح ، جنت، دوزخ ، اعراف ، برزخ ،لوح محفوظ ،مُثُل ،د خدای د ذات او صفاتو او ډیرو نورو مثایلو په باره کې د ډیرو سترو فیلسوفانو او پوهانو د فلسفي بحثونو شاهد هم یو .حال دا چې دغه ټول بحثونه دانسان دمقدراتو او ممکناتو څخه وتلې کار ګڼل کیږي ، مګر هغه چې یې دخدای په کلام کې ذکر شوې اوسي. زما په عقیده هغو مره چې پدې باره کې یې دخدای په کلام کې ذکر شوې ، همغو مره به ضروري او حتمي ګڼل کیدل . خارج له هغې ، زیاتو معلوماتو ته به ضرورت نه لیدل کیده نو ځکه یې نه دخدای په کلام کې ذکرشوې، نه دانسان په مقدراتو کې راځي او نه یې انسان په معرفت مکلف ګرځول شویدې .نو ځکه اضافه له دې ،کومې هڅې چې پوهانو او فیلسوفانو په تصوري او تخیلي شکل پیل کړي او اوس هم دوام لري کاملاً د نا ممکناتو څخه دي او بې مورده ګڼل کیږي .مونږ پدې باور لرو چې انسان دخدای د کامل معرفت او توصیف څخه دهمیش دپاره عاجز دي ، ځکه چې خدای دلوی حقیقت په حیث د انسان په شعور کې نه ځائیږي ،خو په عالم الاسباب کې د خدای د خلیفه په حیث باید د خدای په علم د نسبي پوهې د معرفت لازم



وسایل او امکانات ولري.په غیر صورت کې به څه ډول د خدای خلیفه جوړ او وګڼل شي ؟ددغه ضرورت او مجبوریت له مخې پوهانو اوفیلسوفانو د تخیل، تصور ، تصوف ، کراماتو ،عبادت ، ریاضت ، سحر ،جادو او حتي ډیرو العیاذ باالله د شیطانت له لارې هڅې کړیدي ، په دروغو او ټګی ځانونه د خدای خلیفه او قایم مقام جوړ کړي،حتي ډیرو ځانونو څخه مجازي خدایان جوړ کړي ،په دروغویي طریقي ،لاري چاري ، تیوری او فورمولبندی جوړې کړي او پایله یې ګمراهي شویده او نن هم دغه مسئله پخپل ځای لا ینحله پاتې ده. نوموړې مسئله ډیره مغلقه ،مشکله ،نامرئي او په همغه کچه داهمیت وړهم ده .پوهان هغه د قضاء او قدر ، جبر او اختیار ، دیترمینیزم او اندیترمینیزم په نامه یادوي . دا سمه ده. زه هغي ته د شعور او لا شعور دیالکتیک هم وایم .پدې باره کې، لکه چې دمخه هم ورته اشاره شوې وه ،ما د « شپږم حس که د شعور او لا شعور دیالکتیک » تر عنوان لاندې یوه مقاله لیکلې او د میلادي پیړۍ د اتیایمي لسیزي په لمړیو کلونو کې د « اخبار هفته » په ۵۵ ګڼه کې چاپ او پدې موضوع بحث شوې وو .که چیرې د قضاء او قدر د عام قانون له مخې د خالق او مخلوق د مقضي او مقدرو ارادو ډډلیږ د او دیالکتیکي قانونمندو مناسباتو تحقق ممکن نه وې ګرځیدلې ،انسان به هیڅ کله د خدای خلف نه وې ، نه به قضاء او قدر وې او نه به د لوی جهان او دهغې د بې شمېره خلقتونو پیدایښت، پایښت او دیالکتیکي قانونمند علت او معلول تحقق پیدا کړې وې . پدې معنا چې دجهان د پیدایښت ، پایښت او دیالکتیکي تحول او تکامل لپاره به نه انګیزه وې او نه علت . څرنګه چې خدای دا لوی جهان قاونمند

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداکړي او قانونمندي شکل د موجودیت د مادي دي ،یعني ماده او قانون یو تربله لازم و ملزوم ګڼل کیږي اوپه بل ډول او وسیله دهغې پیدا یښت ،پایښت بدلون او تکامل خدای لازم او ممکن ندي ګڼلې ، پکار دادي د دې جهان ،پدیدو او خلقتونو سره هر کړه وړه یواځې د علمي لارو چارولـه مخې په قانونمند ډول وشي. لکن لـه ډیره بده مرغه پوهانو دغه ضرورت او مجبوریت ندي درک کړې او دخپل ذهني متا فزیکیت لـه مخې یې مابعد الطبیعت په تصوري او تخلي خارق العاده ،کور کورانه او دعلمي قانونمند منطق څخه بې محتوا او دمقدراتو څخه وتلې واهي فلسفي تیوریوته مخه کړې ، د کاذب رسالت لار نیسی اود تخیل په وزرو ددي لوي جهان اغاز او انجام معلو مول غواړي او پدي لټه کې کیږي چې په عالم الارواح کې څه پېښ شوي او لا پیښیږي به ،دجنت او دوذخ دثواب او عذاب کچه او اندازه څه ډول تلل کیدې او معلومیدې شي ؟ حال داچې خدای دانسان لپاره یواځې عالم الاسباب مقدر او مسخر ګرځولې تر څو هغه په قانونمند ډول دځان او ټول بشریت لپاره قابل داستفادې وګرځوې .

علم او عقیده سره ددي چې د ماهیت او معنا په لحاظ په موازي ډول عین اهداف تعقیبوي خو دکچې او مقیاس د تناسب لـه مخې دواړه یوشې ندي . پدې معنا چې په دین او عقیده کې حرج او جبر وجوداو ځای نلري ،یواځې د یقین ،عقیدې او نیک عمل پورې اړه لري. پدې لار کې علمي ثبوتي استدلال او نتائج پکار ندي او نه فلسفه دعلم په حیث دا رسالت لري چې حتماً دې د خدای دذاتي معرفت او نورو اړونده موضوعاتو د پیژندګلوۍ لـه عهدې څخه ووځي او



ګوندې حتماً دې قانع کننده ثبوتي دلایل وړاندې شي . پدې باره کې پخپله شخصي باور او یقین لازمي او کافي شرط ګڼل کیږي . خدای عادل او منصف ذات دې او انسان یې مختار پیداکړیدي .که خدای خپل مخلوق یواځې مجبور پیداکړې وې ، دقیا مت دورځې محاسبه به په کوم اساس ،دکوم عدالت او قضاوت لـه مخې کیدلې ؟ زما په نظر په عقیدوي مسایلو کې پوهه او ثبوتي دلایل د لازمي او کافي شرط په حیث ضرور نه ګڼل کیږي ، لکن په علمي موضوعاتوکې د پوهې او قانونمندې فورمولبندۍ موجودیت او ثبوتي دلایل دلازمي او کافي شرط په حیث ضروري او مجبوري ګڼل کیږي او پرته لدې به هره افاده نیمګړې او نا کافي وې . همدلته په فلسفه کې لوی بحران رامنځته شو ، فلسفه ګمراه شوه ،خپل علمي قانونمند مادي ماهیت یې چې بشر پرې مقدر او مکلف ګرځیدلې لـه لاسه ورکړ او پخپله فلسفه منحیث دعلم ، د علم سره په تضاد کې واقع شوه . همدلته د فلسفې او نورو علومو تر منځ تباین او تباني خپلې لارې سره جلا کړې ، همدلته فلسفې خپل قانونمند منطق لـه لاسه ورکړ او پخپله منطق عامل د بې منطقۍ وګرځیده ، په همدې مقطع کې فلسفه په نا مشخص ،مذبذب او کورکورانه ډول د لارې د سر په بحث او یا په بل عبارت په سفسطه بدله شوه ،په همدغه مساعده موقع کې دمختلفو نظریاتو پیروانو فلسفې ته د خپلې عقیدې او نظر د اصالت د جزائرو د پیدا کولو لار پیدا کړه او په واقعي مفهوم فلسفه په غیر تحلیلي نابکاره کانګلمرات « مخلوط » او انارشۍ بدله او ځکه یې نن خپل علمي موقف او ماهیت لـه لاسه ورکړې دې .

کوم رکود ، سکون او ګمراهي چې نـژدي ۳۰۰۰ کاله دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فلسفي علمي ورشو کې راپیدا شوي او فلسفه یې په جړه مشوره ، غامضه مسئله او لا ینحله معما بدله کړي ، تر ننه باقي پاتې ده. شک نشته چې د فلسفي تیوریو په شکلي کمیت او کیفیت ، موضوعاتي ویش او دیفرنسیشن کې ستر تغیرات رامنځته شوي خو فلسفي موضوعي محیط او ماهیت د فورمولبندیو ماهیت د پخوا په څیر محدود او متحجر پاتې شوېدي. علت یې د فلسفې د اساسي مسئلې غلط تعبیر او بې بنیاده د عیني او ذهني محیطونو جدا کول وو. ماتریالیستان په ټولنیزو او ذهني پدیدو کې ایدیالست پاتې شوي او ایدیالستان چې فزیک دانان او ساینس پوهان هم وو چې تندې به یې په غره هم لګیده ، ویل به یې نه یې منم دا غرندې بلکه زما د احساساتو کامپلکس او مجموعه ده. خو د فلسفې بوجۍ د موضوعاتو د تکاثف او ازدحام له کبله د پوچو تخیلاتو په بنیاد پړسیده او په هر لوري یې بوږې کاوه او فلسفي تیورۍ او موضوعات له یوي ورځې څخه بلې ته لا پسي په جړه

مشوره او عظیم عطالت لرونکي بار بدله شویده. یوازې د عینیت د فلسفې په نوي طرز تفکر او لید لوري سره لکه چې د مخه هم دې موضوع ته اشاره و شوه ، د مقضي او مقدرې ارادې ، قضاء او قدر د عام قانون او د شعور او لاشعور د دیالکتیک په انعطافي مقطع کې، موجوده معما د حل لار پیدا کولې شي. زما په نظر عقیده هغه وخت پیدا کیږي چې شکونه په باور بدل شي . فلسفه او علوم د خپل تکامل په پروسه کې همیشه په تجربي ثبوتي ډول د عقیدې په واقعیت او رښتینولۍ د تائید مهر لګوي او د خپل لایتناهي تکامل په پروسه کې د لوي او کامل حقیقت مجانب ته په هایپر بولیک



ډول تقرب کوي او دواړه په کامل ثبوتي لوی حقیقت بدلیږي . همدلته عقیده او فلسفه او یا په بل عبارت ، فلسفه او دین په اصطلاح د تضاد د مواضعو څخه د توافق مواضعو ته راپړي ووځي او دوجانبه متناسبه متممه مکمله پایله غوره کوي. دادې د فلسفې او دین د نسبي حقیقت موضیعي موقف او د کامل حقیقت په لور د هغوئ غبرګونې مجرا او مسیر.

یوازې د قضاء او قدر په ډیر باریک او نامرئي سرحد کې انسان د خدای د عالم خلف په حیث د خوب ، الهام ، وحي او حتي د احساس او ادراک دلارې د خدای د مقضي ارادې د شعوري فهم امکان پیدا کوي او په همدې بنیاد یعني قضاء او قدر ، جبر او اختیار او شعور او لا شعور د مناسبت او دیالکتیک په نرۍ پوله د خالق او مخلوق د ارادو د افهام و تفهیم او عملي ارتباط شرایط قائمیږي او د همدې علت او معلول له مخې موجوده لوی جهاني نظام جوړیږي.

نوموړې نظام د خدای د مقضي ارادې او لوی علم له مخې متناسب او متعادل پیدا دې ، بشري شعور د خپلې افراطي استفادې په نسبت په نظام کې د دغه تناسب او تعادل له منځه وړي او د خپلو مقدراتو په کچه د فردي یا اجتماعي یعني سالمي یا ناسالمي استفادې وړ ګرځوي ، خو په دواړو حالاتو کې د نظام تناسب ړنګیږي او د مقدرې ارادې د پولې څخه په وتلو سره د مقضي ارادې په جبر سره دوباره د نظام تناسب او تعادل بر قراریږي. پدې توګه په نظام کې د مقضي او مقدرو ارادو متقابل اختیاري او جبري فرصتونه تاًمینیږي. یوازې د جبر او یا یوازې د قدر د امکاناتو په صورت کې به نظام یو جانبه عطالت او قهقرائي ناپایداره حرکت درلودلې. په بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبارت ،په نظام کې هم دخلقتونو د نسبي بقاء مقدرستاتیزم وجود لري او هم مقضي متحول دینامیزم ، یا که نور هم په لنډ ډول سره وویل شي ، ابدي همزمان ستاتیک ـــ دینامیک دیالکتیک یا دلوی خدای دلوی علم له مخې لوی واحد ، ابدي، پایداره ،متناسب ،متعادل جهان استقرار پیداکوي او پخپله دمقضي او مقدرارادودیالکتیک دنظام دبقاء تضمین کوي .

پدې ډول مونږ وکولې شول په عامو مفاهیمو یعنې په فلسفي بڼه د قضاء او قدر او شعور او لاشعور ددیالکتیک ډیره ستره مسئله د موجوده منل شوو قوانینو د اصولو له مخې ،فورمولبندي کړو .شک نشته چې په عامو مفاهیمو سره ددغه ډول سترو قضایاوو افاده او پوهاوې دواړه ډیر مشکل کار ګڼل کیږي ،او خصوصاً کله چې دغه طرحې او افادې په فلسفي ادبیاتو کې غیر معمول او دلومړي ځل لپاره په سترګو کیږي. سره ددې چې د شپږم حس په موضوع کې ددغه مسئلې په ځینې اړخونو څه ناڅه بحث شوېدې ،بیا هم پکار دادي چې دغه مسایل عام شهرت او دعامې استفادې وړ وګرځي او دمسایلو د جزئیاتو په کچه دموضوعاتو دمتخصصینو لخواد هغې په تخنیکي اړخونو په تفصیل سره بحثونه وشي. خصوصاً دغه موضوع په څرګندوځانګړو مثالونو کې وڅیړل شي چې څه ډول دقضاء او قدر اوشعور او لاشعور په دیالکتیک کې لاشعوري پروسې په شعوري پروسو ، پدیدو، فاکتونو ، ارقامو ، ګرافیکونو او ډیرو نورومفهومو شعوري حقایقواوواقعیتونو بدلیږي .

دخالق او مخلوق دمقضي او مقدرې ارادو دد یالکتیک د



حقایقو او عامه تیورۍ فورمولبندي او نړیوالو ته دهغې وړاندي کونه برعلاوه ددې چې په فلسفي علم کې ټول ناممکنات ممکن ګرځوي، هرې معما ته دحل ځواب وایي ، دفلسفي تیورۍ هره ترلې کوڅه د حقیقت او واقعیت په لور خلاصوي او فلسفي ادبیاتو ته د مهملو ،مجملو او مغلقو فورمولبندیو څخه نجات ورکوي ، بشریت د لا شعور د غیر محاط امکاناتو محیط ته د لارې په پیداکولو سره د دې امکان هم پیداکوي چې دغه ورشو دلویې سرمایه ګذارۍ په قوت د متخصصینو په ذریعه وڅیړي ، د بشریت دښیګڼې په خاطر ټول امکانات ترلاسه او وروسته لدې د حرص ،آز ،حسادت او تنګنظرۍ نړۍ ته دپای ټکې کښیږدي او نړیوالو دپاره دخدایي سخاوت سخاوتمندانه مناسبات او جهان جوړ کړي . ددې لارې انسانان کولې شي دانسانانو ،حیواناتو او نباتاتو تدافعي ، معفیتي ، وقایوي او مراقبتي سیستمونه په ژوره توګه وڅیړي او لکه څرنګه چې لا شعوري نظام خپل چاپریال په تناسب او تعادل کې ساتي ، همدغه د تعادل او تناسب استازو ته د حیه او غیر حیه نظامونو د تناسب او تعادل چارې وسپارل شي .پدې وسیله دا هم ممکنه ده چې راتلونکې تولیدات او مرکبات له یو سره ټول په متناسب او متعادل ډول تولید او نړۍ او نړیوال د افراط و تفریط د مضره تناسبونو د ګزند او چاپریال هم د ککړتیا څخه وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عېنيت فلسفه
# او ځانګړي علمي اصالتونه

دا جهان د مادي موجود په حيث خداى دخپل لوى علم له مخې دواحد قانونمند دیالکتيکي نظام په شکل پيدا کړيدي . ماديت ،وحدت ،قانونمندي اوديالکتيک ددې نظام بنسټ او اساس تشکيلوي. ددې جهان دننه اودباندې داسې ورشوګانې وجود نلري چې هلته دې ځانګړې قانونمندي او ځانګړي نظامونه موجود اوسي . پدې نظام کې ټولي پروسې او تعاملات په متداخل ارګانيک ديالکتيکي شکل جريان لري او دمختلفو پديدو او خلقتونو دظهور سبب ګرځي . دغه متداخلې پروسې او تعاملات نبايد دمختلفو علوموبلکه د مختلفو وجدي او روحي حالتونو ،ديالکتيکي تحولاتو او تغيراتو ،د نظام دساتنې او محافظت دعواملو او ډيرو نورو حالتونو چې تر اوسه پورې يې مونږ نه په راز پوه او نه په افاده قادريوخو په کل کې دغه خدايي ابدي ،قايم بالذات ،خود کفاً ،خود بقاً ديالکتيکي نظام جوړوي. دغه پروسې دذات البيني تداخل ديالکتيکي او ارګانيک جبر او اختيار له مخې په همزمان او هم مکان تحول ، تکامل او ديناميزم کې قرار لري او دهغې مطابق ټول وجدي ، روحي حالتونه اوکمي او کيفي



ارزښتونه جوړوي. مشکله خبره ده چې پروسې ، پديدې اوعلوم په دغه دیالکتيکي ديناميزم کې په متداخل ډول يودبل انګيزه او علت ومعلول ونه ګرځي اوپه مستقل شکل سره دې يا دپروسي او يا دعلم په حيث اثبات اوعرض وجود وکړي شي.پدې جهان کې دستنې د ستومې په اندازه نه تشه موجوده ده او نه دا ممکنه ده چې ګوندې ديوې ذرې په بې ځايه کيدو دې په اصطلاح جهان ونه لړزيږي. دا نظام تر دې کچې پورې تړلې او واحد نظام ګڼل کيدې شي.

مولانا بلخي وايي:

اگر برگيري يک ذره از جاى
فرو ريزدهمه عالم سرا پاى

په نتيجه کې ويلې شو چې مستقل علوم ،مستقلې پروسې او مستقل تعاملات او دهغوى مستقلې ملوک الطوائفی او ورشوګانې وجود نلري او ټول موجودات له ځيلمه په متداخل هر اړخيز فعاليت کې قرار لري. کله چې دالکتروليت يو انبيق په برقي جريان پورې تړل کيږي ،يا يوه لمده بطری دموټر دچالانيدو دپاره استعماليږي يا دوچې بطری پواسطه راديو فعاليت کوي،په دريواړو صورتونو کې ډير تفاوت وجود نلري.

که يو الکتروليت په برقي چارج پورې تړو :

د ايونيزيشن دعملې په شروع سره کيمياوي فعاليت شروع کيږي ؛دمنفي او مثبت قطبونو په لورد ايونونو حرکت ميخانيکي فزيکي فعاليت ګڼل کيږي ؛دحرکت ، اصطکاک او برقي جريان په نتيجه کې حرارت پيدا کيږي او دحرارت په موجوديت کې ترمو ديناميکي فعاليتونه يعني دحرارت انتقال او تبادله پيل او دنورو فعاليتونو د رامنځته کيدو سبب ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



؛ دعضوي موادو په موجوديت کي همزمان بيولوژيکي ، فيزيولوژيکي او همداسې نور او نور فعاليتونه شروع کيږي...

مونږ دغه ډول متداخليې سلسلې د مختلفو پروسو ، مختلفو تعاملاتو ،مختلفو پديدو ... په مختلفو جهتونو کې تعقيبولې شو او دا ددي معني لري چې مستقل علوم ، مستقلې پروسې او مستقل تعاملات او نوري پديدي وجود نلري ،ټول يو تر بله سره علت و معلول اويو تر بله سره انګيزه جوړيږي او مختلف فعاليتونه يواځې په متداخل شکل سره جريان پيدا کوي.

داجهان دخدای دمقضي الامر ارادې له مخې په خارق العاده قانونمند نظم او تناسب سره پيدا دې ، د همدغه ارادې له مخې به په همدغه تناسب او نظم سره پايي اودهمدغه ارادې له مخې خودکفا ء ،خود بقاء اوخود حافظ او ناصر ګڼل کيږي او بل کړه وړه نه مني. انسان يواځې دخپل قدر او اختيار له مخې ددغه مادي جهان په قانونمند معرفت مقدر ، مکلف او موظّف ګرځيدلې دې. فلسفه دخدای دلوې علم انساني ،ذهني،عقلي تراوش او افادي ته ويل کيږي. انسان ديوې خواپخپل عملي ژوند کې ډيرو دقيقو محاسبو ته ضرورت نلري اودبلې خوادخدای دلوې علم په هم زمان او هم مکان ديالکتيکي تحول او تکامل او فلسفي علمي انتګريشن « کلي ،مجموعي وجدي حالت» اوعلمي پروسوي قانونمنده ګلوبال محاسبه باندي قادر هم نه دې ،نو ځکه دضرورت او مجبوريت له مخې دعلومو نسبي ويش اوديفرنسييشن ته قايل اوپخپل عملي ژوند کې د موجوده عملي امکاناتو له مخې په اصطلاح لوټه په اوبو کې ږدې او قدم مختته اخلي او دواقعيتونو او امکاناتو



په عدم موجوديت کې ،ځيني وخت دانحرافي او واهي تيوريو درامنځته کيدو سبب هم ګرځي. «پراتيک معيار دحقيقت دي » ،نو ځکه دمختلفو علومو څخه په نسبي عملي استفادي او تجربي تدريجي اصلاح او دځيني عملي تجربي ضريبونو داستعمال له مخې کيدې شي نسبي دقيقي محاسبې تر سره شي. بشر په همدغه اساس او بنياد مختلف توليدي مرکزونه جوړ اوبې ساري کلتوري فرهنګي زيرمي يي ايجاد اوخپل استهلاکي ضرورتو نه پوره کړي ،چي مونږ عملاً نن ددغه ډول مرکزونو او لاسته راوړنو شاهد يو .ددي لارې دا هم ممکنه ده چي فلسفي عامي تيورۍ هم په نسبي عملي ډول وارزول شي او د فلسفي تيوريو د سترو او غير قابل تصور اشتباهاتو اوغلطيو څخه هم جلوګيري وشي. له ډيره بده مرغه ، دفلسفي علومو پدې دومره اوږده تاريخ کې ، سره ددې چې ډير فيلسوفان ساينس پوهان هم وو ، نه يي دي کړې شوي د تجربي علومو د متودونو او روشونو څخه د فلسفي تيوريو د اشتباهاتو دمخنيوي دپاره عملي ارګانيک او منطقي ډول استفاده وکړي .برخلاف پوهانو دغه روشونه او متودونه کاملاً په ميخانيکي ډول تيوريکي نظرياتي ساحي ته انتقال کړي او په تخيلي او تصوري ډول يي د استقرائي او قياسي لوبود جدل په ډګر کې دتحت الشعور ، فوق الشعور او مابعد الطبيعه ، ماقبل الطبيعه او ديته ورته عنوانونو لاندې يي بې بنياده واهي انحرافي تيوريګاني رامنځته کړيدي.خو دې خبري ته هيڅ ندي متوجه شوي چې په تيوريکي نظرياتي مسايلو کې د يوه ميکرون په اندازه انحراف په ۱۸۰° انحراف بدليدلې شي. د پوهانو دغه ناسم عمل هر چاته دا جرئت ورکړې ،چې په علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په هر ډول قانونمندۍ سترګې پټې او انارشیزم ته حق قایل او حتا ساینس پوهان د فیلسوف د لقب د حاصلولو په شوق په ذهني ایدیالستانو بدل او غواړي د احساساتو د کمپلکس د زیارت ملنګان وګرځي. علومو خپل مستمر قانونمند ماهیت او ارزش له لاسه ورکړي او ځای یې تخیلاتو، اجمالاتو او لفاظۍ ډک کړي، هر سړي د مهملو، مغلقو او بې مفهومو بې معنا افادو دلاري د فلسفه ګرائي جوګه او په حقیقت کې علم د علم په حیث خپل تعبیر او ماهیت له لاسه ورکړېدي. نن هم علمي قانونمندۍ، قوانین، اصول، مقررات، مقاولې، علایم، نښې نښاني او متودولوژيکي روشونه یو له بله سره څوک نه تفکیکوي، او هغې ته یو شان قانونمند حیثیت قایل دي. په همدې علت د هر ځانګړي علم عالم لکه منطق، کلام، متماتیک، ښوونه او ډیرو نورو علومو د اصالتونو له لاري په فلسفي حریم ورننوځي. حال دا چې په اصطلاح په دغه علومو کې باالذاتهِ او في نفسهِ کومه قانونمندي وجود نلري او یوازې د نورو قانونمندیو دافادي وسایل ګڼل کیږي او یا په بل عبارت دغه مقولې او قوانین، د مثال په ډول متماتیک، فزیک، ترمودینامیک او نور یوازې هغه وخت قانونمند علمي ارزش پیداکوي چې د هغې بې ساه ارقام په نورو قانونمندیو کې په حرکت راشي.

د مخه مونږ دې خبرې ته اشاره کړې وه چې انسان د قانونمندۍ ایجادګر نه بلکه یوازې د خپلې پوهې او علم له مخې د هر یو ځانګړي علم معرف ګڼل کیږي. کله چې انسان د خدای عالم خلف په حیث ایجادګر د قانون او جهان نه او سې، د طبیعیونو هغه نظر چې ګوندې دا جهان، قانونمندي او



خلقتونه طبعیت پیدا کړي، هم د منلو وړ نه دي. ټول مسلمانان او بلکه قاطع اکثریت انسانان پدې عقیده دي چې دا جهان خدای پیدا کړې دي. مونږ پدې عقیده هم یو چې دا جهان خدای قانونمند پیدا کړې او قانونمندي شکل د موجودیت د مادې دې. پدې کې هم شک نشته چې د خدای د وجود او عدم وجود په باره کې څوک علمي ثبوتي دلیل نشي وړاندې کولې. ځکه چې انسان په علمي ثبوتي ډول د خدای د معرفت او توصیف څخه د همیش لپاره عاجزدې. خو د هغه څه په منلو مکلف دې چې د خدای په کلام کې یې ذکر شوې او د خدای د خارق العاده خلقتونو له مخې یې باید شک په یقین بدل او په خپل خدای ایمان ولري. ځیني کسان د ناپوهۍ، جهالت او یا کبر او غرور له مخې د خدای څخه منکریږي. هغومره چې د خدای د موجودیت د پاره بې شمیره دلایل وجود لري، د عدم موجودیت په باره کې یو هم نه په سترګو کیږي. مونږ دلته د علم، قانونمندۍ او منطق څخه بحث کوو چې د هر معقول او باشعوره انسان لپاره باید قابل د قبول اوسې او یا یې په مقابل کې همداسې علمي، قانونمند منطقي دلیل ولري.

دې کې شک نشته چې د علومو په ټولو قانونمندیو، محاسبو، تفکیک، انتګریشن او دیفرنسییشن باندې پوهیدل د ټولو لپاره اسان کار نه دې خو پدې خبره هرڅوک په اسانۍ پوهیدلې شي چې نپوهیږي. پوښتنه پیدا کیږي. ولې پدغسې مواردو کې یو عالم انسان چې د موضوع په اهمیت او پدې هم پوهیږي چې نپوهیږي او بیا هم په اصطلاح تجاهل العارفانه د خپلې ناپوهۍ او بې منطقه منطق څخه نه تیریږي او ارجحیت ورته قائیلیږي. نن بشریت د عقل او شعور د بلوغ لوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افقونو ته رسیدلي ،علم او تخنیک فوق العاده پرمختګ کړي ،د شپږ ملیاردو څخه زیات انسانان د ځمکې په مخ ژوند کوي ، ټول غواړي د ټولو د پاره منلي او قابل قبول قوانین او د ښه سولئیز ژوند ښه شرایط ولري.لکن تر اوسه پوري پدي ندي قادر شوي حتا پنځه ماده یي یو ډیر ساده قانون جوړ کړي چې پخپله یې مراعات کړې شي.روسي تزار چې هم حاکم ، هم قاضي ، هم حافظ او هم مجري د قانون وؤ ، ویل به یې «قوانین، عبث لیکل کیږي ، کله چې یې نه مراعتوي» .

برخلاف خدای دا لوی جهان او ټول خلقتونه په قانونمند همزمان ستاتیک دینامیک دیالکتیکي تحول او تکامل پایداره حالت سره پیدا کړي او د ذرې په اندازه تغیر چې مرزي یې نه وې ،په کې نشي راتلای او هر څه به د قضاء او قدر د قانون مطابق په متناسب او متعادل ډول د نظام او قانونمندۍ سره سم ابدي پایداره پاتې وي . پوهان وایي د انسان مغز د پنځلس ملیارده عصبي ریښکیو او خدای خبر څومره حجرو څخه جوړ دې.په هره حجره کي ۲۳ جوړي کروموزومه او DNA او RNA وجود لري . که چیرې د مقدراتو د حدودو څخه د کوم باغي انسان د سرکشۍ په نسبت یو کروموزوم یعني Trisomi 21 د نظام

په خلاف تغیر وکړي ، د دغه باغي انسان جزا به د وراثت د بې حسابه هر اړخیزي پایداره قانونمندۍ سره سره په ارثي مونیزم بدلیدل یعني د Mongoloid په زیږیدو منتج شي . همداسې که چیرې د ځیني باغي انسانانو څخه شعوري بغاوت یعني رادیو اکتیف ،مخدرات ، مسکرات او یا بل کوم ډول سرکشي سر ووهي . د بدن معفیتي او مقید تړلي قانونمند نظام رنګ



،نورمال حجرات یاغي او د نن ورځي په کچه د کریبس بلا پرې نازلیدل حتمي دي.

په پورتني مثالونو کې مونږ ولیدل چې مسایل او قضایا څومره په سادګۍ او بې مسؤلیتۍ سره مطرح کیږ ي خو ریښتیا یې تر کومو ژورو پوري ځغلي او بشریت د څه ډول لویو لا علاجه بدبختیو او ستونځو سره مخامخ کولې شي. خو دغه کارونه د ځیني کسانو لخوا عمداً د خپلو شومو اعمالو او نیتونو د پلي کولو په خاطر تر سره کیږي. همدلته د فلسفي او ځانګړو علومو د دیا لکتیک غوټه تړل کیږي او د مشترک استلزام تعلق او ضرورت ختمه برابریږي. د تیورۍ او عمل د متقابل استلزام په باره کې ویل کیږي چې «عمل د تیورۍ په نشتوالي کي ړوند او تیوري چې عملي بڼه ونلري ،بې مفهومه ده» فلسفه او ځانګړي علوم هم دغه شان متقابل موقف او ماهیت لري «فلسفه پرته د ځانګړو علومو تجربي ثبوتي برهان او دلیل نشي لرلې او د فلسفي لارښوونو پرته د ځانګړو علومو روانیدل د ګمراهۍ په لار حتمي دي» .

د مقضي او مقدرې ارادې په موضوع او دهغې د متقابل استلزامیت او د شعور او لاشعور د دیالکتیک په قضیه کې مونږ وکولې شول د خالق او دهغه عالم خلف مخلوق یعني انسان د ارادو مختلف فلسفي اړخونه او ځیني نور اړونده فلسفي مسایل فورمولبندي او عامه اذهانو ته وړاندې کړو . که د مادې او شعور د مسلې فورمولبندي ، په طوفاني هوا کي د همالیا د ایورسټ په څوکه آوؤختل وؤ ،نو د شعور او لاشعور دیالکتیک یا د خالق او مخلوق د ارادو مناسبت او د خدای د خلیفه په حیث د انساني امکاناتو فورمولبندي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکهکشانونو د سیر وسفر او تسخیر څخه کم نه وي . پدې ترتیب مونږ وکولې شول د خدای ، جهان او علم یعني انسان د دري ګوني متقابل مناسبت اساسي مسایل دعملي قانونمند منطق له مخې فورمولبندي او دعملي استفادي طریقې او امکانات په ګوته کړو . پدي ساحه کې نوي فلسفي ادبیاتو ، نوي ترمنولوژۍ ، نوي فورمولبندیو ، نوو تیوریو او وضاحتونو ته ضرورت لیدل کیږي. باید عامه ذهنیتونه لومړي پدې معتقد او بیا دعملي استفادې د لارو چارو سره اشنا شي. پکار دادي دخدای دلوی علم له مخې د خدایي خلقتونو د اساسي مسایلو په میخانیکیتونو او ذات البیني تفاوتونو ،چې په عملي ژوند کې یې نن ستر پرابلمونه رامنځته کړي بنیادي فلسفي بحثونه وشي. یو له دغه مسایلو څخه دنظام او نسل دبقاء او دمختلفو خلقتونو د پیدا ایښت مسّله ده. خدای ټول خلقتونه دنظام دحفاظت په خاطر په ټولو اوصافو ، ټولو خصلتونو ، علاقمندیو او امکاناتو سره مختلف او متفاوت پیدا کړیدي. یو په هوا ،بل په ځمکه ،دریم په اوبو کي ژوند کوي. یو ګلان بویوي ، دګلانو شیري ټولوي او پري تغذیه کیږي. دوهم ټول سروکار دچټلۍ او کثافاتو سره لري. یو غوښې خوري ،بل وابښه خوري او دریم له هیڅ شي څخه کرکه نلري. یو شات او شکري ټولوي بل زهر او دریم بل څه. یو ځان غواړي او بل د جهان سره علاقه لري ادغه ټولې چارې د خدایي عبادت او بندګۍ په واسطه تنظیمیږي اوهمدغه دخدای دین ، طریقت او شریعت ګڼل کیږي.

هو ! همدغه د جهان ،نظام او خلقتونو د پیدا ایښت ،پایښت لار او چاره ده. خدای همداسې ټول خلقتونه دمقاومت



،معافیت او وقایوي امکاناتو له مخې مختلف پیدا کړیدي تر څو هرڅوک د ځاني خطر له مخې پا بند دنظام اوسي . ملائکو عبث تشویش نه درلود چې ددي باشعوره انسان پیدا ایښت به دبغاوت او فساد منبع وګرځي . سره ددې چې په لوی جهاني نظام کې د نظام دحفاظت او حراست ټولې لارې چارې پیشبیني شوې او هر څه د قضاء او قدر د عام قانون او دخدای د ارادې له مخې جریان لري او یواځې انسان د بغاوت له مخې د خپل نفس قانون مني اودا لوی جهان یې د نابودۍ د خطر سره مخامخ کړېدې .

د نظام دحفاظت په خاطر د خلقتونو د جنس ،نوع ، صنف ، افرادو او نسلونو د پایداره تواتر مسّله ډیر ارزش او اهمیت ور ګڼل کیږي . دمخه مونږ د یوې حجرې دننه د یوه کروموزوم په تفاوت ولیدل چې څه ډول د وراثت هر اړخیز پایدار سیستم رنګیږي او په ارثي مونیزم باندي بدلیږي. او علت یې هم یواځې دعامو قوانینو څخه د باشعوره انسان سر غړونه وه. که چیرې د قضاء او قدر او جبر او اختیار عام قانون له مخې په مستمر شکل سره تناسب او تعادل ته د مواد و د بازګشت سلسلي وجود نه درلودې ،پدي جهان کې به هیڅ خلقت ،پدیده ، وضعه او حالت پایداره نه وي پاتې او عام سراسري انارشیزم به جریان درلودې. زه غواړم د خلقتونو دجنس ،نوع او نورو سلسلو د بقاء په مسّله د تولد او تناسل د عواملو داهمیت له مخي بحث وکړم .

د تولد او تناسل بقاء ځکه پایداره پاتي او لا دوام لري چې خدای دهغې بنیاد په مینه ،محبت ، وفادارۍ ،صداقت ،عطوفت ،فداکارۍ او داسلام په مبین دین کې د نراو ښځي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ د سيال کفائت او پاک عقيدت په اصولو بناء کړيدي. مينه هميشه پاکه او مقدسه ده. مينه د هرچا او هر خلقت شخصي ملکيت او د هر ډول تعرض ،تصرف او سوء قصد څخه مصؤنه ده .مينه يواځي په مينه بدليدې شي. مينه مقدس ارزش دې ،متاع او کالي نه دي ، خرڅ يي ناروا او په قطعي ډول ممنوع دې. هغه څوک چي مينه خرڅوي ځان خرڅوي. هغوی چې د مينې په ارزش نه پوهيږي ، هغوی ټيټ ،ناپوه او بدبخت انسانان دي. حيوانات ، الوتونکي او خزندي مينه نه خرڅوي او يواځي د خپل سيال کوف د مينې په بدل کي يي د نسل او نوع د بقاء د مقدس مقصد او ارمان په مقابل کي وړاندي کوي. هغوئ مقاربت ، مجامعت او د مينې شريکي يواځې او يواځې د نسل د بقاء د مقدس ارمان په خاطر کوي. په غير صورت کي ډلي ډلي حيوانات ، الوتونکي او خزندي يوځای ګرځې، خو هيچا به د هيڅ يوه څخه بې نزاکتي نه وي ليدلي. خو کله چي د مقابل لوري د نسل د بقاء علايم احساسيږي ، هر يو په لومړۍ درجه مقابلې ته حاضريږي. يواځې انسان دې چې ټول مقدسات او ارزښونه يواځې د سرمايداري سود او زيان ،هوا و هوس او شهوت په کنډه پيمانه کوي او نور ټول ارزښونه ورته بې ارزښه ښکاري. که چيري د مينې مقدس ارزښونه او ايدیالونه او د نسل د بقاء پاک ارمانونه په پام کې نه وې ، خدای د نسل د مقدساتو په بناء تناسلي سيستمونه ، تناسلي الات څومره مصؤن او له بله پلوه څومره آسيب پذيره پيدا کړي او څومره يي د مينې ،محبت ، عطوفت ،صداقت ، شرم ،حياء او سل و زر نورو قيوداتو په پردو پوښلي او د متفاوتو معفيتي ، مقاومتي ، وقايوي ،او ډيرو نورو خطرونو په حلقو مقيد



ګرځولي ، بيا هم باغي انسان د دغه ټولو انګړونو څخه د بې حيايياو بې شرمۍ ډګرته ووځي او په بې شرمۍ سره حتا د هر روا او ناروا ،وقت و ناوقت حيوان او انسان او بل هرڅه مقاربت او مجامعت څخه ډډه نه کوي او ځان او ټول نسلونه د تباهۍ د خطر سره مخامخ کوي . نن د همدغه بې مسؤليته اعمالو په نتيجه کي يواځی د څلويښت مليونو انسانانو څخه ډير زيات د ايدز په مرض اخته انسانان د مرګ او ژوند په پوله د بدبختۍ ، رنځ او درد مايوسانه شپې ورځې تيروي .

د تأسف خبره داده چې ځينې ځان غوښتونکي کړۍ دغه ډول تباه کوونکي پروګرامونه ، ځانونو د پاره د تنفس د ساحې د فراخولو په خاطر عملي کول غواړي . هغوی عمداً علوم ، قانونمندۍ او تيورۍ تحريفوي او عام بشريت د حماقت په لور کشوي . يواځې فلسفه او فلسفي اصالت دې چې علومو او عام بشريت ته د دغه ډول ګمراهۍ څخه نجات ور کولې شي.

د پورتني بحث څخه دا ډول نتيجګيري کولې شو :

ـــ دا جهان واحد او تړلي نظام او ديوي کوچنۍ ذري په اندازه حرکت پکي محسوس دي ؛

ـــ پدي جهان کي ځانګړي علوم وجود نلري او ټولي قانونمندۍ ،پروسې او تعاملات همزمان او هم مکان په متداخل ډول پيښيږي ، جريان لري او د مختلفو خلقتونو د زيربندي ،پايښت ،تحول او تکامل انګيزه او علت و معلول جوړيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فيثا غورث د متما تيک اصالت او د عېنيت د فلسفې نظر

داسې ويل کيږي چې د فيثاغورث څخه ليکلي اثار ندي پاتې خو د هغه هندسي قضيه (په يوه قايم الزاويه مثلث کې د وتر مربع مساوي کيږي په مجموع د مربعاتو د دوه نورو ضلعو) ډېره مشهوره ده.

ځيني کسان فيثاغورث د فينيقيه د خلکو څخه ګڼي او وايي چې ګونډې په صور کې پيدا شوېدې. ځيني نور هغه د ساموس اهل ګڼي چې د پولوکراتس د ظلم څخه يې خپل وطن پريښود او صقليه ته په ٥٣٢ ق.م کې مهاجر او د کروتون په ښار کې يې سکونت اختيار کړ. فيثاغورث څرنګه چې په تناسخ يعنې داچې روح ديوه جسد څخه بل جسد ته ځاى بدلوي، عقيده درلوده، نوځکه يې د حيواناتو غوښې او د ځيني حبوباتو خوړل او د پوستکو په خاطر د حيواناتو قرباني کول په ځان حرام ګڼل. فيثاغورث د مذهبي او سياسي ډلې مشري کوله چې د تقوا او صداقت له مخې سره راټول وو او د فيثاغورث د رهنمايي لاندې



يې د رياضي، علم النجوم، موسيقي، طب او نورې زده کړې کولې او څه يې درلودله د دولت چارې عالمو کسانو ته په لاس ورشي.

فيثاغورث د متماتيک اصالت دا ډول افاده کوي «عدد د ټولو کائناتو اصل دي.»(تاريخ فلسفه در جهان اسلام ص ٣٣ ) فيثاغورث پخپل دې قول کې ځکه زه حق په جانب ګڼم چې ټولې قانونمندۍ يواځې د متماتيک په ژبه په دقيق او علمي شکل سره افاده کيدلې شي.

کله چې زه د ننګرهار دليسې په يوولسم ټولګي کې ووم صاحب الدين خان د ننګرهار د ښوونې او روزنې مدير او زمونږ د الجبر استاد وو. د افغانستان د هغه وخت د معارف د تعليمي نصاب له مخې به په يوولسم ټولګي کې دوهمه درجه الجبري معادلې تدريس کيدلې. کله چې استاد ټولګي ته راغې او د لومړي ځل لپاره يې د $ax^2 + bx + c = 0$ معادله يې په تخته وليکله. څرنګه چې ما د پاره نا اشنا معلومه شوه. سمدستي مې ترې پوښتنه وکړه. استاده! پدې خو پوهيږم چې جمع، تفريق، ضرب، تقسيم، ربح، تناسب او نورود رياضي مسايلو او فورمولونو څخه څه ډول او په کوم ځاي کې استفاده وکړو. پدې خبره پوه نشوم چې ددې معادلې څخه به څه ډول او په کوم ځاي کې ګټه اخلو؟ استاد په ځواب کې وويل. که چيرې ددې معادلې د مختلفو سيستمونو، طاقتونو، مختلف تعداد، مشتقاتو، انتګرالي او ديفرنسيالي حالتونو په حل بريالي شو، مونږ د پاره به ددې جهان د ټولو حوادثو او واقعاتو د ماضي، حال او مستقبل څخه خبريدل کوم مشکل کار نه وي.

د غه جملې زما په مغز کې لوی بحران را ولاړ او نور په هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه نه شوم. اضافي پوښتنه مې هم ونکړه ځکه چې راته بې ځایه معلومه شوه او بې له هغې به پرې نه وې پوه شوې. کله چې په دولسم ټولګي کې دانتګرال او دیفرنسیال سره څه نا څه اشنا شوم، په MPCB کې مو دغه معادلات یوڅه مفصل ولوستل او کله چې د پخواني شوروي اتحاد داکراین جمهوریت ته تحصیل لپاره ولاړم او هلته مې دغه مسایل په مفصل ډول ولوستل، یوائې هلته زه پدې خبره پوه شوم چې متماتیک رښتیا هم څه ډول معجزې کولې شي او په لومړي سطحي نظر کې سړي ته داسې ښکاري چې ګوندې په رښتیا هم ددغه اصالت جوګه ګڼل کیږي. بې مورده به نه وي که د همدې خبرې د تائید په خاطر د یوې بلې خاطري ذکر وکړم.

داکراین په جمهوریت کې ددرې میاشتې روسې ژبې لوستلو څخه وروسته ځینې نور عمومي مضامین لکه متماتیک، فزیک، کیمیا، موادشناسي او نور شروع شول. د مواد شناسۍ مضمون یوه پروفیسور درس راکاوه او مونږ دپاره نااشنا مضمون ووچې د موادو د اتمي، مالیکولي پنجرو او داخلي عمومي جوړښت څخه یې بحث کاوه. پدې مضمون کې به زما اود استاد تر منځ همیشنۍ شخړه پیښه وه ځکه چې مضمون مشکل وو، ما پرې ځان پوهول غوښتل او دفلزاتو او غیر فلزاتو او دهغوۍ دمرکباتو د اتمي او مالیکولي جوړښتونو د پنجرو او په مختلفو مدارونو او هسته کې د پروتونونو او الکترونونو موقعیت او تناسبونو او په مختلفو حالتونو کې د هغوۍ د مختلفو وضعیتونو توضیح د هر استاد لپاره هم اسان کار نه وو. همیشه به مو یوبل ته سره قناعت نه شو ورکولې. یوه ورځ کله چې درس ته راغې او دهمیش په



شان شخړې دوام پیدا کړ، په اخرکې یې راته وویل. زه درته یو پیشنهاد لرم. زه ورته غوږ شوم او په دوام یې راته وویل. راشه چې زه او ته په همدې مضمون کې دډاکترۍ دپاره کار شروع کړو، مخکې له دې چې دانجنرۍ دیپلوم واخلې دډاکترۍ دیپلوم به ترلاسه کړې او په عین وخت کې به ددوه دیپلومونو خاوند شې. زه هم ډیر خوشحاله شوم خو کله چې مې دوطندارانو سره مصلحت وکړ. ځینو وویل چې روسي ژبه ډیره سخته ده. ددواړو کارونو پر مخ بیول به درته مشکل شي او مونږ وینو چې ته د طلایي د مدال اخستلو لپاره اماده ګي لرې، په دې کار هم بیا نه شې بریالې کیدلې. یوه تن لا راته وویل مونږ غواړو ځان ناکام کړو چې یو کال موزیات شي. لنډه داچې ددغه کار څخه مې صرف نظر وکړ. ددې اوږدې کیسې څخه زما مطلب داوو، کله چې ما دیپلوم دفاع کړ او د سالون څخه راووتلم. تصادفي ددروازې مخې ته همغه پروفیسور دیوه بل استاد سره ولاړ وو. تبریکي یې راته وویله او هغه پروفیسور زیاته کړه، که زما خبره دې منلې وې. اوس به دې دوه دیپلومه په جیب کې وې. ما ورته وویل. هغه خبرې خو تیرې شوې. اوس به راته ستاسې مشوره څه وي؟ دوۍ دواړه یو هم دمتماتیک استاد نه وو. یو دمواد شناسي او بل دآیرو دینامیک استاد وو. دواړو غیر ارادي همزمان په یو اواز وویل. که وخت دې پیدا کاوه، متماتیک لوله. او زه یوځل بیا دمتماتیک عظمت او اهمیت ته متوجه شوم. نوفیثاغورث او دکارت دواړو چې دمتماتیک اصالت په ټولو علومو باندې برقرارول غوښتل هم ډیر به ملامته نه وو.

متماتیک دټولو قانونمندیو دافادې ژبه ده. ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانونمندۍ که شعوري دي ،که ټولنيزي او که طبيعي ـــ ميخانيکي دي دمتماتيکي قوانينو په مرسته قابل دافادې ګڼل کيږي. هغه وخت به ډير ليري نه وي چې په اصطلاح دغه بې شعوره موجودات يو دبل دحال په ژبه سره پوه او مونږ دپاره ترجمانان جوړ شي. نن دانسان په واسطه جوړ شوي جوړښتونو او ميخانيکيتونو وجدي حالت بلا کوي ،دسترګي درپ په ميليونمه زرۍ کې ميليونونه عمليات اجرا کوي ،فکر کوي ،سنجش کوي او باور لرم ډير زر به دمختلفو پديدو تر منځ لکه ځرنګه چې دموادو تبادله موجوده ده داطلاعاتو او معلوماتو تبادله به هم جاري او دحال ژبې به ګويا شي .

هو !دمتماتيک په وسيله با شعوره او با کلتوره انسان داهرڅه کولې شي. هغه څه چې دنه کيدو دي ، هغه په ټولو قانونمندیو دمتماتيک دعلمي اصالت برقرار يدل دي. او داځکه چې متماتيک بالذاته او في نفسهِ عاري دقانونمندۍ څخه دي. دمتماتيک ارقام اوَ اعداد ترَ څو چې په بله قانونمندۍ کې په حرکت رانشي مړه دي او هيڅ شې نشي افاده کولې. له ډيره بده مرغه فيثاغورث او حتا دکارت ټوله لوبه په مړو ارقامو او اعدادو سرته رسولې او غوښتل يې همدغه بې مفهومه او بې مضمونه لوبه دعملي فعاليت په ټوله ساحه حاکمه کړي ، چې البته محصله به يې صفر وي. مړه ارقام او اعداد ګونګي بلاګاني دي ، هيڅ شي نشي افاده کولې او حتي دالهام ژبه يې هم ګونګه ده. دمثال په ډول فيثاغورث ليکي «عدد يا فرد است يا زوج .فرد عدد محدود کامل است وزوج عدد نامحدود وناقص...» اويا مثلاً «عدد سه ،با مکان که داراي سه بعد است تطبيق ميکند ،(دا خبره سمه ده ځکه چې



مکان درې بعده لري ) وعدد پنج باصفت ،وشش با رطوبت وهفت با عقل ونورو صحت ،وهشت با عشق وصداقت،ونه با تفکر در امور ،وده که محتواي همهً اين اعداد است،صاحب طبعيت الهي است ومطابق است با ترکيب عالم وجود که محتواي همهً اشياً است.» (تاريخ فلسفه در جهان اسلامي ص۳۴و۳۵ ) . دغه اعداد او ارقام د پورتنيو مفاهيمو سره هيڅ ډول ارتباط او مناسبت نه لري. د متماتيک په واسطه دا ډول افادي ناسم او دمنطق څخه ليرې کار معلوميږي.

هو ! سمه خبره داده چې متماتيک نه بالذاتهِ دعلومو داصالت جوګه او نه اصل دټولو کائناتو دي. دکائناتو اصل او بنياد حرکت او قانونمندي ده او دغه دواړه دماديت مستلزم او خداي دا لوي مادي جهان دخپل لوي علم داصالت او رسالت معرض ګرځولې او خپل عالم خلف بنده يې بالوسيله دهغي په معرفت مقدر مکلف ګرځولې دي. په متماتيک کې نه ماديت شته او نه قانونمندي ،نو ځکه داصالت رسالت هم نشي ايفاء کولې.خو متماتيک دقانونمندۍ دافادې وسيله او ژبه او دذهن نور دي چې دهرظلمت څخه تيريدلې او قانونمندي په قانون بينو سترګو « دذهن په سترګو » ليدلې شي.

شک نشته چې فيثاغورث دهغه وخت په امکاناتو سره ندي کړې شوي ځيني قانونمندۍ ووينې ، ليکن دمتما تيک د قانونبينو سترګو نظر يې لاهغه وخت په فلسفي علم لګيدلې وو او ګورۍ په څو پورتنيو جملو کې يې څومره عالي علمي مفاهيم او مقولې افاده کړيدي. خو کاشکي دغه کار نه دساده ارقامو او اعدادو بلکه دمتماتيکي معادلو په واسطه صورت نيولې وې . که ما هم ددې ستري قانوني اشتباه او ګناه څخه ډار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه درلودې او ستر ګې مې پرې پټولې شوې نو زه به هم دمتماتيک اصالت ته قايل او منلې به مې وې.

دمتماتيک اعجاز هغه وخت څرګنديدلې شي چې دالکتروليت په انبيق کې دآيونيزيشن عمليه شروع او آيونونه دمثبت او منفي قطبونو په لار کې دمتماتيکي معادلو پواسطه ګوټ په ګوټ تعقيبيږي. او يا دکيمياوي ويلانسونو دقانون له مخې کيمياوي تعاملات دترکيب او تجزيې په پروسه کې دمتماتيکي معادلو پواسطه افاده کيږي او تعقيبيد لې شي.

دا مسايل هغه وخت لا ددلچسپۍ وړګرځي چې يو آيرو بوس دځو سوه ټنه بار او په سوونو مسافرينو په بارولو سره دځمکې ديوه قطب څخه تر بل قطب پورې ، په مختلفو مترولوژيکي شرائطو او دجغرافيايي څلور فصله زماني يو کلن واټن لار دوريځو ، بوربورکيو ،ګردبادونو او طوفانونو په ټيل ناټيل کې دټولو آيرودينااميکي اودالوتني ددينااميک ټول تاثيرات او تاثراتو سره په څو ساعتونو کې وهي ، يواځې متماتيکي ديفرنسيالي او انتګرالي معادلې دهغوی دمشتقاتو سره دغه محاسبه په دقيق ډول افاده کولې شي. اويا ټول کيمياوي تعاملات ،دمثال په ډول دشکري ،امينو اسيدونو ،کاوچوک «ربړ» ،پلاستيک اويا نورو کاربوهايدريدونو ځنځيري تعاملاتو سلسلې چې په حقيقت کې ددې لوی مادي جهان قانونمند بنياد جوړوي ،يواځې او يواځې دمتماتيک پواسطه کيدلې شي افاده او محاسبه شي اوبس. ليکن ددې ټولو امکاناتو په لرلو سره بيا هم متماتيک ددغه قانونمنديو مادي بنياد او اصالت نشي ګڼل کيدلې !



# د دکارت درياضياتو اصالت د عېنيت دفلسفي له نظره

د فيثاغورث درياضياتو او بلکه په مجموع کې درياضياتو داصالت په باره کې مونږ دموضوع په مختلفو اړخونو بحث وکړ.او پدې متيقين شو چې متماتيک له کومه حيثه اصالت لرلې شي اوله کومه حيثه يې نشي لرلې. مونږ وويل چې متماتيک دهر علم دقانونمند ديناميزم د افادې ژبه ده خو دهيڅ ډول قانونمندۍ اصل اوبنياد نشي جوړولې او نه داصالت بار رسالت په غاړه استلې شي . په ستاتيزم کې اصلاً قانونمندي وجود نلري. ستاتيزم نسبي مفهوم دی. مونږ فکر کوو ، دځمکې په سر چې مونږ ژوند کوو ولاړه ده ،حال داچې دلمر ګرد چاپير ۳۹۰۰۰ کيلو متره په يوه ثانيه کې انتقالي سرعت لري .او په ۲۴ ساعتو کې يو وار په خپل محور چورلې يعنې وضيعي دوراني سرعت او حرکت لري . متماتيکي ارقام او اعداد باالذاتهِ حرکت او ديناميزم نه لري او يواځې هغه وخت په حرکت راځي چې کومه قانونمندي افاده کړي او يا لا اقل په اواز بدل شي يعنې وويل شي ،يو ،دوه ،درې او... .

ددکارت فلسفه «فکر کوم پس وجود لرم» . که دا خبره دې ته واړوو چې قانونمندي شکل دموجوديت دمادې او ماده يواځې په قانونمند شکل سره وجود لرلې شي ، نو دا افاده هم منلې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دقیقه ده. خو دکارت د ذهني ایدیالست په حیث د سقراط او افلاطون د «مُثُل» د متا فزیکیت ،مابعد الطبیعیت او ما قبل الطبیعیت فلسفي سره قرابت لري چې د هغې د قانونمندۍ څخه په عالم الاسباب کې انسان اګاهي نشي حاصلولې او د انسان لپاره د غه نظامونه مسخر او مقدر نه ګڼل کیږي او دکارت په هغه قانونمندۍ چې پورته ما ورته اشاره وکړه ، اصلاً باور او عقیده نه لري نو ځکه د دکار پورتنۍ مقوله « فکرکوم پس وجود لرم» ، مونږ نه پوهیږو په کوم دلیل ، کوم بنیاد او کومې قانونمندۍ له مخې یې لیکلې ده ، سمه نه ده او نه د دکارت ذهني ایدیالیستي عقیده ،متافزیکیت او مابعد الطبیعیت د دې جوګه دې چې د غه ډول قانونمند مفهوم افاده کړې شي . دکارت خو باید دیوه ریاضیدان په حیث پدې پوه شوې وای چې د معرفت پروسې یواځې د «د فکر کولو »څخه نه شروع کیږي، متماتیک د قانونمندۍ افاده ده او قانونمندي بالذاتهِ پروسه ده ،دینامیزم دې او حرکت دې او د دې هر څه معرض مادي موجود او بلکه دا ټول اشکال د موجودیت د مادې ګڼل کیږي. شک نشته کله چې دکارت د تحلیلي هندسې په متماتیکي افاده باندې موفق شو ،فکر یې کاوه چې ،د ټولو علومو د پاره یې واحده قانونمندي اختراع کړې چې هغه متماتیکي قانونمندي ده او هر څه باید د متماتیک د حاکمیت لاندې راشي. او په پوره جرئت سره یې ویل: «تنها معرفت ریاضی است که می توان نام معرفت بر آن نهاد. و ازینجا بدین نتیجه رسید که:در واقع حساب و هندسه نه فقط تنها علومی هستند که باید به مطالعهً انها پرداخت بلکه در پژوهش برای یافتن شاهراه حقیقت نباید خود را به چیزی سرګرم نمود که نتایًج آن در قطع



ویقین از نتایًج حاصل از براهین حساب و هندسه کمتر باشد » (نقد تفکر فلسفی غرب از قرون اوسطی تا اوایل قرن حاضر ص.۱۰۸. )

حال دا چې هندسه تش د بې محتوا مکان مقوله او افاده نده په کوم څه چې دکارت عقیده لري . دکارت هندسه د مادي واحد د خارجي شکل په حیث پیژني . د مادي واحد خارجي شکل او هندسه هر ډول جوړیدلې شي او د غه ډول هندسي اشکال یواځې په ځانګړو حالاتو او مواردو کې د مقاومتي اهدافو او دیکوریشن پرته بل کوم ارزش نشي لرلې یعنې چې د جهان د تکوین په جوړښتونو کې یا قطعاً رول نه لري او یا ډیر کم رول لوبولې شي.د کومې هندسې، شکل ،صورت او مکان په باره کې چې بحث دوام لري هغه د هر عنصر ، هربیولوژیکي ، کیمیاوي ، فیزیولوژیکي او نورو مادي واحدونو د پاره کاملاً مشخص او ثابت ګڼل کیږي. همدغه مکان او صورت مونږ شکل د موجودیت د مشخصي مادې ،عنصر ، کیمیاوي ، بیولوژیکي او نورو مادي واحدونو بولو او پرته له هغې ، ماده ممکنه نه ده چې وجود ولرلې شي . همدغه ځانګړې جوړښتونه خدای د دې لوی جهاني نظام د بنیادي خښتو په حیث پیدا کړې دي او همدغه ځانګړي جوړښتونه د دې لوی جهان د ابدي پایداره پیدایښت او پایښت متضمن ګڼل کیږي. په دغه ډول نظام کې د یوې کوچنۍ ذرې په اندازه نقص د نظام په نقص بدلیدلې شي. د مادي واحد خارجي هندسه چې دکارت د هغې څخه بحث کوي او یاد ارسطو له بحثونو څخه مونږ ور سره اشنا شوي یو او یا نن هم چې ځیني فلسفي تیورۍ هغې ته ورته عقیده لري، د هغه هندسې سره چې مونږ پري بحث کوو کومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنیادي اړیکي نلري بلکه بنیادي تفاوتونه سره لري. شک نشته چې د ځیني مادي واحدونو خارجي هندسه هم کله ناکله د ددغه داخلي هندسي جوړښتونو له مخې یو شان خارجي بڼه غوره کوي او په اکثره حالاتو کې لکه الماس دخاص ارزش لرونکې خارجي کریستالي بڼه غوره کوي. په همدې ډول مونږ د زمرد ،کانسیت ،شیشي ،مالګې ،شکرې او ډیرو نورو دنومونو سره اشنا یو . دکارت هڅه کړې همدغه هندسه د خپل مادي ارزش څخه بې ارزښه او له منځه یوسي او په تحلیلي ذهني متماتیکي معادلو یې بدله کړي او بالاخره د ټولو علومو ، ټولو قانونمندیو څخه مادي محتوا وباسي او دمتماتیک په مړو ارقامو یې واړوي.ځکه پرته له مادي ارزش څخه حرکت وجود نه لري، قانونمندي وجود نه لري ،علم وجود نه لري او په عالم الاسباب کې د خدای د مقضي ارادې له مخې هیڅ قانونمند وجود او شئ د افادې لپاره وجود نه لري ، یعني چې د دکارت علم اصلاً وجود نه لري. د مادي ماهیت پرته هندسه او مکان او دمشخصي هندسې،صورت او مکان څخه خارج ماده وجود نشي لرلې. یوائې ماده او هندسه دواړه په متمم او مکمل حالت کې د مادي قانونمند موجودیت لازمي او کافي شرط ګڼل کیږي او یوائې پدې صورت کې هم ماده او هم هندسه دواړه قانونمند ماهیت ، محتوا او مفهوم پیداکوي .مکان او ماده جدا ناپذیر دي . یو دبل په عدم موجودیت کې نه وجود لرلې شي ، نه مفهوم او نه ارزش . ماده په معین مکان او معین قانونمند وجدي حالت کې قرار لري او مکان او قانونمندي دواړه اشکال د موجودیت دمادې دي. مونږ ته دبیولوژي ، فیزیولوژي او مواد شناسۍ څخه پوره معلومه ده



چې هر دغه ډول مادي ترکیب او مادي واحد مشخص او ټاکلې حجروي ،اتمي او مالیکولي جوړښتونه لري خو یوتر بله سره متفاوت او متباین دي . همدغه ټاکلي هندسه دحیه او غیر حیه موجوداتو دژوند ، تکامل ، بقاً او مقاومت دوجود لپاره بهترین شرائط برابروي او پرته له دغه موجوده هندسې څخه بې له شکه دهغې په ټولو کیفیتونو او کمیتونو کې نیمګړتیاوې رامنځته کیږي. د شلمې م پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې لا پوهانو هڅې پیل کړې چې خصوصاً دفلزاتو ایدیال هندسي مودلونه جوړ کړې. ځکه پدې صورت کې دهغې مقاومت په کافي اندازه زیاتیدې شي او ددې په عوض چې دیوه موټر د اکسل قطر د لس سانتي مترو په اندازه جوړکړي ،کولې شي د پنځو سانتي مترو په اندازه جوړشي. دا کار دهوایي صنعت لپاره په خاص ډول زیات ارزش لري.

دکارت د هندسې او صورت په باره کې نظریات د ارسطو څخه تقلید کړیدي . هغه غوښتل په فلسفه کې د ارسطوځای ونیسي نو ځکه یې دهندسې او شکل په باره کې ارسطوته ورته نظر درلود . ددوی دواړو نظر ډیر سطحي او په زیات احتمال دوئۍدواړو ته هغه داشیاوؤد خارجي شکل په حیث دارزش او توجه وړ وو . دوی هندسه یوائې د مادي موجودیت په خارجي صورت کې تصور کولي شوه او د داخلي حجروي ،اتمي ،مالیکولي او نورو جوړښتونو او دهغې اهمیت او ارزش څخه بې خبره وو . حال داچې داشیاوؤ خارجي شکل دومره دارزش وړ نه ګڼل کیږي ، ځکه خارجي شکل ته هرډول چې انسان وغواړي تغیر ورکولې شي او دا یوائې داخلي جوړښتونه دي چې تقریباً همیشه ثابت پاتې کیږي او که چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول تغیر رامنځته شي ، پخواني مادي واحد به په خپل پخواني کمیت او کیفیت هیڅکله پاتې نه شي. ددوی نظر ددواړو دویناوو څخه په څرګند ډول معلومیږي. دمثال په ډول ارسطو وای:«هرشیئ مجموعه ای از «صورت»و «هیولا » است.صورت حقیقی است که از مادهً خامی بنام هیولی پدیدار شده است:وخود این صورت به نوبهً خود مادهً صورتی عالیتر وبرترخواهد ګردید (دیوې خوا ارسطو صورت او ماده سره جدا کوي خو سمد ستې اضافه کوي چې صورت حقیقي دې اود خامې مادې څخه چې هیولي نومیږي تشکیل شوېدې او پخپله دغه صورت پخپل نوبت دبل عالي تر او برتر صورت ماده جوړیږي ) .مثلاً انسان بالغ صورت فعلی کودک است وکودک ماده وهیولای آن است، در حالی که خود کودک صورت جنین وجنین مادهً آن است وهمین طورجنین صورت نطفه و نطفه هیولی ومادهً جنین است تا برسد به مادةالموادوهیولای اولی که فاقد صورت است. » (تاریخ فلسفه ،ویل دورانت ،ص.۶۷ ،۶۸ ). دلومړني ښوونځې په دوهم ټولګي کې ،کله چې یې مونږ ته جمع راوښووله :

2+2= 4

دا یې هم راته وویل چې یواځې هم جنس شیان په خپلو منځونو کې سره جمع کیدلې شي.

صورت پخپله حقیقت ندي ، یواځې دمادې په موجودیت سره حقیقت پیدا کولې شي ، او ماده یواځې په معین او مشخص شکل سره وجود لرلې شي یعني صورت او یا په بل عبارت مکان شکل دموجودیت دمادې دې او یو تربله په لازم وملزوم موجودیت سره مفهوم او ارزش پیدا کولي شي . دلته زما مقصد دمعین او مشخص شکل څخه دمادي دداخلي



حجروي ،اتمي ، مالیکولي او نور ذروي ———— تشعشعي جوړښت څخه دي. د مادي خارجي شکل ته کیدلي شي هر ډول تغیر ورکړل شي. نو دارسطو لخوا د صورت او هیولا جمع کول سم کار نه بریښي. همداسي په پورتني عبارت کي واقعي عیني قانونمندي ،قانونمند منطق او منطقي تسلسل دخبرو هم وجود نلري ،سره ددي چي د منطق بنیانګذار پخپله ارسطو ګڼل کیږي. یو ځل بیا تاءکیداً وایم چي هر مادي موجود ،هر مادي واحد او هره مادي لویه او کوچنۍ ذره معین ،مشخص او ټاکلي داخلي جوړښت ، شکل او صورت لري (البته دډیر فشار او حرارت په نسبت کیدلي شي موقتي تغیر پکي راشي او یائیني مواد یو تر بله سره په هندسي متداخل شکل سره قرارو لري )، نو په څه ډول دا منلي شو کله چي ارسطو وایي:

انسان بالغ صورت فعلي کودک است وکودک ماده وهیولاي آن است او همداسي د پورتني عبارت تر اخره پوري. له دي ځاي څخه په څرګند ډول معلومیږي چي ارسطو او د کارت چي ساینس پوه هم وو دموادو او اشیاوؤ دداخلي جوړښت اودهغي دعظیم ارزش اواهمیت څخه هم بي خبره وؤ او ورته ارزش قایل نه وو . ارسطو له یوي خوا لیکي چي «هیولاي اولي فاقد صورت است »اوپخپله واي چي «ولي چنین چیزي وجود ندارد زیرا هر شیئ موجودي واجد صورتي است» دا خبره سمه ده.خیر ولي دیوي غټي قضئي اومسئلي نتیجه ګیري او محصله دا ډول کوي چي پخپله ئې نشي منلي. ارسطو وړاندي لیکي «ماده به وسیعترین معني خود قوه وامکان صورت وصورت فعلیت وحقیقت نهاي ماده است؛ماده مانع ازاین است که صورت به نحو دیګري تجلي یابد ،وصورت بناوشکل وجودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماده مي باشد. صورت تنها شکل نیست بلکه قوهً متشکله وضرورت ونیروي دافعهً دروني است تا ماده رابراي هیًت وهدف مخصوصي راهبري کند ؛صورت تحقق استعداد ماده و مجموع قواي عمل ووجود وصیرورت است که در هر شیئ موجود مي باشد.» په پورتني عبارت کې هر څه چې د صورت،مکان او هندسي په ادرس ویل شوي ، عیني حقایق وجود لري ځکه هم ارسطو او هم دکارت خپلي ځرګندوني د خپل ذهنیت دحقایقو په بنیاد کړي ، خو څرنګه چې هغوئ پخپله دیته معتقد نه وو او یا تري کاملاً بي خبره وو او ټولي فورمولبندئ ئي د تخیلي منطق له مخي کړیدي طبعاً عاري دحقیقت او قانونمند منطقي تسلسل په کي وجود نلري ، اوزما پورتنۍ ادعا ثابتوي چي هندسه ، مکان ، صورت او د مادي داخلي جوړښت پرته ، ذاتي وجود نلري او یوازي دمادي په موجودیت کي تحقق پیدا کولي شي. ارسطو او دکارت دخپلو تخیلي فلسفي نظریاتو په بناء پایداره فلسفي تیوریکي نظرنلري او داپخپله په فلسفي څیړنو کي هغه ستره اشتباه ده چي په حقایقود پوهیدلو پرته په هیڅ قیمت سره تلا في کیدلي نشي. حتي دارسطو مشا ئیانو پخپل منځ او دارسطو سره اختلاف دنظر درلود او پدي نپوهیدل چي دارسطو فلسفه دالفاظو او که داشیاؤ څخه بحث کوي ؟او دا ځکه چي ارسطو صورت په اشیاؤ او اشیاء په صورت او حتي کل په جز اوجز په کل کي په متداخل شکل سره لیدل او دغه مفاهیم او مقولي ئي یو تر بله سره نشوي تفکیکولي او حتي دیوي فلسفي قضیئ په فورمولبندۍ کي خپل فلسفي نظریاتي دریزونه بدلوي او پدي باره کي دمخه بحث شویدي.



شک نشته چي مختلف هندسي ،مکانونه اوصورتونه دخپلو مادي موجودیتونو په تحقق سره کیدلي شي یو تر بله څو مرتبه ئي په متداخل شکل سره وجود ولري. د مثال په ډول په اوبو کي دمالګي ،شکري ،غاز او نورو انحلال.لیکن غوړي چي په اوبو کي نه حل کیږي مګر دلازم کتلیزاتور په صورت کي .دسوډیم انحلال په اوبو کي . یا په تیزابو ، القلي او نورو کي دفلزاتو او نورو موادو حلیدل اود مختلفو مرکباتو او مخلوطونو جوړول. دا خبري یو تر بله سره لکه ځمکه او اسمان فرق لري ، پدي نپوهیدل او یو تر بله سره شریکول او نه تفکیکول نه بخښونکي ګناه ګڼل کیږي. ددي څخه بله ستره ګناه ،زما په عقیده ،پدي کار سترګي پټول او هغې ته دانتقاد ګوته نه نیول دي.اوددې کار څخه لا ستره ګناه به داوي چې یو څوک ښه پوهیږي چې نه پوهیږي ،خو بیا هم تجاهل العارفانه انحرافي او غلطي تیوریګاني جوړوي.

دکارت په خپله فلسفه کې دهمدغه ډول اشتباهاتو سره مخامخ دې. دکارت په یوه داسې مثلث «ریاضي ،هندسه او منطق»ډډه لګولې چې پخپله ذاتي وجود نلري ،في نفسهِ دقانونمندۍ څخه مبراء او خالي خو دکارت د هغې په وسیلهَ غواړي دټولو علومو عملي او نظري فلسفه بناء او بلکه شخصاً ځان موًظف او مکلف ګڼي په یواځې ځان ددغه لا یتناهي همزمان او هم مکان متحول او متغییر دیالکتیک فلسفه او قانونمندي دابد لپاره پخپل ذهني متا فزیکي ایدیا لیستي بې بنیاده بنیاد باندي ودروي. که ووایم چې دا کار بې وسیلي اسمان ته دختلو په اندازه سخت دې. نو دا کار خو رحمان بابا ممکن ګڼلي ،چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په یو قدم تر عرشه پورې رسي
ما لیدلي دي رفتار د درویشانو

نودا کار ددې څخه هم لکه چې سخت برېښي .

پورته دارسطو دصورت ( ددکارت هندسي او مکان ) په باره کې لازم بحث وشو ، که د دکارت په نظریاتو هم بحث وشي ،ډیر به اوږد شي. ښه به داوي یواځې ځینې عمده مسائلو ته اشاره وشي او یواځې دډیر لزوم په صورت کي به پرې بحث وشي.

ځوان ۲۳کلن دکارت چې ریاضي او هندسه یي په قبضه کې راغلي وه او سر تا پا انرژي ،حرارت،دینامیزم او احساسات وو ،ټولې ذهني ،فکري ،مکاني او زماني مصافې یي له نظره لنډې معلومیدلي ،هر څه یي دیوه قاطع حکم له مخې «مي اندیشة پس هستم » د ریاضي دبداهت اوبراهینو په چوکاټ کې غوښتل په اثبات ورسوي او ځای په ځای یي کړي. دکارت مدعي وو چې د ۱۶۱۹م کال دنوومبر په لسمه دیوه حقیقت دکشف په روش بریالې شو ې چې دهغې له مخې کولې شي په ډیره چټکۍ سره هندسه دکمال درجې ته ورسوي . دکارت ویل: «یکی از نخستین فکر های که به خاطرم رسید این بود که غالبا ًکار های که به دست اسا تید متعدد انجام می ګیرد در کمال به پایهً کارهای که فقط ساختهً دست یک نفرباشد نمی رسد » (نقد تفکر فلسفي غرب ،اتین ژیلسون ، ص ،۱۱۳ ، ترجمهً فارسي ). دکارت حتي پدې عقیده وو چې: «خداوندوظیفهً تحصیل معرفت را به عهدهً او نهاده وتنها راه پیروزی وی این است که خود با دست تنها به آن بپردازد » . دکارت ټول مسائل داحساساتو له مخې په ډیره سادګۍ مطرح کول چې ګوندې



هندسه یي دکمال درجې ته رسولي. زه وایم کاشکې بشریت دننني ورځې دعلم او تخنیک دبې ساري انکشاف په شرائطو کې دیوه نبات دحجري هندسه دکمال درجې ته ورسوي. پدې صورت کې به انسان دټول بشریت دضرورت څخه اضافه دغذايي موادو رنګارنګ ذخیري جوړې کړي. کاشکې دانسان دبدن دیوې حجر ې هندسه دکمال درجې ته ورسوي. پدې صورت کې به دانسان دعمر په اوږدولو قادر شي . کاشکې انسان په ننني شرائطو کې دیورانیم او یا بل فلز داتم او هستې او یا دهغې په منځ کې نیترونونو چې لکه ویده ښاماران پراته دي ،په ټولو رازونو پوه شي.پدي صورت کې به دتیلو او سکرو لوګي نوره هوا نه کثیفوي او بشریت به نه خلاصیدونکي دانرژي ذخیري لاسته راوړي.

دکارت خپل روش پخپله داسې توضیح کوي: «او روش تحلیل قدما رابا جبر متأخرین پیروزمندانه،با هم ترکیب کردو پیدا است جهش بعدی وی این بود که این دو علم رابا منطق هم ترکیب کند.وروش دکارتی نتیجهً این تجربه بود که به ګفتهً خود وی ( از مزایای هر سه علم بر خوردارو از نقایص ان خالی بود ) کاشکې هروخت هرڅه داسې ایدیال سرته رسیدلې شوې ....دکارت خودرا وقف این نظریه کرده بود که همه علوم یک واحد بیش نیستند یعني میان ( شناخت همه وجهل به همه ) جای وچیزی برای انتخاب وجود نداشت... » .

دکارت دتحلیلي هندسې په متماتیکي افادې سره پدې دلیل چې پخپله مفهوم شکل افاده کوي ،اشکال له هندسې څخه حذف کړل او ددې لپاره چې متماتیک دټولو علومو لکه فلسفه، اخلاق ،طب ،او نورو دافادې جوګه شي ،لازم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتزاعي ترین حالت غوره کړي یعني داچې کمیت باید دمتماتیک څخه حذف کړې شي. پدې صورت کې به متماتیک انتزاعي ترین علم او دټولو علومو دافادې جوګه شي. باید وویل شي چې نور علوم خو هم دمادي کمیتونو په واسطه قیمت ګذاري کیږي. پدې صورت کې باید نور علوم هم بې کمیته شي چې دمتماتیک په واسطه یې افاده ممکنه شي او په نتیجه کې به ترې د دکارت ایدیالیزم او دافلاطون اوسقراط د «مُثُل» اصالت ،متافیزیکیت ،ماقبل او مابعد الطبعیت جوړشي.

دکارت دخپل نظر داظهار په خاطر داسې استدلال کوي: «چون بدیهی ترین همهٔ علوم انتزاعی ترین انها نیز هست پس برای اینکه سایر علوم هم درست همان بداهت ریاضیات را داشته باشد کافی است همهٔ انهارا هم مانند ریاضیات انتزاعي کنیم »

زه دخپلې ادعاً دثبوت په خاطر غواړم ددکارت خپل استدلال وړاندې کړم : هستند کسانی که میګویند «نمی دانم خدا هست یا نه ولی حتی همین هاهم قبول دارند که اګر خدای وجود داشته باشد باید بالضرورجوهری کامل ونا متناهی باشدواین به علاوهً اصل علیت،تنها چیزی است که برای اثبات وجود خداوند لازم است.

پس نتیجه میګیریم که خداوند به هنګام افرینش مفهوم کامل را در ما نهاده است ، « تا همچون مهری باشد که صنعتګر بر روی صنعت خویش می زند »خلاصه هیچ چیز طبیعي ترازین مفهوم نیست زیرا به ګفتهً دکارت در تأمل سوم « رسالهً تأملات» : «تنها از همین که خداوند مرا افریده این فکر در من رجحان می یابد که:او به نحو ی صورت ومثال خویش رادر من



نهاده است و من این مشابهت را ــ که متضمن مفهوم خدا است با همان قوهً ادراک می کنم که خودم را به آن ادراک می نما یم. » به عبارهً دیګر :در اینجاآن طور که همواره در استنتاجهای صحیح هندسی رایج است ،استنتاج بصورت ادراک شهود های در داخل شهود های دیګر نیست، زیرا ازانجا که خود عمل شک متضمن مفهوم کمال است ،وان هم با مفهوم خدا ایکي است پس درست همان طورکه حق داریم بګوییم « شک می کنم پس هستم» حق داریم بګوییم «شک می کنم پس خدا هست.».

په پای کې غواړم ووایم چې ټول مادي او معنوي اوکمي اوکیفي ارزشونه یوائې دمادي اوکمي ارزشونو دلارې ظهور کولې شي او قیمت ګذاري کیدلې شي . که دهندسې څخه شکل او متماتیک څخه کمیت وایستل شي بله وسیله وجود نلري چې هغوی، پرې دعلم په حیث تبارز وکړي او په هغه صورت کې داصالت مسّله به اصلاً مطرح بحث نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه ډول یوې کوچنۍ جملې زوړ فلسفي نظام ولړزاوه او د عینیت د فلسفې سر لیکه جوړه شوه

کله چې لا زه په لومړني ښوونځي کې وم، د سعدي، جامي او نظامي کتابونه چې ژور فلسفي او صوفیانه مطالب یې درلودل ما لوستلي وو. د ننګرهار په لیسه کې هم مونږ ډېر پوه استادان درلودل چې د ویښ ز لمیانو د جنبش غړي، د فلسفي افکارو خاوندان، ډیر مشهور شاعران او وطنپرست مبارزین وو. دوی به تل فلسفي بحثونه کول، فلسفي اشعار به یې ویل او علمي کنفرانسونه به یې جوړول، خو هغه وخت دا ټولې خبرې مونږ لپاره یو شان تورتم ځنګل معلومیده. د ننګرهار د لیسې په ورستیو کلونو کې په ځینې کنفرانسونو او ډرامو کې عملاً برخه اخیستل، دورځنې مسایلو او ټولنیزو پرابلمونو په مقابل کې د استادانو انتقادي کره وړه او په کل کې د جمعي شعوري سطحې لوړوالې هر څوک یو څه ته هڅوه. د غه وخت مونږ فکر کاوه چې ټول خلک نیکان پیدا دي او هر څوک د پندار نیک، ګفتار نیک او کردار نیک د اصولو په پرنسیب ژوند کوي. خو کله چې یوه کنفرانس ته زما په ډیر ښه نیت لیکل شوې مقاله سانسور شوه زما ټوله خوشباوري په شک بدله او د کنجکاوۍ



حس راته پیدا شو او هغه د چا خبره «اول هر چیز را میخواندم باز امضاً میکردم». د ننګرهار د لیسې څخه په فراغت سره د طب په پوهنځي کې شامل شوم او د همغه لومړي کال په نیمایې کې د پخواني شوروي اتحاد د اکراین د جمهوریت کیف ښارته ولاړم. هلته د مسلکي درسونو په څنګ کې په فلسفه او نورو ټولنیزو مسایلو په باره کې ازاد کورسونه موجود وو او د ځینې عمده موضوعګانو په باره کې به کنفرانسونه جوړېدل. په ټوله تدریسي دوره کې زه د دغه کورسونو څخه په استفادې سره د ډیرو ټولنیزو مسایلو د الفباً سره پوره اشنا شوم. د تحصیل څخه وطن ته په راستنیدو سره په هوایي پوهنځي کې د استاد په حیث مقرر شوم. په هوایي پوهنځي کې مې د پیلوټانو، تخنیکانو، او حتی انجینرانو لپاره یو تدریسي کتاب تالیف او طبع کړ او د ټولو لپاره د استفادې وړ وګرځیده. په ۱۹۷۳م کال کې د هوایي پوهنځي د قوماندان په حیث مقرر شوم. او کله چې درې کاله وروسته یو ځل بیا د کیف ښارته د دکتورا لپاره تللم او تصادفاً یوه د مخه مې د سردار محمد داود خان چې د دولت رئیس او صدراعظم وو ولیدل. (او هغه داسې چې په همدغه ورځ دفعتاً په فکر کې راوګرځیدل چې مجید، چې د دولت د رئیس یاور وو تلفون وکړم چې که رئیس صاحب د دولت (هغه وخت محمد داود خان په همدغه نوم یادیده ) د ملاقات وخت راکړي. د غه کار مې وکړ، رئیس صاحب د دولت هم منلې وه او د غرمې وروسته د هغه په ملاقات مشرف شوم. نژدې ۴۵ دقیقې په ډیره مهربانۍ مفصل صحبت یې راسره وکړ. د محمد ظاهرشاه د صدارت د وخت د مختفو پروژو، د هغه وخت د بودجې او ډیرو نورو مسایلو په باره کې خبرې وکړې. باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایم چې محمد داود خان له ما سره ډېره مینه او علاقه لرله او کله چې لومړې ځل د کودتا (چې هغه وخت د انقلاب په نامه یادیده) څخه وروسته د هوایي قوماندانو او ځیني وزیرانو سره د فتر ته ورغلې وو، د خبرو په جریان کې یې پوښتنه وکړه، تاسې کې د هوایي پوهنځي قوماندان څوک دي؟ زه ولاړ شوم او وروسته له هغې یې ډېرې پوښتنې ما ته راجع کولې او وروسته له هغې یې هم زه د توجه وړ وم. په همدې خاطر ما جرئت وکړ د ملاقات غوښتنه وکړم. د خبرو په پای کې یې را ته وویل «اوس چې خارج ته ځې، ځیني ایډیولوژۍ او مسایل چې زمونږ د ټولنې د شرایطو او عنعاناتو سره سمون نه لري، باید له ځانه سره را نه وړل شي. ما په ځواب کې وویل: رئیس صاحب د دولت په ډېر اطمنان سره عرض کوم چې زما دلغزش دوره تیره شوې، زه به واقعاً هغه څه زده کوم چې زمونږ خلک او وطن ورته ضرورت لري. شهید محمد داود خان په تبسم سره وویل. بریالیتوب درته غواړم). نو ځکه مې له لومړۍ ورځې څخه تصمیم ونیوه چې په تخنیکی او فلسفی علومو، دواړو کی په موازی ډول په دکتورا کار وکړم. ددی کار لپاره د اجتماعی علومو په پوهنتون کی شامل او د دیپلوم د اخستلو سره سم می په فلسفه کی د دکتورا کارونه شروع کړل. خو په لنډه موده کې په افغانستان کی انقلاب وشو. ما خپله تخنیکي ډاکتري چې کارونه یې بای ته رسیدلي وو، دفاع او وطن ته دراستنیدو یوه ورځ دمخه چې لا زه په مسکو کې ووم، د کابل ښاروال په حیث مقرر شوې وم. د کابل په ښاروالۍ کې زما د ماموریت په دوره کې به عمده کار زما په فکر د کابل دښار ماستر پلان تکمیلول او د قانوني سند او انستیتوت په حیث دهغې



منظورول او ډېرو پروژو تفصیلي پلانونو جوړول او عملی کول وو.

دروسانو دیرغل څخه وروسته زه بې وظیفي او ۱۸ میاشتې په کور کښیناستم. دا زما لپاره ښه فرصت وو او ما په فلسفه او ټولنیزو علومو کې خپلې لوستنې او زده کړې غنې او خپله لومړۍ مقاله مې ولیکله. ددې مقالې عنوان «د عینیت او ذهنیت دیالکتیک» او ددې مقالې لومړۍ جمله داوه «ذهنیت نسبې عینیت او هر مشخص ذهنیت عیني واقعیت دې». زه د لومړۍ شیبې څخه د دغه جملې په ارزش وپوهیدم. ځکه چې د دغه سنګر څخه زما د لیندۍ غشې د هر هدف په منځ لګیده او د بې بنیاده اړیکو او مناسباتو ټول تنا بونه یې شلول.

کله چې لومړۍ مقاله تکمیل شوه د پرنسیب له مخې مې یو نقل داردو د سیاسي چارو لوی ریًس ته، چې په هغه وخت کې محمد یاسین صادقي وو، وسپارله. په همدې وخت کې د هغه سر مشاور د فتر ته راننووت او سمدستي یې پوښتنه وکړه. څه شې دې؟ رئیس ځواب ورکړ. رفیق حرکت در فلسفه یک مقاله نوشته کرده. مشاور بې له ځنډه وویل. ضرورت نه شته په فلسفه کې څوک مقالې ولیکي، هر څه مارکس، انګلس اولینن لیکلی دی.. ما ځواب ورکړ. هغوی خو ورته خلاق علم ویلې نه دګم. مشاور مخ واړوو او په خپله شعبه ننووت. وروسته د دغه مقالې څو نقلونه ما ځیني دوستانو ته چې په فلسفه پوهیدل او یو نقل مې د افغانستان د علومو اکادمۍ ته وسپاره. ډېرې مشترکې غونډې پرې جوړې او ډیر وخت یې ونیوه. پدې وخت کې ما څو نورې مقالې هم ولیکلې او یو بروشور ترې جوړ شو او د بروشور په شکل مې د علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکادمۍ ته وسپاره. وروسته له څه مودې اکادمۍ ماته مکتوب راولیږه او دلیکنې ستاینه پکې شوې وه خوپه کې یې لیکلې وو چې مونږ پرې نظر نشو ورکولې. تاسې دټولنیزو علومو انستیتوت ته مراجعه وکړۍ. ما مکتوب له ځانه سره واخیست او د علومو اکادمۍ علمي غونډې ته ورغلم او عرض مې ورته وکړ. د ټولو استادانو څخه په معذ رت چې ما مرجع نده غلطه کړې. انستیتوت مرجع نشی کېدل کیدلې. اکادمی یوائینۍ مرجع ده چې زما لیکنه وارزوي ،ویې منی او د چاپ اجازه ورکړي او یا یې په دلایلوسره رد کړي.پدې وخت کې کاندید اکادمیسن محمد ظاهر افق پورته او ویې ویل.« زه ستا لیکنه تائیدوم او درسره یم » او یوائینې کس ووچې لیکلې نظر یې پرې ولیکه ،خو له بده مرغه په مطبعه کې نپوهیږم چې ولې دغه سند لا درکه شوې وو.وروسته کاندید اکادمیسن مرحوم محمد صدیق روهي وویل «ډیر وخت مې همدغه مفکوره په فکر کې ګرځیدله راګرځیدله.ښه شوه چې تا ډیره ښه لیکلې ده » په اخیر کې مرحوم پوهاند محمد علی زهما ولاړ شو او ویې ویل « استادان محترم ! من شرافتمندانه اعتراف میکنم که بالای این نوشته تقریظ نوشته کرده نمیتوانم.هر کس که نوشته کرده میتواند .بفرمایند ،در غیر آن اجازهٔ چاپ داده شود . در اینده کسی نوشته خواهد کرد » . په پای کې محترم عبدالحکیم هلالي ته چې د فلسفې دانستیتوت رئیس وؤ وظیفه وسپارل شوه چې د بروشور دچاپ چارې سرته ورسوي . هغه زه دلاس څخه ونیولم او دشعبې خواته یې روان شو . په لاره کې راته مخامخ ودریده او راته ویې ویل . ستا د سر څخه د قورمې بوی راځي. ملک دې روسانو نیولې. ددنیا کتابخاني د مارکس او



لنین په کتابونو ډکې دي. او ته دهغوی نظریات ردوې. زه دا بروشور نه شم چاپولې. او پدې ډول بروشور د چاپ اجازه پیدا نکړې شوه.

کله چې زه داردو دسیاسي چارو په ریاست کې مقرراو په ډیر مشکل سره مې په۱۳۶۵ هجري ش کال کې دغه بروشورروسته له ډیرو هلو ځلو چاپ شو او په حقیقت کې یوه بله بلوا راولاړه شوه. د غه کتاب « د عینیت فلسفه » نومیده اود هر چا دمخه داردو دسیاسی چارو مشاور زما شعبې ته راغې او په تریو وچولي یې وویل. « خبر شوم ستا کوم کتاب چاپ شوېدې ؟» ما زر یو جلد را وا خیست ، ورمې کړ او ومې ویل.هو !ویې لولۍ. غلطي به ولري. اصلاح یې کړۍ. هغه کتاب واخیست او ولاړ.خبر شوم چې داردو په سیاسي نظامي اکادمۍ کې یې دفلسفې داکتر پروفیسور فوکین ته ورکړې وو . شپږ میاشتې وروسته دهغه ترجمان زما شعبې ته راغې ،کتاب یې راوسپاره او ویې ویل.مونږ پښتون ترجمان نه درلود . ما ځواب ورکړ.واخلۍ !داده په دری ژبه یوه مقاله. « دغه مقاله همدغه د ( فلسفه علم دې ) رساله وه» هغه مقاله واخیسته او دا ځل کله چې درې میاشتې وروسته راغې د مقالی سره یې په روسي ژبه په مقا له باندې دداکتر پروفیسور فوکین یو لیکل شوې تقریظ هم را وسپاره.ددغه تقریظ ترجمه په لاندی ډول ده

۱ . موضوع ډیره مهمه او مبرمه ده ،

۲ . د مختلفو فلسفي جریانونو او مکتبونو نقاط نظر دفلسفي موضوع په باره کې ډیر ښه تحلیل شویدي ،

۳ . دمختلفو فلسفي عقایدو او نظریاتو له مخې په فلسفي موضوعاتو باندې ډیرښه انتقادي نظر وړاندې شوې دې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۰ د فلسفې او نورو علومو ځانګړتیاوې او مناسبتونه ډېر ښه توضیح شویدي.

څه شی په موضوع کې نه په سترګو کیږي:

۵۰ د مارکسیزم-لینینیزم کلاسیک پوهانو نقل قول پکی نشته.

وروسته ددغه رسالی له مخی ما یو مختصر ریفرات Referat په روسي ژبه ولیکه او د خپلی شعبې څخه مې دافغانستان ددفاع وزارت دلارې دپخواني شوروي اتحاد دفاع وزارت ته دلینن داکادمۍ د فلسفې انستیتوت په ادرس ولیږه چې دد کتورا دتیزس په حیث ترې دفاع وکړم. دلینن داکادمۍ دفلسفې انستیتوت ماته مکتوبي ځواب راولیږه چې ددې کار لپاره زه باید خپل ټول کتاب په روسي ژبه ترجمه کړم. زه پوه شوم چې داکار سرته نه رسیږي ،نور ورپسي ونه ګرځیدم.

په ۱۹۹۰ کال کې زه اکرا ین ته ولاړم او دکیف دښار علومو اکادمۍ ته مې مراجعه وکړه.ما دفلسفی دیوه داکتر پرو فیسر سره په موضوع خبرې وکړې او هغه یوه بل ډاکتر پرو فیسر ته معرفي کړم چې په نړیواله کچه وتلې او مشهور فیلسوف وو. کله چې ما هغه ته د خپل کتاب دلومړۍ مقالې لومړۍ جمله تکرار کړه هغه ماته وویل. مونږ په شرق اوغرب کې دا سره منلې ده چې ذهنیت ته به عینی واقعیت نه وایو .ته کولې شې عینیت ورته ووای او یا واقعیت هم ورته ووای خو عیني واقعیت ورته نشي ویلې. ځکه مونږدا منلی ده او د کمیسیون په وړاندې ددې تیزس څخه زه دفاع نشم کولې. او ته یې هم نشې کولې. ته کولې شې کتاب ولیکې خو دډاکترۍ تیزس نه. په اخیر کې هغه وویل.زه حاضر یم تا سره یو ځای کار وکړم.ماته



یې خپل یو کتاب او د نورو کتابونو لست راکړ او دایې راته وویل.په ژمي کې دا کتابوه ولوله .په پسرلي کې به په لیکلو پیل وکړې. دهغه کتاب دلینن دیوه نقل قول په تائید چې د شلم قرن دسترو اختراعاتو څخه ګڼل کیده لیکلې شوې وو.ما دهغه کتاب په یوه هفته کې ولوسته او یو فصل مې پرې دهغه دنظر په مقابل کې نوشته کړ.ما دغه لیکنه دهفتی په اخیر کې هغه ته وسپارله او ورته ومې ویل. ما دیوه فصل پلان جوړ کړې ، تاسی یې وګورۍ که سم وي چې زه پرې کار وکړم. هغه دغه لیکنه په غور سره ولوستله او ماته یې وویل. ته همداسې فکر کوې ؟ما وویل هو. بیایې وویل.سمه ده .لیکن دا پلان دکار نه بلکه اصل کاردې. ته ضرورت نه لرې ددی څخه اضافه څه ولیکی. نورې لیکنې به زما په مشوره کوو . ما هم ورسره قبوله کړه.پدې ډول هغه زما تیزس ومنه .په او په دې ډول فلسفي زما لپاره د دوهم مسلک حیثیت پیدا کړ او په واقعیت کي رښتیا هم نن دغه کوچنۍ جملې زوړ فلسفي نظام لړزولې او زه او ټول بشریت یې یې هم د یوه عظیم رسالت په مقابل کې درولې ده. په اخیر کې یې راته وویل ته د تخنیک ډاکتر یې ستا دفلسفې سره څه غرض ؟دغه کیسه اصلاً ډیره اوږده وه چې ما په لنډ ډول وړاندې کړه.خو ضروري ځکه وه دغه موضوع د پاملرنې وړ ده او دټولو پوهانو او عالمانو جدي توجه ورته را اړول غواړم.

ددغه خسته کن داستان څخه یو ځل بیا په ډیر معذرت سره، چې ستاسې با ارزشه وخت به پرې ضایع کیږي ، خو وروسته به پرته له شکه ستاسې هره توجه او زیارد نورو لپاره ستر ارزش پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فلسفې اساسي مسايل

دمخه په فلسفي بحثونو کې مونږ په منطقي قانونمند او ثبوتي ډول وښودل ، د فلسفې اساسي مسّله چې دمادې او شعور دمناسبت په بنياد رامنځته شوې وه اوپه فلسفه کې د مختلفو عقيدوي او نظرياتي ډلګيو ،سيستمونو او مکتبونو دظهور او مخالفت سبب ګرځيدلې وو ،کوم اساس نلري او دواقعيتونو څخه ليرې بريښي . د فلسفې اساسي مسّله دشعور او مادې ديو پر بل باندې د تقدم له مخې رامنځته شوې ده . هغه څوک چې ماده پر شعور مقدم ګڼي هغوی ته ماتريا لستان وايي او هغه کسان چې شعور مقدم بولي ايد يا لستان ګڼل کيږي.ايديا لستان پخپلو منځونو کې په ذهني لکه کانت ، فيختې ،اوينا ريوس او نورو او عيني لکه افلا طون ، هګل او نورو ويشل کيږي. ماتر يالستان هم پخپلو منځونو کې په ولګار لکه فوګت،متا فيزيستان لکه فيير باخ چې دديالکتيک څخه منکر وو او ددیا لکتيکي ماترياليزم پلويان لکه هېراقليطوس ، مارکس ،انګلس،لينن او نورو ويشل شويدي. څرنګه چې د شعور او مادې ترمنځ ذاتي بنيادي توپير وجود نلري او دواړه خواوې د يوشان قوانينو تابع دي ،اصلاً په دغه بنياد د فلسفي اساسي مسّلې مطرح کول او يا د فلسفي عقايدو ،نظرياتو او تيوريو ويشل بې بنياده او بې دليله کار معلوميږي



.ددې کار لپاره نه څوک قانونمند مقنع منطق ، نه قانونمند دليل او نه قانونمنده افاده وړاندې کولې شي. په همدې دليل هغوی يو هم په خپلو عقايدو او نظرياتو نه معتقد ، نه باوري او نه ولاړ پاتې کيدلې شول . دوی ښه پوهيدل چې دخپلو نظرياتو لپاره مقنع دلايل نلري او اګاهانه او غيراګاهانه يې خپلې عقيدوي قبلې بدلولې او انحرافي تيوريګانې يې رامنځته کولې.

دعينيت فلسفه پدې عقيده ده چې ماده اوشعور ذاتي توپير نلري او دا مسّله د «ذهنيت نسبی عينيت اوهر مشخص ذهنيت عيني واقعيت» په لنډه جمله کې په پوره دقت سره افاده شوېده. دا ددې معنا لري چې دغه دواړه ورشوګاني دواحدې قانونمندۍ تابع دي. او کله چې دشعور او مادې تر منځ ذاتي فرق موجود نه اوسي ، دفلسفې اساسي مسّله د شعور او مادې په بې بنياده طرحه مطرح کول هم کوم اساس او منطق نلري. پوښتنه دا پيدا کيږي .کله چې دشعور اومادې ذاتي توپير موجود نه وي ،کله چې دغه دواړه محيطونه د واحدې قانونمندۍ تابع وي ، ايا ممکنه ده د واحد واقعيت په بنأ مختلفې تيوريګاني رامنځته شي؟ نه! په دې صورت کي دبې بنياده مختلفو فلسفي تيوريګانو او عقايدو مجموع الجزايُر تشکيلېدل هم ناممکن بريښي.

شايد له ما سره داخبره څوک ونه مني او پوښتنه وکړي چې ولې شعور او ماده ذاتي توپير نلري ؟مونږ او تاسې دفزيک، کيميا ، بيولوژي اونورو طبيعي قوانينو څخه دښوو نځي اوفاکولتې له دورو څخه څه ناڅه خبر يو .که زه دهمدغه قوانينو له مخې په شعوري مسايُلو اوقضاياوو بحث وکړم اوستاسې دقناعت وړ هم واوسې.اميددې، په دغه صورت کې پورتنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرحه هم راسره ومنی.

۱ــــ شعور او عقل پخپل ذات کې یوه پروسه ده چې ظهور، تکامل او انحطاط مني. پروسه په عالم الاسباب کې دخدایي قوانینو له مخې، چې مونږ او تاسې ورته طبیعي قوانین وایو، د زمان او مکان تابع ده یعني زمونږ او ستاسې شعور زمونږ د پیدایش څخه زمونږ په وجود کې چې مکان دې او د هغه وخت څخه چې لا د مور په نس کې یو د مرګ تر ورځې پورې چې زمان دې زمونږ شعور ایجاد، تکامل او انحطاط مومي. زمان او مکان د طبیعي قوآنینو له مخې شکل دموجودیت د مادي ګټل کیږي. نو دادې ومو لیدل چې د شعور او مادې په قوانینو کې ربنتیا هم فرق وجود نلري. دا مفاهیم او قوانین د هراقلیطوس د «صیروریت»، د کانت د «شئ فی نفسه» دهګل د «ایدیا لیستي دیالکتیک» او د مارکس د «دیالکتیکی او تاریخی ماتریا لیزم» دقوانینو څخه هم څه توپیر نلري. خو دوی ټول مختلف فلسفي او عقیدوي نظریات لري، یو ذهني، بل عیني ایدیالیست، بل ماتریالیست او هر یو د مختلفو تیوریو طراحان دی، یعني داچې د دوئی دغه تیوریګانې او فلسفې په علمي او قانونمند بنیاد ندي ولاړې یا داچې په دغه تیوریګانو کې اصلاً علمي قانونمندي وجود نلري. اوس پخپله قضاوت کولې شئ چې ایا دغه ډول لیکنو ته ربنتیني علمي قانونمندي او یا په مجموع کي تیوري ویلي شو؟ زه وایم چې هو! اصلاً هلته قانونمندي موجوده ده او داهمغه دذهنیت دعینیت او مادیت په معني ده. دمثال په ډول که چیري دغه قانونمندي موجوده نه وې، هګل چې پخپله عیني ایدیا لست وو، څه ډول به ددیالکتیک دقوانینو مخترع



جوړ شوې وې. خبره یوائې په دې کې ده چې دغه قانونمندي د عیني واقعیت په توګه زمونږ په ذهن کې وجود لري او زمونږ شعور ترې د شعور او لا شعور ددیالکتیکد عینیت له لارې دلارې متأثر او متحسس دې. د هغې قانونمندې پایلې په لاشعوري توګه دځیني پوهانو دذهن څخه تراوش کوي خو دوی ددغه قانونمندی په دلیل او علت نپوهیږي او په نتیجه کې دغه ډول مشت نمونهً خروار ماهیوی مختلف نظریات او تیوریګاني په یوه ماهیوی او سوبستانسیو نل واحد بنیاد باندي رامنځته کیږي. خو په حقیقت کې څرنګه چې دغه پوهان په واقعیت کې د قانونمندی څخه په عدم اکاهی کې دغه تیوریګانې رامنځته کوي، معمولاً دقیقي نه وي او تخیلي تحریفي بڼې لري.

۲ــــ دذهنیت، شعور او عقل دعطالت مسًله ده. پرته له ټاکلي وخت څخه هیڅوک نه کومه پدیده درک کولې او نه دهغې په مورد کوم حکم صادرولې شي. پدې ترڅ کې حد اقل نیمې ثانیې وخت ته ضرورت لیدل کیږي. یعنې داچې شعور عطالت لري او عطالت هم شکل دموجو دیت دمادې دي. او دا پدیده د طبعیت په ټولو خلقتونو کې په عین شکل ده. نو دغه فاکتور هم دشعور په مادیت دلالت کوي.

۳ــــ دزماني او مکاني قیدیت مسًله ده چې شعور زماني او مکاني قیدیت لري. دا پدې معنا چې شعور پرته له زمان او مکانه نه موجودیدلې شی او نه ظهور کولې شی. اولکه چې په لومړۍ ماده کې ورته اشاره وشوه زمان او مکان هم شکل دموجودیت دمادې دې او هر هغه خلقت چې زماني او مکاني قیدیت ولري دخدای او طبیعي قوانینو له مخې مادي بنیاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري.

۴ ــــ د مادي موجودیت د قانونمندۍ مسٔله ده. دا جهان د خدای دلوی علم له مخې قانونمند پیدا او قانونمندي هم شکل د موجودیت دمادې دي. دخدای ټول خلقتونه قانونمند پیدا ،قانونمند پایي ، قانونمند انحطاط مومي ، له منځه ځي او تغیر او تکامل کوي. نو پدي علت هم شعور مادي پدیده ده.

۵ ــــ پخپله حرکت ، چې دشعور دظهور ،تکامل او انحطاط پروسه یوله انواعو دحرکت څخه ده او هم دخدایې خلقتونو او پدیدو دپیدایش ،تکامل او په عالم اسباب کې د ټول مادي جهان دبقأ مسبب ګڼل کیږي او دذهنیت په مادیت دلالت کوي.دا لوی جهان موجوددی ځکه چې متحرک دې اومتحرک دې ځکه چې موجوددې ،داجهان همغومره متنوع،متفاوت او متغیر دې لکه څومره چې حرکتونه متنوع،متفاوت او متغیر دي.دا جهان همغومره ابدي دې لکه څومره چې حرکت ابدي دې.لوی خدای دخپل لوی علم د عامې قانونمندۍ او مقضی الامر ارادې له مخې دلوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تر بله سره ابدي علت او معلول او همداسې قایٌم با الذ ات او خلل نا پذیر ګرځولې او یوازې دقضأ او قدر د خدایي قانون له مخې پکې تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدلې شي.

پدی ډول لوی خدای دخپل لوی علم له مخې دا جهان مادي پیدا کړې او د انساني مقدراتو په تناسب یې ورته مسخر ، قابل دشناخت اوقابل دا ستفادې ګرځولې دې. فلسفه یوازې دانسان دمقدراتو او شعور په کچه د معرفت علم ته ویل کیږي. فلسفه دهمیش لپاره نسبي معرفت او نسبي علم دې،ځکه دا



جهان لوی دې او په همزمان او هم مکان تحول ، تکامل ، دینامیزم او ستاتیزم کې قرار لرې.

دا ټول هغه څه دي چې خدای دقضاً او قدر دقانون له مخې خپل عالم،خلف او مقدر انسان داو سني او راتلونکې علمي اوتخنیکي امکاناتو په کچه دهغې په معرفت مأمور او مکلف ګرځولې دې. په نتیجه کې ویلې شو : د شعور او مادې تر منځ ذاتي توپیر وجود نلري ؛ ماده موجوده ده ځکه چې متحرکه ده او متحرکه ده ځکه چې موجوده ده ؛ مطلقه بې شعوره او مطلقه باشعوره ماده وجود نلري ؛ دقضأ او قدر قانون حکم کوي چې مطلق مجبور او مطلق مختار هم وجود نلري ؛قانونمندي دټولو خلقتونو او پدیدو لپاره عامه ده او هیڅ ډول غیر فانونمنده پدیده او خلقت وجود نشي لرلې ؛ خدای لوی ذات دې او انسان په عالم الا سباب کې دهمیش لپاره دخدای د پیژندنې او توصیف څخه عاجز دې ؛ ... . خدای واحد ،لاشریک او د بې شمیره او بې ساري خلقتونو خالق ذات دې. په خدای دخدای د بې ساري خلقتونو له مخې ایمان لرل پکاردي . دین د هرڅه څخه دمخه فردي او اجتماعي ضرورت دې او که څوک ددین دبطلان په خاطر ددین څخه دځینې کړیو دسوٌ استفادې دلیل راوړي نو ددولت ، حکومت ، اداري ،قانون ، حقوق ،صلا حیت ، قدرت ،مطبوعات او نورو څخه هم همیش سوٌ استفادې شویدي . خدای واحد دې ، جهان یې واحد دې او علم یې واحد دې . دبې شمیره فلسفي مجموع الجزایرٌ وجود مفهوم او منطق نلري . پدي توګه دما بعدا لطبیعت ، ما قبل الطبیعت، مافوق الطبیعت ،ماتحت الطبیعت او متا فزیک فلسفو وجود هم دواقعیت څخه لیري بریښي . هرچا چې ورسره کار لرلې کوچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې تړې ندې حاصل کړې پرته له دې چې دخپلې ناپوهۍ لپاره یې دلیل پرېښې اوسي.

په ټولو فلسفي بحثونو او قضایاوو کې په پورتنیو قانونمندیو سترګې پټې شوي ،هیڅ په نظرکې ندي نیول شوي ، په غلطه دفلسفې اساسي مسئله مطرح شوې او په همدې علت،ډیر پوهان چې اصلاً د خپل وخت او زمان اګاه ترین انسانان وو او لکه څرنګه چې ورته پورته اشاره وشوه ،هغوی اکثر مسایل درست درک کړي وو او په دغه مسایلو کې یې خپل نظریات هم وړاندي کړي وو .خو څرنګه چې په شعوري لحاظ یې د هغې په باره کې علمي منطقي دلیل نه شو وړاندې کولې یا به دخپل واقعي نظره وګرځیده او یا به یې په واهي شکل په غیرعلمي غیر منطقي انحرافي تیوریو او سفسطو پیل وکړ . زه غواړم پدې باره کې څو محدود مثالونه راوړم او هغه هم دماتیریالیزم دپلویا نو چې په نورڅه باور نلري.

«...معنویت پرته له مادیت څخه بل څه ندې ، یواځې دانسان په مغز کې یې ځای نیولې اوتغیر یې پکې موندلې دې » د ( کارل مارکس او فریدریش انګلس کلیات ،روسي چاپ ،جلد ۲۳، صفحه ۲۱ ) او یا

« مفکوره په مادي قوه بدلیږي،کله چې اولسونه دتاثیر لاندې راولي» .

« بې له شکه دمادي او شعور مطلق تقابل یواځې په ډیره محدوده ساحه کې موجود دې ،په اوسنۍ قضیه کې په خاصه توګه دمعرفت په مسأله کې چې شعور مقدم دې که ماده ؟ددې ساحې څخه وتلې ددغه تقابل نسبیت دشک وړ ندي» . یابل ځای لیکي « چې په دغه تقابل کې ډیره مبالغه او ډیرزیاتوالي



باید ونشي او متافزیکي نه وي» او یا «هم شعور هم ماده یو واقعیت دي یا په بل عبارت حقیقتاً وجود لري» خو بل ځای لیکي

«لیکن شعور مادي ګڼل معني دا چې دماتیریالیزم او ایدیالیزم د شریکولو په لور غلط قدم اخستل» (د لینن کلیات،۱۸ جلد ، ۲۵۱ ، ۲۵۷ او ۲۵۹ صفحي» .

« شعور مادي دې ،ځکه چې دمادې محصول او زیږنده ده او همداسې دهغه مادې څخه ژورفرق لري چې محصول یې دې» ( اي.س . نورسکي، دیالکتیکي اضداد او دشعور منطق ، مسکو ۱۹۶۹ ،۳۳او۳۴ صفحي ».

پدې ډول مونږوینو چې سرسخترین او اګاهترین ماتیریالیستان دفلسفې په اساسي مسٌله کې څومره ناپایداره دي او نپوهیږم چې په شعوري او که لا شعوري ډول خپلې جبهې دایدیالیزم او ماتیریالیزم په سنګرونو کې په څومره وارخطایې سره بدلوي او داستقرار موضع نشي موندلې .

حقیقت دادې چې ماتریالیستان په شعوري او ټولنیزو مسایلو کې ایدیا لست پاتې وو او ایدیالستانو د خپلو ذهني عینیتونو په بناء ماتیریالیستي فورمولبندۍ او افادې وړاندې کړیدي . دمثال په ډول کارل مارکس ما تیریا لیزم په تاریخي او دیالکتیکي باندې ویشي ،حال دا چې په تاریخ کې دیالکتیک او په دیالکتیک کې تاریخ وجود لري او دواړه دقانونمندۍ په حیث د مادیت مستلزم ګڼل کیږي.او هګل ماتیریالیستي دیا لکتیکي قوانین فورمولبندي ، حال دا چې فکر یې کاوه د مطلقې ایده یا جهاني روح دتکامل د طبقه بندۍ مراحل یې فورمولبندي کړیدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ کوشش کوو ځیني فلسفي اساسي مسایل په لاندي ډول فورمولبندي کړو :

ــ « ذهنیت نسبي عینیت او هر مشخص ذهنیت عیني واقعیت دي» ؛

ـ « قانونمندي شکل دموجودیت د مادي دي » ؛

ــ « ماده یواځي په قانونمند حالت کي وجود لري او یواځي په قانونمنده بڼه سره تغیر او تکامل کولې شي. یعني قانونمندي شکل دموجودیت دمادې دې »

ــ « ماده متحرکه ده ځکه چې موجوده ده او موجوده ده ځکه چې متحرکه ده. ماده پرته له حرکته وجود نلري. حرکت شکل دموجودیت د مادې دې » ؛

ـ « مطلقه بي شعوره او مطلقه با شعوره ماده وجود نلري» ؛

ـ « مطلق مختار او مطلق مجبور نشته »

ــ « فلسفه دین او دین فلسفه ده، ځکه چې دواړه یو شان د خدایي خلقتونو د معرفت متضمن دي» ؛

ـ « ماده قانونمنده او هره قانونمندي مادي ده»

ــ « ځانګړي مستقل علوم په حقیقت کې په مستقل ډول وجود نه لري »

ــ « غیر مادي ایدیا لیستي فلسفې په عالم الاسباب کې حقیقت نه لري » ؛

ــ « حرکت په عالم الاسباب کې د خدای دلوی علم دعامې قانونمندۍ او دهغې دټولو خصوصي حالتونو په پروسه کې دټولو پدیدو دظهور او متقابلو اړونده مناسباتو دعلت او معلول مسبب ګڼل کیږي» ؛

ــ « دا جهان همغومره متنوع ،متفاوت ، رنګارنګ او متغیر



دي لکه څومره چې حرکتونه متنوع، متفاوت ، رنګارنګ او متغیر دي. دا جهان همغوره ابدي دي لکه څوره چې حرکت ابدي دي.لوی خدای دخپل لوی علم دعامې قانونمندۍ له مخې دلوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول ، قائم با الذات او خلل ناپذیر ګرځولي او یواځي دقضاء او قدرد عام قانون دجبر او اختیار له مخې په هغې کې تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدې شي.»

ـ « ... او داسي نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فلسفي مجموع الجزایر

د فلسفي داساسي مسئلې په موضوع کې مونږ دا خبره ومنله چې فلسفي مجموع الجزایر د فلسفې داساسي مسئلې د بې بنیاده طرحې په نتیجه کې رامنځته شویدي. په هرجوړښت، هر ترکیب او هره عملي ساحه او مورد کې د خامو او نارسه موادو استعمال کولې شي په نسبي فیصدي کچه مطلوب هدف او چاره سر ته ورسوي او د موجوده عملي تجاربو له مخې کوم جبران ناپزیره مشکل رامنځته نه کړي ، لکن په تیوریکي مسایلو کې ډیري کوچنۍ غلطۍ او اشتباهات کیدلې شي په جبران ناپذیره غلطۍ ،سهوې او ګناه بدل شي ، نوځکه په نظري مسایلو او تیوریکي فورمولبندیو کې د خامو ،نارسه، تخمیني او تقریبي کمیتونو او کیفیتونو استعمال په هیڅ صورت جواز نلري او کیدلې شي پخپله هدف د هدف په ضد بدل او جهت د عمل ۱۸۰ درجې تغیر پیدا کړي. بنیاد د بنیاد په حیث باید هیڅکله بې بنیاده نه اوسې. پخپله بنیاد په حقیقت کې باید ذاتاً او ماهیتاً د هرې پدیدې د اصلیت ، کمیت او کیفیت د تعین او ټاکنې معیار ،محک او مقید اوسي. په انفرادي طرحو ، قضایاوو او مسایلو کې باک نه لري چې هر څوک په مشخصه پیښه کې څه ډول تصمیم نیسي ، د خپلو ځانګړو شرایطو مطابق په څه ډول کمیت او کیفیت اکتفاء او



قناعت کوي. په دې صورت کې تصمیم او چانس مقید نه ګڼل کیږي او نه د غه ډول پیښې قانونمنده بڼه لرلې شي. خو په هغه صورت کې چې د دې لوی جهان د تکوین ؛ د ټولو پدیدو او خلقتونو د تشکل ؛ د همزمان او هم مکان ستاتیزم او دینامیزم ؛ لحظوي قانونمند بدلون او ابدي پایښت ،استقرار او تکامل؛ په قدیم کې د ابد لپاره د قانونمند نظام تخم کرل او تر هغه ابده پورې چې هیڅکله ورته ابد نه رسیږي د هغې پالل او تعقیبول او د پته ورته د بې شمېره کلي او جزئي ،خاص او عام نظامونو ، د واحد عام قانون له مخې قانونمنده محاسبه ، افاده، فورمولبندي ،شک نه شته چې همدغسې یوه وسیع القاعده بنیاد ته چې د ټولو پدیدو زړې او ریښه په کې خښه او د هرې قانونمندۍ سر اغاز او منبع اوسې ، ضرورت لیدل کیږي. د غه ډول یو بنیاد باید جهان نما آیني ته ورت قد و قامت ولري چې هره پدیده او خلقت په کې د خپلې بودې او تنستې په تناسب د خپل پیدایښت ،پایښت ، بدلون او تکامل ننداره وکولې شي. په غیر صورت کې هر بې بنیاده بنیاد د دغه ډول عظیمو نظامونو د برداشت او تحمل له حوصیلې نه شي لرلې او نه یې د افادې او قانونمندې تیوریکي ارزونې له عهدې څخه وتلې شي. کله چې ځانګړي نظامونه او پدیدې پخپل بنیاد د تکیه او ډډې لګولو امکان او د خپلو ارزو ګانو انعکاس ونه لیدې شي ، هیڅ نظام پایداره نه شي پاتې کیدلې او حتماً سلیقوي تمایلات د مختلفو ټولنیزو تنګنظرانه امراضو له لارې ظهور کوي او کورکورانه تعصبات په انحرافي ډول د قانونمندو تیوریو او منطق ځای نیسي او واحد جهان او واحده علمي قانونمندي معرض د فردي ذهنیګریو او هوس واقع کیږي. بشري ټولنه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل پیدا ښت له ابتدا څخه تر نن ورځې پورې د دغه مبتذلې غمجنې مستندې ډرامې عملي لوبغاړې، ننداره چې او زیان ګالونکې دي، کومه یوه چې د مادې او شعور د ناسم تضاد د بې بنیاده بنیاد په غولي پرون پیل شوېده.

فلسفي مجموع الجزایا او نظري او عقیدوي تمایلات د همدغه ټولنیزو خامو او نارسه مناسباتو او ذهني نیمګړو قیوداتو او انحرافاتو څخه سرچینه اخلي او پایلې یې باید همدغسې غیر متجانسې، متضادې او نه پخلاکیدونکې دښمنانه سلیقوي تمایلات نظریات او عقاید اوسې. مونږ په وار وار خپله عقیده او نظر د احسن تکرار او په دې باره کې د کافي وضاحتونو په منظور وړاندې کړي، تر څو د علمي مسایلو سره علمي کره وړه رواج پیدا کړي او انساني ټولنیز شعور چې د تیرو بې بنیاده انحرافي تخلي تیوریو د خاملیتې او سر تر پایه مجهولاتو او مهملاتو د انجړ مشوړې څخه د یواځیني علمي صراحتونو او وضاحتونو حقیقي مستقیمي لارې ته پریېستل شي، شک نه شته، چې نه یواځې بې شمیره او په ټپو ړوند تیوریکي ازدحام او ټیلماټیل له هر چا څخه د حقیقت لار ورکه کړې، بلکه په همدغه بنیاد د بې شمیره مجازي خدایانو، ادیانو، مذاهبو او نور د قدرت ډول ډول مرکزونو ایجاد، چې هریو د تقدس او زورواکۍ له مخې یو بل ته نه تسلیمیدونکي قدرتونه لري، لا هم دغه وضعه کړکیچنه کړې او د حل لار میندل یې نا ممکنه ګرځولې دي. مونږ هڅه کوو تر هرڅه دمخه د دغه غمجنې معما حل او پوهاوي د هر چا لپاره اسان شي او حتا ډیر کرت په متودولوژیکي او نورو غوره ارزښتونو سترګې پټې کړو. تاریخ د دې ګواه دي چې د خدای



رسولانو او د حق او عدالت د لارې مبارزینو، عالمانو، پوهانو او فیلسوفانو څومره ستونزې پدې لار کې ګاللي او په دې کې یې سترې مالي او ځاني قربانۍ ورکې، خو بیا هم لا تر اوسه پورې دغه هرې یوې قضې او مسّلې د بشر په مقابل کې د هر ډول تعرض څخه مصئون موقف ساتلې او غیر قابل عبور او نه فتحه کیدونکې سرحد او پوله ګڼل کیږي. بشریت نن هغه دوه لارې ته رسیدلې چې باید یوه له دغه دوؤ لارو څخه انتخاب کړي:

ـ په ټپو سترګو موجوده وضعې ته دوام ورکول. پدې ډول علم او فلسفي هم نه دي کړې شوي په داسې مقیدو شرایطو کې ازادانه او واقعبینانه څېړنې وکړي، لازم حقایق ترلاسه او د خپلې عقیدې اظهار وکولې شي. علم او فلسفه نن هم په ترګمۍ کې پاتې او هر څوک په دغه ترګمۍ کې بیلې بیلې لارې تعقیبوي او یو تر بله بې خبره پاتې دي. ځینې ماتریالیستان ماده مجرد مفهوم ګڼي او د «مُثُل» د مثالونو له مخې ئې څېړي، څوک ئې ساده میخانیکي تکرار او په یو حال پیدا او په همغه حال فناء او یواځې متا فزیکي استمرار بولي، هغوئ چې مادي دیالکتیک ته قایل دي، هم د مادي ټولو حالتونو او کیفیتونو څخه منکر او بې خبره، د ټولنیزو او شعوري پدیدو په باره کې ایدیالیستي مفکوره لري او طبعاً د څېړنو قانونمند تسلسل تري شلیږي او د ګمراهۍ لار نیسي. ایدیالیستان په مجموع کې څرنګه چې ایدیالیستي نظریات او عقاید لري، په غیر قانونمنده تخیلي او تصوري فورمولبندیو باور کوي، نو ځکه ئې نظریات او تیو رئ قانونمند منطقي تسلسل او بنیاد نه لري .همدا سبب دي چې دوئ ټول په خپلو عقایدو، نظریو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فورمولبنديو او تيوريو پوره باوري او معتقد نه دي. نه تري په جرئت او قاطعيت سره دفاع کولي شي ، نه ورته مقنع ثبوتي دلايل لري او نه ئی دانکار او ترديد په خاطر کوم نظر او ثبو ت وړاندي کولي شي. دوئ هميشه د متضادو او ضدو نقيض،بي بنياده ،تخيل او تصور له مخي تل شکمن ، متردد ،ناقراره او بي باوره او خود اګاه او نا خود اګاه خپلي عقيدوي نظرياتي قبلي بدلوي ،اشتباه په اشتباه او ګناه په ګناه تلافي کول غواړي او تر شاه د انحرافي او کاذبو تيوريو سلسلي او سفسطي پريږدي.

په نتيجه کي فلسفي خپل اصليت او رسالت دلاسه ورکړي، په هرډول سليقوي ،مسلکي ،او عقيدوي تورونو تورنه ، چا دکلام ،چا دمنطق، چادمتماتيک ،فزيک او نورو په نورو اصالتونو پوري تړلي.حال داچي اکثر له دغه علومو څخه پخپله دذاتي علمي قانونمندی، څخه برخور داره ندي او يواځي تري دفلسفي علمي قانونمنديو د افادي د وسيلي په توګه کار اخستل کيدي شي او بس. دماترياليستانو او ادياليستانو په دغه ډول ناسم کړو وړو سره فلسفي خپل علمي ماهيت او اهميت بايلوداو په يوه نابکاره وسيله بدله شوه .
څوک ئي خاص علم بولي خو نه پوهيږي چي خاص يعني څه ؟ څوک ورته دعلومو علم واي يعني هغه ځه چي نورو علوموهضم او فورمولبندي کړي فلسفه پري دوباره شخوند وهي او يا داچي فلسفه مړ ښامار په توره وهي.ځيني کسان اصلاً دفلسفي علميت ته قائل ندي ځکه چي که علم ورته ووائي دليل ورته نلري . څوک فلسفه دوني د تني او نور علوم دوني دڅانګو سره تشبيه کوي ،دا هم سمه نده ځکه چي دا جهان واحد دي او



جداګانه ورشوګاني چي جداګانه قوانين پکي جاري وي وجود نلري.څوک ئي متودولوژيک علم ګڼي او دا هم سمه نده ځکه چي ډير متودولوژيک علوم شته چي هيڅکله ئي مونږ فلسفه نه شو بللي. او داسي نور... په نتيجه کي فلسفه زر سريزه اوزرپښيزه بلا او معما جوړه شوي چي نه څوک ورنږدي کيدي شي او نه چاته ددغه معما دحل چل ورځي . په همدي علت،دکومي ورځي څخه چي لومړنۍ فلسفي فورمولبندۍ رامنځته شوي ، تر نن ورځي پوري دفلسفي نظرياتو په ماهيت کي هيڅ ډول بنيادي تغير ندي راغلي او هر څه دپخوا په څير زړه په زړه پاتي دي . ۲۵۰۰ کاله پخوا هرقليطوس دديالکتيک په واقعي مفهوم په عالم الاسباب « مادي جهان » کي تغير او تکامل ته قايل وو .خو ايما نويل کانت د هرقليطوس څخه ۲۳۰۰ کاله وروسته د « شيئ في نفسه » په تيوري کي دغه تغير او تحول تردي اندازي بنيادي او قهقرائي وګاڼه چي مادي خپل ټول ماهيت او شکل پکي دلاسه ورکړ او کانت يواځي «داحساساتو د کمپلکس » دزيارت مجاور وګرځيده . حال داچي ، ماده يواځي دخپل شکل او ماهيت په يو تر بله لازم ملزوم موجوديت سره قابل د احساس ده ، مکان او بعد شکل دموجوديت دمادي دي او دکانت په اصطلاح «کمپلکس داحساساتو» هم يواځي د مادي په څو بعدي او څواړخيز موجوديت سره منځته راتلاي شي. دشکل او صورت مفهوم هم دغه پوهان په غلطه د مادي واحد په خارجي صورت چي هميشه تغير پذيره دي ، اطلاقوي .خو به حقيقت کي دصورت څخه مقصد د مادي واحد داخلي ماليکولي ، حجروي او بلکه ذروي جوړښت دي چي تغير نه مني او دهر عنصر خصوصيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خواص تعینوي او ددي لوي جهان د بناء د جوړښت خښتي ګڼل کیږي. .کانت د فزیکدان او استره نوم په حیث ټول فزیکي ــ میخانیکي قوانین ،قانون د تحفظ د انرژي ،قانون د بقاُ د مادي نادیده انګیرلي ،پدي لوي لایتنا هي مادي جهان ئي هم سترګي ندي ډکي شوي او د خپل ذهن د عطالت د تاُثیر او تاُثر لاندي هم ندي راغلي او د خپلو مادي علمي ذخیرو سره سره د افلاطون د «مثُل» د عقیدي د تاُثیر لاندي یواځي ذهني ایدیالیست پاتي شویدي. که نه خو د هغه په آند هغه د «شي في نفسه» د مقولي له مخي خورا ژور «صیروریت» او دیالکتیک ته قایل وؤ .هغه کولي شول د خپل عصر د علمي ــ فلسفي انکشافاتو او د هغه د شخصي علمي سویئ په بنیاد پخوانۍ بي بنیاده فلسفي تقسیم بندئ له منځه یوسي ،فلسفي مجموع الجزایُر ته د پاي ټکي کښیږدي ،او واحده فلسفه په واحد علمي بنسټ باندي ودروي . او کله چي د غه کار سرته ندي رسیدلي ، څرنګه چي ما د مخه اشاره ورته کړي ، د غه ټول لوي فیلسوفان د پخوانیو ابتداي فلسفي نظریاتو محکوم پاتي شوي او حتي دیوي کوچنۍ ناقانونه پولي په له منځه وړلو ندي بریالي شوي .

زه پدي عقیده یم چي هګل په موجوده فلسفي او منطقي نظام کي محوري او مرکزي موقف لري. که مونږ وکولي شو د هګل د منطقي استدلال او فلسفي فورمولبندیو په بناُ منطقي قضایا او فلسفي قانونمندئ وڅیړو او د هغوئي مثبت او منفي اړخونو ته د تایُید او تنقید ګوته ونیسو ، پرته له شکه به مونږ نه یواځي د عینیت د فلسفي او مختلفو پخوانیو فلسفي نظامونو ترمنځ اساسي مشکل حل کړي اوسي بلکه فلسفي علم او فلسفي نظام به د تل لپاره پخپل حقیقي بنیاد ودریږي او خپله



حقیقي موضوع او علمي ماهیت به پیدا کړي.

ګیورګ.ویلهلم. فریدریښ ملقب په هګل د اتلسمي م پیړۍ په دیرشو اخري او د نولسمي م پیړۍ په یو دیرشو لومړیو او جمله یو شپیته کلونو کي د اروپا په زړه المان کي ژوند کړي او د خپل عصر وتلي، پر تحرکه او پرثمره فیلسوف پاتي شویدي. هګل د لوي عقیدي ،لوي منطق او لوي فلسفي څښتن وو. او همدا د هغه لویه نقیصه ګڼل کیدلي شي. هګل په خپل لوي منطق او لوي پوهي سره په یوه قضیه کي ذهني روح ،عیني روح او مطلق روح په اصطلاح یو شان په اثبات رسوي او په هغي کي پرته د هیڅ ډول توپیره یو شان د یالکتیک ته قایُلیږي او دي خبري ته نه متوجه کیږي چي دیالکتیک خو د مطلقیت ماتوونکي او ټول مادي خلقتونه او پدیدي په ابدي تحول او تکامل کيویني او یا څه ډول ذهنیت ،عینیت او مطلقیت په یوه پدیده «روح» کي تحقق او د عمل بڼه پیدا کولي شي ؟ پوهان هغه عیني ایدیالیست بولي خو زما په نظر هغه ذهني ــ عیني ایدیالیست او دیالکتیکي ماتریالیست ګڼل کیدلي شي یا په بل عبارت په یو له دغو هم باوري نه وو . ځکه په مختلفو مخالف اړخونو یو شان باور لرل په ټولو باندي د نه باور په معنا دي. هګل تر اخره پدي نه وو پوهیدلي چي دده لویه او غیر محاط پوهه پخپله دده د لوي فلسفي د پاره لویه بلا ګرځیدلي ده . د هګل بله ستره اشتباه داوه ، سره ددي چي ده عملاً هر اړخیز وسعت د نظر درلود ، خو ذهناً هغه د عیني ایدیالست په حیث د ماتریالیزم په مقابل کي د ښمنانه تنګنظري درلودله او پدي ډول د هغه بزرګمنشانه لویي پوهي او ناخود اګاه ګمراهۍ حق او ناحق په اصطلاح هغه ته علمي تیوریکي لاري هوارولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ددي په عوض چي دخپلي لوي عيني دیالکتیکي فلسفي بنیاد کښیږدي ، دپخوانیو ناقصو فلسفي نظریاتو په چنگکونو کي له هري خوا زوړند پاتي شو او خپله ناقصه فلسفه ئي په میراث پریښوده.

هګل په ابتدا کي دشلینګ دنظریاتو پیروي کوله . دشلینګ نظر د مطلق او حقیقت په باره کي دهګل دپاره دمنلوړنه وو. هګل د خپل منطق له مخي دا نه شوه منلي چي مطلق دي هیڅ ډول تغیر ونشي منلي. یعني هګل عملاً دیالکتیک ته قایل وو خو دا سوال هغه ته پیدا نه شو چي د مطلق اصلي مفهوم خیر په څه کي دي او دڅه شي له مخي په مطلقیت اطلاق کیدلي شي ؟ هګل د شلینګ په څیر دا هم نشوه منلي چي ګوندي ذهن او عین یوډول دیالکتیکي سیرلري (حال داچي دمخه مونږ دي خبري ته اشاره وکړه چي هګل ذهني روح ،عیني روح او مطلق روح ته یوډول ارزش او په هغي کي عیني دیالکتک ته قایل وو ) او پدي عقیده وو چي ذهن پر عین باندي غالب دي لیکن بیا هم دذهن قاطع رجحان ته قایٌل نشو او مطلق ( چي هګل ئي معمولاً د خپل خداي او خارق العاده ذات او ځیني وخت دټولنیز شعور په حیث پیژني ) ذو وجهین وباله یعني هغه ئي هم ذهني او هم عیني وګاڼه ( یواځي په دغه څو جملو کي مونږ وینو چي هګل څومره ناپایداره بریښي او خپلي جبهي او عقیدي ته څه ډول تغیر ورکوي. دعینیت فلسفه پدي باور ده چي په عالم الاسباب کي مطلق وجود نلري. هر خلقت او هره پدیده نسبي خصلت لري او هګل هم په همدي خاطر دشلینګ مطلق دتوپک له خولي څخه وتلي مرمۍ اویا هغه شپي سره تشبیه کوي چي په هغي کي ټولي



غواګاني توري معلومیږي. او بیا لیکي: «مقصود او از مثال اول این است مطلقي راکه فهم ما نتواند با طي کردن مراحل نظري معقول دریابد نباید مفهوم فلسفي دانست،ومنظوراو از انتقاد دوم این است که تفاوتها رانمیتوان با توسل به مطلق منکر شد (یعني همزمان هم مطلقیت ته قایل دي او هم تحول ته او دا دواړه پدیدي ممکنه نه ده همزمان وجود ولري ) بلکه باید انهارا توضیح دادو جاي انها رادر مطلق معین کرد به بیان دیګرمفهوم مطلق باید قابل تشریح عقلي و نمایشګر تفاوتها باشد ». ( فلسفهٌ شرق وغرب ،جلد دوم ،صفحهٌ ۲۶۷ ) کله چي دهګل څخه پوښتنه کیږي چي څه ډول دومره مختلف او متناقض مسایٌل په یوه مفهوم کي ځایدلي شي ؟ هګل ځواب ورکوي چي: « چګونګي را باید در روش دیالکتیک جست ». پوښتنه دا پیداکیږي. کله چي په یوه پدیده کي تفاوتونه وجود ولري ، کله چي دعقل دمراحلو پواسطه قابل ددرک ،تشریح اومعرض ددیالکتیک اوسي نو مطلقیت به ئي په څه کي وي ؟ دا مفکوره چي هګل پري تاکید کوي اصلاً سر تر پایه د دیالکتیک سره په تناقض کي ده . هګل په اصطلاح د خپلي عقیدي ،منطق او فلسفي په قوت نا متجانس افکار او مفاهیم په یوه قالب کي په زور ځدماتي کوي او نتیجه ئي همدغه ماته ګوډه فلسفه کیږي . هګل دیالکتیکي روش دا ډول توضیح کوي: « از منظر هګل،فلسفه علم است ،یعني که دانشي است نظام دار. حقیقت فقط به صورت دستګاهي منظم قابل درک است وکشف این دستګاه منظم که همانا نظام عقل محض است ( کله چي مونږ ددستګاه څخه بحث کوو ، څه ډول عقل محض مورد بحث کیدلي شي ، څه ډول دستګاه د عقل محض دنظام

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صفت پیژندلي شو ؟ دا اور او اوبه هیڅکله نشي یو ځاي کیدلي ) کار فلسفه است. فلسفه با روش خاص خود که از روشهاي علوم ریاضي وعلوم تجربي فرق دارد ، ( دا ډول خاص روش نه وجود لري او نه ئی ماته څوک ښودلي شي ) این نظام را در مي یابد ». (تاریخ فلسفهٔ شرق و غرب ،جلد دوم ،صفحه ۲۶۸». هګل ادامه ورکوي: « روش دیالکتیک که روش خاص فلسفه است ، به اعتقاد هګل خود ازموضوع فلسفه ناشي مي شود . براستي روش دیالکتیک ،هما ناحرکت ذاتي مسایل فلسفي است... این روش از خارج در مورد مسایل فلسفي بکار بسته نمي شود ،بلکه خود از ذات ان مسایل مي تراود ». (همانجا ). اول خو دیالکتیک روش ندي. ما دمخه لیکلي وو چي: «دیالکتیک دمادي هغه مسمي بهِ نوم دي چي دهغي په ابدي دینامیزم دلالت کوي یعني مادي وجدي حالت ته ویل کیږي چې د مادي واحد په قانونمند موجودیت دلالت کوي. پخپله فلسفي مسایل او قانونمندي یواځې د افادې ، استفادې او محاسبو وسیله ګڼل کیږي او په دغه مسایلو کې ذاتي دیالکتیکي حرکت وجود نلري او نه د کوم مادي واحد ذاتي توکو د وجدي حالت ،کمیت ،کیفیت او دیالکتیک انګیزه او علت او معلول جوړیدلې شي ».یا په بل عبارت دیالکتیک دمادي ابدي متحول وجدي حالت ته ویل کیږي اود فلسفي مسایلو پوري هیڅ ډول ذاتي اړه نلري . فلسفه ، لکه چې دمخه مونږ ویلي ، دعامو او مجرد مفاهیمو او قوانینو څخه بحث کوي چې اصلاً خارجي وجود نلري . نه په هغي کي ذاتیت شته او نه حرکت. ذاتیت او حرکت په مادي وجدي دیالکتیکي حالت کي وجود لري او فلسفه ددغه حالت دقانونمندې افادې



فورمولبندۍ او علم ګڼل کیږي. هګل فلسفه نظامداره علم بولي او وایي چې حقیقت دیوي منظمې دستګاه په صورت کې قابل ددرک ،او دغه منظمه دستګاه همغه نظام دعقل محض دې چې دفلسفي پورې اړه لري .خو مونږ عقل او ټولې ذهني پدیدي د پروسې په حیث د مختلفو کیمیاوي ، بیولوژیکي ، فیزیولوژیکي او داسې نورو پروسوي میخانیکیتونو پورې ، چې بالذات زماني ،مکاني او یا په کل کې په لنډ ډول ووایو چې مادي قیودات لري او یا په بل عبارت په کل او جز کې ددیالکتیکي وجدي حالت ، پیدا ایښت ،پایښت بدلون ،تکامل او انحطاط لرونکي دي ،په دې صورت کې په کوم دلیل مونږ په عالم الاسباب کې ،عقل ته محض او یا مطلق ویلې شو ؟ مګر یواځې د هغه ذات لپاره چې د مطلق حقیقت او مطلق ذات نسبت ورته کیدلې شي .د عینیت فلسفه پدي عقیده ده چي په عالم الاسباب کې مطلقه بي شعوره او مطلقه با شعوره خلقت او پدیده وجود نلري. نو نه عقل محض وجود لري ،ځکه چي هرعقل مقید او مستلزم د مکان او زمان دي او نه مطلقه باشعوره ماده چیري وجود لري چي دعقل محض او عقل ناب اطلاق پري وشي. سقراط او افلاطون « مثُل »دعام مفهوم او کائن کلي په حیث محمل دعقل ګڼه او دارسطو د « اولی فلسفي » اساسي محور هم همدغه مثُل جوړوه او دمعرفت اساسي رکن همدغه همیشه ثابت متا فزیکي عام مفاهیم ګڼل کیدل او جزیئ محسوس موجودات دهغوی او ځیني نورو په نزد معرض دکون و فساد او دمعرفت د پروسې له منځپانګې څخه پوچ همیشه متغیر احساس بلل کیده او په ذهني ختمه کې یي هیح ډول قانونمند استقرار او استمرار نشو درلودلي، حال داچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساکني او متافزیکي ثابتې پدیدي په ذهن کې د انعکاس قابلیت نه لري. نو هګل هم البته دهغوی په تقلید فلسفه دعامو مفاهیمو د منظمي دستګاه په حیث عقل محض ګڼي او دریاضي او تجربي علوموڅخه یې مافوق نظام بولي. حال دا چې دټولو قانونمندیو دافادي ډیره اسانه او دقیقه ژبه ریاضي او نور تجربي علوم ګڼل کیږي. زه پدي عقیده یم هره مسًله او قضیه چې فورمولبندي شوه ،حتماً دریاضي په ذریعه قابل دافادې هم ده او فلسفه چې دمادې دوجدي حالت انساني قانونمند علم او وسیله ده نو ریاضي همیشه د فلسفې د افادې ژبه او دواړه جدايي ناپذیره دي . فلسفه با الذاتهِ اوفي نفسهِ دهیڅ ډول کمیت ،کیفیت او قانونمندۍ مبینه نده او نه باید دغه تهمت په فلسفي علم پوري وتړل شي.فلسفه د قانونمندۍ د افادې ژبه ده.

هګل همدا سي لیکي: «روش دیالکتیک از منطق متعارف بدور است ( په هغه صورت کې چې خورا لوړ او عالي منطق پخپله د دیالکتیک قانونمندي افادې ته ویل کیږي ، هره عامه قانونمندي فلسفي علم دې او هر دیالکتیک د مادي موجود همیشني وجدي حالت ته ویل کیږي چې فلسفه ، ماده یواځې او یواځې په همدغه حالت کې مطالعه کولې او څیړلې شي ، نو ځکه دغه مثلث دهمیش لپاره تړلې پاتي کیږي او په دې ځای کې حق د هګل پلوي نه شي ګڼل کیدلې ) ،اعلام میدارد که ما بوسیلهٔ حکمی منفی می توانیم به مفهوم والا تر برسیم ، ( څه ډول ؟ ) بنا بر این، چنان که سپینوزا ګفت، هرګونه نفی، خود به منزلهً اثبات است. هنګامی که یک حکم مثبت نفی مې شود ،البته تناقض پیش می اید .تناقض بر ذهن ګران می اید ،ازین رو ذهن بار دیګر حکم نفی شده را نفی می کند . وبا



نفی نفی اول تناقض را فرو می نشاند( یعنې په نفي باندې هم تناقض منځته راځي او هم رفعه کیږي ) .نفی دوم نه تنها ما را به حکم مثبت قبلی بر می ګرداند بلکه حکم مثبت قبلی را برای ما پرمایه تر می کند . ډیره عجیبه خبره خو دا ده چې هګل دیالکتیک د متعارف منطق څخه لیرې ګڼي او دا ځکه چې هګل پخپله دخپل غیر متعارف منطق په زور نا خوداګاه د دیالکتیکي مفاهیمو څخه دخپل قانون د اثبات لپاره لکه همیش په ناروا ګټه اخلي اوددې په عوض چې په خپل منطق دیالکتیکي قانونمندي افاده کړي غواړي دیالکتیکي قانونمندي د منطقي کلام تابع وګرځوي او نوم پري هم د دیالکتیک د «نفي نفي» دوهم قانون کښیږدي او مونږ هم نا خود اګاه دري قرنه په پټو سترګو د دیالکتیکي د قانون په حیث منلې دې.بله د تعجب وړ خبره دا ده چې څه ډول ذهني حکم په دیالکتیکي قانونمندۍ کې تغیر راولي او دهغي نتایج پرمایه تر ګرځولې شي. د دغه ډول استدلال لپاره هیڅ ډول قانوني دلیل او منطق وجود نلري او حتي دډیرو معمولي قوانینو له مخې دمنلو وړ ندي . لیکن هګل پرته د کوم حکمي دلیل د دغه ناقص استدلال په بناُ د دیالکتیک دوهم ( نفی نفی ) قانون طرحه کړیدې چې په هره جمله کې ډیري پوښتني راولاړیدلې شي. زه د دغه قانون په طرحه همدومره بحث کافي بولم او دغه طرحه دجدي تأمل وړ ګڼم ځکه دغه طرحه د ډیرو معمولو قوانینو سره په تناقض کې ده او دبلې خوا په دغه طرحه کې قانونمند منطقي تسلسل او تداوم وجود نلري او نه منطق پخپله کله هم واجد دکومي قانونمندۍ ګڼل کیدلې شي !( دموضوع علاقمندان کولې شي د «تاریخ فلسفهٌ شرق وغرب،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلد دوم ،صفحهٔ ۲۶۸ ، ۲۶۹ » ته مراجعه وکړي ).

هګل د خبرو په دوام لیکي: «... مراحل سیر دیالکتیکی مراحل انتزاعی است ، ( په دیالکتیک کې انتزاعیت وجود نلري ځکه چې دیالکتیک مشخص قانونمند مادي وجدي حالت دي )ولی نتیجهٔ انها وصول به حقیقت انضمامی است (انتزاعي مفاهیم څرنګه چې خارجي وجود نلري ، نو په انضمامي حقیقت باندي هم نشي بدلیدلي ) . هر ترکیبی که در جریان سیر دیالکتیکی اصل ومتقابل بوجود می اید ،به نوبهٔ خود ، اصلی شمرده می شود که همچنان زایندهٔ نفی وترکیب جدید است. ترکیب های مراحل پائین کاملاً انضمامی نیستند ولی به تدریج از صورت انتزاعی دور وبه صورت عینی وانضمامی نزدیک می شوند تا جای که سرانجام به صورت ترکیب مشخص تامی که دیگر تقابل پذیر نیست در می ایند. ترکیب،در این صورت نهای،همانا ذات مطلق است . ... فلسفه،نزد هګل،علم عقل محض یا خرد ناب است ». (همانجا ،صفحهٔ ۲۶۹ ) . زه خو دا منم او باور لرم چې دانسان دذهن په انتزاعیت کې دشعور اولاشعور دیالکتیک موجوددي،شپږم حس موجوددي ،الهام موجوددي ،ایقاظ، ایقان او دپیغمبرانو «ع» لپاره وحي موجوده ده .زه دا منم چې دغه «انتزاع »ربښتیا هم په انضمامي حقیقت بدلیدلي شي. ځکه چې زما په نزدهر مشخص ذهنیت عیني واقعیت او باالذاته انضمامیت ګڼل کیږي )لکن هګل خوپدي باورنه وو او نن هم یو تن که ایدیالستان دي اوکه ماتریالستان دي پدي عقیده اونظر نشي پیدا کیدلې چې ذهنیت دعیني واقعیت په توګه ومني، او هګل هغه وخت یوائې نا خود اګاه دخپل ذهن د



دیالکتیکي تاثیر د تأثر له مخې خپلې طرحي په تصادفي ډول، او هغه هم په سمه او ناسمه توګه وړاندي کولي. هګل لیکی .د ټیټو مراحلو ترکیبونه کاملاً انضمامي ندي ولې په تدریجي ډول دانتزاعي شکل څخه لیري ووځي او عیني انضمامي شکل ته پدي توګه نژدې کیږي چې تام ترکیب وګرځي اونور تقابل پذیر نه اوسي .یعني هګل ددي په عوض چې عام او کلي موجودات انتزاعي اومجرد مفاهیم وګڼي،جزئ موجودات او ځانګړې پدیدې انتزاعي بولي چې په دوامداره تدریجي پروسه کې انضمامي اوعیني بڼه غوره کوي او دهګل په قول دغه ترکیب پدې صورت کې همغه ذات مطلق ګڼل کیږي. دذات مطلق نسبت هګل خپل خدای او کله نا کله ټولنیز شعور ته هم کوي. داچې ترکیب انضمامي دې اوکه نه او داچې څه ډول قابل د احساس یو ځانګړې جزئ موجود په مطلق ذات بدلیدلي شي یوائې دهګل په منطق برابریدلې شي. هرڅوک پدې ښه پوهیږي چې په انضمامیت کې درجې وجود نلري لکه څرنګه چې په مادیت کې دا ډول درجې موجود نه شي لرلي ، چې لږ مادي اویا ډیر مادي. دلته یوله دوو حالتونو څخه ممکنه ده. یا مادي او په اصطلاح انضمامي دې او یا نه دي. خو هګل دلږ انضمامیت څخه دومره اوږده لار وهي چې مطلق ذاتي انضمامیت ته رسیږي.د بلې خوا هر څوک پدې ښه پوهیږي چې محسوس موجودات او پدیدې یوائیني داحساس وړ او څرګند انضمامي واقعیتونه دي او هر څومره چې قضیه دکلیت په لور حرکت کوي او که دقیق وویل شي ، کله چې دانضمامیت څخه ووځي ،انتزاعي بڼه غوره کوي. لیکن هګل له بده مرغه په دغه یوطرفه جاده پر شتې حرکت کوي او معمول اصول او رواجونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې جاده په کوم لوري د انتزاعیت په خوا تللي ، په پام کې نه نیسي .

دمخه وویل شول سره دد ي چې د ارسطو د «اولی فلسفي » اساسي محور دافلاطون « مثُل » تشکیلاوه بیا هم هغه دخپل استاد پرضد چې د اجزاوو او ځانګړو پدیدو پرځای عامو انتزاعي مفاهیموته ارزش قایل وو او یواځې مثل ته په نږدې کیدو سره د عامو مفاهیو له لارې یي ، فلسفه قابل د افادې ګڼله، ارسطو دعامو مفاهیمو په عوض یواځې جزي موجودات داحساس اومعرفت مرجع او منبع ګڼل. زه په دې عقیده یم چې هر مفهوم ، که مجرد دې او که ځانګړې محسوس په خپل خپل وختونو کې خپل خپل ځانګړې ارزش لري او هیڅکله یو د بل ځای نه شي نیولې. مارکس پر ځای ویلي دي ،چې که څوک دحقیقت په څېړلو کې یواځې په احساساتو تکیه وکړي ، دعلم څخه به ذره هم پاتي نشي ،زه غواړم دا پرې زیاته کړم ، چې که غواړي د عامو مفاهیمو له لارې ثبوتي حقایق او واقعیتونه ترلاسه کړي ، دا په هغه څه پسې ګرځېدل دي چې وجود نه لري. ارسطو چې مجبوروو د خپلو فورمولبندیو لپاره د مجرد مفهوم په حیث ، یواځې د محسوساتو له لارې انتزاعي بنیاد پیدا کړي او هغه معرف د خپل معرفت وګرځوی ،دا یوه بله مشهوده ناکامه هڅه ګڼل کیږي . نو ځکه ، لکه چې مې دمخه وویل ، مفاهیم هر یو پخپل ځاي ارزش لري او هر یوه ته پخپل ځاي خپل ارزش قأیلیدل پکار دي. پدي باره کي دنور اضافي بحث لزوم زه نه وینم او قضاوت محترمو لوستونکو ته سپارم.

په دې خبره کې به څوک تردید ونلري چې دمنطق بنسټ ایښو دونکي افلاطون او ارسطودي خو دا هم یو ښکند حقیقت



دي چې په ورستیو نږدي دري پیړیو کې هګل د خپل منطق په مټ دمنطق او دالمان دکلاسیکي فلسفي سلطان پاتي شویدي .هګل دخپل منطق په قوت دجهاني روح ،مطلقي ایده ، مطلق ذات ، عقل محض ، خرد ناب او نورو نومونو سره ځان لپاره مجازي خدایان جوړ کړي او کله چې یي زړه منلي بیرته ړنګ کړي دي. هګل ډیري ستري چاري سرته رسولي او دسراب ټولي ویالې، خوړونه، سیندونه او بحرونه یي چاڼ کړي ، دذهن ټول تنګ کګلیچونه یي پسي لټولي او هیڅ په لاس ندي ورغلي ، ځکه چې واقعي مرغلري خو داصلي بحرونو په ژوروکي میندل کیدلې شي. دمخه مونږ اشاره وکړه ،چې دهګل په عقیده ،فلسفه دعقل محض او خرد ناب علم ته ویل کېږي،کوم یو چې په حقیقت کې وجود نه لري . دکانت په فلسفه کي فهم دمقولاتو او دهګل په فلسفه کي خرد ناب « خالص» د مفاهیموپواسطه افاده کیږي.دغه ناب مفاهیم دانسان پواسطه نه رامنځته کیږي « بلکه از ذات دیالکتیکي مفاهیم ناشي مي شود ـــدا دهګل خبر ي دي » اول خو عقل محض اوخرد ناب وجود نلري ، دوهم داچي ،که چیري عقل محض « عقل مطلق » اوخرد ناب وجود هم ولري ،په هغي کي دیالکتیک وجود نشي لرلي. ځکه چې په مطلق کي هیڅ ډول حرکت ،تغیر اوتکامل وجود نلري.نو دهګل اشتباه داوه چي په مطلق کي حرکت، تحول ،تکامل او دیالکتیک ته قایل وو او دو همه اشتباه یي پدې کې وه چې دغه مفاهیم او دهغې بشپړ جریان یي دمنطق په علم کې سپړه. دریمه اشتباه داوه چي هګل پدي عقیده دي چي: « مفاهیم یا مقولات هګل صرفاً همان صورتهای اندیشه که در تجارب ما منعکس میشوند نیستند ؛این مقولات ذواتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعی به شمار می روند ووجود مطلق یا حقیقت را به ما معرفی می کنند ،واز این رو معرفهای وجود مطلق محسوب میشوند». (همانجا صفحهٔ ۲۶۳ ) اویاهګل لیکي: «... منطق مفاهیم ناب نمایشګر خداست در ذات جاویدان خود .به این معنی که این مقولات که در منطق مورد بحث قرار می ګیرند هم زمینهٔ اندیشه اند وهم زمینه وجود». زه پدي عقیده یم چې نه ناب مفاهیم وجود لري، نه دناب مفاهیمو منطق او نه داسې مفاهیم چیري وجود لري چې دخدای دجاودان ذات نمایشګر اوسي. خدای خپل عالم ،خلف او مقدر انسان دهغه څه په معرفت مکلف ګرځولې چې دهغه لپاره یي مسخر کړي او هغه دعالم الاسباب ټولې پدیدي اوخلقتونه دي او په مروج ډول دطبعیت دمقولي پواسطه افاده کیږي.متا فزیکیت ، مابعد الطبیعت او ماقبل الطبیعت یا خو هیڅ وجود نلري اوکه وجود هم ولري د انسان لپاره مسخر ندي ګڼل شوي ،نو یي په معرفت هم نه قادر دي او نه مکلف. ډیر پوهان لوي شپي په بي خوبۍ سبا کوي او غواړي دتصور او تخیل له لاري په مابعد الطبیعت اوماقبل الطبیعت کې قانونمندیۍ ولټوي.په دې صورت کې که مونږ ماقبل او مابعد الطبیعت ته ځانګړې صورت هم قایل شو ، دمخه په دې خبره مونږ بحث کړې چې صورت پخپله مبین دهیڅ ډول قانونمندۍ ندي او یواځې د مادي محتوا په لرلو سره قانونمنده بڼه او ماهیت پیدا کولې شي. ارسطو خوشي په خوشي صورت عامل اومنبع دمعرفت ګڼله. که هګل خپله فلسفه ددیالکتیک په بنیاد عیار کړي وې، بري یي حتمي او دتل لپاره به دفلسفې سلطان پاتي شوې وای. خو هغه په سراب کې قانونمندۍ لټولي او په سراب کي قانونمندي وجود نلري،



اوکله چې یي د خپل منطق په زور قانونمندۍ برابرولي همغه منطق یي دبي منطقۍ عامل وګرځیدهاو فلسفه یي په سفسطه بدله شوله . وروسته هګل لیکي: «وجود ،عدم،وصیرورت نخستین مقولهً که انتزاعیترین تعریف وجود مطلق است همانا مقولهً وجود است. (ایا دا ممکنه ده چې دوجودمقوله ، دمطلق وجود دانتزاعیترین تعریف په حیث ومنل شي؟ )حد اقل وصفی که می توان در بارهٌ وجود مطلق کرد این است که بګوییم وجود مطلق ،وجود دارد. (چا په ډیر ساده منطق کې د مجهول تعریف په بل مجهول او یا پخپله په همدغه مجهول سره کړې دې ؟یا ، وجود هغه وجود دي چې وجود ولري. که وجود معلوم وي ،نو تعریف ته ضرورت نشته اوکه مجهول وي ، نو دیو مجهول تعریف په بل مجهول کیدلي شي؟که چیري دا خبره سمه نه وي. نو ایا دا ممکنه ده دمطلق وجود تعریف او بلکه دهغه انتزاعي ترین تعریف د عادي موجود په وجود سره وشي ؟وروسته هګل دمتناهي ،کاذب نامتناهي،نامتناهي او مطلق مفاهیمو په باره کي ،دطبعیت فلسفه ، دذهني ،عیني اومطلق روح او فلسفهً محض په باره کې سوال برانګیزه بحث کوي چې دلزوم په صورت کې به پرې بحث وشي .

دتیرو بحثونو څخه ثرګندیږي ،چې فلسفه دخدای د لوی علم دانساني ذهني خلف علم په حیث د هر چا په ذهني محاط محیط اوکوچني شعوري طیف کې د ځایدو نه دې او نه دفلسفي بحثونو د انجړ مشوړې د نري تارونو په متقابلو دیالکتیکي اړیکو او رازونو پوهیدل او د ۱۰۰۱ جهتونو څخه د اصلي جهت تعین او تر پایه پایداره تعقیبول دانسان دامکاناتواو قابو څخه وتلې کار ګڼل کیږي . مونږ د«وشو ،ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو» يا «ګټې او تاوان» په لوبو کې د نورو علومو د سترو برياوو او پرمختګونو شاهد يو، خو فلسفه چې تر ټولو علومو خورا قديمي علم ګڼل کيږي، هيڅ ډول ماهيوي بنيادي خولا څه چې خورا کوچنې پرمختګ په کې نه په سترګو کيږي. او دا ځکه چې فلسفه د کوّن و مکان علم او قانونمندي ده او نور علوم خو اصلاً وجود نه لري او مونږ يې يوازې د «وشو، ونه شو» او «ګټې او تاوان په لوبو کې انساني ورځني مجبوريتونه، ضرورتونه، کره وړه او مصروفيتونه ګڼلې شو. په فلسفه کې دا ډول لوبې ځاى نه لري. فلسفه د لوى جهان او ټولو خلقتونو په کچه د مناسباتو او اړيکو د هر اړخيزي افادې علم دې. په فلسفه کې ټولې محاسبې د سود او زيان په کچه نه، بلکه د علمي ارزښونو، معيارونو او نورماتيفونو له مخې کيږي. په فلسفه کې په اصطلاح کچه او خام مناسبات پايداره نه شي پاتې کيدلې. که په فلسفه کې دا ډول اړيکو پاينت درلودلې شوې، په اصطلاح د شعور او مادې په بنياد د فلسفې اساسي مسئلې بنياد به نه وې رنګ شوې. په ورځنيو چارو کې د سود او زيان او يا نورو معيارونو له مخې هر ډول قمار او خطر منل کيدلې شي، خو په علمي نظري مسايلو کې دغه ډول روشونه او کره وړه په قطعي ډول ځاى نه لري. او س پخپله ددې عظيمې معما او قضې سنجش کولې شو چې ددغه بې شميره مناسباتو او مجهولاتو محاسبه په انساني ذهني امکاناتو سره ممکنه ده او که نه؟ ايا بشر د ننني علمي ــ تخنيکي سترو پرمختګونو سره سره، بيا هم ددغه محاسبو له عهدې څخه وتلې شي؟ ځواب معلوم دي. نه. په دې صورت کې خير چاره څه ده؟ د چارې په باره د مخه مونږ خپل نظر وړاندې کړې، او هغه



داچې، دا جهان خداى قانونمند پيدا کړې او قانونمندي يوازې خدايي مخلوق دې او انسان ددغه قانونمندۍ په معرفت مقدر او مکلف ګرځېدلې دې. خو ددې ټولو خبرو په منلو سره سره بيا هم دا کار نه اسان دې او نه د هر چا له لاسه پوره دې. په همدې علت خو هر څوک چې نه دې برلاسې شوې، خپله لار يې بيله کړې او په نتيجه کې فلسفي مجموع الجزاير جوړ شوې او د مختلفو موضعګيريو څخه د نه پخلاکيدونکو دښمنيو ښخړو، اوتو بوتو او سفسطو بازار لا تر اوسه هم تود دې.

هو! داکار مشکل دې، خو ناممکن نه دې. له يوې خوا مونږ وينو، چې همدغه مختلف عقيدوي او نظرياتي جريانونه د خپلو دښمنانه او مخالفو نظرياتو په لرلو سره سره يې سترې تيوريکي زيرمې جوړې کړې او ديوه سالم روش او لارې په غوره کولو سره، خپلې تيوريکي زيرمې تنظيم او د عمرونو مشکل باندې په اسانۍ سره برلاسي شي. د بلې خوا مونږ د عينيت د فلسفې د لارې او ځانګړې روش په غوره کولو سره د ډيرو مشکلو او په اصطلاح تر نن ورځې پورې ناشوني مسايلو او قضاياوو په فورمولبنديو کې د ورځني علمي ارزښونو او معيارونو مطابق د قناعت وړ نتايج ترلاسه کړي دي. په کار دادي دغه نتايج د فلسفي علمي معيارونو مطابق وارزول شي او حتا تر عامه اذهانو پورې ورسول شي. فلسفه سادګي نه مني، تجاهل العارفانه کره وړه نه مني او د بته ورته هيڅ روش او عمل نه مني. فلسفه دقيق علم دې. فلسفي مسايل او قانونمندي نه د شاعر په يوه بيت او مصرع سره افاده کيدلې شي او نه مغلق، مهمل، مجهول کلمات، ادبي صنعتونه لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبالغه ،غلو ،اغراق ،استعارې ،کنایه ،رومانتیزم ،سوریالیزم او نور په کې د استعمال وړ نه ګڼل کیږي.شک نه شته چې فلسفي څیړنو لپاره ډیره ژوره او هر اړخیزه پوهه پکار ده. په غیر صورت کې د فلسفي غیر محاط محیط د بې شمیره مسایلو دکثیر الجوانب څو بعدي متداخل سیستم فلسفي ارزونه او نتیجه ګیري کیدلې شي ډیره مشکله او حتا ناممکنه وګڼل شي.همدا سبب دې چې د فلسفي مسایلو او قضایاوو له محراق څخه حتا ستر پوهان هم د لیري محیط په لور د ځانګړو علومو ، هغه چې دوی په کې د کافي معلوماتو څخه برخمن دي ، د اصالتونو په لور په تیښته کې دي او هڅه کوي فلسفه په اصطلاح د ځانګړي علم د حاکمیت او اصالت لاندې راولي. او نتیجه دا شوې چې زمونږ نیمکړې او ناکافي پوهه او علم د فلسفې په بې علمۍ او داساسي مسایلو او علمي موضوع په نه لرلو تمامه شي. یو متل دې چې د سلو هو څخه یو نا ښه دې او یالاس مې نه رسي انګور تروه دي ، فلسفه هم چې علم نه دې څوک پرې څه کار لري. په همدې علت د ډیرو پوهانو په آند فلسفې تر اوسه د انحطاط په نزولي قوس لار وهلې او هندي فیلسوفان په دې باور دي چې هندي فلسفه د بودا له وختونو له معیارونو هم شاته تللې. غواړم د شوپنهاور ،فیخته او شلینګ ځیني اظهارات د اروپایي ځیني نامتو فیلسوفانو په باره دلته ذکر کړم .شوپنهاور وای: «مردم با خواندن اثار کانت ناګزیر متقاعد شدند که هر چیز مغلق ومبهم را نمی توان بی معنی دانست. » فیخته وشلینګ ازین معنی استفاده کردند ودر فلسفه تار عنکبوت زیبای بافتند . « ولي انکه در یاوه ګویی جسارت را به حد اعلی رسانید و چنان سخنان بی معنی ومغلق



ګفت، که تا ان وقت جز در دیوانه خانه ها سابقه نداشت ،هګل بود .وی با بی شرمی سخنان بیهوده ً فریبنده ای ګفت که تا ان وقت کسی نګفته بود وبه نتایجی رسید ګه در نظر ایندګان افسانه ای خواهد بودوهمچون بنا وخاطره ای از حمق وکودنی ملت المان بر جای خواهد ماند .» ( تا ریخ فلسفه ،ویل دورانت ، ترجهٔ فارسي ، صفحه ۲۶۳ .» خدای دې نکړي ، زه هیڅکله هیچا ته دغه ډول نسبت کول نه غواړم او خصوصاً کانت، هګل،... او نورو پوهانو ته چې ستري علمي زیرمې یې وروسته نسلونو ته په میراث پریښي دي ،دخپل وخت بې بدیله لوړ پوهان او شخصیتونه وو او اوس هم هغوی ته د کامل احترام حق محفوظ او پرځای پاتې دې. خو ددې ټولو خبرو سره زه غواړم ووایم ،په کومه لار چې فلسفه تر نن ورځې روانه ده ،په اصطلاح د ترکستان په لور ده. نن علم او تخنیک پوره پرمختګ کړیدې ،پکار دادي چې پخوانۍ علمي زیرمې د نوي علمي ــ تخنیکي امکاناتو او لاسته راوړنو په بنیاد دکره کتنې لاندې ونیول شي ، د سفسطو ،مغلقاتو، مبهماتو او مهملاتو زرې برستنې ترې ټولې او ټول مطالب د قانونمند نظم مطابق ترتیب او تنظیم شي.

[هګل درسالهای (۱۸۱۲ــ ۱۸۱۶ ) کتاب « منطق » خودرا نوشت که تمام المان را به جهت صعوبت فهم و اِغلاق ان متحیر ساخت وموجب شد که به استادی فلسفه در دانشګاه هایدلبرګ برسد .در هایدلبرګ به سال ۱۸۱۷کتاب عظیم خودرا به نام « دایٌرة المعارف علوم فلسفي» نوشت ودر سایهٔ آن درسال ۱۸۱۸ به استادي دانشګاه برلین رسید . ازین تاریخ تا اخر زندګی خود پاد شاه بلا منازع فلسفه بود ،همچنانکه ګوته در

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیات وبتهون در موسیقی بودند .روز تولد او یک روز بعد از روز تولد گوته بود وملت پر غرور المان در هر سال به افتخار ان دو ، دو روز تعطیل میکرد .

روزی یک نفر فرانسوي از هگل در خواست کرد که فلسفهٔ خودرا در یک جمله خلاصه کند . ولی موفقیت او مثل موفقیت ان کشیش که از وی پرسیده بودند تا بر یک پای استاده است تعریفی از مسیحیت بکند ، نشد . کشیش به سادگی جواب داده بود که « همسایه ات را چنان دوست بدار که خودرا دوست میداری» هگل ترجیح داد که جواب ان فرانسوی را در ده جلد بدهد ؛کتابها نوشته شدو به طبع رسید وتمام عالم در بارهٌ ان سخن می راندند ولی خود او شکایت داشت که « فقط یک نفر سخنان مرا فهمید ،ولی او هم نفهمید . » بسیاری از اثار هگل مانند اثار ارسطو یادداشتهای است که برای تدریس تهیه کرده بود و بد تر ازان آنهای است که شاگردان او هنگام اصغای دروس او نوشته اند . فقط کتاب « منطق » و « علم ظواهر روح (فنومنو لوژي ) » به دست خودش نوشته شده است واین دو آیت ابهام و اِغلاق واطلاق وایجاز است. این دو کتاب مملو از اصطلاحات عجیب مخصوص به خودش است وهر عبارت و جمله ای به دقت به جملات حصری فراوان که خاص روح گو تیک است تبدیل شده است. خود هگل کتاب خود را چنین وصف میکند : « کوششی است برای یاد دادن زبان المانی به فلسفه» و درین کار موفق شده است.] ( تاریخ فلسفه ، ویل دورانت ،ترجمهٌ فارسي ،صفحهٌ ۲۶۵ ) . د پورتنۍ لیکنې دراوړلو څخه ما دوه هدفه درلودل: اول داچې گرانو لوستونکو ته په ذهن کې دهگل دلیکنو او عقیدې به باره کې



ابتدايي شمه ښکل شي او دوهم داچې دهگل دخپل قول چې پخپل قلم يي ليکلي ځينې مطالب دمثال په ډول ذکر کړم.

هگل پخپل اثر «فنو منولوژي» ( پديدر شناسی یا علم ظواهر روح ) کې د سوبستانسيون ( ماهيت ) تيزس لکه سوبيکت ( ذهني موجود ) ، دعملي فعالې مبدا په حيث په اثبات رسوي . دهگل دفلسفي اساس دهستۍ او شعور په وحدت او يوشانوالي ولاړ دي او پدې عقيده دې چې حقيقي پديدي بايد دايده ،مفهوم اوروح دمظاهرو په حيث ومنل شي. د هگل غه خبرې سمې دي ، خو يا پرې باور نه لري ، يا يي نا خود اگاه د ذهني جبر له مخې اظهاروي او د قانونمندۍ د افادې څخه يي عاجز دې ، نو ځکه يي سمې او ناسمې خبرې په يوه جمله کې ردوبدل کيږي او منطقي تسلسل په کې نه شي مراعاتولې.دغه وحدت ته،هگل دمطلقي ايده دځان پيژندنې د تاريخي تکاملي پروسې په حيث کتل او په مشرح ډول دهگل دغه مطلق عيني ايدياليزم د «فلسفي علومو په دائٌرة المعارف» کې په لاندې ډول توضيح شويدي. دټولو طبيعي او ټولنيزو پديدو په بنياد کې مطلق،روحي اوعقلي مبدأ ــ«مطلقه ايده» «جهاني عقل» يا «جهاني روح » قرار لري.دغه مبدأ فعاله او عملي ده او يا ووايم دهغې عمل په تفکر کې نغښتي دي او که دقيق وويل شی په ځان پيژندنې کې.په پرمختيا يي پروسه کې مطلقه ايده له درې مرحلو څخه تيريږي: ۱ ) دايده باالذاتهِ پرمختيا ،« په عقل محض کې دننه حادثه» ــ منطق،چيرته چې ايده په يوتربله سره تړلو او يو پربل باندې بدليدونکو منطقي مقولوکې خپله محتوا سپړي ؛ ۲ ) « دغير هستۍ » په شکل کې دايده پرمختيا ، يا په بل عبارت دطبعيت په شکل کې دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختيا ، ـــ د طبيعت فلسفه؛ طبيعت پرمختيا نه مومي، يوازې د منطقي مقولو د خود بخودي پرمختيا خارجي مظاهر برابروي ، کوم يو چې د هغې ماهيت ګڼل کيږي ؛ ٣) دايده پرمختيا په تفکر او تاريخ کې (په «روح کې. » ) ـــ د روح فلسفه. پدې مرحله کې مطلقه ايده پخپله خپل ځان ته رجعت کوي او خپل ماهيت دانسان د شعور او فعاليت په مختلفو ډولونو کې دوباره ترلاسه کوي. (ترجمه له « روسي فلسفي قاموس» ، هګل صفحه ، ٨٢ ). پورته مونږ د هګل د فلسفې په ځينې مسايُلو بحث وکړ. په وروستي قسمت کې هم ډيري پوښتني راولاړيږي او هره پوښتنه د ډير دقت او تأمل وړده. ويره يوازې پدې کې ده چې بحث تکراري نشي. زه يوازې دومره ويلې شم چې هګل پدې بحث او بلکه پخپلو ټولو بحثونو کې د ډبري سکرو، طلا او الماس ته يوډول ارزش قايل شوې او په يوه تله يې تللي دي. عقل محض، مطلقه ايده ، جهاني روح... او العياذ با الله خداي څه ډول د منطق په مقولو کې خپل ماهيت سپړلې شي ؟ طبيعت څه ډول د منطقي مقولو خود بخودي پرمختيا خارجي مظاهر برابرولې شي ؟ مطلقه ايده څرنګه خپل ماهيت دانسان د شعور او فعاليت په مختلفو ډولونو کې دوباره ترلاسه کوي ؟ يوازې پديدي او خلقتونه تحول پذير دي ځکه چې کم و کاست لري او يا مقدر او مجبور دي . خداى لوى ذات دې. کامل ذات دې او تغير نه منونکې ذات دې. په خداى بايد يوازې د هغه ذات د خارق العاده خلقتونو له مخې باور ولرو ، ويې منو او ايمان پرې راوړو. په پورتني بحث کې هيڅ ډول قانونمندي نده افاده شوې او نه منطقي تسلسل وجود لري. هر څه هګل د خپل « منطق » په جبر برابر



کړيدي او په حقيقت کې يې مونږ تخيلي او تصوري منطق ګڼلي شو چې د قانونمندۍ سره په هيڅ صورت ډډه نشي لګولې.

سره ددې چې هرڅه مخې ته نقد پراته دي او په معرفت مسخر او مقدر ګرځيدلي ، خو پوهان او فيلسوفان او حتا د اسلام علمأ ددې په عوض چې د موجوده علمي ـ تخنيکي فوق العاده امکاناتو په لرلو سره د خداى خلقتونه د علمي قانونمنديو او شواهدو له مخې وڅيړي ، د خداى د ذات او صفاتو په باره کې تصوري او تخيلي تيوري ګانې جوړوي. حال دا چې انسان د هميش لپاره په عالم الاسباب کې د خداى د ذات د پيژندلو او توصيف څخه عاجز دې.

ډير پوهان پدې اخته دي چې ددي جهان اول او اخر پيدا کړي. يو شاعر وايي:

ما ز آغاز و ز انجام جهان بيخبريم
اول و اخر اين کهنه کتاب افتا ده است

دا خبرې سره ددې چې د مخه هم ما په مقنع دلايلو سره رد کړي او اوس هم په پوره جرأت سره وايم چې ددې کهنه کتاب هر څه پر ځاى دي. يوازې پکار دادي چې د تخيلي ، تصوري... او واهي فلسفو څخه راووځو ، د عينيت او حقيقت بينا سترګې وغړوؤ او د قضأ او قدر له مخې عيني قانونمندۍ ته قايل او سو. که يې محترم لوستونکي را سره ومني ، غواړم يو څو ، ساده مثالونه راوړم :

ـــ لا کوچنې ووم چې زمونږ په کلي کې ديوچا په کور ، چې نوې له هندوستان څخه راغلې وو او حتماً پنځه روپۍ او څه سامان به يې هم له ځانه سره راوړې وو ، غله راغلل. چيغې شوې ، د کلي خلک په منډه مرستي ته ورغلل ، توره شپه وه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غله په تېښته بریالي شول او یوڅه سامان یې له ځانه سره یووړ. سبا د سهار له لمانځه وروسته خلک زمونږ دېرې ته چې د دغه کور په څنګ کې وه راغلل او پدې سوچ کې شول چې غله څه ډول پیدا کړي. با الاخره فیصله پدې وشوه چې «پل شناس» راوغواړي. پل شناس د کور شاوخوا ولیدله او بیا یوې خواته روان شو، ته ته... یوه غره ته ورسیده. په غره کې چې یوه تړتېه ولاړ فیصله یې دا وکړه چې دا غله د همجواره درې څخه راغلي دي.نور پرې زه خبر نه شوم خو وروسته له څه مودې دومره خبرشوم چې غله یې پیدا کړي وو او د جرګې له لارې یې مال له جریمې سره ترې اخیستي وو.

ــــ محترم لوستونکي شاید پخپله هم د داسې حوادثو شاهد اوسي چې په اروپایي لویو تجارتي مرکزونو کې چې دورځې په لسګو نو زره کسان ښکته پورته کیږي، کله چې د کومې کسې څخه غل پیسې تختوي څو دقیقې وروسته پولیس دیوه سپي سره راپیدا کیږي او سره ددې چې د زرګونو انسانانو د عطرونو او خولو بویونه یوتر بله سره ګډ وي سپي پکې یو تشخیصوي او پل یې تعقیبوي تر څو چې غل پیدا کړي. دغه بلا تشبیه فیلسوف سپي د کومو نښو نښانو له مخې د غه بوی تشخیص او تعقیب کړې شو. حتماً یې نښې نښاني په محیط کې پاتې وي او چې څرنګه دغه سپې د هغې په پیدا کولو قادر شو البته چې خدای پدې کار مقدر ګرځولې دې او پرته د بې حسابه انتګرالي او دیفرنسیا لي معادلو او د هغوی مشتقاتو د حل او د هګلي منطق پرته په منطقي او قانونمند حل بریالې شو. دا دیوې بلې خبرې دلیل هم کیدلې شي چې نه یوازې اکرم المخلوقات خدای په خارق العاده رسالتونو مقدر



ګرځولي بلکه دغه ټول خلقتونه په شکل د اشکالو د مختلفو رسالتونو په سرته رسولو مقدرشویدي او پرته له بغاوته چې د انسان خاصه ده، نور مخلوقات د خدای د قانون سره سم د خپل شعور له مخې چارې سرته رسوي.

ــ ما په یوه لیکنه کې لیکلي وو چې په یوګوسلا ویا کې د سر بیانو له خوا د مسلمانانو د ډلیزو وژنو اته میاشتې وروسته چې ډلیز قبرونه پیدا شول د DNA ( له مخې د ۸۰۰ کسانو جینیتیکي تسلسل او هویتونه تثبیت شول. دغه جسدونه چې د لس متره خاورو لاندې یو دبل لپاسه اته میاشتې پراته وو او هلته ژورو, بیو لوژیکي، کیمیاوي او نورو ډول ډول تعاملاتو صورت نیولې وو، څه ډول دغه جینیتیکي نښې نښانې له منځه ولاړې نشوې؟

کیدلې شي ځینې نور مثالونه چې موضوع لا په هر اړخیز ډول واضح کړي ولټول شي، خوفکر کوم پورتنې درې نسبتاً ساده او واضح مثالونه هم ددې دلیل کیدې شي وواېو چې پدې لوی جهان کې کوچنې ترین حرکت، تغیر، تکامل او انحطاط بې پله ( spurlos ) او بې نشانه له منځه نشي تللې. د همیش لپاره د هغې اثرات باقي پاتي دي او په همدې دلیل ویلې شو چې «اول واخر این کهنه کتاب نیافتاده است !» هر څه په قانونمند شکل سره منځته راځي، باقي پاتي دي او یا په قانونمند شکل سره تغیر مومي او مشخصې نښې نښانې له ځانه پریږدي. او تاسې کولې شئ د «عینیت فلسفي» د قانونمندۍ له مخې مسائل او قضایا وڅیړئ او د مختلفو پدیدو او خلقتونو د تحول، تکامل او انحطاط پروسې د هرې پدیدې او خلقت په بوده او تنسته ( عرض او طول ) او همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجهــان دعــام خلقــت دپیــدایش ،تغیــر ،تکامــل اوانحطــاط تسلسل او ځنځیر لـه ابتـدا څخـه تـر انتهـااو یـا پـه هـر بـل لـوري چې وغـواړی تعقیـب کـړی. تاکیـداً یوځـل بیـا دا وایـم چـې دا هرڅـه ددې لـوی جهـان چـې خـدای قانونمنـد پیـدا کړې او دانـسان اوټولـو مخلوقـاتو لپـاره یـې پـه شـکل داشـکالو مـسخر اومقـدر ګرځـولي ،پـه قانونمنـدۍ کـې پراتـه دي ،د قانونمنـده کـړو وړو لـه لارې هـره سلـسله او هـره پروسـه پـه هرلـوري تعقیبیـدلې شـي او ددې خبـرې هــیڅ ضــرورت نــشته چــې دخپلــو مقــدراتو څخــه پورتــه تــصوري، تخیلي اونـوري بـې بنیـا ده فلـسفې جـوړې کـړو. دبلـې خـوا خـورا منطقـي پریکـړه بـه همـدا وي ،ومنـو چـې دا جهـان دخـدای دمقـضي الامـر ارادې لـه مخـې د «کـن فیکـون » دامـر پـه صـدور سـره پیـدا اودټولـو مخلوقـاتو پـه وړانـدې پـه مـسخر او مقـدر حالـت کـې قـرار لـري او یـوازې همدغـه ممکنـه او خـورا معقولـه منطقـي لار د قـضئي د حـل ګټـل کیـږي. لیـري دي هیڅـوک نـه ځـي ، بـې ځایـه تخیـل او تـصور تـه هـم ضـرورت نـشته ،څـه چې یـې دلاس لانـدې دي ،تجربـو تـه دې پـرې دوام ورکـړي او پـه هـر لور دې د منطقي اوعلمي تحلیل لارې ګز وګام کړي .



# دین او فلسفه

بـشر دخپـل پیدا ایـښت لـه لـومړۍ ورځـې څخـه پـه یـوه مـافوق انـساني طاقـت، قـدرت او ذات عقیـده درلـودلې او نـن هـم دنـړۍ د ۶ ملیـاردو څخـه زیـات خلـک پـه حقیقـت کـې پـه واحـد خـدای عقیـده لـري او کـه هـر څـه ځینـو کسانو دلـویې غوښـتنې لـه مخـې پـه ځینــو وختونــو کــې ظــاهراً دخــدای څخــه منکــر شــوي او حتــا دخـدائی دعـوې یـې کـړیـدي خـو پـه ډیروو وختونـو کـې یـې پرتـه دخدای دلـوی ذات څخـه بـل مـددګار نـدې پیـدا کـړې او دوبـاره یـې خپـل خدای تـه مراجعـه کـړې او دبنـده ګـۍ او کمـزورۍ پـه منلـو یـې خپـل سـر ټیـټ کـړیـدې .زه نپـوهیږم ولـي انـسانانو دننـني عـصر دعظیمـو علمـي ـ تخنیکـي امکانـاتو او معرفتـي حقـایقو پـه رڼـا کـې نـدي کـړې شـوي پـدې بـاره کـې نهـایی پریکړنـده تـصمیم ونیـسي، حـق ومنـي او دبـاطلو څخـه تیـر شـي. ولـي نـن هـم داسـې عقیـده موجـوده ده چـې ګونـدې دیـن دانـسان پوچـه عقیـده او فلـسفه علمـی واقعیـت او دغـه دواړه پدیـدې دبـشري درک او شـعور پـه دوؤ متـضادو قطبونـو کـې قـرار لـري او دتـل لپـاره نـه پخـلا کیـدونکي حقیقتونـه جـوړوي؟ ولـي نـن هـم انـسانان داسـې فکـر کـوي چـې ګونـدې خـدای یـوازې دبـشر دشـعور پـه ترګمـۍ او دانـسان پـه بـې وسـۍ کـې ژونـد کـوې او کلـه چـې دانـسان دشـعور څـراغ بلیـږي، پخپلـه شخـصیت جـوړیږي، دشـعور دترګمـۍ څخـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووځي، دمایوسی او بې وسی څخه خلاصیږي، دخدای څخه بې نیازه کیږي اودعقیدي دزولنو څخه نجات پیدا کوي؟ زما پوښتنه داده. آیا ممکنه ده داسې یوه عظیمه مسئله چې په حقیقت کې هر انسان زوروي او غواړي خامخا پدغه حقیقت پوه شي او دخدائي خلقت دپیدا ایښت، تناسب او تکامل په پروسه کې د ټولو پدیدو او مظاهرو دنیک او بد ، حق او باطل، رښتیا او دروغو او داسې ډیر نور مناسبتونه ورپورې تړلي دې پداسې سادګۍ او سطحي کړو وړو سره حل شی؟ زما په فکر نه ! ایا لازمه ده پدې باره کې دتعصب او لویې غوښتنې څخه پرته یوائې دعلمي حقایقو او واقعیتونو له مخې نهایي تصمیم یوائې ددې په خاطر چې رښتیني "صراط المستقیم" لاره غوره شي ضروري دې؟زما په فکر هو !خدای لوی ذات دې "الله اکبر" او دانسان دشعور په طیف کې هیڅکله نه ځائیږي نو ځکه باالذات دخدای لیدل او پیژندل ناممکن کار دې.خدای عالم دې "والله اعلم"او په خدای یوائې په عالم اسباب کې دخدای دبې ساري قدرت ، بې ساري لوی علم او قانونمندۍ له مخې دبې ساري خلقتونو دپیدا ایښت، پایښت، همزمان تحول او تکامل، ستاتیزم او دینا میزم اودخدایی قدرت دمشهودو نښو نښانو له لارې دانسان عقیده او ایمان پیدا کیدلې شي او باید یی ولري. خدای ذاتي حقیقت دې او هیڅ حقیقت په یو وار نشی پیژندل کیدلې. انسان دخدای دذات دپیژندلو څخه دتل لپاره عاجز دې نو ځکه یی دصفت او توصیف څخه هم عاجز ګڼل کیږي. په عالم اسباب کې خدای ټول حقایق او واقعیتونه د انسان لپاره مسخر او مقدر ګڼلی او په معرفت یي مکلف ګرځولې دې. دخدای ذات مسخر نشی ګڼل کیدلې نو ځکه یی



باالذاتهِ مستقیمه پیژندنه هم ممکنه نده. خو انسان عاقل مخلوق دې باید فکر وکړي او دساده منطق له مخې داومني کله چې دا لایتناهي خارق العاده خلقتونه اوصنعتونه موجود دي حتمأ خارق العاده ما فوق د هرڅه لوی خالق، صانع او قدرت هم وجود لري. او دین ددغه خالق او صانع قانون دې چې دخپل خارق العاده خلقت او نظام دپایښت او نیکې سالمې استفادې په خاطر یي وضع کړې او خپل مخلوق یي دهغې په معرفت مکلف ګرځولې دې.د ۱۳۵۵ هـ ش کال دحوت په میاشت کې دعلامه سید جمال الدین افغاني دمړینې داتیایمي کلیزې په ویاړ جوړ شوي سیمنار کې شهید ډاکتر سید بهاوالدین مجروح د سید دژوند ، مبارزی او فلسفي ـ سیاسي نظریاتو په باره کې د "سید جمال الدین افغانی و برخورد شرق و غرب" تر عنوان لاندې اوږده علمي تحلیلي مقاله دسیمنار برخه والو ته اورولې وه. دغه مقاله دافغان اطلاعاتي مرکز دخپروني "افغانستان" د ۱۳۷۶ هـ ش کال دثور میاشتې په یوولسمه ګڼه کې یو ځل بیا خپره شویده. پدغه مقاله کې ددین او فلسفې په باره کې داسې لیکل شویدي. بصورت عموم میتوان گفت که : چه درتحولات بی سابقه خود جهان غرب و چه در برخورد آن تمدن با شرق اسلامی مهمترین نکته عبارت است از برخورد دین وفلسفه. تصادم دین و فلسفه حادثه ایست که در ساحه تلاقی شرق وغرب درعصر سید عمده ترین مسأله بود وامروز بهمان اهمیت خود باقیست. سید این مسأله عمده را درجوابی که در رد "رنان" فیلسوف فرانسوی درپاریس نشر کرده به وضاحت و روشنی قابل وصفی طرح میکند. دریک بخش از متن فرانسوی این مقاله، سید چنین گوید:"ادیان به هر نامی که

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامیده شوند همه انها با یکدیگر شباهت دارند. بین این ادیان و فلسفه هیچ نوع تفاهمی، هیچ نوع امکانات آشتی موجود نیست. دین انسان را وا میدارد تا ایمان وعقیده را بپذیرد درصورتیکه فلسفه اورا ازین عقیده د ایم یا بکلی یا تا حدی آزاد میسازد...هر فرصتیکه دین غلبه کند فلسفه را از بین میبرد. و معکوس قضیه هنگامی رخ میدهد که فلسفه قدرت مطلق را در دست گیرد. تا وقتیکه انسان وجود داشته باشد مجادله بین عقیده وتفکر ازاد، بین دین و فلسفه خاتمه نخواهد پذیرفت ما میترسم که درین مجادله شدید پیروزی بجانب تفکر آزاد نخواهد بود. چه عوام تعقل را دوست ندارند و هم تعلیمات آنرا فقط عدۀ محدودی از خواص درمی یابند و نیز از سببیکه علم گرچه خیلی زیبا باشد باز هم به ارضاء کامل انسان نمی پردازد. چه انسان تشنه ایدیال است و خوش دارد درقلمروهای اسرار امیز و دوردستی تهداب گذاری کند که فلاسفه وعلماء از درک آن وتجسس درآن عاجز ند".کارل مارکس او فریدریش انگلز المانی عالمان لیکی: "دین د ټولنیز شعور دیوه خاص شکل څخه عبارت دي چې په خاص او ځانګړي ډول دیوه داسي مافوق حاکم فنتا ستیک «فوق العاده» قدرت په څیر د خلکو په شعور کې انعکاس مومی او دهغې په ترڅ کې ځمکنۍ قوې دآسماني قوؤ بڼه غوره کوي".'دمارکس، انګلز کلیات، روسی چاپ، ۲۰ جلد، ۳۲۸ صفحه" یا "فلسفی قاموس،روسی چاپ، ۴۰۹ صفحه".په مجموع کې مارکسیستی -لینینستی تیوري پدې عقیده ده چې دین دبشر په اجتماعی شعوري پروسه کې یوه ګذرا او مؤقتي پدیده ده او دعلمي، تخنیکي، اجتماعي او اقتصادي شرائطو په تغیر سره



تغیر مومي. دغلامۍ په اجتماعی -اقتصادی نظام کې او یا دهغې څخه پخوا ددین درامنځته کیدو علت هغه وخت دطبیعت دقواوؤ په مقابل کې دابتدایی انسان بې وسي ګڼې او په طبقاتي اجتماعي -اقتصادي نظامونو کې ددین پایښت بیا هم دطبقاتي استثمار، ټولنیزي بې عدالتۍ، لوږي او داستثمارګر قوت په مقابل کې دزیار ایستونکي انسان دبې وسۍ پورې تړي چې ګوندې زیار ایستونکي بې وسه انسان مجبوردې هر څه دخدای لخوا داذلی برخې او قسمت په حیث ومني. پدې باره کې لینن لیکي "استثمار شو طبقه داستثمارګري طبقې په مقابل کې دمبارزی دبې وسۍ له مخې خامخا دمرګ څخه وروسته په ښه ژوند باندي عقیده پیدا کوي لکه چې دطبیعت په مقابل کې وحشی انسانانو دمبارزې دبې وسۍ له مخې په خدایانو، شیطانانو، ارواح او نورو عقیده لرله"دلینن کلیات، روسی چاپ، ۱۲ جلد، ۱۴۲ صفحه".دمارکسیزم -لینینیزم پلویان باور لري چې دین ژوري ټولنیزي ریښې لري خو دهغوی په نظر دغه مناسبات داجتماعي -اقتصادي شرائطو په تغیر سره تغیر مومي او ګوندي په کمونیستي مناسباتو کې دغه ریښې له بیخه ووځي او له منځه ځي چې له نیکه مرغه تاریخي واقعیتونو او حقائقو دهرډول فشار او ناروا سره سره عکس دقضیئ په ثبوت ورسوه.مارکسیزم -لینینیزم پدې عقیده هم دي چې دین ګنو سو لوژیکی "معرفتی" ریښې هم لري او داسې توجیه کوي چې ګوندي مذهبي ټولنې حقیقتونه تحریفوي او عمده اجتماعي مسائل چې پدې نړۍ باید حل و فصل او ټولنیز عدالت تأمین شي اخرت ته یې سپاري، دخلکو فعالیت او اکتیویتې راکموي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د مبارزې څخه یې پرېیاسي او په همدې علت مارکس ، دین د "اولسونو لپاره اپین" په نامه یاد کړیدې. دا ډول دې د دین او فلسفې په باره کې د ډیرو مشهورو متدینو عالمانو او پوهانو نظر او همداسې د بې دینه مشهورو پوهانو نظر د دین په هکله او د هغوی د فلسفي نظر په هکله چې نن یوائینې خورا علمي نظر ګڼل کیږي ، ما جداګانه بحث کړې او پدې مقاله کې به د هغې ځینې ټکي راوړل شي او د حرکت په خپرونه کې به په راتلونکیې ګڼو کې په مسلسل ډول خپور شي. زه غواړم خامخا د خپل ناقص درک او فهم له مخې پدې مسئله بحث وکړم خو دابه یوائې د طرحې بڼه ولري. لکن نننې نړیوال اجتماعي - سیاسي مناسبات او وضعه او علمي - تخنیکي امکانات حکم کوي هغه مسایل او قضایا چې سراسري نړیوال ارزښت او اهمیت ولري په هر اړخیز ډول او سراسري نړیواله کچه د اړونده پوهانو او عالمانو لخوا وڅیړل شي، حتی الامکان په نهایی ډول فورمولبندي او یا لا اقل د هغې رښتنې تکاملي جهت او مسیر تعین شي او په راتلونکي کې نورد سیاسي لوبغاړو د ناوړه ګټې اخیستنې څخه ووځي. کومه فورمولبندي چې د دین او فلسفې په باره کې علامه سید جمال الدین افغان پورته وړاندی کړې او د مرحوم پوهاند سید بهاوالدین مجروح لخوا تائید شوې د هغه وخت او نننې وخت د واقعیتونو سره کاملاً سمون لري او یوائینې عالي علمي منطقي فورمول بندي ګڼل کیږي ، لیکن د حقیقت سره سمون نلري او د مارکسیزم - لینینیزم پلویان چې ځانونه د علمي دیالکتیکي متود او تحلیل مدعیان ګڼي د دې مهمې قضې سره ډیر سطحي او په اصطلاح تجاهل العارفانه برخورد کړیدې او د حقیقت او واقعیت تناسب هیڅ په



نظر کې ندي نیول شوي او سترګي یې پرې پټې کړي دي. که چیرې د دین او فلسفې مناسبت یوائې د سید جمال الدین افغان او ډاکتر سید بهاوالدین مجروح د نظر له مخې چې د دین او فلسفې دیالکتیک "مناسبت، تحول، تکامل" ته قائل دي او همداسې د مارکسیزم - لینینیزم د پلویانو د دې نظر له مخې چې دین ګنوسولوژیکی ریښې لري وڅیړو د امعنا لري او زه هم پدې عقیده یم چې دین او فلسفه د "کن فیکون" د حکم د صدور په یوه ورځ او بلکه یوه لحظه پیدا شویدي. دین او فلسه یو شان د حقیقت او واقعیت معرفت او پیژندنه ده او که څوک غواړي د هغوی تر منځ کشرولی او مشرولی ته قایل شي زما په نظر دین مشر ګڼل کیږي چې لمړنې معرفت او تعلیم د دین لخوا شروع شوي او د غه معرفت په پوره منطقي بناء "ځان، جهان او خدای" پیژندنه باندی ولاړ دې. د دین بناء د علم په بنسټ ولاړه ده. ملائیکې ځکه ادم ع ته د خدای لخوا په سجده مؤظفي او مکلفي شوي چې د علم خاوند وؤ. نو ځکه دین او علم د لومړۍ لحظې څخه تړلي او نه شلیدونکې پیوند لرې او جوش یې خوړلې. انسان ډیر نور خواص او اوصاف لري لکه نفس، غریزه او داسې نور چې د دین یا په بل عبارت د علم سره په دښمنۍ کې دي آدم (ع ) په همدې سبب د جنت څخه وایستل شو. خو که دا کار نه وې شوې نننې دنیا یې ژوند به وجود نه درلودلې او د ازمیښت او امتحان ډګر به نه وې رامنځته شوې او د نیکۍ او بدۍ مفهوم به یو وې او چا به نه شوې جدا کولې. فلسفه یوناني مرکبه کلمه ده "فیلیو - Phileo دوست لرم، سوفیا - Sophia - پوهه" دا کلمه د لومړې ځل لپاره فیثاغورث چې د قبل المیلاد په شپږم قرن کې یې ژوند کاوه پخپلو لیکنو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال کړیده. ددغه وخت څخه نژدې ۲۵۰ کاله وروسته افلاطون نوموړې کله دیوه خاص علم لپاره استعما کړه. په بشري ټولنه کې فلسفې دیو اځیني علم په حیث تبارز وکړ او دپوهې په ټولو اړخونو یې دلالت کاوه. دعلم او تخنیک په انکشاف سره ورو ورو مختلف علمي شقوق دفلسفې څخه جدا شول او نن ډیرې زیاتې اختصاصي ځانګې په علومو کې جوړې شویدي. خو حقیقت دادي چې ځانګړي علوم په ځانګړي ډول وجود نه لري او ټول علوم همزمان او هم مکان په متداخل ډول د متداخلو پروسو او تعاملاتو په جریان کې عمل کوي. په فلسفي پوهه کې هم ډیر مختلف مکتبونه او نظریات رامنځته شویدي. فلسفي تقسیم بندي دفلسفې داساسي مسئلې سره دکړو وړو او دهغې په باره کې دنظر او عقیدي له مخې رامنځته شویده. هغه کسان چې باور لري چې ماده دشعور څخه دمخه پیدا ده هغوی ته ماتیریالیستان وایی. برعکس هغه څوک چې شعور پر مادې مقدم ګڼي هغوی ته ایدیالیستان ویل کیږي. ماتیریالیستان او ایدیالیستان بیا هر یو پخپل وار دځینې نظریاتي اختلافاتو له مخې په مختلفو ډلو او ګروپونو تقسیمیږي. داټولي خبرې دفلسفي علم په بحث پورې اړه لري او دلته پدغه مسائلو دبحث څخه صرف نظر کیږي. زه غواړم یواځې دا ووایم، ماده چې په عالم الاسباب کې دټولو پدیدو او خلقتونو ماهیوي بنیاد او سوبستانسیون جوړوي تراوسه پورې په صحیح ډول نده تعریف شوي او دهغې ټول شکلونه څوک نه پیژني. لینین ماده داډول تعریفوي "ماده عیني واقعیت دې. دانسان دشعور څخه بیرون موجوده ده، دانسان دشعورپوری اړه نلري خو په هغې کې انعکاس مومي" «دلینین



کلیات، ۱۸ جلد، ۱۳۱ مخ، روسي چاپ« پدی تعریف کې دمادې دحقیقت او واقعیت دپیژندني معیار شعور دانسان ګڼل شوېدې حال دا چې دمادې هغه ډولونه چې انسان یې پیژني او پیژندل شوې پدیدي جوړوي دانسان په شعور کې انعکاس نه پیدا کوي دمثال په ډول رنتګن امواج دسرو او بنفش رنګونو څخه بیرون دنوری شعاعاتو نوری طیف دانسان په شعور کې نه منعکس کیږي یا صوتي امواج چې دڅپې اوږدوالی یې دیوه هرڅ څخه تر شلو زرو پورې وي دروغ انسان غوږونه یې اوریدلې شي. ذهنې ایدیالستان بیا پدي عقیده دي چې هیڅ شي وجود نلري هغه څه چې وجود لري یواځې کمپلکس داحساساتو دانسان څخه دې او داسې نور. دفلسفې اساسي مسئله چې دهغې له مخې فلسفي نظریاتي تقسیم بندي او نظریاتي اختلافات راپیدا شوېدې ما په یوه بحث کې توضیح کړې چې دتأمل وړ دې، ځکه چې زما په نظر ټولي پدیدي او په هغه جمله کې دانسان شعور، کوم ځای چې قانونمندي موجوده وي حتمأ به مادي ماهیوي بنیاد لري. نو وتلي ماتیریالستان چې پدې خبره باور نلري په ډیرو مسائلو کې ایدیالستان پاتي شویدي. ډیر فلسفه پوهان پدې عقیده دي چې فلسفه یو شې دې او علم بل شې. یعني دفلسفې دعلمیت څخه منکر دی لکه اکزستنسیالیستان یعني دوجودي فلسفې پیروان لکه ژان پول سارتر، یا سپر او نور. ځیني کسان چې فلسفه خاص علم، متودیک علم، دعلومو علم بولي او یا یې دوني له تنی سره تشبیه کوي داټوله بې ځایه فوق العاده ګي او دفلسفي علم نیمګړتیاوې دي چې لا ځان نه پیژني. تر اوسه پورې تعریف نلري، موضوع نلری، اساسي مسئله یې بې بنیاده ده. که څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی علم بولي هم ورته دلیل نلري او که څوک یی علم نه بولي هم دلیل ورته نلري. دا ډول دې دفلسفي علم علمي ماهیت. نن پرون. پدې باره کې مفصل بحث شوېدې چې امید دې په راتلونکي ګڼه کې نشر شي. حقیقت دا دې چې یو او واحد لایتناهي لوی جهان دلایتناهي خلقتونو سره دخدای دلوی علم او لویی قانونمندۍ له مخې پیدا ، پایی او یواځې دعلمي قانونمند معرفت له مخې دهغې څخه معقوله، سالمه او منطقي استفاده ممکنه ده. دا جهان واحد جهان دې. دیوې کوچنۍ ذرې په اندازه زیاتوالې او کموالې پکې نشي راتلای او یواځې دواحد عام قانون "قضاء او قدر" له مخې یواځې شکلي او نوعي تغیر او تکامل مومي. دا قانون خدایی قانون دې او خدای ددې جهان او ټولو خلقتونو یواځینې خالق او صانع دې. ځینې کسان دا عام قانون دطبیعت قانون بولي او طبیعت دټولو خلقتونو خالق او صانع ګڼي. دا خبره دعلم او منطق له مخې غلطه ده. ځکه چې د طبیعت په نامه کوم مشخص خارق العاده موجود او طاقت وجود نلري. طبیعت دمختلف پدیدو او خلقتونو ارګانیکه دیالکتیکي او دعلت او معلول په بناء یو تر بل سره اړونده او یو له بل څخه زیرنده مجموعه ده. هغه پدیدې چې یو تر بله سره دعلت او معلول په بناء تړلې وي یو دبل حقیقي خالق او مخلوق نشي ګڼل کیدلې. انسان چې اکرم المخلوقات او یا دځینو په اصطلاح دطبیعت عالیترین متکامل موجود دې مونږ هر یو دخپل ځان څخه په قیاس سره وینو چې څومره نیمګړې او ناقص دې. انسان تر اوسه ندې کړې شوې یو داسې عام قانون جوړ کړي چې نسبې ټولنیز عدالت پکې تأمین وي. دموکراسي چې ټول ورته په همدغه سترګه



ګوري دهمیش لپاره دحاکمې طبقې دیکتاتوري وه او په راتلونکې کې به هم هماسې وي. انسان دخدای عاقل مخلوق دې او یواځې کولې شي دقدر په اندازه دخپل خلافت رسالت سرته ورسوي. خو هغه څه چې دقضاء پورې اړه لري دهغې څخه دتل دپاره عاجز دې. دمثال په ډول زه دیوې قضي په شکل ددې لوی جهان دفزیکي استقراریت مسئله دنړۍ ټولو فزیک پوهانو ته وړاندې کوم چې فکر پرې وکړي او دهغی ساده نسبي فزیکي شمه جوړه کړی. زه مخکې له مخکې وایم چې دا یو ناممکن کار دی. په نتیجه کی زما عقیده داده چې دا لوی جهان، لوی نظام او دابې ساری او خارق العاده خلقتونه په علمی بنیاد دخدای دلوی علم " قضاء او قدر" له مخی په قانونمند شکل سره پیدا دی، پائی او تغیر او تکامل کوی او یواځی دعلم په بنیاد دمعقولی او منطقی استفادی وړګرځی. دټولو پدیدو دمعرفت او پیژندنی دپاره علمی، معقوله او منطقی لار دعلمی کړوولارده. هغه چی دخدای په احکامو، او امرو او هدایاتو کی په هغی تاکید شویدی او خپل مخلوق ئی پری مکلف ګرځولی دی. په عملی او پراګماتیک ډګر کی دغه موازی لاری یوه ددین او دوهمه دفلسفی لاره ده. سره ددی چی دخدای علم دټولو پدیدو او خلقتونو دپیدایښت، پایښت، تغیر او تکامل په پروسه کی په ټولو حالتونو محیط، ملسط او مشخص دی او یواځی دقضاء او قدر په تناسب دخدای مخلوق مقدر او مقضی ګرځیدلی دی بیا هم دخدای دمخلوق معرفت او پیژندنه که ددین دلاری څخه ده او که دفلسفی دخدائی خلقت دحقیقت او واقعیت دواړو په باره کی دتل دپاره نسبی ده او د "لیس للانسان الا ما سعی"»سوره نجم، ۳۹ آیت، ۲۷ سپاره« دمعیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخی دزمان او مکان په بعدونو او علمی تخنیکی امکاناتو دانکشاف په پروسی کی تخمینیدلی شی. دمخه مالیکلی چی دین او فلسه په یوه لحظه کی دیوه هدف لپاره پیدا شویدی او یو رسالت لری. دا چی دخدای جهان، دخدای علم او دخدای دخلقتونو دمعرفت قانون هم یو دی زما په عقیده اول ددین او فلسفی دجدا کولو لپاره دلیل نه لیدل کیږی او همداسی دمختلفو ادیانو او فلسفی مکتبونو ظهور، دیفرنسیشن" تقسیمات" او تعدد منطقی نه بریښی. دی کی شک نشته چی دخدای مخلوق خصوصاً انسانان دخپلو مقتداراتو له مخی درحمانی او شیطانی معقولو او نا معقولو لارو دلتهون په هڅه کی دی چی په دنیای ژوند کی دنیکی او بدی معیارونه جوړوی او دمخلوقاتو دا ذات البینی مبارزی او فعالیت انګیزه او سبب ګرځی خو دا هیڅکله ددی معنی نلری چی تل دی شیطانی قوتونه لکه چی نن برلاسی دی تل برلاسی اوسی عقل او پوهه به په جهل برلاسی کیږی او حوادث به دمعقولیت له مخی سالمی دحل لاری پیدا کوی.



# فلسفه په مادي قدامت ،حال او ابديت کې

مادي قدامت ،حال او ابديت درې واړه زماني مقولې د عامو مفاهيمو په حيث د مشخصو پديدو د ګذرا حالت په شکل او ماهيت هيڅکله وجود نه درلوداو هيڅکله به يي هم ونشي لرلې. مادي قدامت ،حال او ابديت د هرې پديدي هغه فلسفي قانونمند شکل او ماهيت دې چې په هيڅ زماني مقطع کې دچا په واک او ګورت (موټي ) کې نه ورځې خو د فلسفي قانونمند حقيقت او زړي په حيث هميشه وجود لري او د فلسفي علم داساسي مسايلو او قضاياوو ټولي سرچيني ورپوري تر اوسه ډب پاتي شوي او دبهير مجال او پوتنسيال يې ندي پيدا کړې. همدغه مفاهيم دنننۍ فلسفي مبادي ،مباني ، ابعاد ،ارزښتونه او افقونه تشکيلوي ،فلسفه په همدغه مفاهيمو کې نغښتي او تړلي پاتي ده. د فلسفي موضوع او عمده مشکل په حقيقت کې تر اوسه په همدغه محور څرخي او فلسفي شور و شعف ، تخيلي فنتازي ،شاعرانه لوړ تخيلونو ، خوزښت او حرکت نه يواځې دغه ساحه مشبوع او احتوا کړي بلکه عالم الارواح او « العياذ باالله» دخداى لوى ذات د ځان لپاره مقدر او مسخر ګڼي . خدايان « العياذ باالله» دوۍ پخپله جوړوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانوي ، د خداي او بنده مناسبات تباکي ، دخلکو سرنوشت تعینوي او دلوی خدای په لوی علم ، فلسفه ، واقعیتونو او اړونده تیوریو باندي « العیاذبالله» ملنډي وهي. د خدای د لوی علم ، لوی کلام او د هغه دلوی ذات د بې ساري خلقتونو اعجاز چي هر څوک يي هره لحظه په سترګو ویني ، د سرما يي لیونیانو ترې د خپلو هوسونو وسیلي جوړې کړي او په خپل تخیلي بازار کې دبوقلمون غونډې ځیره ور بدلوي او حقیقت په حقیقت کي د هر چا څخه پټ ساتي .

هو ! مادي قدامت ، حال او ابدیت لکه چې دمخه مو وویل د عامو مفاهیمو او واقعیت په حیث ځانګړې خارجي وجود نلري . د « کن فیکون »د حکم په صدوراود لحظوي قانونمند بدلون او پرمختګ « دیالکتیک » په صورت کې د هرې ځانګړې پدیدي قدیم په قدیم کې د قدیم په شکل او ماهیت سره نشي پاتې کیدلې . یواځې هغه قانونمنده رابطه چې مونږ يي فلسفي قانونمندي یا فلسفي علمي زړي بولو د حال سره په رابطه کې پاتې کیږي. په یوه پدیده کې د قدیم دغه همزمان بود ونبود مونږد پدیدي د همزمان ستاتیزم او دینامیزم او یا د ابدیت د اصلي لازمي عامل په نوم هم یاد کړیدي . قدامت اصلاً په قدامت کې وجود نلري او د انسان په وړاندي په حقیقت کې یواځې دینامیک لحظوي بدلیدونکي مادي واقعیتونه وجود لري او انسان د همدغه لحظوي متغیر تکاملي جهان په معرفت مکلف ګرځیدلې دې ، حال هم د ابدیت په لور تل په ابدي لحظوي دینامیزم او بدلون کې دې او ابدیت دبشر لپاره په قبضه کې راوستل ناممکن کار دې یعني چې ابدیت هیڅکله ابدیت ته نشي رسیدلې او مونږ



هم په ابدیت کې د حضور څخه د همیش لپاره عاجز یو .پدې ډول قدیم او ابد هیڅکله زمونږ په واک او قبضه نشي راتلای. یواځې حال دلحظوي ګذرا فلسفي واقعیت په حیث د نسبي سکون د فرضیئ له مخې د هر انسان د پیدایښت او بلکه د شعوري درک له لحظې څخه د خدای د لوی جهان د قانونمند مقدر او مسخر عملي ، تجربي مادي پدیدو او خلقتونو په بڼه وجود لري . نو ځکه په فلسفه کې دفلسفي قدیم او یا ابدي مستقبل لتول بې ثمره هڅه ده .په همدې دلیل ،فلسفه مونږ خورا ځوان او فوق العاده دینامیک بشري علم بللي شو .

څله فلسفه قدیمي ، نابکاره ، پارازیت علم ګڼي او یايي په کلي ډول د علمیت څخه منکریږي ، ددي لپاره زه مقنع او بلکه هیڅ دلیل نه وینم . داچي فلسفه د لومړي باشعوره انسان د پیدایښت سره په یوه ورځ پیدا شوي ، داچي فلسفه د خدای دلوی علم بشري ذهني خلف علم ګڼل کیږي ، داچې فیلسوفان فلسفه دجهان د پیدایښت سره تړي او غواړي ددي جهان د پیدایښت مبدا او منبع پیدا کړي ، داچي ایراني شاعر فلسفه زوړ کتاب بولي چې اول او اخر نلري او فلسفه یواځې ددغه پاڼو د پیدا کیدو علم ګڼي ،داچي یواځې سپین ګیري د فلسفي سره سروکار لري اویا چې په سویس کې زړو ته په فلسفي مکاتبو کې دوباره د شمولیت حق ورکول کیږي او داسي نور. زما په عقیده پدې باندې فلسفه او جهان نه زړیږي او نه ځوانیږي.

جهان او فلسفه په همزمان زړښت او نوښت کې قرار لري ، همزمان د مرګ اوژوند بچي په غیږ کي روزي او همزمان د نوي ژوند او مرګ په لور قدم پورته کوي او په همدې پروسه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجهان د ابدیت او دخدای دخدایي راز پروت دې.

حال همیشه په دینامیک لحظوې تحول او تکامل کي قرار لري اوهمدغه دینامیک بدلون او پرمختګ د مادي ابدیت لپاره لازمي شرط ګڼل کیږي. که چیرې حال په لحظوي دینامیک بدلون کې قرار نه درلودې، که چیرې هر مرګ دنوي ژوند او هر ژوند د نوي مرګ اغاز نه وې، که دې جهان په همزمان ستاتیزم او دینامیزم او همزمان زږښت او نوښت کې قرار نه درلودې، همغسې چې په لحظوي تحول او تکامل او ابدیت کې قرار لري په همدې ډول به په لحظوي ټوګه په نابودۍ محکوم شوي وای اودا هم دخدای په لوی قدرت دلالت کوي. دا جهان پرته له الهي ذات څخه چې په کل او جز کې واحد دې، نوري ټولې پدیدې او خلقتونه دکل او جز مجموعه تشکیلوي. کل او جز همزمان مستقل او یو په بل پوري تړلي دي یعني دقضاء او قدر د عام قانون تابع ګڼل کیږي. څرنګه چې قدامت په قدیم، حضر په حال او ابدیت په ابد کې وجود نلري او همزمان هر دري واړه حالتونه یو تر بله په متداخل جینیتیکي او دیالکتیکي حالت او وضعیت کې یود بل بچي روزي او همزمان قدامت، حال او ابدیت په قانونمند شکل یو بل سره په خپله غیږ ک ټینګ ساتي. مادیت هم په کل کې همزمان په هر دري واړو حالتونو کې قرار لري او دقدیم، حال او ابد همزمان تداخل په نتیجه کې دا لوی جهان همزمان قدیم، حال او ابدي پاتي شوېدې.

یو کوچني مثال: د انسان وجود تخمیناً د لس تریلیونو (... ... ... . ۱ ) حجرو څخه جوړ شوېدې. دغه لس تریلیونه حجرې لومړې د بدن په مختلفو سیستمونو، قسمتونو، غړو...



او باالاخره په حجرو او د حجرو په اجزاوو تقسیمیږي.

د حجرې د اجزاوو څخه نیولې د انسان د بدن داعضاوو او کامل وجود په شمول هر یو مستقل او هم جمعي مشترک فعالیت لري. د انسان دمرګ څخه وروسته هم ځیني غړي تر یووخته پورې ژوندي پاتي کیږي. کیدلې شي ځیني کوچني واحدونه د انسان د بدن له زندان څخه د ازادیدو وروسته په مستقل ډول خپل ژوند ته دوام ورکړي. دا هم امکان لري چې ځیني ډیر کوچني ذرات د جهان دابدیت سره سم متناسب ابدي ژوند ولري. والله اعلم.

د ځانګړي انسان په مثال کې مونږ دعام مادي موجودیت دقدامت، حضر او ابدیت مسایل په لاندي ډول ارزولې شو. انسان ددوه متقابل جنونو د جوړه کیدو له مرحلې څخه د خدای دعاقل، عالم اوخلف مخلوق په حیث عرض وجود کوي. د زیږیدني په لومړۍ لحظه کې، دغه نوې موجود،

له یوي خوا کاملاً نوي پدیده ده چې دجنین له مرحلې څخه د کامل انسان تر مرحلې پورې ټوله پروسه په خورا مساعد محیط کې د ډیروکلونو په عوض په نهو میاشتو کې (نور خلقتونه په متناسب ډول هر یو په ټاکلې کم کمه یا زیاته موده کې )تکمیل شویده. ددې افادې څخه پوهیدلې شو چې دشرایطو په مساعدت سره کیدلې شي د دغه ډول پروسو موده لنډه او یا اوږده کړو. د بلې خوا دهمدغه نوي مخلوق سره چې د خدایي خلقت په صنعت کې نوي پیدا شوي، د نوې پدیدي په حیث کره وړه کیدلې شي، ددې سره سره دډیرو نورو اړیکوپه څنګ کې دجینیتیکي قدامت او جینیتیکي ابدیت تسلسل او تخمونه هم له ځانه سره لري. پدې ډول وینو چې په خدایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقت او صنعت کې په زماني او مکاني لحاظ څومره لیري پرتې پدیدې او خلقتونه څومره نژدې موقعیتونه هم لري. یعنې د پیدایښت له لحظې څخه په وجود کې د قدامت، حال او ابدیت توکي موجود او له همدغه لحظې څخه د نوي مخلوق په وجود کې د نوي ژوند او مرګ پروسه او استازي روزل کیږي. په دغه نا ممکناتو د امکان او واک اعجاز یوائې د خدای د لوی علم او یا په بل عبارت، په نسبي لحاظ، دهغه د بشري ذهني خلف «فلسفې» له لارې تر لاسه کیدلې شي. ددغه هرارشي (زینې) له لارې مونږ په استقرائي او قیاسي قانونمند تفکر او تعقل سره په هر لوري چې وغواړو، کولې شو اوږدې او لنډې مسافې ګز و ګام او د معرفت په لارکې هر ډول خنډونه له منځه یوسو. له بده مرغه، په فلسفي څیړنو کې تر نن ورځې پورې، ددې په عوض چې د علمي تحقیقاتو په لارکې خنډونه له منځه یوړل شي، د پښتو متل په تائید «د هغه چا چې جنګ ته زړه نه وي، داسې تیږې ته لاس غځوي چې نه پورته کیږي»، دوی هم په فلسفي او علمي څیړنو باندې په جرئت سره ورتګ په عوض په ناممکناتو پورې په نښتلو سره د علمي څیړنو په لارکې خنډونه رامنځته کړیدي. کوم کوچني مثال چې مونږ ذکر کړ، ټولې مادي پدیدې او خلقتونه د عام مادي موجودیت «یو نیورسیوم» په شمول د جوړښت، کمیت، کیفیت او عامو قانونمندیو له مخې پوره شباهتونه لري او د علمي څیړنو د پرمختګ او پراختیا لپاره همدغه ډول اسانتیاوې او امکانات پکې موجود دي. یعنې که د یوې خوا د «کن فیکون» د حکم په صدور سره د «عالم آمر» په حیث، په کل کې، د دې لوی جهان او دهغې د اغاز او انجام معرفت د



انسان د مقدراتو څخه نه ګڼل کیږي، د بلې خوا، ددې جهان ټول خلقتونه او پدیدې د عالم الاسباب په حیث خدای مسخر او مقدر پیدا کړي او انسان یې د هغې په معرفت مکلف ګرځولې دی. پدې ډول همغه «عالم آمر» چې معرفت یې نا مقدر او له نا ممکناتو څخه ګڼل کیده، د زماني او مکاني فاکتورونو او دوسایلو په امکاناتو سره د «عالم خلق» بڼه غوره کوي او معرفت یې ممکن ګرځي. زه نه غواړم د مشابه مثالونو په تکرار سره دغه لیکنه اوږده کړم، خو د موضوع د ډیر درنښت، پراختیا او پیچلتیا په خاطر به هڅه وکړم د موقع په مساعدیدو د ځیني تیپیکو موضوعاتو په مثالونو کې یو ځل بیا ځیني مسایل په ځیني تفاوتونو سره وڅیړم.

په تیرو بحثونو کې ځیني فلسفي مسایل لکه د فلسفې اساسي مسًله، د مادې او شعور ذاتي یووالې، شپږم حس یا د شعور او لاشعور دیالکتیک، مقضي او مقدره اراده، فلسفه او ځانګړي علوم او پدې باره کې د عینیت د فلسفې د لید لارې له مخې د ځیني فلسفه پوهانو نظریات مونږ په خپل آند و ارزول او ځیني پایلو ته ورسیدو. موجوده موضوع هم زما په عقیده ډیره پیچلې او اکثره فلسفه پوهانو ځانونه تر اوسه پورې پدې مشغول کړي، لکه چې ایراني شاعر وائي: «ما زآغاز وزانجام جهان بي خبریم اول وآخر این کهنه کتاب افتاده است». په تیرو موضوعاتو کې د عینیت فلسفي د عقیدې په بناء ما دغه نظر وننه منه او ومې ویل چې ددغه کتاب ټولې پاڼې پرځای او ددغه پاڼو لټول نه فلسفه ده او نه مثمر کار ګڼل کیږی. هغه کسان چې غواړي ددغه پاڼو له محتوا څخه ځانونه خبر کړي، څرنګه چې قدیم په قدیم کې پاتې ندې او ابدهیڅکله په ابدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام کې، ابد ته نه شي رسيدلې او يوائې د حال په نسبي سکون کې کيدلې شي په قانونمندډول د قديم او ابد په لور لار تعقيب او ددغه پانګو له محتوا څخه ځانونه خبر کړو . په پورتني بحث کې مونږ و ښودلې شوه چې ربښتيا هم د حال د نسبي سکون د فرضيئ له لارې ممکنه ده دغه موضوع په قانونمنده بڼه وڅيړل شي. اميد دې دغه نظر مونږ پوره او درست افاده کړې اوسي.

دمخه مونږ دا هم وښودله چې د مختلفو فلسفي مکتبونو او نظريو پلويان د فلسفې له علميت څخه منکر او يا د شک په سترګو ورته ګوري. د مارکسيزم پلويان چې هرڅه د علم او قانونمندۍ په تله تلي ، پدې باره کې لا د شک له ورشو څخه ندي وتلي او د ډيرې روادارۍ له موضع او موقف له مخې هغوۍ فلسفه يو خاص علم بولي چې په فلسفه کې نه د خاص علم لپاره تعريف او نه منطق وجود لري او نه داسې قانونمندۍ څوک په ګوته کولې شي چې خاص علم دې پرې افاده شي . دا چې ولي يي له علميت څخه نه منکريږي ، يا ولي ورته علم نه وايي ؟ ځکه چې که يي د علميت څخه منکريږي دليل ورته نلري او که علم يی بولي ،پدې باره کې چې کومې پوښتنې پيدا کيږي هغې ته ځواب ويل مشکل کار دې .

پدي هم مونږ پوره باور لرو چې دا لوی جهان د خدای د لوی علم له مخې قانونمند پيدا شوې دې او فلسفه يوائيني بشري ذهني خلف علم دې چې عيني واقعيتونه په نسبي شکل منعکس کولې شي. او په همدې سبب انسان په ځمکه کې د خدای خليفه ګڼل شوېد ې. ځانګړي علوم په واقعيت کې اصلاً ځانګړې وجود نلري. حقيقت دادې چې ټول علوم د هرې پديدي



او خلقت د ماهيت او کيفيت په تناسب فلسفي متناسب تداخل او علمي ذات البيني ارګانيک انتګريشن تشکيلوي او په نتيجه کې متناسب مرکب يا مخلوط جوړيدلې شي. ځانګړي علوم کيدلې شي د مختلفو پديدو دظهور په وخت کې د ماهيوي او کيفي تفاوتونو له مخې يو له بل څخه تفکيک او د فلسفي علم د خصوصي حالتونو او ګذرا ء پديدو په شکل قبول شي. شک نشته چې ځانګړي علوم د علمي تخنيکي پرمختګ په پروسه کې عملي رول لري او عملاً د دغه پروسې سره مرسته کوي او د نورو ملاتړو ځانګړو علومو تداخل په نسبي توګه د ځيني ضريبونو په استعمال سره تلافي کيږي او ددې لارې ځانګړو علومو ته حق ، جايګاه او ورشو قايليږو . نن که ديوې خوا ټولې مادي زيرمي په همدغه بنياد توليديږي ، د بلې خوا د فلسفي تحقيقاتو لپاره يي عملي تجربي نسبي امکانات برابر کړيدي . دا خبره بايد تأکيداً وشي ، د هغه روشونو څخه چې په عملي ساحه کې يي استفاده روا ګڼل کيږي او ټول مالي سود او زيان ورپورې تړلې دې ، په تيوريکي ساحه کې د اولسونو سرنوشتونه بدلوي ، شيطانان « العياذ باالله »د ځانونو څځه خدايان جوړوي ، ثواب په عذاب او نيکي په بدۍ بدليږي. اکثراً ، پوهان دغه ډول خصوصي او عمومي حالتونه يو له بل څخه نه تفکيکوي ،د کل او عمومي حالتونو او خاصو او ګذرا ء قانونمنديو ترمنځ پرته له تفکيک څخه يو شان قضاوت کوي ،د موقت او ګذرا پديدو او قانومنديو په بنياد حتا مطلق حکمونه صادروي او تيورۍ او قوانين تحريفي بڼه غوره کوي.

ددي بحث څخه مونږ دي نتيجي ته رسيږو چي: « که په هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحه کې د خامو او نارسه موادو په استعمال د هدف په لور په نسبي لحاظ خپله لار لنډوو ، په تيوريکي مسايلو کې د دغه ډول موادو استعمال زمونږ جهت تر ۱۸۰ درجو پورې مخالف لورته اړولې شي ». شايد داسې پوښتنه پيدا شي ،کله چې ټولې مادي زير مې د ځانګړو علومو په واسطه توليديږي اول په څه دليل هغې ته علم نه شو ويلې ؟ دوهم ، که علم ورته ووايو مشکل او خطا به څه وي ؟ دريم ، د حل لاريي کومه يوه ده ؟

علم ورته پدې دليل نه شو ويلې چې ټوليمحاسبې ډيرې تقريبي دي. مونږ ډير فاکتورونه او قواوې په نظر کې نه نيسو. مونږ نه شو پوهيدلې چې د قوې او مومنت واقعي محصله څومره ( Kg ) يا ( Kg . cm ) قوه يا مومنت عمل کوي او د هغې په مقابل کې د ديوال ، بش او ډاګې څومره مقاومت پکار ديې. له بلې خوا مونږ مقاومتي توکي په هغه کيفيت چې لازم دي نه شو توليدولې . دلته ډيري د ( ولې ؟ ) نوري پوښتني هم پيدا کيدلې شي. په پای کې به دومره ووايم ، څرنګه چې ټولې محاسبې غير دقيقې وي ، په حقيقت کې محاسبه وجود نلري ، يا ووايم غير دقيقه ده او مونږ هرڅه په تخميني ډول انتخابوو ،او ددې لپاره چې د خطر مخه مو نيولې اوسي ، هرڅه دوه او درې چنده محاسبه کوو . يعنې هرڅه مونږ ته دوه يا درې چنده قيمته تماميږي. ددې لپاره چې مچ په مګس کش مړ کړو ، د توپ ډز پرې کوو .

که علم ورته وايو سمه به ځکه نه وي چې يوائې په ځيني مواردو کې لکه راکټ ،طياري ، موټر او ځيني نورو انجينري مسايلو کې تقريبي محاسبي سرته رسيږي ، په نورو حالاتو کې



اکثراً د سترګو په تول او پيمانه باندې په تخميني ډول چاري پر مخ وړو او اکثراً د شخصي ګټو په خاطر بې کيفيته مواد استعمالوو . همدا سبب دې چې په ترکيه ، هند ، چين ، او حتا په اروپا او امريکا کې مونږ د دغه ډول بې سنجشه حوادثو او دهغې د بدو عواقبو شاهدان وو .

يوائينۍ د حل لاريي داده چې فلسفې ته باالاخره علم ووايو او هر څومره چې ځانګړي علوم په خپل ذات البيني فلسفي متداخل انتګريشن کې کثرت پيدا کوي ، انتګرالي او ديفرنسيالي معادلاتي سيستمونو د حل امکانات او دلوړو مشتقاتو د استفادې طريقې پکار اچول کيږي ،په همغه اندازه به په فلسفي انتګريشن کې د ځانګړو علومو کچه او سطحه لوړيږي ، په همغه اندازه به محاسبه دقيقه کيږي ، د تعمير ، توليد کچه او کيفيت به ښه او ارزانه او ډاډمن کيږي.

د پورتني بحث څخه مونږ لاندې پايلو ته رسيدلي شو :

ــ د خدای لوی جهان د همزمان زړښت او نوښت ،ستاتيزم او ديناميزم ، بدلون او پر مختګ په حالت کې دې او همدغه حالت د لوی جهان دابديت لازمي شرط ګڼل کيږي ؛

ــ دا لوی جهان د بې شميره خلقتونو ،بې حسابه واټنونو ، د ډيرو کوچنيو ذرواو بې حسابه لويو اسماني موجوداتو او په کل کې دا لوی جهان د مشابه جوړښتونو څخه جوړ او يوتربله سره مشابه خيړنيز بنيادونه او شباهتونه سره لري او دهغې په بنياد مونږ کولې شو د علمي استقراء او قياس له مخې نسبتاً دقيقي محاسبې سرته ورسوو ؛

ــ دا جهان د کل او جز په حيث د مادې د خورا کوچني مادي واحد څخه تر خورا لوی مادي موجود پورې د مادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدامت ،حال او ابدیت اثار همزمان له ځانه سره ساتي ،خو څېړنیز معلومات یواځې د حال د نسبي سکون د فرضیې له لارې په هر زماني او مکاني بعد کې ممکن ګڼل کیږي او ددې لارې زمونږ څېړنیز معلومات او محاسباتي امکانات پوره پراختیا پیدا کولې شي ، پدې معنا چې د قدیم او ابد په لور ، هره زماني مقطع کې چې مونږ څېړني کول غواړو دکار د پیل مبدا یواځې او یواځې حال ګڼل کیږي ؛

ــ د پورتني بحث څخه مونږ دې نتیجې ته هم رسیږو چې د خدای دټولو خلقتونو پیدایښت لاندې ځانګړي ماهیوي تفاوتونه سره لري:

لومړي عالم خلق ، هغه چې په عالم الاسباب کې د انسان داستفادې پوري اړه لري ، دانسان لپاره مقدر او مسخر ګڼل شوې او انسان یې په معرفت مکلف ګرځیدلې او دحیواني شعور دځان ساتنې د غریزي څخه نیولې تر انساني ارثي دځان ساتنې دغریزي د شعور اود علمي فلسفي شعور تر لوړو مرحلو پوري د هغې څخه متناسباً برخمن ګرځي.

دوهم عالم آمر ، لکه «کن فیکون » ، یا « وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلاً (٨٥) » . ترجمه:او پوښتنه کوي له تانه (اي محمده ! ) له (کیفیته د ) روح څخه ،ووایه (اي محمده !دوئ ته ) چې روح له امره درب ځما دي او نه ده درکړي شوي تاسي ته (برخه )له علم ( پوهني )څخه مګر لږه. ( سبحان الذي «١٥» ، سورة بني اسرائیل « ١٧ » ،آیت « ٨٥ » پښتو تفسیر شریف صفحه « ١٦٥٦ » . تفسیر: په موضح القرآن کې دي چې یهودانو دامتحان په مقصدله رسول ال الله څخه دا پوښتنه وکړه نو پاک الله په



واضح صورت دوئ ته دغه ورونه ښود .چې دوئ دهغه دپوهیدو حوصله نه درلوده.پخوانیو انبیاوو هم له مخلوق سره داسي دقیقي خبري نه دي کړي دومره پوهه کافي ده چې دالله په حکم سره یو شي په بدن کي لویږي. کله چي هغه روح له بدن څخه ووځی سا هم خیژي او انسان مري .

عالم آمر دحیواني او انساني ارثي غریزوي شعور پواسطه په مستقیم ډول د معرفت وړ ندي بلکه د علمي فلسفي شعور په لوړو اُفقونو کي یواځي د زماني او مکاني امکاناتو او د علمي ــ تخنیکي انکشاف د پرمختللو وسایلو او وسایطو په ذریعه د هغې څېړنه ممکنه ګرځي او د عالم آمر له بنې څخه د عالم خلق بڼه غوره کوي . دمثال په ډول دمخه مونږ وویل چي قدیم په قدیم کې نور وجود نلري او ابد هیڅکله ابد ته نشي رسیدلې . پدې صورت کې ، که چیرې علم او تخنیک کافي انکشاف نه وې کړې او لازم وسایل ،وسایط او زماني او مکاني مساعد شرایط وجود ونلري ،د مادي قدامت او ابد څېړنه ممکنه نه ګڼل کیږي.

لکن نن چې په کافي اندازه علمي ــ تخنیکي انکشافات ، وسایل او وسایط او او زماني اومکاني مساعد شرایط وجود لري او داچې دا لوی جهان قانونمند پیدا ،قانونمند پایي او قانونمند تحول او تکامل کوي ، نو ځکه مونږ پورته وښودلې شوه چې د حال دلحظوي سکو ن د فرضیې له مخې کیدلې شي علمي څېړني په قانونمند ډول د قدیم او ابد په لور تر هرې زماني مقطع پورې چې ارزو یې لرو وغزولې شو . په همدې ډول په پورتني آیت شریف کې واضح ویل شویدي چې : «.او پوښتنه کوي له تانه (اي محمده ! ) له (کیفیته د ) روح څخه ،ووایه (

(c) ketabton.com: The Digital Library



اي محمده ! دوئ ته ) چې روح له امره درب ځما دې او نه ده درکړې شوې تاسې ته ( برخه )له علم ( پوهني )څخه مګر لږه »او نده تاسي ته برخه له علم څخه مګر لږه . د دغه مبارک آيت په تفسير کې دا هم ويل شوي چې پاک الله په واضح صورت دوی ته دغه ور ونه ښود .چې دوی د هغه د پوهيدو حوصله ( سويه ) نه درلوده.پخوانيو انبياوو هم له مخلوق سره دا سې دقيقې خبرې نه دي کړې دومره پوهه کافي ده چې د الله په حکم سره يو شي په بدن کې لويږي.

دريم عالم ذات ،خدای لوی او په کل او جز کې واحد او لاشريک ذات دې. د انعکاس ، ترکيب او تجزيئ څخه مبرا او د انساني شعور په کوچني طيف کې نه ځائيږي او د تل لپاره يي انسان د معرفت او توصيف څخه عاجز دې. انسان يواځې دومره د خدای په معرفت قادر او ايمان پرې لرلې شي ، څومره چې يي د بيساري خلقتونو له مخې امکان موجود دې او يا څومره چې يي د خدای په کلام ک ذکر شوېدې. والله اعلم.

لکن څرنګه چې د مخه پدې موضوع بحث وشو ډير پوهان ، حتا اسلامي

علماء د خدای د ذات ، عالم الارواح ،د جهان د پيل او ختم ، « مُثُل» او ديته ورته موضوعګانو باندي تخيلي بحثونه کوي او د موجوده حال مسايلو او پديدو سره چې عملاً يي ورځنې ژوند ورپورې تړلې او د ممکناتو څخه يي ګټل کيږي نه غواړي علاقه ونيسي. مونږ د خپل چاپريال او خپل وجود په ټولو کوايفو نه خبريږو او نه پوهيږو . خو زمونږ اړتياوې ،زمونږ مشکلات ، زمونږ پرابلمونه او ټولې ننني بشري خوشبختۍ او بد بختۍ د هر څه څخه د مخه زمونږ په ګاونډ چاپيريال او زمونږ



د دي کوچنۍ ښکلي نړۍ په چاپيريال کي پرتي دي. راشئ پدي باره کي فکر وکړو ، ايا مونږ د خپل ګاونډ په ټولو مسايلو پوهيږو او پوهيدلي شو ؟کوم پرابلمونه زمونږ د مقدراتو او ممکناتو څخه دي او کوم زمونږ د مقدراتو څخه وتلي دي ؟د ازمويني په وخت کي يو محصل او متعلم هڅه کوي لومړي اساني پوښتني حل کړي ، ورپسي هغه چي يو

څه فکر کول غواړي او هغه چي مشکلي وي اخري مرحلي ته پريږدي. راشئ په فلسفي مسايلو کې هم د همدغه پرنسيپ څخه کار واخلو او هغه د ناشوني مدرکاتو او تخيلاتو له وضعي څځه د شوني معقول احساس او ادراک چاپيريال ته راپريباسو . راشئ د هرڅه د مخه خپل ممکنات او نا ممکنات يو يو له بل څخه تفکيک کړو . هغه چي ممکن دي ، پخپل واک او قبضه کي يي راولو . هغه چې ممکن دي ،خو ژور فکر او ډير کار ته ضرورت لري ، د هغي لپاره هڅه وکړو . او هغه چي زمونږ په مقدراتو کې نشي راتلای د مقنعو دلايلو له مخې پرې باور او يقين ولرو او ويي منو . مونږ په دغه يو طرفه جاده له بلې خوا قدم ايښې او په همغه بله خوا روان يو . له انجام څخه د هغه انجام په لور روان يو چې انجام نلري. مونږ د مخه وويل چې فلسفه په تخيلي ډول ( يعني بي بنياده ) هغه قديم لټوي چې په قديم کې نور وجود نلري او يا هغه ابد پسي روان دې او لټوي يي چې ابد ورته رسيدلې نشي.مونږ عملاً په خپل چاپيريال کې وينو چې حتاز مونږ متخصصين د ډيرو مدرنه تخنيکي وسايلو له لارې قادر ندي حقايق کشف او پرې و پوهيږي. زمونږ حواس د ډيرو رنګونو ، ډيرو خوندونو ، ډيرو غږونو او ډيرو نورو هغو حقايقو د احساس او درک څخه عاجز او حتا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخنیکي مجهزو وسایلو دهغې د احساس ځخه عاجزدي چې مونږ ورته اشد ضرورت لرو ، خو لاس مو نه ور رسیږي. زمونږ مریض مغز تر اخره پورې د خپلو ځینې مرضو نو ځخه بې خبره پاتي کیږي. خو بیا هم مونږ هڅه کوو په ناممکناتو ، په هغه څه چې مونږ بالکل قادر نه یو غواړو ځانونه خبر کړو.

دا جهان بې له هغې هم له یوې خوا په همزمان او هم مکان ستاتیزم او دینامیزم ، لحظوي تغیر او تکامل ، همزمان زړښت او نوښت ،دبې شمیره پدیدو تراکم ، تکاثف ، غیر متراقبه ګذرا قانونمند حوادث لکه سیلابونه ، زلزلي ، اتشفشانونه ،انقلابونه او ذات البیني ارتباطات ، پخپله ځیړنیز شرایط او امکانات دومره پیچلي کوي چې که چیرې ځیړنیز متودونه او روشونه ، اغیز لرونکي فاکتورونه ، زماني او مکاني شرایط او داسې نور په دقت سره په نظر کې ونه نیول شي ، دقناعت وړ نتایج به هیڅکله تر لاسه نشي . سره ددې چې زمونږ نړۍ ډیره ځوانه بریښي او ډیر پخواني حقایق لا نن هم دافسانو په شکل په

جمعي شعور کې باقي پاتې دي ، خو له هغه وخت ځخه چې د ځمکي کره په اوسني حالت سره راټوله شوې ځلور نیم بیلیونه کلونه تیریږي او دلومړي غر دجوړیدو ځخه دري نیم بیلیونه کلونه تیریږي. د یورانیوم دزړښت مکمله دوره ( ړنګیدل ) ۹۰۰۰ ملیونه کاله دوام کوي. د نورو عناصرو د زړښت دوره د یورانیوم په نسبت کمه ده . اخري عکس چې دهابل په نوم امریکایي فضایي تلسکوب د کهکشان ځخه اخیستې دي ځلوېښت ملیونه نوري کاله له ځمکي ځخه فاصله لري او یو بل



عکس چې درادیویي تلسکوپ په ذریعه اخستل شوي له ځمکي ځخه ۱۸ بیلیونه نوري کلونه مسافه لري . دا ځینی ارقام د نسبي تخمین او تصور

په خاطر وړاندي شول . یوه نوري دقیقه ۱۸ ملیونه کیلو متره یا ۱۱ ملیونه ۱۶۶ زره میله او یو نوري کال پنځه تریلیونه ۸۶۵ ملیارده ۶۹۶ ملیونه میله کیږي. اوس پخپله قضاوت کولي شو چې پداسې زماني او

مکاني ابعادو کې ایا ممکنه ده په تخیلي او تصوري شکل سره ، تر څو چې دقیق قوانین ، قانونمندي ، ټاکلي متود او متودولوژي وجود ونلري ، د قناعت وړ نتایج او تیوری، رامنځته شي ؟

شک نشته ، کله چې دتخیلي علم لارویان د خپلو تخیلي ځیړنو ، قانونمندیو او فورمولبندیو په تپه تیاره تنګو او تاریکو کګلیچونو کې پرته د ډاډ من لاربنود د عمرو نو لارې لنډوي او د دغه ډول فضایي کهکشاني ارقامو او یا نورو نا ممکناتو سره مخامخ کیږي ، خامخا به د تخیل له مخې اسمان ته دتخیل زیني ږدي ،یا به په سحر او جادو خرافاتي

عقیده پیدا کوي او یا به دتخیلي قراینو ،قیاس، استقراء او فنتازي په مشکوکو لارو د خپل قناعت زمینه برابروي . خو زما په آند «دیر رسیدن بهتر از نه رسیدن» ښه به داوي چې یواځې په فرهادي همت او عزم د علمي اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر علمي قانونمندي لارې تعقیب او هدف ته ځان رسول او یا په خپله بیوسی باندي شرافتمندانه اعتراف او دچارو واګي خپلو اخلافو ته سپارل لازمي او ضروري شرط ګڼل کیږي .

پدي صورت کې به لا اقل دتحریفي او غولوونکو تیوریو د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورده خپرېدو څخه جلوګیري شوېباوسي.

زمونږ کوچنۍ نړۍ ډېره ځوانه او زمونږ د ټولنې د تاریخي دوري لا سل سلیزي ندي پوره شوي، د سلم نسل پښه د ابتدایي انسان انګړ ته وراوړي. سل کاله دمخه مونږ په واقعیت کې الوتکي نه درلودي، د موټرو، یواځې خورا ابتدایي نموني موجودي وي. مونږ ټول خپل لومړني نیکه په ټولو خصوصیاتو او مشخصاتو سره پیژنو. په حقیقت کې ټول نړیوال یو ټبر جوړوي. د رنګونو او جوړښت تفاوت یواځې د محیطي شرایطو اغیزمن مؤثریت دي. زمونږ د نړۍ خلکو خپلې ټولې تیري کیسي او حتا د حیواناتو کیسي چې په شفاهي ډول دیوه نسل څخه بل ته نقل شویدي لا تر اوسه په خپلو حافظو کې ژوندۍ ساتلي دي. زمونږ نړۍ څومره ښکلي ده .ددي نړۍ استوګن څومره با استعداده دي. مونږ پدي ډېره کمه موده کې د علم او پوهې څومره لوړ افقونه اشغال کړیدي. خو بیا هم دا به سمه نه وي چې هر څوک دې مدعي شي چې ټولي لاسته راوړنې په خپلو سترګو ویني او یا یې په خپلو نومونو ثبت کړي. تمدنونو تر اوسه دوراني لړۍ درلودلي او وروسته له دي به هم همداسې وي. هغه څوک چې غرور په ذهن کې روزي او ظلم او ناروا کوي په زوال محکوم دي. یواځي یو خداي په یو حال

دي. دا حقیقت دې، یواځې منل او باور پرې پکاردې، دا جهان په همیشني لحظوي ستاتیک ـ دینامیک دیالکتیکي بدلون او پر مختګ کې قرار لري او هره لحظه نوي کمي او کیفي پدید ي او خلقتونه په نوي مناسباتو او قانونمندیو کې دنوي واقعیتونو، حقیقتونو په شکل او ماهیت سره ظهور



کوي، ځیرني د تل لپاره په نوې بڼه د نوي واقعیتونو مطابق دوام پیداکوي، زاړه علوم له منځه ځي او یواځې دخدای د لوی علم بشري خلف فلسفي، علمي زړي بقاء لرلې شي. پخوا هم پدې باره کې مونږ اوږده بحثونه کړي چې دا جهان ډیر غني دې. بې حسابه انرژیتیکي، غذایي زیرمې او دټولو خلقتونو د هر اړخیزي پالني او روزني لپاره هر ډول امکانات لري. حرص، تنګنظري، سود جویي، اسراف او دعلمي، قانوني او منطقي نورمونو څخه سرغړونه د ځان او نورو لپاره نه ځای لري او نه پرته له خسران څخه بله پایله.

پدې ډول هر ظهور، هر نمایش، هره پدیده او هر خلقت یواځې په علمي قانونمند بنیاد منځته راتلای شي. حتاد خدای او بنده مقضي او مقدره ارادي به هیڅکله عملي بڼه پیدا نکړي، مګر یواځې په قانونمند شکل سره. علم او قانونمندي بنیاد دموجودیت دې، بنیاد دبقاء دې، بنیاد دتحول او تکامل دې. ځدای وائي « لا یتحرک شیئ الا باذن اللّٰه » . زما په عقیده د خدای اذن همغه دخدای لوی علم او لویه قانونمندي ده چې د هغې له مخې د خدای خلف انسان کولط شي هره چاره، چې بالذاتهِ دحرکت مستلزم ګڼل کیږي، دخدای په اراده سرته ورسوي .قانونمندي د هرې پدیدي ذاتي نه جداکیدونکي خدایي نظام دې چې هیڅ انسان یې له خارج څخه په دغه نظام په ذهني، تخیلي او بله هره وسیله نشي تحمیلولې. خدای هم په دغه قانونمند نظام کې تغیر نه راولي، ځکه که تغیر راولي د اللّٰه د ذاتي او توصیفي صفاتو سره به په مغایرت کې واقع شي. دانظام د کوچنۍ ذري څخه نیولې تر کل پوري یو وار سنجول شوې او هر تغیر او تکامل لکه څرنګه چې قانونمند پیشبیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې پيبنبيدلې شي. اوس پخپله پوهيدلي شو چې د ذهني او عيني ايديالستانو ، ماترياليستانو او نورو ايزمونو چې د علم او قانونمندۍ څخه خالي بې بنياده قوانين ،تيورۍ او حتا مادي موجودات زاده د ذهن او کامپلکس د خپلو حواسو ګڼي ، څه معنا لري ؟د کارت هڅه کوله مادي ارزش له قانونمندۍ څخه وباسي او ددې لارې دا لوی قانونمند جهان د خپل تخيل او تصور د لوبو وسيله وګرځوي.دمخه مونږ پدې بحث کړي چې ماده قانونمنده او قانونمندي مادي ده .عالم الاسباب او دخدای لوی جهان همدغه معنا او مفهوم لري ،او خدای خپل خلف انسان يواځې په دغه ډول قانونمند جهان مقدر او په معرفت مکلف ګرځولې شو ، لکه څرنګه چې يې ګرځولې دې. خدای عالم ،عادل او منصف ذات دې. خپل بنده يواځې په هغه څه مکلف ګرځوي چې ممکن اوسي. شک نشته چې علمي څيړني اسان کار ندې خو زما په عقيده له هغې څخه ،لکه چې ځيني پوهان تخيلي او تصوري تحريفي دروغجني تيوريګاني جوړوي ، ډيرا سان کار ګڼل کيږي. علم دروغ نه مني. په علم کې يوه اضافي خبره ځای او ګنجايش نلري. علم خپل علمي منطق مني ،علم ساده ژبه او ساده بيان مني يعني چې ننني ترمنولوژي او ژبه بايد ډيره ساده شي.شعر ، خاص ادبيات ، هنر ،منطق ، کنائي ، استعاره ، مبالغه ، طنز او نور ادبي صنعتونه په علم کې د استعمال مورد نلري. علم مقدس اويواځې خداي خلقت دي چې انسان يي

په معرفت مکلف ګرځيدلې دې. د علم تحريف ، د علم څخه سوء استفاده او په علم تهمت لويه او نه بخښونکي ګناه ده. هر عالم په علمي کړو وړو سره د خپل کار پايلي پيشبيني کولې او



پخپل اغماض هم پوره پوهيږي ، نو ځکه يي ګناه په هيڅ صورت او هيڅ قانون د بخښني وړ نده. هغه پوهان چې د خپل تخيل او تصور قانونمندو پايلو ته سترګي په لار دې. په حقيقت کي هم ځان غولوي او هم نور ،او که رښتيا وويل شي ، نور غولوي. هرې خبري چې قانونمندي او حقيقت نه افاده کاوه ، دروغ ده او دروغ د منلو وړ ندي. هره علمي قانونمندي ، فورمول بندي او افاده د هرچا لخوا چې وي يواځې د منلو وړده .د خدای دين د خدای علم او قانونمندي افاده کوي ، ځکه پرې ايمان او باور حتمي او ضروري دې. سره ددي چي انسان خدای

مختار پيدا کړي ، بيا هم هغه اديان چې د علمي منطق په بنياد يي ظهور ندې کړې ، حتماً پرې په جمعي ډول سوچ او تصميم پکار دې. خدای يو دې ، جهان يي يو دې ،علم يي يو دې ،قنونمندي يي يوه ده. پدي صورت کي ډير اديان څه مفهوم لري ؟

اوس پخپله پوهيدلي شو چې ديوه فيلسوف مسؤليت او رسالت په يوه ټولنه کې څومره اُچت دې او په حقيقت کې يواځې واقعي فيلسوف په عالم الاسباب کې د رښتيني خلف په حيث د خدای د لوی علم استازيتوب کوي ، د دغه علم مفسر ګڼل کيږي ، دځانګړو علومو او يا په بل عبارت د جهاني ديالکتيکي بدلون او پرمختګ لاري او جهتونه تعينوي ، نو ځکه خو يی ګنا ه او سهوي هم د بخښني وړ ندي. فلسفه که په مجموع کې د قديمي او ابدي علم په حيث چې په قدامت کې ژوري ريښې لري او يواځې د حال له لارې د ابديت په لور ريښې ځغلوي ،په حقيقت کې د حضر علم وو او د تل لپاره به د حضر عِلم پاتي کيږي. فلسفه هميشه د حضر څخه تغذيه او ثمره يی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په عمده ډول په حضر کې د استفادي وړ ګرځي . د ايراني شاعر په قول:د فلسفي « کهنه کتاب » په حقيقت کي د بشر د مقدراتو او امکاناتو څخه وتلي کار دې ، او هغه څه چې د خداى دمقضي ارادې له مخې ظهور کوي دخداى په قضاء پورې اړه لري ، او هغه څه چې په بشري مقدراتو پورې اړه پيداکوي ، د هغې لار زما په عقيده يواځې د حضر دنسبي سکون د فرضيئ په لحظوي مقطع کې په قانونمند شکل د قديم او ابد په لور غزيدلې ده. ددغه اوږده او فوق العاده مغلق سفر کونجي يواځې او يواځې پدې راز کې نغښتي ، چې **دا لوي جهان خداى قانونمند پيدا کړې ، قانونمند پايي او قانونمند بدلون او پرمختګ کوي**. د همدي رسالت لپاره خداى انسان د خپل خليفه په حيث مامور او مکلف ګرځولې دې .

مونږ پدي پوهيږو ، زمونږ ښکلي نړۍ چې زمونږ دلمر په ګاونډ کې پرته ده ، دلمر څخه نژدې ۱۵۰ مليونه کيلو متره مسافه لري او د لمر رڼا تر مونږ پوري په ۸ دقيقو او ۲۰ ثانيو کې رارسيږي . د خداى په لوى جهان کې مختلف نظامونه دومره سره ليري پراته دي چې د هغوى تر منځ مسافې ،

نور چې په يوه ثانيه کې دري سوه زره کيلومتره سرعت لري،په مليونونو او مليياردونو نوري کلونو کې وهلې شي. يعني کله چي نور ۱۵۰مليونه کيلومتره مسافه په ۸ دقيقو او ۲۰ ثانيو کې وهي نو په ورځ ،مياشت ،کال ، زرونو ،مليونونو او مليياردونو کلونو کي به دغه مصافه څومره شي،په تصور تصورکي هم نه ځائيږي. داسي هم ممکنه ده چي که کوم



نظام

ملياردونه کلونه عمر هم ولري او لا پخوا له منځه تللې او سي ، کيدلې شي

نن دهغي په باره کي مونږ ته معلومات راورسيږي او په داسي وخت کې مونږ د هغي په باره څيړني پيل کړو چي هغه د نظام په شکل اصلاً وجودو نلري. ددي بحث څخه مختلفي پوښتني راولاړيدې اويا په بل عبارت مختلفو پايلو ته رسيدلې شو .:

ــ څه ډول يو فيلسوف چې په متوسط ډول ۶۰ کاله عمر لري د ملياردونو نوري کلونو پروسو څيړني سرته رسولې شي ؟

ــ هغه معلوماتونه چې مونږ پورې رارسيږي ، کولې شي حقايق هغسې چي لازمه ده افاده کړي ؟

ــ ايا ددغه اطلاعاتو نسبيت به دڅيړنو د فاکتورونو په حيث دمحاسبې لپاره کافي وي ؟

ــ که په پاى کې داسې پوښتنه مطرح شي ، څه ډول ممکنه ده چې ددومره ليري مسافو څخه دومره لوى او کوچني موجودات و څيړل شي ؟

دمخه مونږ پدې خبره تأکيدوکړ چې دا جهان د ميکره ( کوچني ) ذراتو څخه تر ( ډير لوى ) ماکره اسماني موجوداتو پورې په داسې يوه قانونمند نظام کې قرار لري چې ټول سهولتونه او امکانات د بشر دمعرفت لپاره پکې ممکن ګرځيدلي دي.ددې جهان ټول خلقتونه همغسې چې ډير تفاوتونه لري ، شباهتونه يي هم کافي دي او په کل کې با المثل جوړښتونه تشکيلوي . د مثال په ډول که مونږ ديوه کوچني

(c) ketabton.com: The Digital Library



فامیل ټول خصوصیات ،اوصاف او مناسبات په نظر کې ولرو د تفاوتونو په څنګ کې ډیر زیات شباهتونه دکورنۍ ،طایفي ، قبیلي ، قوم ، ملت ، ملتونو او دبشري ټولني سره لري. همدغه ډول تفاوتونه او شباهتونه د ذري ، اتم ، مالیکول ، کرستال ، مادی واحد ، شمسي نظام ، ګلاکتیک « کهکشان » ، اُنیورسیوم (کلي مادي موجودیت ) او نورو جوړښتونو او همداسې د بیولوژیکي او فزیولوژیکي حجراتو په تسلسل او نورو جوړښتونو کې مینډل کیدلې او دعلمي قانونمند ادراک ، تخیل او تصور او دفلسفي قانونمندو قراینو ، استقراء اوقیاس لپاره کافي مواد برابریدلې او څیړني سرته رسیدلې شي .

پدې لوی جهان کې ځیني نظامونه له منځه ځي او په عوض یې نوي نظامونه ظهور کوي ، خو دهغوی په باره کې معلوماتونه پاتیږي اوداچې بې شمیره کلونه وروسته تر مونږ پوري رارسیږي دتل لپاره پاتي کیدلې هم شي . همدا سبب دې چې فلسفي څیړني د حضر د شرایطو په بنیاد د قدیم او ابد ، زمان او مکان دعمودیت او افقیت په ټولو جهتونو کې په قانونمند شکل تعقیبیدلې شي. نو ځکه فلسفه دحال او موجوده وضعیت او شرایطو علم دې او دټولو زماني او مکاني ابعادو سره یې ارتباط او مناسبت د حال د قانونمندیو له مخې ټینګیدلې شي .

هغه پوهان چې د ایراني شاعر د وینا له مخې د فلسفي زاړه کتاب ورکو پاڼو په لټه کې دي ، خواري یې عبثه اود دې لارې هیڅکله د فلسفې د زاړه کتاب اول او اخر نشي مینډل کیدلې ، او نه ټوله فلسفه پدې خلاصه کیدلې شي چې د جهان



ماهیت په څه او دژوند معنا څه ده ؟ فلسفه دهر څه دمخه د ملیاردونو انسانانو شعوري او اګاهانه فعالیت ،قانونمندي افادي او تیوریکي فورمولبندۍ ته ویل کیږي. تر څو ددغه لوی نظام د پیژندني او معرفت په بنیاد صادقانه د نظام ساتنه وکړي. د نظام دساتني او پایښت دپاره دوه عام قوانین ، تعادل او قضاء او قدر اساسي او لازمي شرط ګڼل کیږي . په غیر صورت کې قضایي جبر د عکس العمل په توګه نه پخلاکیدونکې او نه جبرانیدونکې انقلاب ، انفلاق ،سیلاب ، اتشفشان ، زلزله ،Bagng Big او بلا تشبیه قیامت هم جوړیدلې شي.

دا نړۍ د ازمیښت نړۍ ده .دجنت او دوزخ پریکړه په همدې دنیا دخدایي احکامو ،قوانینو او دنیکۍ او بدۍ د معیارونو له مخې لکه عدالت.انصاف ، سخاوت ،خساست ،ظلم ،ناروا او داسې نورو له مخې کیږي او جبر او اختیار د هغې لپاره معیار او عام قانون ټاکل شوېدې. ټول دنیایي

قوانین د خدایي قوانینو په بنیاد ایجاد او دبا صلاحیته حقوقي او قانوني مراجعو لخوا توشیح او ساتنه یې کیږي. دهغې له مخې د نیکۍ او بدۍ جزاء ویني او دهمدغه معیارونو له مخې د مقدراتو څخه په سر غړونه د قضایي جبر سره مخامخ کیږي او د قیامت په ورځ د همدغه اعمالو په بناء دجنت یا دوزخ سزاوار ګڼل کیږي. پدې صورت کې په دنیا د نیکۍ او بدۍ سزاوار هم ددولت ،پولیسو او محاکمو لخوا د نیکۍاو بدۍ سزا ویني او هم د خدایي قانون قضاء او قدر له مخې مستوجب دهمدغه شان جزاء ګرځي.یعني چې نه یواځې داخرت سرنوشت ددنیا داعمالو او نیت له مخې تعینیږي بلکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخدای له جانبه پدي دنیا ددې دنیادا عمالو سزا هم ویني ،یوائې په دومره تفاوت سره چې که په هغه دنیا یوائې شخص پخپله د خپلې ګناه سزا ویني او نور کسان ترې نه متضرر کیږي ، پدې دنیا پرته له ګناهکار شخص څخه بې ګناه کسان هم د ګناهکار په ګناه اخته کیږي . همدا سبب دې چې دنیایي او اُخروي چارې نه شلیدونکې اړیکې سره لري او څرنګه چې د معضلې او مشکلاتو اساسي ریښه په دنیاکې ښخه ده ،ځکه چې ځانګړي ، ټولنیز ،فامیلي ،قبیلوي ،قومي مناسبات ، نفس ،غریزه ، شیطان ،حرص ،لویې غوښتنه ، او ډیر نور منفي اغیزمن تأثیرات او تأثرات یوائې پدې دنیا موًثر ګڼل کیدې شي نودتوجه اساسي وجوه هم دې دنیا ته اووختي دي. پدې دنیا انسان ، اشرف المخلوقات او خدای خپل خلف ګرځولې ، دهغه دلارښوونې لپاره دې دنیا ته خدای ۱۲۴۰۰۰ پیغمبران او اسماني کتابونه او صحیفي رالیږلي او دا نړۍ یې پخپل علم ، قوانینو ،دین او شریعت سمباله کړیده.د انسان د استفادې لپاره یې نه ختمیدونکې لایتناهي زیرمې او د هغې څخه یې د استفادې هر ډول امکانات او لارې چارې پیدا کړې دي. سره ددې چې د حرص ،آز ،غبن او غصب څخه د احتراز په خاطر اصراف شیطاني عمل ګڼل شوې او ټولې دغه ډول لارې چارې یې د امکاناتو په محدودیت او حتاد ځاني زیان دقیوداتو له مخې مقید ګرځولي او د « خیرالامور اوسطها» په بناء یې وسط لار غوره ګڼلې ده.لکن بیا هم ځیني انسانانو حرص ،آز او اصراف غوره ګڼلې او دا نړۍ یې د نورو لپاره بلاتشبیه په رښتیني دوزخ اړولې او خدایي ټول نعمتونه یې په ټولو اصلي موًلدینو حرام ګرځولي . ښه به داوې دغه لیونیان جبراً هم ددې



او هم دهغه جهان د عذاب څخه وژغورل شي.

ترڅو دټول بشریت لپاره پدې دنیا واقعي جنتي ژوند جوړول ممکن شي. فکر نه کوم چې ګوندې پدې کار خدای له مونږ څخه ناراضه شي . زه چې د قرآن شریف او دین عالم نه یم لازم نه ګڼم پدې موضوعاتو بحث وکړم. ښه به داوي ، ددغه علومو پوهان پدې باره کې ضروري مفصل بحثونه وکړي. ما یوائې غوښتل وو ایم چې د خدای په کلام کې ددې جهان لپاره دنمونې او سرمشق په حیث نه یوائې د اخرت د ممثل ژوند یا دعبرت په خاطر د تاریخي حوادثو څخه بحث شوېدې بلکه دخدای کلام په زیاته اندازه د پیغمبر ، داصحابانو ،د هغه محیط د خلکو دژوند ،حکومت ،اداري ،قانون ،جهاني مناسباتو ،همداسې د انسان او محیط ،انسان او انسان ، انسان او حیوان ، انسان او خزنده او داسې نورو ورځنیو مسایلو ته وقف شوې او په هره ساحه کې دقیق معیاري نورماتیفونه او قیودات وضع شوي او د عدل ،انصاف ، مساوات ،تقوا ،سخاوت ، ځوانمردۍ ، صلهً رحم او ډیرو نورو متقابل تعاوني اړیکو باندې تأکید شوې دې .زما په عقیده مونږ باید خپله دغه نقده نیکي ،احسان ، فداکاري او نور په نسیه ځکه عوض نکړو چې په اخرت کې زمونږ دغه نیکۍ او احسان ته څوک احتیاج او ضرورت نلري ،او که دنیا اساسي او یوائیني وخت داحسان اوسي ، عبث به مو له لاسه ورکړي وي. د بلې خوا ،که چیرې همدا نړۍ د مبارزې اساسي ډګر نه وي د خداي قانون ،د خداي کلام ، د پیغمبر کلام او دهغه عملي ژوند پدې نړۍ کې د بشریت لپاره د عملي ژوند دود ،دستوراو رسم څخه برعلاوه د ذات البیني متقابل فرضي او سنتي حقوق او وجایب ، د کورنۍ د مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار ، د فساد او خرافاتو د له منځه وړلو او په جهان کې د واقعي علمي انقلاب قاطع انقلا بي شخصيت ،داولس لپاره هوښيار او زيرکه سياسي رهبر ، د جنګ په ډګر او جبهه کې تاکتيکي او ستراتيژيکي اګاه او بيدار قوماندان ، په ټولنه کې بې کيني او له حسادت څخه ليري با حوصله او بردو باره انسان ، په معاملاتو او مناسباتو کې د کامل اعتبار وړ او د امين په صفاتو موصوف اوپه بين المللي ، بين الا قوامي او بين العقيدوي مسايلو کې د کاملي دموکراسۍ ، دقت او جرئت څښتن په حيث د عملي ژوند د طرز او اصولو نموني او مثالونه قدم په قدم عملي کولو باندې څله دومره ټينګار کيدلې ؟دا هم پرته له خارق العاده معجزي بل څه ندي چې يوه امي انسان « محمد( ص) » دغه ستر رسالت د خدای درضاء او قضاء سره سم سرته ورساوه چې دهغه د اخلاقو په اړه يي قرانکريم فرمايي: ( انک لعلي خلق عظيم ) . « ای پيغمبره ! يقيناً ته د لوړو اخلاقو درلودونکې يې »

جورج برنارد شاه وايي:

ــ ما هغه (محمد صلی الله عليه وسلم) مطالعه کړ ، هوهمغه زړه راښکونکې انسان ، زما په اند خو د عيسیٰ عليه سلام په ځای بايد همده ته د انسانيت د ناجي يا خلاصون وربخښونکي لقب ورکړل شي.

ــ زه په دې عقيده يم که چيرې د هغه په څير يو شخصيت ته ددې نوي وخت ديکتاتوري هم ورسپارل شوی وای نو هغه به په دې توانيدلای وای چې ستونزې په داسې يوه طريقه حل کړې چې ترټولو اړينه سوکالي او خوښي وروبخښي.

ــ ما د محمد (صلی الله عليه وسلم ) د عقيدې په اړه دا



وړاندوينه لا دمخه کړې ده چې داګروهه به ارومرو د سبانۍ اروپا لپاره داسې د منلو وړ وي لکه څرنګه چې ننۍ اروپا ته يې منل پيل شوي دي.

ميکايل ايچ هارټ په خپل کتاب [د نړۍ د سلو ستروا غيزلرونکو انسانانو مراتب] کې په خپل اند د نړۍ سل نوماند شخصيتونه پرتله کړي او محمد صلی الله عليه وسلم ته يې تر ټولو لومړې مقام ورکړې

زما دا غوراوی چې ولې مې محمد د نړۍ د سلو سترو اغيزلرونکو انسانانو دلست په لومړي سر کې راوست شايد ډيرو ته عجيب وبريښي او کيدلای شي نور ډير زما داکار د پوښتنې لاندې راولي خو ليکن هغه (محمد ) په انساني تاريخ کې يوا ځينې سړې دې چې د ژوند په مذهبي او غيرمذهبي دواړو اړخونوکې له حده وراوښتې کامياب وو .

ــ لامارتاين چې يو مشهورتاريخ پوه دی کله چې د بشري ارزښت او عظمت په اړه غږيږي نو په ډير ډاډ سره وايي چې: که چيرې د مقصد سترتوب ، د امکاناتو کموالې او د پايلو په زړه پورې والې او ارزښت د يو انسان دنبوغ يوا ځيني درې شرايط وي نو بيا څوک دا جرائت کولای شي چې د معاصر تاريخ کوم ستر شخص د محمد (صلی الله عليه وسلم ) سره پرتله کړي.

ــ هغه د شلو نړيوالو او يوی سترې روحانی امپراطورۍ بنسټ ايښودونکی وو که هغه ټول مقياسونه وګورو چې د يو انسان لوړتيا او سترتوب پرې کچ کيدلای شي نو بايد وپوښتو چې: ايا له هغه ( محمد ) څخه کوم بل ستر شخصيت هم شته.

## توره نه بلکه اخلاقي لوړ تيا:

ماغوښتل د هغه بهترين انسان په اړه وپوهيږم ،هاغه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلیونونو انسانانو په زړونه واکمن دی

کله مې چې د هغه د ژوند لیک دوهم ټوک بنداوه نو په دې مې افسوس کاوه چې ما دد غه ستر شخصیت د ژوند په اړه کافی معلومات نه درلودل. .

زه په دې خبره له حده هم زیات ډاډه شوم چې د ژوندانه په هغه ورځو کې یواځې توره نه وه چې د اسلام لپاره یې ځای ګټلی وو.

دا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند ساده توب، پرځان بشپړ ډاډ ، د خپل هدف به اړه ژمنتوب، د ملګرو سره وفاداری ، د هغه زړورتیا ، د ډار نه موجودیت او په خپل کار او هدف کې د الله بشپړ اطاعت او مننه وه ، هو همدغه شیان وو او نه توره چې هرڅه یې د هغه مخې ته راوړل او پرتولو ستونزو او خنډونو یې هغه ته بری ور وباخښه. « مهاتما ګاندي»

## هر اړخیز او بشپړ شخصیت:

د ملتونو د یوالي هغه ټولنه چې محمد صلی الله علیه وسلم رامنځ ته کړې وه د انسانی ورورولۍ او نړیوال یووالی داسې اصول یې وړاندې کړي چې د نړۍ د نورو ملتونو لپاره د رڼا د څرک بېلګه لرۍ.“

" د نړۍ هیڅ قوم او ملت د ملتونو د یووالي انځورته د حقیقت د جامو په اغوستوکې د اسلام سره سیالي نه شي کولای."

محمد صلیٰ الله علیه وسلم یو ښوونکی وو ، یو ټولنیز اصلاح راوړونکی وو ، د اخلاقو یو لارښود وو ، یو اداري مشر وو ، یو ریښتونی او ایمان لرونکی ملګری وو ، یو زړه راښکونکی دوست وو ، یو وفالرونکی مېړه وو ، یو مهربان



پلاروو ......دا ټولې ځانګړتیاوې په یو شخص کی راټولې شوې وې.

## پروفېسر هورګ رنج:

« ان الله لا یغیرما بقوم حتي یغیروا ما بانفسهم ». پدي کي به څه بدي وي چي که مونږ د یوه داسي انسان د رسالت لاندي چي هم خداي (ج ) او هم ټول بشریت « لعلي خلق عظیم » په صفاتو ستایلي ،لومړي په خپل ځان او بیا پدي جهان کي بنیادي تغیر راولو ، دظلم او ناروا مخه ونیسو او د خدائي عدالت ،سخاوت ، انصاف، قانون او احکامو مطابق یو ممثل متناسب نظام جوړ کړو. که چیرې د بشریت په نوم، د انسانیت په نوم مونږ یو انسان د غم او درد او بچیان یې د نا امیدۍ او مایوسۍ څخه وژغورو پدې به څه بدي وي ؟

دخدای عدل، انصاف ،دین ،مذهب او قانون خو همدا ډول حکم کوي ! او که نه یو انسان یې د ظلم کولو ، بل یې د ظلم پر ځان منلو ، یو یې د خوشحالۍ او مستۍ او بل یې دغم او درد ګاللو په خاطر پیدا کړېدې ؟

سید جمال الدین افغان چې د قرآن او دین لوی عالم وو په حقه ویلي چې « زه دظالم او مظلوم دواړو سره عداوت لرم. د ظالم سره دهغه دظلم په خاطر او مظلوم سره پدې خاطر چې دظالم ظلم پرځان مني » . خدای په حقه رشوت اخستونکي او رشوت ورکوونکي ، سود اخستونکي او سود ورکوونکي یو ډول دجزاء وړ ګڼلي .

عمل او عکس العمل ، جبر او اختیار په دې جهان ، په عالم الاسباب کې د خدایي علم عام قوانین ګڼل کیږي

او همغسي چې هر انسان د خپلو نیکو او بدو اعمالو جزا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخرت کې وینې ، پدې دنیا هم د ښو او بدو اعمالو دجزا وړ ګرځي. د خدای په دین ،احکامو او قوانینو کې په عدل، انصاف ، مساوات او حتاسخاوت سره د انسانانو په متقابلو حقوقو او وجایبو خولا څه ،حیوانات چې خدای دانسان لپاره پیدا کړي ، ظلم او ناروا یې پرې منع کړي او حتا د حلالولو په وخت کې باید کمترین درد اوزجر ووینې.

په یویشتمه پیړۍ کې انسان ډیر علمي — تخنیکي امکانات او هرډول نه ختمیدونکې زیرمې په واک کې لري ( ۴۵ کاله پخوا یو چا په ډیره مأیوسۍ سره په یوه علمي بحث کې وویل ، چې که پطرول خلاص شي نو څه به کوو؟ ما په ځواب کې ورته وویل ،وارخطا کیږه مه ، اول خو پطرول نه خلاصیږي ، بیا هم کله چې پطرول خلاصیږي هغه وخت به ډبرې هم اور اخلي ). خدای انساني طبعیت داسې پیدا کړې ، هرڅه چې زیات وخوري هغه ورته زهر ګرځي. خو دا دظالم زامن پدې هم نه پوهیږي ،بیاهم دبل چا دخولې مړۍ په خپله خوله ننباسي، وایي ماته دي زهر شي ، خو چې ووینم بل زما په مخ کې له لوږې مړ شو. دا ظالمان د پنځو ګنګو په خاطر په حقیقت کې زهر تولیدوي او په خلکو یې خوري او په مرضونو یې اخته کوي. دوی په خپله خونبه ځیني امراض په ځیني منطقو کې ترویجوي چې نفوس کم شي . دوی په قطعي ډول د ډیرو امراضو مخنیوي کولې شي ،خو نه یې کوي چې ددوی لپاره د تنفس ساحه پراخه شي. دا داقتصادي بحرانونو ، د غذایي او انرژیتیکي زیرمو د کمبود ډنډورې پوچې او عبث دي ، دنړۍ دنیم څخه زیات نفوس د پرخورۍ په مرضونو اخته دې ، چې که ددغه حرص او تنګنظرۍ څخه تیر او لږ څه انساني فکر



وکړي ، هر څه به سم شي.

مونږ ټول پدې پوهیږو چې ډیرې پیسې په ډیره ناروا ، ډیر ظلم ، ډیره غلا ، ... سره پیدا کیږي. هغه څوک چې ډیرې پیسې لري ،دانساني ژوند دهیڅ نعمت په لذت او خوند نه پوهیږي . دده ژوند دغله په څیر دې. لکه غل د پولیس ، قاضي ، دولت ، خپل ،پردي ،ښځې ، اولاد ،ورور ،پلاراو هر چا څخه په ډار کې وي. یواځې دروغ وایي اودبل هر چا څخه زیات شکایت کوي ، چې بل ترې طمع ونه کړي. پکار دادي دغه بیچارګانو ته له دغه بدبختۍ څخه نجات ورکړل شي.

پدې باره کې زما وړاندیز په لاندې ډول دې:

— بین المللي انستیتو تونه او موسسات لکه ملګري ملتونه ، بین المللي محکمه ،بین المللي بانکونه ، ... اونور بین المللي موسسات او ارګانونه چې تر اوسه وجود نلري باید تأسیس شي ؛

— ددې دپاره چې د پیسو فزیکي موجودیت دهر ډول غیر قانوني ښو له لارې ملي او شخصي ثروتونه غصب نه کړي شي «لکه چې برهان الدین رباني، احمدشاه مسعود او عبدالرشید دوستم چې دخپل حاکمیت په دوره کې د ټولو افغانانو ټول ملي او شخصي ثروتونه او شتمنۍ غصب کړلي» له منځه ولاړ شي او په عوض دې د کار په تناسب معیاري واحد وټاکل شي او اقتصاد پوهان دې په لازم شکل د ننني علم او تخنیک امکاناتو څخه د پوره ګټې په اخستلو ، دهغې لارې چارې وسنجوي ؛

— که چیرې د پیسو په راکړه ورکړه کې اسلامي قوانین او احکام په نظر کې ونیول شي ، فکر نه کوم عمده لا ینحله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکل او پرابلم پیدا شي. بیا هم د شخصي او خصوصي سرمايي د بې حده زياتوالي په صورت کې که ځيني شرايط وضع او يا د عامه ښيګڼو ځيني وړانديزونه لکه نن چې يې په نړۍ کې رواج موندلی او په افغانستان کې مونږ د بيات بنياد مثال راوړلی شو، د متقابل مساعدت او سهولتونو په څير ومنل شي، ددې او ډيرو نورو ټولنيزو پرابلمونو د له منځه تلو پيل به وي؛

ـــ هيڅ بانک دې اجازه ونلري چې د چا توري او د غلا پيسي وساتي، او په هر چا د هر ملک چې وي، که د غلا تور د ملي او بين المللي محاکمو لخوا ثابتيږي، مربوطه بانک بايد نوموړي پيسي قانوني مرجع ته وليږدوي؛

ـــ د بين المللي تنظيم لپاره دې بين المللي اساسي قانون جوړ او په وړو او لويو هيوادونو دې شرافتمندانه يو ډول تطبيق شي؛

ـــ د اجتماعي، کلتوري، علمي، ... ارګانيک تعادل او انتګريشن په خاطر دې پرته له جبر او ميخانيکي روشونو څخه د هر چا لخوا د هر ډول مساعدت څخه دريغ ونه شي؛

ـــ ما د نموني په شکل دغه مثالونه وړاندي کړل، د چارو کارپوهان کولی شي زما پورتني وړانديزونه اصلاح او نور کمبود اړخونه دې تکميل کړي.



# روح ـ ظهور، بدلون او پايښت يې

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلٗا (۸۵) ترجمه: او پوښتنه کوي له تا نه له روح څخه، ووايه چې له امره د رب ځما دي او نه ده درکړي شوي تاسي ته له علم څخه مګر لږه . که چيري ددي مبارک آيت معنا او تفسير ته ځير شو او همدا سې هغه تذکر چې د قرآنکريم په نورو آيتونو کې د روح د پيدايښت او ظهور په باره کې شوېدې، سره ددې چې د روح عام هر اړخيز ماهيت افاده کوي، خو په حقيقت کې د دغه مسئلې په ټولو تاريکو اړخونو او کنجونو رڼا اچوي او هيڅ ډول شک او شبهې ته تاريکه ساحه نه پاتي کيږي. د خدای په کلام کې په ځانګړي او مشخص ډول يو ائې د انساني روح د پيدايښت په باره کې د يوې پروسې په حيث بحث شوېدې. د پروسې د مختلفو اړخونو، او په معينه مرحله کې يعني د څلورمې مياشتې په پوره کيدو سره د انسان مخ په تکامل وجود کې د روح د ابتدايي ماهيوي مفهوم په کچه د لومړي تحرک رامنځته کيدل، په شپږمه مياشت د قوام او پايښت مرحلې ته رسيدل او په دوه نيمو کلونو کې پر ځان ابتدايي اتکاء پيدا کول او بعدي پروسه په څرګند ډول د دغه حقيقت مبين او څرګندوی ده چې د هر موجود او خلقت د پيدايښت او بقاء د پروسې په مختلفو مراحلو کې د ظهور، تکامل او انحطاط په منحني لار وهي او په ځانګړي ټاکلي وجدي حالت او وضعيت کې قرار لري. د قرآنکريم په تفسير کې د دغه مفهوم په پوره دقت سره دا ډول افاده شوېدې: «د روح علم او شعور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ صفات په تدریج سره په کمال رسیږي او په ارواحو کې د کمال دحصول په اعتبار بې حده تفاوت او دمراتبو فرق وي تر دې چې د الله تعالی له تربیته یو روح داسې لوړ او اعلی مقام ته رسیږي چې نور ارواح هغه ته له سره نشي رسیدې... ». په پورتني عبارت کې چې یواځې انساني روح ته پکې اشاره شوې، په حقیقت کې دانساني روح ذهني ،جسمي او ټولنیزو سترو تفاوتونو ته ګوته نیول شویده او دا په ګوته کوي چې روح کوم مجرد مفهوم ندې ، نه یواځې عقل ، پوهه او شعور افاده کوي ،لکه چې ځیني پوهان روح ، جوهر ، عقل ، شعور او دغه ډول نورو مسایلو ته برابر ارزش قایل دي.هګل عقیده لري چې بشري تاریخ د مطلق عقل د پلوشو مظهر دي.محمد نادر ایوبي « کندهاري» پخپل کتاب ( فلسفه )کې دهګل نظر په لاندي ډول لیکي: «د هګل په عقیده په عالم کې یو جهاني او مطلق عقل چې پوهه یې د افرادو تر خیال او تصور لوړه ده چې دبشر په تاریخ کې څرګند شوېدې.کله چې یوه ټولنه بله ټولنه له منځه وړي او بري حاصلوي ،همدغه جهاني مطلق عقل چې دمخه دمغلوبې ټولنې سره وو و دوهمې غالبې ټولنې ته درومي،دغه جهاني مطلق عقل د عالم دنظام او پالنې محرکه قوه ده چې د افرادو په یوه خپلواکه ټولنه کې بشپړیږي ،دې وایي چې په ټولنه کې هم هغه حرکت او پرمختګ چې په کایناتو کې موجود دې سته ،شتمني او مالونه هم دانسان دتکامل د پلوشو نتیجه ده او قانون هم د جهاني مطلق عقل د اغیزو څخه د خپلواکو افرادو په ټولنه کې بشپړیږي او هر فرد خپل فردي عقل باید دهغه جهاني مطلق عقل سره عیار کړي او کوم څوک چې محض د خپل هوس تابع وي په حقیقت کې خپلواک ندې هر کله



چې فرد دټولنې سره (یو )سي خپلواکي مومي ،تاریخي سیر د کاملو دولتوظهور څرګندوي...» « ۶۰۶ مخ »همداسې په « تاریخ فلسفهٔ شرق وغرب »چې د سروپالي راداکریشنان په مشرۍ د پوهانود یوې ډلې لخوا تالیف او جواد یوسفیان په فارسي ژبه ژباړلې د هګل د روح د فلسفي تر عنوان لاندي لیکي: « که منطق د هګل دنظام بنیاد وګڼو(حال دا چې منطق د هیڅ ډول نظام بنیاد نشي جوړیدلې ) ،دروح فلسفه ددغه فلسفي بنیاد افق ګڼلې شو » ( دوهم جلد ۲۷۴ مخ ) زه دهګل په پورتني نظر او عقیده او دروح په فلسفه پدې لیکنه کې تبصره نه کوم ،اودغه تبصره هغه فرصت ته ساتم چې که ژوند ماته راکړ او په ټولیزه توګه مې د روح په باره کې د پوهانو په نظریاتو څه لیکل غوښتل ، پریږده چې د هګل په پورتني نظر محترم لوستونکي پخپله قضاوت وکړي چې څومره منطقي تسلسل او قانونمند منطق په کې وجود لري؟ زما په عقیده هر څوک که د روح مفهوم د عقل ، شعور او یا دهګل په څیر دټولني دتاریخ سره پرتله کوي او په یوه سترګه ورته ګوري،روح ته ډیر کم ارزش قایل شوېدې.ځکه چې روح کلي مفهوم دې او دانسان د وجود دټولو اعضاوو او اجزاوو د کلې فعالیت وجدي وضعیت او دیالکتیک پوري اړه لري ،لکن ځانګړې پدیدي لکه احساس ،عقل ،شعور ،تحرک او نور، سره ددې چې د نورو اعضاوو نسبي او متداخل رول پکې بې تاثیره نه دې ،خو پریکنده رول پکې په مشخص ډول یوله اعضاوو لکه مغز په عقل او شعور ،حسي اعضاء په احساس او داسې نور په نورو پدیدو کې لوبوي او ددغه ځانګړو اعضاوو د قسمي یا کلي ضرر په صورت کې اړونده پدیدي هم متضرري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي . همداسې کـه څوک جهـاني روح او یـا د بېـتـه ورتـه مفـاهیم دخـدای د لـوی ذات او حتـا د یـوه کـوچني مـادي واحـد د سبستانـسیون ( ماهیـت ) سـره پـه یـوه تلـه تلـي یـا یـو شـان ارزش قـایلیږي، یـا پـه ډیـره سـادګۍ دغـه ډول نامتناسـب مقیاسـونه ردوبـدل کـوي ، یـا هغـې تـه ځـانګړې ماهیـت او بعـد قـائیلیږي یعنـې د مـادي واحـد دجمعـي هراړخیـز دیـالکتیکي وجـدي حالـت یـوائې پـه یـوه اړخ ډډه لګـوي او یـا دتناسـخ دتـصوري او تخیلـي موهـومي تیـورۍ لـه مخې لـه یـوه خلقت اوحتـا لـه یوې ټولنې څخـه بلـې ټولنيې تـه دجهـاني روح پـه لیږدونـې بـاور کـو ي، مـا لپـاره دمنلـو وړنـه بریـښي. شـک نـشته چـې روح د کـوچنۍ ذرې څخـه نیـولې تـر کلـي مـادي موجودیـت او همداسـې دزمـان او مکـان د ابعـادو پـه عمودیـت او افقیـت کـې همغـسي چـې روح همیـشه نـسبي مفعـوم لـري ، پـه هـره لحظـه کـې مـشخص او ځـانګړې مفهـوم هـم دې. دغـه ځـانګړتیـاوې نـه یـوائې د ځـانګړې نـوعې بلکـه د ټولـو خلقتونـو پـه زمـاني اومکـاني ابعـادو کـې هیڅکلـه دمقایـسې وړ نـدي. دمخـه مـونږ پـدې موضـوعاتو پـوره بحث کـړې چـې پـه هـر ه پدیـده ، خلقـت او هـر مـادي واحـد کـې ټـولې پروسـې ،حرکتونـه او قانونمنـدۍ همزمـان او هـم مکـان پـه متـداخل ډول پـر مـخ ځـي او دخپـل مـادي واحـد پـه کچـه مُحـصل وجـدي حالـت رامنځتـه کـوي او روح پـه هـره کتګـوري او پـه هـر معنـوي موقـف کـې چـې اوسـې دډیـر ابتـدایي حالـت څخـه نیـولې تـر خـورا عـالي مغلـق وضـعیت پـورې ددغـه وجـدي حالـت ددیـالکتیکي وضـعیت د محـصلې پـه توګـه ظهـور کـوي ،نـه دکـوم ځـانګړې جـز د وجـدي حالـت ددیـالکتیکي وضـعیت د نماینـده پـه حیـث. پـه همـدې سبب مـونږ پـه هـیڅ دلیـل نـه شـو کـولې چـې انـساني روح دهغـه د عقـل اویـا



جهـاني روح د خـدای د علـم او ذات سـره پرتلـه او یـا پـه شـرک ومنـو. ددې موضـوع دپوهـاوي پـه خـاطر زه غـواړم یـو سـاده تخنیکـي مثـال راوړم. پـه تخنیکـي جوړښـتونو کـې محرکـه قـوه او یـا پـه اصـطلاح محـرک روح ،چـې دټـاکلي هـدف د ترلاسـه کولـو پـه خـاطر بایـد ایجـاد شـي ، دمغلقـو میخـانیزمونو یـو کـامپلکس سیـستم او یـا سیـستمونه ایجـادیږي. دمثـال پـه ډول لـه یـوه ځایـه څخـه تـر بـل ځـاي پـوري د مـسافرینو او یـا د ټـاکلي وزن دلیږدولـو پـه خـاطر الـوتکې تـه ضـرورت پیـښیږي.الوتکـه پخپلـه مـدرن او ډیـر مغلـق تخنیکـي کـامپلکس او دهغـې د محرکـې قـوې د ایجـاد لپـاره انجـن یـو بـل مغلـق سیـستم ګڼلـې شـو. پـه انجـن کـې د کـشش د قـوې د ایجـاد پـه خـاطر مختلـف تخنیکـي سیـستمونه او قـسمتونه فعالیـت کـوي او هـر یـو خپـل ټـاکلي رو ل لـري ،خـود کـشش دقـوې پـه ایجـاد کـې مرکـزي او اساسـي رول تـوربین او آیرودینـامیکي مجراپـوري اړه پیـداکوي چـې پرتـه لـه هغـې اصـلاً د کـشش قـوه نـه ایجـادیږي.ایـا مـونږ کـولې شـو دانجـن د کـشش قـوه د هغـې د مـادي ذاتـي موجودیـت پـه حیـث ومنـو آو یـا یـي ورسـره پرتلـه کـړو ؟او یـا ،ایـا ممکنـه ده دانجـن دکـشش قـوه دیـوه قـسمت او یـا یـوائې دیـوه میکـانیزم مولـود وګڼـو ؟دانـسان پـه وجـود کـې د روح موقـف هـم همداسـې دې. د حرکـت دانتقـال دوسـیلي اویاپـه هـر مـادي واحـدکې دوجـدي حالـت دعلـت پـه موخـه او نـوم کـوم مـشخص میکـانیزم او موجـود وجـود نلـري ،او نـه مشخـصي ځـانګړي وسـیلي او حتـا کـومې برخـې تـه د محرکـې قـوې د انګیـزې او علـت پـه توګـه ګوتـه نیـول کیـدې شـي ، بلکـه دهغـې ترشـا ځـانګړي میکانیزمونـه پـه مشخـصو فعـالیتونو سـره وجـود لـري چـې پـه کـل کـې ددغـه ځانګړوفعـالیتونو قانونمنـد ارګانیک انتګریـشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودیفرنسیشن د معین کمیت او کیفیت په تناسب معین وجدي حالت ایجادوي. په همدې ډول د خدای دمقضي ارادې له مخې انساني او یا دبل هر خلقت روح هم ،د ساده څخه تر مغلقه پورې ،د نظام د قانونمندۍ په بنیاد په معینو زماني او مکاني ابعادو او د کمیت او کیفیت په ټاکلې منځپانګه سره په ټاکلي او مشخص ماهیت او وضعیت سره دظهور ، بقاء ،تکامل او انحطاط په مسیر لاروهي او تر څو چې ټاکلي وجدي حالت او مشخصه منځپانګه وجود ونلري روح هیڅکله د خپل سفر په لارکې په هیڅ یو ددغه وضعیتونو کې واقع کیدلې او برقراریدلې نشي. په همدې علت دانسان دروح دظهور په خاطر څلور میاشتینې او داستقرار او قوام په خاطر یې لا اقل نور دوه میاشتیني زماني بعد ته ضرورت لیدل کیږي. دخدای په علم کې دروح مسًله ددې څخه هم ډیره مغلقه او دقیقه ده. د طب علم اټکل کوي چې د انسان وجود د لس تریلیونو ( 10 000 000 000 000 ) نه د زیاتو حجراتو څخه جوړ دې. دخدای دکلام په قول ، دمخه مونږ وویل چې روح یوه پروسه ده ، یعني د قضاء او قدر دقانون له مخې په دیالکتیکي لحظوي تحول او تکامل کې قرار لري. د انسان دوجود دلس تریلیونو څخه زیاتو حجراتو هره یوه حجره، په حقیقت کې ، ځانګړې مادي واحد جوړوي او دهري حجري د وجدي حالت څخه نیولي دبدن دمختلفو ارګانونو او اعضاوو دیالکتیکي انتګرالي او دیفرنسیالي موجودیت د روح او مادې کلي وجد کې ځانګړې رول لوبوي. په همدې علت ممکنه نده د څلورو میاشتو څخه دمخه، تر څو چې د کوچني وجود لا لازمه کمي او کیفي منځپانګه نه ده ترلاسه کړې، دانساني روح ابتدایي او یا بعدي



تکاملي او انحطاطي مراحل نشي رامنځته کیدلې . دبلې خوا مونږ پوهیږو چې په هره لحظه کې دانسان د بدن د لس تریلیونو حجراتو څخه ډیر حجرات مري او دهغې څخه څه زیات یا کم نوي پیدا کیږي. تر څو چې د نوي حجراتو شمیر د مړو حجراتو د شمیر څخه زیات وي ، وجود تکامل کوي. کله چې د مړو حجراتو شمیر د نوو حجراتو له شمیرڅخه زیات شي ،د ژوند منحني مخ په زوړ شي ،یعنې انحطاط شروع کیږي. کله چې دانسان په وجود کې د یوې ذرې په کچه بدلون پیښیږي ،د خدای د لوی علم په حافظه کې محفوظ او هیڅکله لا درکه نشي پاتې کیدلې او بې پله له منځه نه ځي او همداسې دهر کوچني تغیر په پیښیدو سره دبدن په وجدي حالت یا په بل عبارت د روح په وضعیت کې متناسب بدلون رامنځته کیږي. د بلې خوا د خدای په علم کې معما ، موهومي ،نامعین او متوالي حالتونه او وضعیتونه وجود نلري او نه خپل مخلوق د ناممکناتو او لا چارۍ سره مخامخ کول غواړي.د خدای د لوی علم له مخې بې شمیره پروسې ،قضي ،فورمولبندۍ او افادې په متداخل ارګانیک انتګریشن او دیفرنسیشن کې د حل واحدځواب پیداکوي او هیڅکله د شک او تردد په څلورلاري او دوه لاري کې ځوک نشي واقع کیدلې. دمخه هم ما په خپل ناقص آند او فکر د خدای دلوی علم خارق العاده سمښت او دقت کچې ته داسې اشاره کړې وه چې: د انساني وجود په بیولوژیکي حجره کې ۲۳ جوړې ، یا په بل عبارت ۴۶ کروموزومه وجود لري. که چیرې یو له دغه کروموزومونو څخه کم وزیات شي ،دانسان دوجود ارثي تسلسل شلیږي او انسان د مونوګلوئید په بڼه په جهان کې سترګي غړوي او معفیتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستم یی هم پر ځای نه پاتي کیږي. نن علم او تخنیک د « Embryology جنین پیژندني» په برخه کې دومره پرمخ تللې او لابراتواري څېړنې په ډېره چټکۍ سره رواني دي چې د غیر متراقبه پیښو څخه پخپل وخت مخنیوې وکولې شي. نن په امریکا ،اروپا او ځیني نورو هیوادونو کې په تجربي لحاظ ددغه ډول تربیه شووؤ څارویو غوښې خوړل کیږي. په ټولنیز لحاظ به دا خبره سمه او ګټوره وي ، خو که د شخصي مقاصدو لپاره وکارول شي نه جبرانیدونکي فاجعې به رامنځته کړي. په همدې خاطر د علمي پر مختګونو سره هم باید مسؤلانه کړه وړه وشي او تل په باوري او خوندي مصؤن موټي کې یواځې د خیر ښیګڼې ټولنیزو ارمانونو د پاللو او ترلاسه کولو په خاطر وساتل شي. کله چې امریکایي فضاء نورد N.Armstrong په ۲۱د جولای د ۱۹۶۹م کال کې د Apolo د قوماندان په حیث سپوږمۍ ته تللې وو د کونړ دیوه مشهور شخص د مړینې په مراسمو کې ډیر پوهان او مشهور دیني عالما راټول شوي وو او ددغه تګ په امکاناتو او عدم امکاناتو باندې ډیر تود بحث کیده. ځیني دیني عالمان چوپه خوله پاتې وو او د نورو خبرو ته یې غوږ نیولې وو . لکن ځیني نورو سخت مخالفت کاوه.ماهم ددوۍ خبرو ته غوږ نیولې وو . کله چې یوه دیني عالم په قطعي ډول مخالفت ښکاره کړ او د مقابل لوري په ځواب کې یې وویل ، « که په رښتیا ارمسټرانګ سپوږمۍ ته ختلې وي نو یو تور څادر دې د سپوږمۍ په مخ وغوړوي ،چې له مونږ څخه پټه شي بیا به یې ومنم . زه چې د مولوي صاحب اړخ ته نژدي ناست ووم په ټیټ اواز مې ورته وویل چې استاده سپوږمۍ دومره کوچنۍ نده چې په څادر کې پټه شي او که په تور څادر کې پټه هم شي



،بیا به هم سپینه ښکاري . که چیري د خداي (ج) او پیغمبر (ص )په قول کې سپوږمۍ ته ختل نا ممکن ګڼل شوي وي ، ښه به داوي هغه آیت او حدیث شریف دلیل راوی. مولوي صاحب په ځواب کې وویل « ستازړه دې وواېم چې ختلي دي او ځان کافر کړم.په علمي مسایلو کې هره منطقي او قانونمنده وړاند وینه او خوشباوري ممکنه او منطقي هم ګڼل کیږي خو یو اړخیزه مطلق مخالفت، موضعګیري ،تعصب او تنګنظرۍ ته په کې ځاي نه پاتي کیږي. مونږ نن وینو چې سپوږمۍ ، د شمسي نظام نورو سیارو او زمونږ له شمسي نظام څخه وړاندې نورو ستورو ته سفرونه تقریباً په ورځني معمول کار او چار اووختې دې.نو مولوي صاحب چې د خدای(ج) او پیغمبر(ص) دعلم او کلام د پوهې او تفسیر وارث ګڼل کیده خو په حقیقت کې د هغې څخه بیخبره وو او دخپلې بیخبرۍ د پټولو په خاطر یې د تعصب او حتا جهالت څخه هم کار اخیسته ، په حقیقت کې دخدای لوی علم ته یې د خپلو سترګو دتنګو کسو څخه کتل او په خپله ناپوهۍ سره یې ټول بشریت د خدای د لوی علم په هکله « العیاذ بالله »بي باوره کاوه او د خدای دذات او علم څخه د منکرانو لپاره یې داعتراضونو او دروغجنو دلایلو خټه برابروله . کله چې خدای دا لوی جهان د خپل لوی علم له مخې قانونمند پیدا کړې دې ،کله چې خدای یواځې په انسان کې علمي ،منطقي ظرفیت او استعداد ایجاد ،علم یې په ښځه او نر فرض او د همدغه علم له مخې یې انسان د عالم خلف په حیث دجهان او ټولو خلقتونو په معرفت مکلف ګرځولې او دغه ټول خلقتونه یې دهغه لپاره پیدا کړي او دهغه په خدمت کې یې ګمارلي ،کله چې اسلام دټولو ادیانو په نسبت خورا علمي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا منطقي دین ګڼل شوې ، دبشریت په قاموس کې چیرې دغه ډول حماقت ،جهالت ، ناروا دروغجنې تنګنظرۍ ته ځای پاتي کیدلې شي ؟ ډیر خلک او حتا پوهان داسې فکر کوي چې خدای ټولې دنیایي او اخروي چارې باالفعل او باالاراده پخپله سرته رسوي.زما په عقیده دا خبره به سمه نه وي.که خدای خپلو مخلوقاتو ته تیار خواړه رسولې ،ثله به آدم(ع)او نور انسانان دعالم الاسباب عملي ازموینې ډګر ته راوتلي ؟د ثه لپاره خدای انسان د علم ثخه برخمن کړي ؟او دثه لپاره یي د خپل لوی ذات د خلیفه لقب ورکړې دي ؟دا ډول نظر دقضاء او قدر دعام قانون سره سمون نلري او د خدای عدل او انصاف د پوښتني لا ندي راولي . پدې صورت کې به ضرورت نه وو چې خدای دا جهان قانونمند پیدا کړې وي ، ځکه خدای په هر شکل چې وغواړي دخپل نظام داداري او کنترول له عهدې ثخه وتلې شي او د انسان هر کوچني فعالیت به «العیاذ باالله» په خدایي کارونو کې مداخله ګڼل کیدلې او انسان ته به هیڅکله د خدای دمقضي ارادې له مخې انساني مقدرات او اختیار نه وې ورکړې شوي او دا به «العیاذ باالله» هم دخدایي انصاف ثخه لیري وې چې که بیا یي هم انسان د جهان او ټولو خلقتونو په معرفت مکلف ګرځولې وې ، ځکه چې انسان به بې له هغې هم ددغه کار له عهدې ثخه نه وې وتلې.د بلې خوا د انسان لپاره دخدای دلوی ذات دلوی علم د سرمشق نمایش به ثه ډول شوې وای ؟او یا ثه ډول به یي په خپل ځان باور او لازم جرئت پیدا کړې وای ؟ پدې صورت کې به د انسان د پیدایښت ثخه هدف ثه وو ؟ثه ډول به یي ژوند کولې ؟او ثه ډول به یي د خپل عبودیت رسالت او مسؤلیت سر ته ر سو لې ؟خو مونږ پوهیږو



چې خدای الرحمن الرحیم ،عادل ، منصف او ډیري لویې پیرزوینې او لورییني لوی ذات دې او په ټولو مخلوقاتو او په ځانګړي توګه په انسان یی ستري رواداری او پیرزوینې لرلې. په حقیقت کې خدای انسان او ټول خلقتونه د قضاء او قدر دقانون له مخې مقدر او مقضي ګرځولي دي .زما په عقیده که خدای ټولې چارې پخپله سرته رسولې ، د انسان لپاره د خدایي خلا فت نه ثه ضرورت لیدل کېده او نه به ددې لپاره کوم امکان او وسیله موجوده وې چې انسان د خدای دعالم خلف په حیث د خدای دلوی علم ثخه اګاهي پیدا کړي. په حقیقت کې انسان او ټول خلقتونه د قضاء او قدر دقانون له مخې مقدر او مقضي ګرځیدلي ، دا لوي جهان یي په کل او جز کې قانونمند پیدا کړې او دخپلې مقضي ارادې له مخې یي د لوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تر بله لازمي ابدي علت او معلول ، قایم باالذات او خلل ناپذیر ګرځولې دې.ددې په عوض چې خدای د خپلو بنده ګانو پرځای ټولې چارې پخپله سرته ورسوي او پاخه خواړه ورته وویشي ،د پوهې او عمل استعداد یي ورکړې ،هر چاته یي پخپل نژدې چاپیریال کې د عدالت ،انصاف او هر اړخیزي رواداری له مخې پرته له خوړو د هر ډول مصروفیت ،مشغولیت او علمي ثیړنو په خاطر بې شمیره امکانات او بې حسابه زیرمې موجودي کړي او انسان او نور مخلوقات هر یو یي دخپلو امکاناتو په تناسب مقدر او مکلف ګرځولې دې.ددې جهان ټول خلقتونه ، دخورا کوچني ثخه تر خورا لوی او دخورا ساده ثخه تر خورا مغلق پورې خپل خپل مقدرات او د هغې په تناسب مختلف هر اړخیز امکانات او اختیارات لري چې د خدای د مقضي ارادې له مخې د خپل ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بد سر نوشت ،نیک او بد روح او دنیایي او اُخروي ځانګړو او ټولنیزو سرنوشت سازو قضایاوو او مسایلو کې صلاحیت ورکړې شوې او پرې مکلف ګرځیدلې دې.یعنې خدای هر خلقت دقانونمند نظام په شکل مقدر او خود مختاره پیدا کړې دې. نو ځکه روح هم دامري خلقت دمقدراتو په تناسب دخپل ظهور ، تکامل او انحطاط په پروسه کې د خپل نیک او بد سر نوشت او د خپل پیدا ایښت ،بقاء ،تکامل او حتا د انحطاط اختیار پخپل واک کې لري. یعنې چې د روح سرنوشت هم دخدای د لوی علم او د هغې د عامو قوانینو له مخې ، مخکې له مخکې نه تعینیږي ،بلکه د ورکړې شوي اختیار او مقدراتو په تناسب ، کولې شي هغه په خپله خوښه تعین کړي. روح د امري خلقت په حیث با الذات تغیر پذیر او فنا پذیر دې او دخپل ظهور ،تکامل او انحطاط په پروسه کې منحیث دهر قانونمند حرکت او قانونمندۍ په شکل د مادې د ابدیت په بناء ، ابدي شهودي قانونمند حقیقت جوړوي او دزمان او مکان په مختلفو مقاطعو او ابعادو کې دمادي عامو قوانینو له مخې نه یواځې د روح او وجدي حالت په کل کې، بلکه د هغې پورې داړونده اجزاوؤ حالت او بدلون قابل د محاسبې او قانونمنده افاده یي هر وخت ممکنه ده.په همدې علت د خدای په کلام کې ویل شوي چې د حساب او کتاب په موقع کې دانسان دبدن ټول اعضاء په جداګانه ډول پخپله په انسان د نیکو او بدو اعمالو شاهدي ورکوي.که چیري روح مجرد مفهوم او په یوحال پیدا او باقي پاتې موجود وې نو د ځانګړو اعضاوو د ځانګړې شاهدۍ مسًله نه شوه مطرح کیدلې او یواځې په کل کې به د روح د عام مفهوم او موجود په حیث د شاهدۍ ذکر شوې وای. د خدای په



لوی جهان کې دخدای د لوی علم له مخې مرګ نسبي او ژوند ابدي مفهوم لري . هر مرګ دنوي ژوند اغاز او هر ژوند همزمان دنوي ژوند او مرګ په لور حرکت کوي او په متوازن ، متعادل او متناسب ډول دخدايي نظام دبقاء ساتندوی او همدغه دخدای د لوي نظام دبقاء او ابدیت لوی او انکار نه منونکې دلیل دې. د خدايي نظام قانونمندې ساتني او حفاظت ته خدايي طریقت ،شریعت او عبادت ویل کیږي او دهمدغه نظام څخه دسالمې ګټې په اخیستني او حفاظت پورې د بشریت او ټولو مخلوقاتو ټولې خوشبختۍ هم تړلې دي . نو ځکه د خدايي نظام ساتنه اومعرفت اودخدای د علم تحصیل د بشر لپاره د خدای د بې ساري نعمتونو څخه د اعظمي منطقي ګټې اخیستنې په مفهوم اومعنا ده، خدايي شریعت ددغه اعظمي استفادې لپاره یواځینۍ لار او خدايي رښتیني عبودیت ددغه ګټې اخیستنې خورا احسنه امکانات او طریقه ګڼل کیږي. مهمه خبره داده چې دغه تسلسل له پیله تر پای پورې ټول دخدای دلوی علم او د هغه ذات د لویي رواداری او پیرزوینې په محور څرخي اود خداي په کلام کې د انساني روح دپیدا ایښت په پروسه کې زماني قیدیت ته اشاره شویده. زمان نسبي مفهوم دې اودهر مادي واحد په تناسب مختلف نسبي مفاهیم افاده کوي.د بلې خوا پخپله قیودات هم کیدلې شي دشرایطو په تغیر سره تغیر وکړي. روح مجرد مفهوم نه دې او نباید هغه مجرده پدیده وګڼل شي . ځیني پوهان د روح د زماني او مکاني ابعادو څخه منکر دي یعنې هغوی روح عام مفهوم ګڼي چې هیڅکله خارجي وجود نلري او چې څرنګه دغه ټول فعالیتونه سرته رسوي، ځکه خو هیڅوک نشي پوهیدلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بايد هم پوه نشي. ځيني نور روح ته هر ډول زماني او مکاني ابعاد او تناسخ قايل دي. هغوی پدې عقيده هم دي چې بد روح د تناسخ پروسه کې د بدې او خبيثه ارواح په حيث په ځيني په اصطلاح کثيفو حيواناتو کې تر هغې دوام کوي ، تر څو چې يې د نفس تزکيه وشي. خو زما په عقيده روح په هر زماني او مکاني بعد کې مشخص او ځانګړې دي او يوائې په مشخص خلقت او پديدې پورې اړه لري او د اسلام د مقدس دين حکم هم همداسې دې ، او په هره پديده او خلقت کې د هغې د اجزاوؤ د وجدي حالتونو د قواوؤ د ويکتورونو محصله جوړوي.خو دغه محصله کومه ساده ميخانيکي تجمع او انتګريشن نه دې ،بلکه همغسې چې د خدای د لوی علم د قانونمندی له مخې دا لوی جهان د ټولو علومود قوانينو او ټولو اجزاوؤ د وجدي حالتونو په ارګانيک تداخل سره ددی لوې جهان او هر خلقت او اجزاوؤ بقاء پايداره ساتي ، خود هر حالت او وضعيت په کمترين تغير سره همزمان تغير مومي. د روح د پيدا ايښت او بقاء په پروسه کې همداسې تفاوت او ديالکتيکي تحول او تکامل ته اشاره شوې ، او تکامل او تحول پخپله مختلف اشکال د حرکت ګڼل کيږي . هر حرکت با الذاتہ کثير الجوانبه او کثير البعدي پديده ده. پدې معنا چې هيڅ حرکت په ځانګړې محدوده کې مقيد نشي پاتې کيدلې او همزمان په متوالي ډول په نورو او نورو حرکتونو بدليږي او هر حرکت پخپل نوبت د انرژي مختلف ډولونه منځته راوړي او هغه د نوي کمي او کيفي پديدو د ايجاد سبب ګرځي .حرکت ابدي دې او د خدای د مقضي ارادې سره سم د ابديت ضامن ګڼل کيږي. د دغه پروسه په متواتر ، مستمر او متداخل ډول دوام پيدا کوي او د مختلفو



خلقتونو او پديدو د رنګينئ او تنوع علت او انګيزه ګرځي .
مونږ دمخه د فلسفي اساسي مفاهيمو په باره کې دا هم ويلي وو چې « ماده متحرکه ده ځکه چې موجوده ده او موجوده ده ځکه چې متحرکه ده » . کله چې حرکت مجرد مفهوم او پديده نشي پاتې کيدلې نو هيڅ مادي واحد او په هغه جمله کې روح هم د آمري خلقت او حقيقت په حيث مجرد مفهوم او پديده نشي ګڼل کيدلې. د انساني روح د پيدا ايښت په پروسه کې د انساني وجود د کمي او کيفي متکامل او متحول خلقت په حيث څلور مياشتيني ميعاد د روح د ظهور لپاره مناسب او متناسب ګڼل شوې دې او يا په بل عبارت دا هغه زماني بعد جوړوي چې انساني وجود پدغه زماني مقطع کې د انساني روح د پيدا ايښت متناسب کمي او کيفي حالت او وضعيت ته رسيږي . پخپله مياشت ،کال او يا ورځ ،ساعت ، دقيقه ،ثانيه او يا نور زماني واحدونه ټول نسبي مفاهيم دي . د مثال په ډول د نجوم علم دا خبره معلومه کړې چې حتا زمونږ په شمسي نظام کې د عطارد د سياري يوه شپه او ورځ د ځمکې د شپې او ورځې ۵۹ برابره او يو کال يې د ځمکي ۸۸ ورځې کيږي ؛ د زهره يوه شپه او ورځ د ځمکې د شپې او ورځې ۲۴۳ برابره او يو کال يې د ځمکې ۲۲۵ ورځې کيږي ؛د ځمکي يوه شپه اوورځ ۲۴ ساعته او يو کال يې ۳۶۵ ورځی او شپږ ساعته کيږي ؛د مريخ يوه شپه او ورځ د ځمکې د شپې او ورځې نيمايي يعني ۱۲ ساعته او يو کال يی د ځمکې ۳۸۷شپې او ورځې کيږي ؛ د مشتري يوه شپه او ورځ د ځمکې ۱۰ ساعته او يو کال يې د ځمکي د ۱۲ کلونو برابر دې؛د زحل يوه شپه او ورځ د ځمکې ۱۰ ساعته او يو کال يې د ځمکي د ۲۹ کلونو برابر دې ؛د يورانوس يوه شپه او ورځ د ځمکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱ ساعتونه او یو کال یې د ځمکې د ۸۴ کلونو سره برابر دې ؛د نپتون یوه شپه او ورځ د ځمکې ۱۶۰ ساعته او یو کال یې د ځمکې د ۱۶۵ کلونو سره برابر دې او بالاخره د پلوتون یوه شپه او ورځ د ځمکې د شپې او ورځې ۶ برابره او یو کال یې د ځمکې ۲۴۸ کاله کېږي. دا هغه ارقام دي چې اکادمیسن عبدالاحد عشرتي په خپل کتاب (اعجاز علمي قرآنکریم ، دوهم چاپ په صفحه ۹۱ ) ذکر کړیدي. لمر څرنګه چې شپه نلري تقریباً په ۲۵ ورځو کې یو وار پخپل محور څرخې او انتقالي سرعت یې په یوه ثانیه کې ۱۵۰ میله او د انتقالي حرکت یوه دوره یې پخپل مدار یعنې یو کال یې تقریباً ۲۰۰ ملیونه کاله او یا په بل عبارت د « Milchsrasse ــ شیري جاده ،د (کهکشان ) » سفر ۲۰۰ ملیونه کاله دوام کوي. ( Qur'an und moderneWissenschaft ,Dr.Zakir Naik , s, 14 ) . پدې ډول ساعتونه ،دقیقې او ثانئي او د انسانانو او نورو خلقتونو او موجوداتو عمرونه د کلونو په حساب هم تغیر کوي او کاملاً نسبي مفاهیم لري .

د روح په باره کې د خدای په کلام کې ددې ذکر هم شوې دې ، کله چې روح له بدن څخه ووځي انسان مري. د بلې خوا مونږ د انساني آناتومۍ ، بیولوژي او نورو اړونده علومو له مخې پوهیږو چې د انسان مرګ د مختلفو عواملو له مخې پیښیدلې شي. د مثال په ډول که چیرې پانقراس پخپل وخت تاکلې اندازه انسولین او ګلوکاګون تولید نکړي ،په وینه کې د شکرې اندازه د لازم مقدار څخه ډیره زیاتیږي او یا کمیږي او دانسان د مرګ سبب ګرځي. د تایرایت غده چې په مرۍ کې ده په بدن کې د متابولیزم او نورو سترو وظایفو په څنګ کې د



ایودین د تنظیم دنده هم لري . که دغه غده له فعالیته پریووځي ،برعلاوه له دې چې دانسان د سترګو ، مرۍ او مخ جوړښت بدلوي ،د مرګ سبب هم کیدلې شي. زړه په بدن کې مرکزي او ډیر مهم ارګان ګڼل کیږي . کله چې ځینې ارګانونه ، غدې لکه تریخې ، ځیګر ،پښتورګي او نور پخپل وخت لازم فعالیت ونکړي شي او یا په کافي اندازه انزایمونه ترشح نکړي ، په وینه کې غوړي ،مالګې ،اسیدونه او نور مواد جمع کیږي او دانسان د مړینې سبب ګرځي. پدې ډول ډیر نور مثالونه راوړل کیدې شی چې د ځینې ارګانونو د ناسم غیر متناسب او یا دنه فعالیت په صورت کې لازم مقدار ترشحات صورت نه نیسي او انسان مري. پدې صورت کې کولې شو ووایو چې هر یو له دغه ارګانونو څخه ذاتاً په شکل د اشکالو د روح دنده سرته رسوي .خو زما په آند دغه ډول قضاوت او پریکړه به ساده لوحانه ،نئیف( ساده ) او پریمیتیف (ابتدایي ) وي.

ځینې پوهان روح او نفس یو شې ګڼې ،خو ځینې نور دهغوی په منځ کې فرق او تباین ته قایل دي. هغه کسان چې نفس او روح یو شې ګڼې ، شاید د تنفس د مفهوم او ماهیت په بناء یې دغه ډول نتیجه ګیري کړي وي ، ځکه چې د تنفس په بندیدو هم انسان مري . ابو علي ابن سینا دروح د وجود داثبات په باره کې خپلې رسالې او کتابونه د « نفس» تر عنوانونو لاندې لیکلې دي لکه: « دناطق نفس پیژندنه » ، «د نفس په باره کې د خلکو اختلافات» ، « دبدن سره د نفس اړیکې « ، « علم النفس» او د « نفسي قواوو څیړنه» .مولانا جلال الدین بلخي د روح لپاره د خواجه سنایي په مرثیه کې دجان کلمه استعمال کړې او کثیر الوجهي شخصیت او ابعاد ورته قایل دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



گفت کسی خواجه سنای بمرد — مرگ چنین خواجه نه کاریست خرد
کاه نبود اوکه ببا دی پرید — آب نبوداو که به سرما فسرد
شانه نبود اوکه به موی شکست — دانه نبوداو که زمینش فشرد
گنج زري بوددرین خاکدان — کو دو جهان رابجوی می شمرد
قالب خاکی سوی خاکی فگند — جان خرد سوی سما وات برد
جان دوم را که ندانند خلق — مغلطه گوییم به جانان سپرد
صاف درامیخت به درد می — بر سر خم رفت جدا شد زدرد
در سفر افتند بهم اي عزيز — مرغزی ورازی و رومی و کرد
خانهٔ خودباز رود هر يکی — اطلس کی باشد همتاي برد
خامش کن چون نقط ايرا ملک
نام تو از دفتر گفتن سترد

«کليات شمس تبريزی ،ص ۳۶۸»

سره ددې دغه ډول اظهارات څه ناڅه دواقعيتونو سره سمون هم لري او دځانګړو اعضاوو څخه نيولي دحجراتو تر کچې پورې د ځانګړو مادي واحدونو وجدي حالت او يا په بله معنا د هغوی روحي حالت به افاده کوي ، او يا که دغه تسلسل ته دانسان دنوع د عموديت او افقيت څخه نيولې دټولو خلقتونو په ټولو ابعادو کې دټولو وجدي او روحي حالتونو د انتګريشن او ديفرنسيشن سلسلې او ځنځير دجهاني روح او وجدي حالت پورې ورسوو ،يواځې په هغه صورت کې مونږ دځانګړو مادي واحدونو او په کل کې د جهاني روح او وجدي حالتونو د ماهيت او واقعيتونو په باره کې علمي منطقي تصور پيدا کولې شو .دخدای برحق کلام ځکه تأکيد کوي چې: «قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلاً». په رښتيا چې انساني روح ډيرپيچلې هراړخيز خدايي آمري خلقت او يواځې دخدای په اراده او معينو شرايطو او وسايلو سره انسان دهغې په معرفت لاسبرې کيدلې شي.

ځيني پوهان د همدغه مفکورې له مخې خدای جهاني روح



بولي ، حال دا چې جهاني روح هم خدايي مخلوق دې او په هيڅ کمي او کيفي ارزش سره د خدايي ذات او صفاتو سره د شرک جوګه نشي ګڼل کيدلې او نه خدای ته دغه ډول نسبت مناسب او متناسب ګڼل کيدلې شي . په قرآنکريم کې د اخلاص د سورة ترجمه پدې ډول ده (ووايه چې الله يو دې. الله بې نيازه دې .نه له چانه زيږيدلې او نه يي څوک زيږولې دې. او نشته خدای لره برابر سيال څوک ) . که چيرې دا خبره ونه منل شي خدای به هم «العياذ باالله» د خلقتونو او پديدو د پيدايښت د علت او معلول په تسلسل کې واقع شي ، چې ممکنه نده.

همداسې ډير پوهان «العياذ با الله» مطلق عقل ،عقل محض ، عقل اول ،عقل کل ، عقل خالص ،سوچه عقل، مطلق جوهر ،جوهر محض ، مطلقه ايده ،طبيعت او ديته ورته خارق العاده اوصافو او خصوصياتو لرونکې پديدې چې اصلاً باالذات خدايي خلقتونه ګڼل کيږي دخدای سره په شرک مني او « فلسفهً اولي» (لومړۍ فلسفه ) هم دخدای علم ګڼي ، حال دا چې فلسفه يواځې او يواځې د خدای دلوی علم بشري ذهني بديل ګڼل کيدې شي . انسان ، که په پرنسيپ او نظري لحاظ د خدای د خلف په حېث ، دخدای د علم له لارې د ټولو پديدو او خلقتونو په معرفت ، ارزونې او محاسبه قادر دې ، خو دعملي امکاناتو له مخې نه د ټولو پديدو او خلقتونو په معرفت ، ارزونه او محاسبه قادر دې او نه ورته ضورت لري چې قادر واوسي .دمخه مونږ ليکلي چې عقلانيت يعني علم او قانونمندي شکل دموجوديت دمادي دې. هيڅ موجود ،حتاډير بسيط موجود ، وجود نلري مګر په قانونمند شکل سره. ايا دا ممکنه ده چې مونږ د يوه بسيط مادي واحد قانونمند موجوديت ، شعور ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



انساني عقلانیت او حتا جهاني عقل، مطلق عقل، سوچه عقل او حتا بل کوم خارق العاده خدایي خلقت چې اصلاً خدایي خلقت دې، کیدلي شي او یا ډیر ساده منطق دا منلې شي چې د خدای په حیث ومنل شي؟ د جوهر په نامه کوم خاص وجود، پدیدي او خلقت ته زه قایل نه یم. زه پدي عقیده یم چې هر مادي موجود ځانګړي کمي او کیفي اوصاف او خصوصیات لري. هر ځانګړي کیفیت کیدلي شي د ځانګړي مادي واحد او پدیدي د نسبي جوهر په حیث ومنل شي. که دغه کیفیت ته مونږ هر نهایي حالت او موقف هم قایل شو بیا هم د خدایي ذاتي او توصیفي معیارونو سره سیال جوګه نشي ګڼل کیدلې. **پدې توګه خالص جوهر، مطلق جوهر او یا مطلقه بې جوهره پدیده او خلقت هم وجود نلري.** د طبیعت په نامه هم کوم خلقت، پدیده او موجود نه شته. په طبیعت کې مختلف موجودات، پدیدي او خلقتونه په میخانیکي، فیزیولوژیکي، بیولوژیکي او یا نورو مادي ارګانیک انتګرالي او دیفرنسیالي وضعیتونو او حالتونو کې په تاکلي نظام سره قرار لري. شک نشته چې لوی جهاني نظام په لوی جهاني وجدي وضعیت او حالت کې قرار لري او یا په بل عبارت د لوی جهاني روح څخه برخمن دي. خو دغه نظام، دغه وجدي وضعیت او حالت او یا په بله معنا جهاني روح د خدای دلوی علم، لویي قانونمندۍ او مقضي ارادې مخلوق او محصول او په لحظوي ستاتیک دینامیک دیالکتیکي بدلیدونکي نظام کې قرار لري او خدای تغیر ناپذیره او تغیر نه منونکې ذات دې. ایا کیدلي شي مخلوق د خالق سره سیال



جوګه بدیل جوړ کړي؟ ایا ممکنه ده نسبي وضعیتونه او حالتونه کله هم په مطلق حقیقت بدل شي؟ او هغه هم په همزمان او هم مکان ستاتیک ـ دینامیک دیالکتیکي بدلیدونکي نظام کې؟ هیڅکله نه!!! مونږ پوهیږو چې د نړۍ ډیرو مشهورو پوهانولکه کانت د «عقل محض» هګل د «مطلقې ایده» «جهاني روح» او ډیرو نورو د همدغه ډول مسایلو په باره کې څیړنې کړي دي. هګل د ایدیالستي دیالکتیک تر عنوان لاندې دیالکتیکي قوانین د مطلقې ایده د مراحلو د پیژندلو په حیث فورمولبندي کړي، خو پدې نه دې پوهیدلې چې ایدیالستي دیالکتیک او قوانین وجود نلري. خدای د خپلې مقضي ارادې له مخې دا لوی جهان د خپلو مخلوقاتو د استفادې په خاطر مسخر او مقدر پیدا کړې دې. ډیرو پوهانو دا جهان همغسې چې خدای پیدا کړې، همغسې یې څیړلې او پیژندلې دې.دې کې شک نه شته چې مونږ ډیرو کوچنیو ذراتو، تششعاتو، ساحوي، پلازمایي او د پدیدو او خلقتونو د ډیرو نورو حالتونو او وضعیتونو د احساس او ادراک څخه د تل او یا تر یو وخته پوري عاجز یو. خو دا خبره هیڅکله دا معنا نلري چې دغه محیطونه غیرمادي، ما بعد الطبیعه، متا فزیکي او یا د مادیت د محیط څخه وتلي کوم بل ډول حالت غوره کړي.د خدای دا لوی جهان هرډول نسبي حالت غوره کولې شي، خو د مادیت د ساحې څخه وتل یې ناممکن دي.ځکه چې د خدای جهان د کوچنۍ ذري څخه نیولې تر خورا لوی مادي موجود پورې د خدای د ارادې له مخې په قانونمند شکل سره واحد تړلي جهان جوړوي .هغه پوهان چې د خدای د ارادې په خلاف موضع غوره کوي او یا د ناسم تحلیل له مخې بیا هم غواړي د «مُثُل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مابعدالطبيعه» «متافزيکي» او د هيڅ په بنياد تخيلي او تصوري فورمولبندۍ او تيوري ګاني جوړي کړي ، پايلي يي معلومي دي چې تر اوسه يي په دغه بې بنياده بنيادحتا يوې هڅې هم مثبته نتيجه نده ورکړي.

ځيني کسان شايد مدعي شي چې ډير پوهان لکه هګل، کانت ، دکارت او نور چې پخپله ايديالستانوو عيني قوانين کشف او فورمولبندي کړي او ډير حقايق يي تر لاسه کړيدي. دليل يي دادې ، سره ددي چې دوی د ذهني او شعوري پديدو مادي قانونمند موجوديت ته قايل ندي ،خو عملاً دخپل داخلي ذهني چاپيريال څخه متأثر او په خپله ذهني هنداره کې د واقعيتونو ننداره کوي او په دغه بنياد يي رحماني او شيطاني خوبونه ليدلي ، دتصوراو تخيل په پوړيو کې د الهام ،کراماتو ،نبوغ او پيغمبرانو (ع) د وحي احساس او ادراک کړې او اړونده فورمولبندۍ يي د هغوی په آند په تخيلي او تصوري شکل طرحه او فورمولبندي کړيدي . خوزه پدې عقيده يم چې د تصور او تخيل جالې (کشتۍ) هميشه په کاړ خيژي او لکه د سحر خوبونه تل په مايوسۍ بدليږي. همدا سبب دې چې د ډيرو فلسفي مسايلو په باره کې حقايق لا تر اوسه په ترګمۍ کې پاتې دي. يواځې علمي قانونمندي څيړني کيدلې شي مثبتې او دقيقي پايلې ولري.

همغسې چې د خدای په کلام کې د روح د قانونمند ماهيت پيژندنه مشکله تعريف شوې او لکه څومره چې د پوهانو هڅې تر اوسه پدې باره کې بې نتيجې پاتې دي ،په حقه سره د روح موضوع په بيساري وسعت او عمق سره د خدای دلوی علم او لوی قدرت اساسي مفهوم او زړي جوړوي. روح په واقعي



مفهوم او معنا د خدای دلوی علم د قانونمند عملي او نظري ديالکتيک منتجه دقيقه محصله او په کل او جز کې د خدايي خلقتونو د دقيق نظام دعظمت نمايش دې. د روحي مسايلو دقيقه علمي محاسبه په عالم الاسباب کې نه عملي ، نه ممکنه او نه ضروري ده. دغه محاسبه يواځې د خدای دلوی قدرت ، لوی علم او لوی جهان په امکاناتو کې ممکن ګڼل کيدې شي. اصلاً د عالم الاسباب په عملي ژوند کې ډيري دقيقي محاسبې ضرور هم ندي او نه چا کله د ډبري سکاره د طلا خرڅوونکو په تله تللي. پوهانو ته پدې هم پوهيدل پکار دي چې په کومه محاسبه کې څومره دقت ضرور دې ؟ په همدې خاطر د خدای په کلام کې د روحي مسايلو د محاسبې اشکالو ته ګوته نيول شوې چې پوهان خوشې په ناممکناتو پورې ونه نخلي. لکن ، لکه څرنګه چې ما دغه مسّله په خپلو کمو امکاناتو څيړلي ، د روح د قضي په دغه روحيه او ماهيت پوهيدل حتمي دي. نه چې پوهان هم خپل او هم دنورو قيمتي وخت په عبثو خبرو ضايع کړي. خو ددې ټولو خبرو سره سره ، همغومره چې خدايي نظام مغلق او پيچلې دې ،په همغه اندازه دقيق او قانونمند هم دې. د مثال په ډول ، ايراني شاعر ويلي وو:

ما زاغاز وزانجام جهان بي خبريم
اول واخر اين کهنه کتاب افتاده است

خو ما په خپلو دلايلو سره وښودل ،سره ددې چې قديم په قديم کې هيڅکله وجود نه درلود ، حال په لحظوي ډول ګذرا پديده او ابد هم هيڅکله په ابدي نظام کې ابد ته نه رسيږي ،بيا هم څرنګه چې جهان قانونمند پيدا ، قانونمند پايي او قانونمند بدلون مومي ،په پرنسيب کې د هرې پديدي افاده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاسبه په هر زماني او مکاني بعد او مقطع کې ممکنه ده. خو په دغه بوده او تنسته (عرض وطول) کې یواځې د علم او قانونمندۍ مزي غزیدلې شي او د تصور او تخیل خودخواهانه او جاه طلبانه قد تل پدي طول و عرض کې کوتاهي کوي. نو ځکه د روح د علمي قانونمند خلقت په روحیه پو هیدل حتمي او ضروري کار دی. ډیر خلک له دې څخه ډار لري چې څه ډول د دیني مسایلو په باره کې بحث وکړي. زه پدي عقیده یم، کله چې خدای انسان ته د علم او پوهې استعداد ورکړې، پدې نړۍ کې یې خپل خلیفه ټاکلې، د دغه ټولو خلقتونو په معرفت یې مکلف ګرځولې چې خدایي خلقتونه وپیژني او د خدای د مخلوق د استفادې وړ یې وګرځوي او همدغه د بشري خلقت او ژوند اساسي هدف او همدغه د خدایي طریقت، شریعت، دین، عبادت او ثواب یواځیني هدف او لار هم ګڼل کیږي، که چیرې یو انسان پخپل خدای پوره ایمان ولري، جمعي د خیر ښیګڼې سپیڅلې ارمان، تقوا، صداقت او کافي پوهه ولري نو ډاریې په څه کې دې؟ زما په عقیده، دغه ډول انسان په پوره جرئت سره کولي شي د خداي د رضاء او قضاء سره سم هر خدایي خلقت د نیک هدف او مقصد د ترلاسه کولو په خاطر وڅیړي او فورمولبندي یې کړي، اجر به یې حتماً احسن او پایله به یې هم نیکي او ثواب وي.

زما په عقیده، څرنګه چې د روح موضوع د خدای د علم او همداسې د دغې د بشري ذهني خلف، فلسفي اساسي زړي تشکیلوي، پکار دادي په راتلونکي کې په دې موضوع تم شو او زما په عقیده ښه به داوي که مونږ خپل نظر د پخوانیو نظریاتو په مقابل کې د علمي منطقي دیالوګ په شکل وړاندي



کړو حتا د هغه لوستونکو لپاره چې یواځې لومړني (ابتدایي) فلسفي معلومات هم ولري، پوهاوې به یې ورته ډیر مشکل نه وي. د اوس لپارّ په پورتنۍ سریزه بسنه کوم.

# دین :- زیږنده او پرمختیا یې

سپتمبر ۲۰۰۹ م کال

دهغه پدیدو او ارزښتونو په باره کې چې د تقدس حیثیت او مقام ترلاسه کوي ، څه لیکل ، څیړنې کول او عقیده څرګندول خورا مشکل کار ګڼل کیږي. خو زما په عقیده ، ددې څخه هم مشکل به ، بې ارزښته او بې بنیاده پدیدو ته ارزش او دتقدس حیثیت ورکول او قایلیدل او یا په دغه ډول پدیدو بې باوره او بې یقینه ایمان لرل وي.

ادیان که حقیقي دي او که مجازیي، په منلو سره، د هر انسان د عقیدوي تقدس او توجه په خورا لوړ مقام کې قرار لري، دشک څخه ووځي او ګوتنیونه او ګوتڅنډنه ورته غیر مجاز ګرځي . نو ځکه دین دانساني عقیدي په حیث هره بڼه او رنګ چې ولري ،حقیقي وي او که مجازي ، هم د اسلامي او هم د نړیوالو بشري قوانینو له مخې مقدسه ، دتعرض څخه مصؤنه او همغسې چې انسان خدای مختار ګڼلې دخپلې عقیدې په انتخاب کې آزاد ، مختار او هیڅوک پرته له ابلاغ څخه خپله عقیده په نورو په جبر سره دمنلو حق نه لري.په ملي او نړیواله کچه دهر ډول عقایدو لکه سیاسي ،کلتوري ،ایدیولوژیکي ،دیني ،مذهبي او نورو د درناوي په خاطر د مختلفو هیوادونو ،قومونو ،ټولنو ،طبقو او مختلفو اقشارو ترمنځ په هره کچه



منل شوي ملي او نړیوال قوانین ،اصول او نورماتیفونه وجود لري او ټول په حقیقت کې یو شان د درناوي او پام لرنې وړ ګڼل کیږي . د بشر د پیدا ایښت له لومړۍ ورځې څخه ډیرو ادیانو ، هم د خدای (ج ) له طرفه د پیغمبرانو په لیږلو سره ظهور کړې او هم د شخصي اقتدار او شهرت د ترلاسه کولو او یا د بشري ژوند دسمون او د ټولنیزو چارو خیر ښېګڼې په منظور مجازي ادیان هم د ځینې اشخاصو او افرادو له خوا ، لکه زردشت ،فرعونیان ،بودا او ډیرو نورو له خوا رامنځ ته شوي دي. سره ددې چې د خدای داخري پیغمبر ،محمد (ص ) په نبوت اخرې او اولې سراسري عالمي دین ،اسلام ، په ظهور نور ټول ادیان منسوخ ګڼل شوې ،خو نن هم په نړۍ کې په سلګونو او زرګونو مجازي ځانګړې ادیان موجود او لا دغه سلسله دوام لري ، او ددې ټولو خبرو سره سره انساني عقیدې ته د درناوي اصل پرځای پاتې دې. څوک په چا په جبر خپله عقیده نه شي تحمیلولې او د مختلفو ادیانو د متقابل ارګانیک امیزش او انتګریشن په خاطر د ابلاغ اصل اوس هم مشروع او منلې وسیله او طریقه ګڼل کیږي. په کل کې عقیدوي پریکړه د منازعې څخه منزه، مبراء او یواځې ځانګړې او ټولنیز اختیاري ،شعوري او منطقي اصل په کې معتبر ګڼل شویدې . نن هم دا پوښتنه لا پرځای پاتې ده چې ، ایا په رښتیا هم دین وجود لري ؟ که لري یې ،ا یا حقیقي دې که مجازي ؟د دین مالک څوک دې ؟ کیدلې شي ، په اوسنیو شرایطو کې ډیر ادیان وجود ولري ؟ که موجود اوسي ، څه بدي به ولري ؟ کیدلې شي هر ټولنیز قانون ته دین وو ایو ؟ دا ممکنه ده چې د دین خالق انسان اوسې ؟... .

هو ! دا ډول نوری بې شمیره پوښتنې نن هم پیدا کیدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.

که څوک مدعي شي چې دين اصلاً وجود نلري ، اول خو تاسې داسې کس نه شئ پيدا کولې چې د تعقل ، فهم او منطق له مخې دې دخدای او دين څخه منکر شوې اوسی. معمولاً دا ډول پيښې د ناپوهۍ او بې بنياده احساساتو له مخې را منځ ته کيږي. هر څوک چې د دين څخه منکريږي ، که يو ځل د دين د موجوديت د منطق په دلايلو فکر وکړي ، هيڅکله به منکر نه شي. مګر په يو صورت کې ، کله چې د عقل د کمښت او نشتوالي په سبب د دې کار جوګه نه وي. تاسې په نړۍ کې داسې کوم مثال نه شئ پيدا کولې چې يوه ټولنه بی دينه اوسي .که چاپه کومه ټولنه کې جبراً په دين باندې بنديز لګولې ، لکه په پخواني شوروي اتحاد کې ( حال دا چې د غه ډول بنديز د کمونيستي رژيم په وخت کې هم مطلق او عملي نه وواو د لاچارۍ په وخت کې د خورا سرسخت کمونيست له خولې هم خپل خدای ته د مراجعې او مرستې غوښتنې جيغې وتلي ) او د خورا کم فرصت په تر لاسه کولو سره مونږ د دې شاهد وو چې په کوم عطالت سره يې خپلو پخوانيو ديني عقايدو ته مراجعه وکړه .بشري ټولنه د خپل پيدا ايښت له لومړۍ ورځې څخه ترنن ورځې پورې يوه ورځ بی دينه نه ده پاتې شويې، خو اکثر وختونه دخپلو نا سمو احساساتو، نا سم درک او د خپل خالق د نا سمې لټې په نتيجه کې په کثرت او تعدد داديانو او خدايانو اووختې ده .د نړۍ سترو عالمانو او پوهانو په خپل خدای باوراو ايمان لرلې او ستاينه يې کړيده. سره د دې چې په نړۍ کې ډير اديان موجود دي ، خو په واقعيت کې ټول پيروان يې په واحد خدای ايمان لري ، په دې معنا چې د خدای د



وحدانيت باور د هر متدين مؤمن په ضمير کې وجود لري. د دې کې شک نشته چې خدای هغه لوی حقيقت دې چې د انسان په شعور کې نه ځاييږي او په هکله يې څوک ثبوتي دليل نه شي وړاندې کولې ،خو د دې لپاره هم څوک قانونمند منطقي دليل نه شي لرلې چې خدای وجود نه لري. پرته له ثبوتي دليله په خدای باندې د انسان دباور او ايمان دليل دادې ،چې دا بې ساري خارق العاده خلقتونه يې پيدا کړيدي.هغه څوک چې له خدای څخه منکر دي ، دهغوی په آند ددغه خارق العاده خلقتونو خالق څوک دې ؟ايا دوی العياذ باالله دخدای دنه موجوديت لپاره قانع کوونکي منطقي دلايل لري ؟هره پديده چې پيژندل کيږي خدای نه شي ګڼل کيدلې او يوائې د همغه واحد خدای خلقتو نه دي چې ټول مخلوقات پرې ايمان لري.
انسان د خدای د پيژندني او توصيف څخه د هميش لپاره عاجز دې. خدای لوی دي او دانسان په شعور او ذهن کې نه ځاييږي.
پديدي يوائې د کم و کاست ،تزايداو بدلون له مخې د انسان او نورو مخلوقاتو په حواسو ،ذهن ، ادراک ،شعوراو فهم کې انعکاس پيداکولې او د معرفت وسيله او علت جوړيدې شي.
دخدای په ذات کې کم و کاست ، زياتوالي او بدلون څرنګه چې هيڅکله نه شي پيښيدلې ، ځکه خو يې د انسان په حواسو ، ذهن ،درک ، شعور او فهم کې د انعکاس دليل او علت هم نه شي جوړيدلې او انسان د خدای د مستقيمې نظارې ، احساس درک او فهم توصيف څخه د هميش لپاره عاجز دې.په همدې علت هغه پوهانو چې د خدای د ذات او صفاتو په باره کې خبرې او بحثونه کوي حقيقت نلري او يوائې بې بنياده غير قانونمند تخيل او تصور ګڼل کيدې شي. غير قانونمند تخيل او تصور

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله معیار د حقیقت نه ګڼل کیږي ، نو ځکه هغه کسان چې د خپلو دغه ډول بې بنیاده تخیلي دلایلو او پوچو تصوراتو له مخې د خدای د قادر کامل ذات د اقتدار څخه انکار کوي دفهم او تعقل له مخې نه بلکه یوائې بې بنیاده کور کورانه احساسات ګڼل کیدې شي. دلته ددې پوښتنې راولاړیدل په ځای ګڼم چې: « څه ډول او د کومې لارې انسان د خدای معرفت حاصلولې شي ؟ د دغه مناسبت طریقه به څه وي ؟ او په خدای د ایمان ، باور او کامل یقین وسیله به څه وي ؟ په خدای باندې د کامل یقین لپاره د هر څه دمخه د دې لوی عالمي قانونمند ابدي نظام ، خارق العاده خلقتونو او پدیدواو د هغې د لحظوي همزمان او هم مکان ستاتیک ـ دینامیک بدلون څخه به نور څه لازم او کافي وګڼل شي ؟

هو ! د انسان د شعوري امکاناتو له مخې د خدایي معرفت او د خدای د لوی ذات په مقابل کې د انساني خلافت امکانات او عملي طریقې او لارې چارې تر نن ورځې پورې او یا که دقیق ووایم تر هغې ورځې پورې چې د «عینیت فلسفې» تیوري نه وه فورمولبندي شوې او د شعور او د مادې مناسبت لا د فلسفې د اساسي مسئلې په زاړه بنیاد همغسې زړه په زړه پاتې وو ،د بشریت په تاریخ کې د یوې سترې لا ینحله معما په څیر لا ینحله پاتې وه او ټول علوم په عام او فلسفه او دیني علوم ، سره ددې چې قرآنکریم په ټولو اساسي مسایلو کې صراحت درلود ،په خاصه توګه ،تجاهل العارفانه او یا عمداً د «صراط المستقیم » څخه عُدُول کړي وؤ او په شړو شو دیارو روان وؤ. په تیرو فلسفي بحثونو(شپږم حس که د شعور او لاشعور دیالکتیک ،مقضي او مقدره اراده... ، او نورو بحثونو کې) د څیړنې له



لارې ما د خپلو امکاناتو په کچه وکولې شول ددغه متقابل مناسبت نا مرئي ، نا محسوس او لا مدرکه لارې چارې د متماتیکي ګرافیکونو ، ارقامو او په کل کې د منل شوو علومو د قوانینو ، قانونمندیو ، اصولو او نورماتیفونو له مخې په ګوته کړم ،د نومورې معما حل اعلان او د بشریت لپاره ددغه طریقه د خدای د رضاء او قضاء په مرحمت او استعانت د خدایي معرفت د غیر مستقیم امکاناتو کړکیچ خلاصې کړو. کله چې په عالم الاسباب کې انسان او یا بل کوم خلقت د دې لوی جهان د خارق العاده نظام او خارق العاده خلقتونو صانع نه شي جوړیدلی ، خو عملاً هم دغه ډول یو خود کفاء او خود بقاء ابدي نظام او هم دغه ډول سرشاره غني زیرمې او خلقتونه وجود لري. ایا همدا تاسې د یوه عالم ، با شعوره او منطقي انسان په حیث د علمي قیاس او استقراء په بنیاد ، په الرحمن الرحیم قادر ذات نه باوري کوي ؟ ایا همدغه علمي شواهد ، دلایل او قراین ستاسې د کامل یقین د حاصلولو لپاره به کافي نه وي ؟ په هغه صورت کې که پورتني دلایل تاسې نه شي قانع کولې ، په مقابل کې ستاسې مقنع دلایل به څه وي ؟

ځینې پوهان خدای ته د مستقیم بالفعل عامل ذات نسبت کوي. په دې صورت کې، زه په دې باور یم چې اصلاً به قانونمند نظام ، قانونمند جهان او خلقتونو ته ضرورت نه وي .ځکه چې خدای په بالفعل عمل کې قانونمندۍ ته ضرورت نه لري او په هر وخت هر څه چې وغواړي په کولو یې قادر ذات دې او انسان به د خدای د خلیفه په حیث ددغه کارونو د تکرار څخه همیشه عاجز وي او د خدای خلیفه به هم نه ګڼل کیدلی. نو ځکه دا سمه خبره نه ده. خدای دا لایتناهی خارق العاده لوی جهاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام په خپله مقضي الامر اراده سره د علت او معلول په قانونمند بنیاد پدي خاطر پیدا کړې چې خپل خلف انسان لپاره یې مسخر، مقدر او په معرفت او استفادې مکلف وګرځوي. خدای د خپل لوی علم له مخې دلوی قانومند جهان صانع ګڼل کیږي او انسان یې دعلم په سبب خپل خلیفه او ددې جهان په معرفت مکلف ګرځولې. دا نظام د لوی خدای په اراده قانونمند پیدا شوې، قانونمند پایي او قانونمند بدلون او تکامل مومي. لوي خداي دخپل لوي علم دعامې قانونمندۍ له مخې دلوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول، قائم با الذات او خلل ناپذیر ګرځولې او یواځې دقضاء او قدر دجبر او اختیار له مخې په کې تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدې شي. انسان د خپلو مقدراتو له مخې د خدای د عالم خلف په حیث یواځې د قانونمندو پدیدو او خلقتونو په معرفت مکلف ګرځیدلې، او یواځې د قانونمندۍ له مخې د هغې د معرفت، پیژندنې او بدلون جوګه ګڼل کیږي. په همدې سبب علم په نر او ښځه یوشان فرض ګرځیدلې او ددې جهان سره یواځې عالم اشخاص د قانونمنده کړه وړه کولو جوګه او سیال ګڼل کیږی.

له پخوا زمانو څخه انسانانو د مختلفو طبیعي پدیدو لکه لمر، باران، اور،... ؛ انسانانو، حیواناتو، خزندو، د خپلو لاسي مصنوعاتو (لکه بوتان،... )، پرستش کاوه او اوس هم دوام لري. خلقتونه او پدیدې چې محکوم په ذوال او د بل چا نیازمند اوسي، هیڅکله خدای نه شي جوړیدلې. دې کې شک نه شته چې، انسان د خدای د خلف په حیث، ځینې خدایي صفات لرلې شي، خو دا هغسې صفات نه دي چې انسان د



خدایي مقام او درجې ته ورسوي. خدایي صفات خاص صفات دي چې یواځې خدایي ذات پرې متصف کیدلې شي. د مثال په ډول لکه چې د اخلاص په سورة کې ددغه ډول ځینې صفتونو ذکر شویدي.

**قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ (١) ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ (٢) لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ (٣) وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ (٤)**

ترجمه: ووایه (ای محمده دوی ته) چې الله یو دې. الله بې نیازه دې. نه له ده څخه څوک پیدا دې او نه دې له چا څخه پیدا دې. او نه شته( الله )ته برابر سیال .

دا داسې صفات دي چې پرته له ذات الهي پرې بل کوم خلقت او پدیده متصف کیدلې نه شي. په نتیجه کې ویلې شو ،ټولې پدیدې چې یو تر بله سره علت او معلول جوړوي، یوه له بلې پیدا، یو تر بله سره مرکب، یو د بل جز او کل تشکیلوې او یا یو بل ته نیازمند او یو بل پورې تړلې دي ، څه ډول یو تربله د خدای په حیث منل کیدلې شي. انسان دخپلو ذهنیګریو ، نیمګړتیاوو او اړتیاوو په سبب په خپله ګټه او یا د یوه یا بل په پلوۍ حقایق او واقعیتونه تحریفو ي ،حال داچې خدای د عادل او منصف ذات په حیث په دوست او دشمن د خپلو نعمتونو ، سخاوت ،او کرم یو ډول رواداري او پیرزوینه لري. ایا ممکنه ده یو انسان د یو بلا نفساني ، غریزوي خواهشاتو ؛مالي ،ځاني نیمګړتیاوو ؛روحي ،ټولنیزو فشارونو او ډول ډول نورو اړتیاوو او نیازمندیو د تأثراتو سره سره متأثر نشي او تل عادل او با انصافه پاتي شيي؟ دپور تنیو جملو څخه په نتیجګیرۍ سره ویل شو ، سره دد چ د اسلام خدایي دین په عالم الاسباب کې دټول عالم بشریت او ټولو خلقتونو تر منځ د عدل او انصاف په بنیاد د قانونمند عمل او مناسباتو دتأمین په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر ټول شرایط په نظر کي نیول شویدي ، خو څرنګه چې انسان مختار او دا جهان د هر خلقت لپاره د ازمویني ګذرا مرحله ګڼل شوې ،نفس او شیطان هم په ډیرو غلبه پیدا کوي او انساني قوانین ولو که هر څومره په پراخ ټولنیز بنیاد جوړ شوي اوسي ، حتماً به د ځانګړیبطبقې ،اقشارو اوډلو ټپلو دعلاقمندیو نماینده ګي کوي او هیڅکله به د خدایي عادلانه ،منصفانه قانون واقعي دموکراتیکه بڼه ونلري. پدې معنا چې هر دین ټولنیز قانون ګڼل کیږي ،خو هر ټولنیز قانون دین نشي ګڼل کیدلې او یواځې په نسبي ډول هغه وخت د دیني رسالت ځیني دندي سر ته رسولې شي چې منل شوي قوانین د عامه خیر ښیګڼي په بنیاد تدوین او په عادلانه او منصفانه بڼه په عمل کې پلې شي . روسي تزار چې پخپله هم حاکم ، هم قانونګذار ، هم دقانون مجري او هم حامي وو ، دخپل قانون څخه دا ډول سر ټکوي:

**pishut zakoni ,esli ikh ne sabludaut** « **Naprasno**» (ترجمه:عبث قوانین لیکي ، کله چې یې نه مراعات کوي ). دا د بشر د حقوقو ، دموکراسۍ ، انسانیت ،عدل ، انصاف او ... مدعیان ، مدافعین ، علم برداران ، ... هم عبث دغه ټول قوانین د نورو لپاره لیکي ، کله چې پخپله یواځې د هغې په ضد عمل کوي . دین په حقیقت کې د بشري سراسري ګټو او علاقمندیو تمثیل او نمایش دې او هیڅکله په ځانګړو طبقاتي ، قشري او ډلییزو سلیقو او ګټو پورې اړه نه لري. مختلف مذاهب چې معمولاً په شخصي او ډلییزو سلیقو پورې اړه لري ،نه یې دي کړې شوي حتا په اسلامي ټولنه کې چې دواحد قرآني کلام د احکامو ، اوامرو او نواهیو له



مخې جوړ شوې ، نه یواځې بې طرفه پاتې شي ، بلکه خورا زیات پرابلمونه یې ایجاد کړیدي. نه عامې بشري او خلقتي ګټې او ضرورتونه تمثیلولې شي او نه د دغه ډول سراسري بشري عادلانه قانون او موٴسسې د تأسیس جوګه ګڼل کیږي . یواځې خدایي عامه پیرزوینه ،رواداري ،عدل ، انصاف او لوی علم د حقیقي دیني اساساتو او تأسیساتو جوګه ګڼل کیدلې شي. **دین په حقیقت کي هغه جامع علماً او عملاً تنظیم شوې خدایي قانون دی چې په دوامداره توګه د بشري مادي او معنوي هر اړخیزه عادلانه بسیا ژوند تحقق او تأمین تضمین کوي. دین د خوشبخته ژوند ،پوهې او عادلانه مناسباتو قانون او اصول دي**.

هو !دین ، الهي قانون دې او یواځې قادر او بې نیازه ذات کیدلې شي د دغه ډول جامع او بې پرې قانون واضع او حامي اوسي. زما په عقیده ،په دې باره کې کوم ثبوتي دلیل وړاندې کولو ته ضرورت هم نه لیدل کیږي ځکه مونږ محض د تخیل او تصور له مخې د خدای (ج) د ذات ، صفاتو او خارق العاده خلقتونو په باره کې د مبالغو او اغراق څخه ډک شاعرانه بحثونه نه کوو او نه څوک دیته اړباسو چې د خوشباورۍ له مخې په پټو سترګو زمونږ وړاندیزونه ومني او د لنډ دیالوګ په ترځ کې خپل شکونه رفع او ځانونه کامل یقین ته ورسوي . مونږ د خدای د لوی علم ،قانونمندۍ ، قانونمند منطق او یواځیني عالي خلاق خدایي تکویني کلتور څخه چې پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود ګویا او خود ثبوت ګڼل کیږي بحث کوو ، چې عملاً دا لوی عالمي نظام پرې بناء ،ټول مخلوقات ترې عملاً مستفیدا او دذرې په اندازه تغیر او خلل په کې څوک نه شي راوستلې . همغسې چې په اغراق امیزه بې بنیاده تخیلي او د قانونمند منطق څخه بې محتوا بحثونو لپاره د علمي قانونمند منطقي دلیل لټول بې معنا او بې مفهومه کار ګڼل کیږي ، په همدې ډول د علمي قانونمند منطقي بحث څخه ،چې نظري او عملي ثبوتي دلایل یې یوائیني لازمي او کافي شروط ګڼل کیږیې،انکار او اضافي ثبوتي دلایلو په غوښتنه جاهلانه تأکیدونه کول پرځای نه بریښي او دهر ثبوت لپاره د بل ثبوت د توالي څخه پرته به بل مفهوم هم ونلري.

ښه به داوي د الهي دین په اساساتو او ارزښتونو باندي بحث وشي ترڅود خدای د حقیقي دین اود دغه بې شمیره مجازي ادیانو چې دچا دشخصي ګټو په خاطر دمجازي تقدس او اعتبار څخه برخورداره پاتي شوي،تفکیک ، اود علم او حقیقت په بنیاد د بشري عادلانه هوسا ژوند اومناسباتو رښتیني شرایط تحقق پیدا کړي.

ولې پوهانو ، دیني عالمانو او فیلسوفانو په داسې بنیادي او مهمو حیاتي مسایلو کې سکوت اختیار کړې او د خپلې عقیدې او نظر داظهار څخه ډډه کړې ؟یا ولې یې نظریاتو او څرګندونو یوائې تخیلي او تصوري اغراق امیزه بڼه درلودلې ؟ولې دحقایقو او واقعیتونو په سپیناوي او دحق اوباطل په تمیز نه دي بریالي شوي ؟یا ولې دغه حریم تت او په طلسماتي شکل دهر ډول ګوتنیوني او ګوتڅنډني څخه مصؤن او مبرا پاتي شوې ،ولې د بشر ټول مقدس او دامن مکانونه



(صومعي،چله خاني ،خانقاوي ،کنیسی ،مندرونه ،کلیساوي ،تکایا ، مساجد او ډیرې نورې مقدسې ورشو ګاني ) په متضاد ډول د مرموزو او مجهولو خارق العاده قوتونو په واک کې پریوتي او د نیکۍ او بدۍ ، ثواب او عذاب ،رښتیا او دروغو ،مناجات او خرابات په شریکه پوله په تقابل او سازش کې پاتې شوي ، اوهره خواد ټولو خلکو د ټولو بدبختیو سره سره احساس د ارامش او اسایش کوي ؟ په ټولنه کې یې مافوق دټولنې او په حکومت کې یې مافوق د حکومت داسې مصلحتي موقف غوره کړې چې نه سیخ وسوزي او نه کباب خو په حقیقت کې په دغه مرموز سازشکارانه روش سره نوموړې حریم د هر ډول فرصت طلبانو او جاه طلبانو په ځاله بدل او په یوه تله او یوه بیه د نیکۍ او بدۍ سودا کوي ؟ولې د نیکۍ او بدۍ ، ثواب او عذاب ، صداقت او خیانت او نورو متضادو ارزشونو مدعیان او محافظین دغه سکوت نه ماتوي؟ مجازی خدایان او شیطانان په شریکه د اولسونو سرنوشت ټاکي او د ثواب او عذاب فیصلي کوي ؟ ولې ددغه تباین اوتضاد د تفکیک او سپیناوي په لټه کې ندی ؟ یعني چې: خیر ما ، خیر شما ، او که دا نخښه رښتیا وي چې:

(خوش ګوشه ًامنیست خرابات ، که دران
صد توبه شکست و نشنیدیم صدای )

خو مونږ په دې عقیده یو چې د خدایي احکامو په رازونو ځانونه پوهول پکار دي . د هغې په معنا او مفهوم کې کوم تغیر نه دی راغلې ،بلکه نن زمونږ شعور ددغه احکامو د معرفت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلوغ کچې ته رسيدلي دي نو صوفي ته وايو :

صوفی از صومعه گو خيمه بزن در گلزار
وقت آن نيست که در خانه نشينی بيکار.

دين د چاد گناهونو پټنځای نه دي،او نه بايد څوک د تش په نامه سپيڅلي شعارونو او د عباء او قباءلاندې خپل خيرن او لعنتي نيتونه د عامه انظارو څخه پټ وساتلي شي. دين تقوا ،پاکي او ربښتينولې مني ، نه دا چې په خپلو ناولو اعمالو ديني ورشو دومره مکدره شي چې دښوبدو تميز په کې ورک او سره ددې چې دين تر هر څه د مخه علم او معرفت دې ،نه يوائې د علم او معرفت څخه مجزا ا ومبرا وګڼل شي بلکه دين د علم د دښمن په حيث معرفي شي. مجازي اديان چې د خپلې تقوا او پاکۍ لپاره دليل او امکانات نه لري او نه يوائې د بې بنياده شخصي يا ډلييز ذهني تخيل او تصور ، بلکه د شخصي ګټو او منفعت په اصولو چليږي او لکه دغله د سپوږمۍ په شپه د ديوال سيورې لټوي ،پدې هم قناعت نه کوي اود انسان په شعوري تاريکۍ ، مايوسۍ او بيوسۍ پسې ګرځي ، چې ګوندي « خدای هغه څوک ښه پيژني چې ويې نه پيژني» او همدغه وضعيت يوائينۍ ديني زيارتګاه ، منزلګاه ، بناګاه او قرارګاه بولي.مجازي اديان چې د خپلې بقاء په خاطر نه علمي او حياتي زير بناء ،نه قانونمند منطق او نه بې نيازه قادر حامي ذات لري ،که خصلتاً خپل اصلي ماهيت په هزار تزوير او تحريفاتو سره پټوي اوهڅه کوي چې ټولی ډلې ټپلې که اصلي دي که نقلي ، که صادق دي که منافق ،که جاه طلب دي او که فرصت طلب د يوې عباء او قباء لاندراټولوي ، پرته له دې بله چاره هم نه لري ترڅو ددين سپين څادر و رنګوي او دحق او



باطل تميز مشکل کړي. د پوښتني اساسي مسًله داده ،کله چې حقيقي دين دعلم ، معرفت او قانونمند منطق په احکامو او اصولو ولاړ او بشريت ته د سوکاله سولئيز بسيا ،عادلانه ژوند او هراړخيزه امکاناتو ته دلاس رسي تضمين کوي ، ولي د دين عالمان او وارثين په خپل خدای ، په خپل علم او خپل دين باور نه لري او دهر چا څخه دمخه دوئی د بې باورۍ ، حرص او د دين ددښمنانو په چوپړ کې واقع شويدي. دوئی په دې هم پوهيږي چې بشري ټولنه تر ابده احمقه نه شي پاتې کيدلې او دعلم په بنيادد اسلام دکامل دين د لمر په راختلو سره دجاهليت توره دوره په رڼا ورځ بدله او دعلم و معرفت رڼو پلوشو دنړۍ هره ترګمۍ رڼا کړي او هره رڼايي دال په حقيقت او واقعيت ګرځيدلي او نور د دروغو په کيسو ، دسيسو ، پلمو او چلوټو چليدل ګران شويدي ، خو ددې ټولو خبرو سره سره دغه ددين او علم مدعي وارثان تل په نوي او نوي بدعتونو ،نوي تحريفاتو او تخلفاتو او نوې ګمراهيو لاس پورې کوي ،هر ديني رکن او حکم د خپلو ګناهونو لپاره وسيله ګرځوي چې ګوندې ذهنيتونه لا مکدر او دعلم و معرفت پلوشې لا د تورو وريځو تر شا پټې دي او حتا داديانو په ورشو کې لا د پام وړ سپيناوې نه دي راغلې او مونږ شاهد يو چې په افغانستان کې ددين وارثانو په کعبه شريفه کې دقسم په يادولو هم سترګې پټې کړې چې ګوندې د هغوئ د بدعتونو او فسادونو لپاره لا پوره فرصت نور هم پاتې دي. دا هغه خبرې ته ورته ده ، چې کله باز په زرکو او سيسيو راشي ، نو خپل سرونه په وښو ننباسي او فکر کوي چې پدې چار به دباز له منګولو څخه خلاصي شي او يا ځيني بې شعوره حيوانات هم دليوه په ليدلو سترګی پټوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوندې زه يي نه وينم ، ما به هم نه شي ليدلې.

بشري ټولنه ،هيڅکله دومره حق ناشناسه نه وه چې بې دينه واوسي او اديان له ابتدا څخه په ټولنه کې اوسيږي او تر اوسه پورې يې دانسان په روح او ضمير کې ژورې هراړخيزې ريښې ځغلولې دي. خو دا بايد په زغرده ووايو چې نه هر دين حقيقي دين او نه هر حقيقي دين اکمل دين ګڼلې شو ،نه د مجازي اديانو پلويان له الف څخه تر يا پورې په ټولنيز او عقيدوي لحاظ بد خلک وو او نه د حقيقي دين ټول پلويان په ديني ، ټولنيز ، عقيدي او تقواله لحاظه په خپل دين پابند او ښه خلک ګڼل کيدې شي . په دې باره کې انسان نه پوهيږي او يواځې خداى پوهيږي چې څه ډول پريکړه وکړي.مونږ يواځې په دى پوهيږو چې ښه او بد اعمال شته او دشو او بدو اعمالو په مقابل کې خداى د ثوابونو او عذابونو او متناسباً دجنتونو او دوزخونو وعدپور کړي دي. د ديني نصوصو له مخې يي په مختلفو زماني مقاطعو کې مختلفو اقوامو ته دديني احکامود تبليغ او پوهاوي لپاره په يوه روايت ۱۲۴۰۰۰ ، او په نورو روايتونو له دې څخه زيات يا کم نبيان ، پيغمبران او رسولا ن په نبوت مشرف کړې دي.دوى هريوه دين او اُمتيان درلودل . ددوى اديانو موضيعى او قومي ګروهي بڼې درلودلي. دوى يو دبل د دين او پيغمبرى په ايمان درلودلو مکلف او موظف نه وو او پرته له څلورو پيغمبرانو « داود(ع)، موسى(ع) ،عيسى(ع) او محمد (ص) » چې اسماني کتابونه( زبور ،تورات ، انجيل او فرقان ) يي لرل او ځينو صحيفي درلودلي ، نورو پيغمبرانو ليکلي څه نه دي پريښې. يواځې محمد (ص) چې علم ،پوهې ، شعور ،امکاناتو او وسايلو په نسبي لحاظ پراختيا او پر



مختيا درلودله د ټول عالم بشريت آول او آخر پيغمبر او د اسلام دين آول اوآخر اکمل دين يواځې پدې دليل ګڼل شويدې چې ټول اصول ،احکام او قوانين يي د خدايي علم داصولو ،احکامواو قوانينو سره سمون لري او بايد سمون ولري .
داسلام ددين پيروانو سره ددېې چې په ټولو پيغمبرانو او اسماني کتابونو ايمان راوړې ،بيا هم داسلام د دين په ظهور او بعث سره نور اديان منسوخ او ټول بشريت بايد په واحد خداى اودهغه په پيغمبر محمد (ص) ايمان راوړي او په غير صورت کي ، دقرآن د احکامو له مخې کافر ګڼل کيږي. داسلام دين ته د قرآنکريم داحکامو له مخې اکمل دين ويل شويدې ، ځکه چې د خداى دمقضي الامر ارادې او لوى علم له مخې د زمان او مکان په ټولو ابعادو کې ماهيتاً تکميل او د يوې مقبولې مکملې ماهيوي علمي وثيقي په حيث ، لکه چې په قرآنکريم کي يي ذکر شوېدې ، باشعوره ،با فهمه ، اکرم المخلوقات ،د خداى خلف مخلوق انسان يي په منلو ،تعميل او پلى کولو مکلف ګرځيدلي دي.

ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينًاۚ (ترجمه :نن ورځ مکمل کړ ما تاسي ته دين ستاسي او تمام مي کړ پر تاسي نعمت او غوره کړ ما تاسي ته اسلام له جهته د دين . )

دايهً کريمه له عبارت څخه څرګنديږي چې دخداى دين کوم اضافى بار نه دې چې خداى (ج) په خپل بنده دهغه احسان په بدل کې چې يي پيدا کړې ، دقيامت تر ورځې پورې پرې د محنت په حيث بار کړې اوسي. دلومړيو څو کلمو څخه معلوميږي چې دين او د خداى کلام د علم او ټولنيز قانون په حيث

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبشري اوږدې مودې عملي او نظري تجربې او مناسباتو په بنیاد جوړه کړې شوې علمي وثیقه ده چې اوسنی او راتلونکې بشري ټولنې یې یو شان د اصولو ،احکامو او قوانینو په پلي کولو مکلف ګرځیدلي دي. یعني دا پروسه چې په نظري لحاظ د علمي وثیقې په بڼه مکملاً د حضرت محمد(ص) دنبوت په وخت کې افاده شوې ،عملي پلې کونه یې د قرآني ارشاداتو له مخې په راتلونکي نسلونو پورې اړه لري. منځنۍ څو کلمې داسې عالي مفهوم افاده کوي چې دغه علمي وثیقه او خدایي احکام لکه د مجازي خدایانو او ادیانو پوچ او بې مفهومه تخیلي الفاظ او کلمات نه دي ، بلکه د هغې معرفت او پوهه بشریت ته د ټولو نعماتو د کسب لپاره هر ډول وسایل او امکانات په ګوته کوي . وروستۍ کلمې بشریت ته دخورا مناسب ټولنیز نظام «اسلام» چې د ډیرو نورو ښیګڼو او ارزښونو په څنګ کې ،دسولې ،عدل او انصاف ضمانت ،سپارښتنه او هدایت کوي. هغه کسان چې د دغه علمي وثیقې او احکامو منلو ته حاضر نه اوسي ، کولای شي ویې نه مني . ځکه د خدای په قانونمندۍ او احکامو کې جبر وجود نه لري. خو هغه څوک چې د خدای د قانونمندۍ څخه په سر غړونه سره غواړي په نورو جبر روا وګڼي ، څرنګه چې خدایي قانون د یوې ډیري کوچنۍ ذري په اندازه هم بې قانوني نه شي منلې ،نو ځکه دخدای د قانون څخه د هر چا سر غړونه ، د خدایي قانون د جبر سره مخامخ کیږي. خدای هر انسان ته د مقدراتو له مخې ډیر اختیارات ورکړیدي . دهغې څخه سر غړونه د خدای دقانون څخه د سر غړونې په معنا ده ، او دخدای په قانون کې خلل نه شي پیښیدلي او هر څوک پرته له تفکیکه باید دغه



قانون ته غاړه کیږدي. دقانون د تطبیق په مقابل کې ادعا او مخالفت ، که څوک یې کوي ، پخپله غیر قانوني عمل دې.

داسلام د اکمل دین د ظهور څخه دمخه کله چې بشري ټولنه دپزیرش علمي ــ شعوري بلوغ ته نه وه رسیدلي ، جامع احکام او ډیر ژور علمي بحثونه لکه دبشر د پیدا ایښت او د کائناتو د تکوین او دهغوی د مناسبتونو او نورو خصوصیاتو په باره کې ژور علمي معلوماتونه هم د هغه وخت په دیني احکامو کې نه صادریدل او په دیني نصوصو کې یې هم کم په سترګو کیږي ، او که کله د کومې موضوع په باره کې د دغه ډول بحث ضرورت پیښ شوې ، د توضیحي ثبوتي دلیل په عوض د عالم آمر لکه (کن فیکون )او یا « وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلاً » په شکل یې اظهار شوي دې . خود شعوري بلوغ لازمي او کافي کمي او کیفي معیارونو ته د رسیدلو په اولین فرصت کې ،دعلم په ټوله ژورتیا او ابعادو سره لکه د انسان د جوړښت او خلقت څخه نیولې تر جهاني تکوین او نورو خلقتونو د تخلیق پورې سر تر پایه علمي او قانونمنده پروژه، چې لا نن یې هم بشریت دډیرو مسایلو له پوهي څخه عاجز دې ، په نظري او عملي توګه دیوه امي انسان په امکاناتو سره عملي کیږی .چې پخپله همدغه موضوع دخدای دکلام او دخدای د پیغمبر د نبوغ او اعجاز او همداسې د خدای په لوی او بې ساري ذاتي حقیقت دلالت کوي.

هو ! په کوم عظمت ،ژور علمي ماهیت او اهمیت سره چې د خدای کلام پیل کیږي ، پخپله د دین د ماهیوي او شکلي عظمت څرګندوی دې . یوه امي انسان ته ویل کیږي ، ولوله او هغه لولي ، د همدغه امي انسان سره په داسې موضوع بحث کیږي چې نن هم لا انسان پرې د ټولو پرمختللو وسایلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره نه پوهيږي او همدغه ډيره ژوره علمي برنامه او سراسري بشري نړيوال علمي پروګرام يوائې د علم او قانونمندۍ له مخې په عملي او نظري ډول د خدای په استعانت او همدغه امي خو معجز انسان په همت او جرئت سره عملي کيږي او په حقيقت کې ، په ديني مسايلو کې هر ډول موهومي تخيل او خرافاتو ته د پای ټکی ږدي.

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ (١) خَلَقَ ٱلۡإِنسَـٰنَ مِنۡ عَلَقٍ (٢) ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ (٣) ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ (٤) عَلَّمَ ٱلۡإِنسَـٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ (٥) كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَـٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ (٦) أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ (٧) إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجۡعَىٰٓ (٨) ترجمه:

«ولوله په نامه د رب خپل چې پيدا کړي يي دي ټول مخلوقات. پيدا کړې يي دې انسان د ترليو وينو څخه. ولوله چې ستا رب لوی کريم دې. هغه چې ښوولې يي دې په قلم سره. ښوونه يي کړي ده انسان ته د هغو شيانو چې پرې نه پوهيده. رښتيا ده داخبره بې شکه انسان خامخا سرکشي کوي د دې له امله چيبويني. خپل ځان بې پروا. بې شکه رب ستا ته بيرته ورتلل دي.» ( سورة العلق ،جز ۳۰ ،ايات ، ۱ ـ ۸ ).

حقيقي اديان د ټولنيز علمي شعوري بلوغ په نتيجه کې د اکمال مقام ته ورسيدل او دهغې د پرمختګ سره به متناسب پرمختګ کوي او مجازي اديان چې په پوچو او بې بنياده خبرو لکه سحر ،جادو ،منتر ، جنتر ، اوراد ، مداری ګرۍ ، غير علمي منطقي تخيل ،تصور او يا نورو چالاکيو بناء شوي وو منسوخ کړل .

نن بشريت د علم ،پوهې او علمي ـ تخنيکي پراختيا او پرمختيا په هغه مرحله کې دي چې ښه له بدو او واقعيتونه له خرافاتو څخه بيل او د علمي برنامې او وثيقې په حيث د دين په



ارزش پوه شي ، خو دا هم کوم پټ حقيقت نه دې چې نړيوال امپرياليزم چې د سرمايي د ناروا تصاحب ټول سنګرونه يي تسخير کړي د ژوند په وروستيو مرحلو کې د بشري ټولو ارزشونو لکه انسانيت ، ازادي ،وجدان ، شرف ، عزت ، ناموس ، اولاد ، مينه ،اخلاق ،نظام ،اداره ، قانون ، حقوق ،دين ،مذهب ، ... او داسې ډيرو نورو ارزشونو د بې ارزشه کولو په خاطر غير مسؤلانه د سرمايي د قمار په بې ارزشه تخته لوبولي او په دغه تسلسل کې دانسانيت اخري ارزش يعني ژوند ته هم څه ارزش نه دې پاتي او په حقيقت کې دغه ټولنې په کل کې عاري له ارزشه پاتي دي ،ځکه ژوند دارزشونو په خاطر دې او دفاع او قرباني هم دارزشونو په خاطر منل کيږي.

سرمايدار نن د دغه ټولنو د تحرکاو انګيزي په خاطر هيڅ وسيله په لاس کې نلري او د خپل باخت نزولي قوس طې کوي. سرمايداران هڅه کوي ، په نورو ټولنو کې هم ټول ارزشونه بې ارزشه کړي . لکه په افغانستان ،عراق او نورو سنتي مذهبي ټولنو کې د ماشوم څخه نيولې تر سل کلن پورې پرته له تفکيک په دستوري شکل بې عزته ، بې پته کيږي. يا جنګي بنديانو ته غير قانوني جنګياليان ويل او د ټولو انساني حقوقو څخه هغوی محروميږي ، فکر نه کوم چې سرمايداران به ، په نورو ټولنو کې دارزشونو په بې ارزشه کولو بريالي شي. يوائې دوی وو چې ټول ارزشونه يي د سرمايي د بې ارزشه ارزش په خاطر له لاسه ورکړل او عاري له هر ډول ارزشه پاتې شول. سنتي عقيدوي ټولني لا تر اوسه هر ارزش ته جدا جدا ارزش قايل دي او د دې لپاره د سرمايي ژوند به تر هغې ياري ونه کړي تر څو نورې ټولني هم د دوی په څير بې ارزشه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن چې سرمايه د دوامداره لا علاجه بحرانونو په سرطان اخته شوېږي ،نن چې د امريکې په مشرۍ نړيوال امپيرياليزم د خپلې ټولنې د stimulation او تحرک په خاطر يو با ارزښه ارزش نه دې پرېښې ،نن چې امريکا د نړيوال مونيپولار يکه تاز ، سرکشه او غير مسؤل طاقت په حيث نه دې جوګه دې او نه حاضر دې چې نړۍ په عادلانه او پايدار شکل په خپل محور و څرخوې ،ځکه پخپله دامريکا داخلي ټولنيز نظام د سترو بحرانونو په وجهه پر ځان متکي نه شي پاتې کېدلې .د بلې خوا امريکا حاضره نه ده په ټوله نړۍ کې د خپلو آزمندانه ګټو او حرص په څنګ کې نورو اولسونو ته اندکترين حق او حقوق قايله شي .په حقيقت کې امريکې خپلې ټولنيزي ګټې نه يوازې د خصوصي بلکه د شخصي ګټو تابع ګرځولي او دغه اشخاص د ګوتو په شمار دي ، او په ټوله نړۍ او افغانستان کې هم غواړي دا ډول نظام برقراره شي، او دا پخپله نه يوازې د نړيوال ټولنيز نظام بلکه ، باالذاتهِ د امريکې دداخلي جوړښت سره په فاحش تضاد کې ده. په حقَيقت کې نن ټول نړيوال نظام د شخصي مافيايي ګټو او علا قمنديو په محور چور لي ،اودا کارنه د چا لپاره د منلو وړ دې او نه بقاء لرلې شي او په نتيجه کې موجوده بحرانونه او نړيوال غيرمسؤلانه کړه وړه به موجوده تمدن په نابودۍ محکوموي. په اوسنيو ترينګلو شرايطو کې د نړۍ په لوی ستراتيژيک جنګي تياتر ،يعنی د تيرو پيړيو د لويي لوبي مرکز ته ، د ټولو نړيوالو جهنمي طاقتونو نظامي سوق الجيش او سفربري ، له پاکستان ، مرکزي اسيا ،خليج ،عربو او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د مذهبي او په خاصه توګه په اصطلاح د اسلامي افراطيانو راټولول او په پاکستان ، دغه د نړيوال



افراطيت په مرکز کي په بې حسابه سرمايو د هغوی روزل او د BIG BANG (جهاني تکويني لوي چاودني ) ته ورته د BIG GAM (لويي لوبي ) په مرکز کي د افراطيت د نابودۍ تر شعار لاندي ، بيا هم په اصطلاح په حقيقت کي د اسلامی افراطيت نابودول ، په هيڅ صورت کوم نيک فال نه شي ګڼل کيدلې ،دا پرته له ليونتوب ، حماقت او جنايت څخه بله پايله نه شي لرلې. دا به په دغه منطقه کي د BIG BANG په کچه بلا تشبيه يو کوچنی قيامت وي چې دعواقبو وړاند وينه يې نه شي کيدلې .دا جنګ به هيڅکله ګټونکې او بايلونکې ونه لري ، بايلونکي به ټول ددي لوبي لوبغاړي ، نننې بشري تمدن او نړيواله تباهي وي. دا ليونتوب او حما قت نه دې نو څه دې ؟ په نتيجه کي ويلې شو چې د نړۍ په هر لحاظ دې ستراتيژيکه منطقه کي دداسې بې مسؤليته لوبي جوړول ددي څرګندونه ګواهي ده چې، بشر د خپل پيدا ايښت له ورځې څخه ډيرڅه زده کړي ، خو په خپل خير او شر تر اوسه نه پوهيږي . که نه نو دا ډول کارونه چې نن په افغانستان او چاپيريال کې په پوره بې مسؤليتۍ او بې قانونۍ کي کيږی او يا يې ځينې افغانان پخپل اولس او هيواد روا ګڼي ، پرته د ليونتوب او خيانته بل کوم نوم ورکولې شو ؟ د بن د بې بنياده او سرا پا بې مفهومه او بې منطقه کنفرانس څخه نيولي ،سلسلتاً د نن ورځی (۲۸ دجنوری ۲۰۱۰ م کال ) د بې مفهومه او بې شرمانه لوبو ، اوتو بوتو اوتش په نامه د لندن کنفرانس پورې کومه منطقي پايله لرلي او يا به يې ولري ؟

زه په زغرده وايم چې پيسي هيڅکله حقيقي ارزش نه وو او ډير زر به خپل دروغين ارزش له لاسه ورکړي. پيسي هغه بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښه ناروا بدیل دي چې سرمایدار د تور بازار، تورو پیسو ،سوء استفادې، غلا ،چورو چپاول ، تجارتي قمار،د کالیو او اجناسو دصدور په عوض د توري سرمايي او پیسو صدور او په ناروا سره دپردیو د سرمایو د غصبولو په خاطر ایجاد کړې دې ، لکه چې د میلادي شلمې پیړۍ د ۹۰ یمو کلونو راوروسته چې د پروفیسور برهان الدین رباني ، احمدشاه مسعود او عبدالرشید دوستم په مشرۍ ټولې شمالي ټلوالې په پخواني شوروي اتحاد او هندوستان کې د تورو چاپ شوو پیسو په واسطه په شریکه سره هم د افغان اولس ټوله دارايي غصب کړه او هم يې پخوانۍ ناولې او ناروا «لویه لوبه (بازی بزرگ )» په همغه ناولو لارو د ناولو مقصدونو په ترلاسه کولو سره اوس هم غواړي پر مخ بوځي . روسي چې د سوسیالیستي دموکراسۍ چیغې وهلې او هندوستان چې د تش په نامه دموکراسۍ سره يې طبقاتي تضادونه د ځلورم اسمان او اسفل السافلین په مسافو کې پراته دي ، دکوم قانون له مخې دغه توري پیسي چاپولې شوي چې غلامانو يې پرې د افغان اولس ټوله دارايي غصب او پخپله يې نه یوائې خپل ټول ورځنی مصارف د همدغه کیسي ځخه اجراء کول بلکه ، دهمدغه کیسي ځخه په نړیوال تور بازار کې د ډالرو سره په تبادله يې فضیحت باره افساني را منځته کړې. دا ډول مسایل حتماً يوه ورځ د محاسبې او پوښتنې ډګرته راووځي !

د خدای قانون دعدل ،انصاف ، خپل حق ، دبل حق ، ... په نظر کې نیولو په اصولو چلیږي. په غیر صورت کې د قضاء دجبر ځپیړه د هر ظالم او جابر مخ ته رسیدلې او رسیږي به. کله چې شاته تاریخ ته مخ اړوو ، تر اوسه پورې دخدای درضاء او



قضاء له مخې دهریرغل ګر دکړې خولي د سمولو په خاطر اکثراً د افغان ځپیړه کاریدلې ده . وګورو چې په راتلونکې کې افغان اولس دغه اهلیت له ځانه سره ساتي او که د ځو بې ننګو په خاطر به يې له لاسه ورکوي.

شک نه شته چې ځینې ارزښونه لکه ځینې علوم هم موقتي بڼه لري او دشرایطو په تغیر سره خپل ارزش له لاسه ورکوي او پرځاى يې نور حقيقي يا موقتي ارزښونه ځای نیسي. خو حقيقي ارزښونه لکه بنیادي علوم هیځکله خپل ارزش له لاسه نه ورکوي او نه ځوک باید هځه وکړي چې هغه بې ارزښه وګڼي یا بې ارزښه کړي. ارزښونه د ټولني د تحرک اساسي lokomotive او يوائینۍ محرکه وسیله او قوه ګڼل کیږي. دارزښونو ځخه عاري ټولني له تحرکه پريووځي او دژوند او بقاء امکانات او حق له لاسه ورکوي چې د نړۍ دد موکراسۍ او د بشر د حقوقو علمبردارانو او دهغوی افغاني پلوي وطن خرڅوونکي چو پړیانو دغه هځه په افغانستان کې روانه کړې ده . شاید دا خبره نن له ما سره ځوک ونه مني ،خو کله چې يې ټولني په رښتیا پدي مرض اخته شوي ، بیا به يې ددې خبرو په ارزش سر خلاص شي. ارزښونه لکه مینه په هیڅ قیمت نه شي خرڅیدلي بلکه یوائې په سیال ارزش بدلیدلي شي. مختلفي ټولني د ارزښونو په بنیاد جوړيږي ،پایي ، بدلون او پرمختګ کوي او یو په بل پسې نوي افقونه تسخیروي. ارزښونه دوړو دلوبو او مشغولتیاځیزونه نه دي چې لکه د شګو کوډلي او بندونه هره ګړۍ جوړ او وران شي ! ! !

په نتیجه کې ویلې شو چې دین دابدي علمي او ټولنیزي برنامې او د جهان د تکوین او خلقت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشني علمي قانونمند ماهیت په لرلو به د جهان دابدیت سره سم په متناسب ډول د بنیادي علمي ارزش په حیث باقي پاتې وي او د هغې ارزشي بڼه به د قضاء او قدر د عام قانون له مخې د موجوده عیني او ذهني شرایطو او امکاناتو په تناسب خورا علمي، خورا انساني ټولنیز، متمدن او دموکراتیک نسبي بدلون او تکامل مني .

په نننۍ او تیرو فلسفي بحثونو کې په وار وار مونږ ددې شاهد وو چې نه یواځې په دیني مسایلو کې دیني عالمانو، پوهانو او فیلسوفانو د دیني ،علمي او فلسفي مسایلو او قضایاوو سره څومره په سادګۍ او بې مسؤلیتۍ کړه وړه لرلې او دخپل ځان په باره کې یې دراتلونکو نسلونو قضاوت په پام کې ندې لرلې او نه یې د خپلو دنه بخښني لویو ګناهونو په باره کې کوم تشویش ښکاره کړېدې. دیني عالمانو د انبیاوو د وارثانو په حیث چې دد یني احکامو ،اصولو او قوانینو د تبلیغ ،ترویج ،تفسیر او بیان دنده درلودله ، دین یې په خپل لمځي کې کلک تړلې په شایي ګرځولې او خلک یې یواځې د خدای، دوزخ او پل صراط څخه دومره ویرولي چې هیچا ته د جنت دتلو امیدواري نه ده پاتې او د دنیا او اخرت دواړو څخه یې زړه ور تور کړې او نا امیده کړې او ددوی ټول زور پدې اړخ وو چې خلک په شعوري او عقلي ترګمۍ کې وساتي او هغه څه چې د خلکو په کندو او جیب کې دي ، په اسانۍ ترې خپل کړي . دوی ددغه خصلت له مخې هم پخپله د خدای، قرآن او دین د لوی علم څخه بې برخې پاتي او هم یې خلک بې برخې ساتلي دي.



دوی یو ددین په رسالت او دخدای دلوی ذات په رواداری ،عدل ،انصاف او عام سخاوتمندانه بې حسابه او نا تمامه غني نعمتونو څخه هیڅ اګاهي نده لرلې. لوی خدای دا جهان دخپل لوی علم له مخې قانونمند پیدا کړې، قانونمند پایي او قانونمند تغیر او تکامل کوي او دهمدې لپاره یې خپل عالم خلف انسان، ښځه او نر ،په علم او معرفت مکلف کړي چې هم یې پخپله او هم یې نورو ته زده کړي او دهمدغه دیني علومو له مخې د بشر لپاره داسودګۍ او رفاه وسایل جوړ کړي ، نه داچې خلک دیته راوبولي چې دا دنیا خدای د کافرانو لپاره پیدا کړې او مسلمان چې هرڅومره ذلیل ،خوار ،بیچاره او بد بخت اوسي خدای په هغه جهان اجر ورکوي. بر خلاف اسلام یواځیني علمي او قانونمند منطقي سیال دین دي چې په علم بناء ، یواځې په علم باور لري او یواځې د قانونمند عمل له لارې بشریت کار او فعالیت ته هڅوي.مونږ پوهیږو چې د خدای عبادت، قوانینو او احکامو معرفت یواځینۍ طریقه او وسیله ده ترڅو دخدای د بنده ګانو سره د زیاتي مرستي اونیکۍ امکانات ولري او پخپله د ظلم ،نا روا او ګناهونو څخه د پرهیز په ارزش ښه پوه شي. خو دا خبره دوی له ځانه سره پټه ساتي او حتا علم او فلسفه ددین دښمن بولي او خلکو ته ددي توصیه کوي چې بچیان مکتبونو ته ونه لیږي چې کافر نه شي. مونږ عملاً ولیدل چې پاکستان د خپلو سیاسي اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر په همدي بهانه د طالبانو پواسطه څومره مکتبونه او د قرآنکریم په شمول کتابونه وسیزل او شاګردان یې ووژل. دوی بې کسي ،بیوسي او ذهني او عقلي ترګمۍ ددین او مذهب لپاره مناسب محیط او شرایط ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دينـي عالمـانو د بـدعتونو پـه بـاره کـې د پـورتني تـذکر پـه نـسبت د فيلـسوفانو بدعتونـه هـم څـه کـم او لا دمقايـسي وړنـه دي . پـه مختلفـو نومونـو لکـه دينـي ،عـصري ، فلـسفي شـرقي ، غربـي او داسـې نـورو د علومـو د ويـش سـره دمخـه مونږ کلـک مخالفـت ښـودلې او اوس هـم يـوائې د خـدای پـه لـوی علـم بـاور لـرو چـې د هغـې لـه مخـې يـې دا لـوی ابـدي جهـان پـه همزمـان او هـم مکـان سـتاتيک ــ ديناميـک لحظـوي تغيـر او تکامـل سـره پيـدا کـړيـدي . ځـانګړي علـوم پـه ځـانګړي ډول وجـود نلـري. ټـولي علمـي پروسـي او قانونمندۍ پـه متـداخل شـکل همزمـان او هـم مکـان جريـان پيـدا کوي او پرنـسيباً ټـولې محاسبې هم بايـد پـه متـداخل شـکل پـر مـخ يـوړل شـي ،خـودا کـار يـوائې د علمـي ـــ تخنيکـي نيمګړتيـاوو او بـشري لازمـي کـافي امکانـاتو د نـه موجوديـت پـه سـبب سـر تـه نـه رسـيږي. پـه ځينـي حـالاتو کـي چـې ډيـر دقـت تـه ضـرورت نـه اوسـي ، دځينـي محاسـبو څخـه صـرف نظـر کيـږي او پـه ځينـي مـواردو کـې د ځينـي ضـريبونو پـه اسـتعمال دغـه تـشه ډکيـږي. خـو کـه دضـريبونو پـه اسـتعمال کـي دقـت ونـه شـي د غلطـۍ د تخفيـف پـه عـوض کيـدلې شـي غلطـي زيـات والـې پيدا کړي.

زه پـدي بـاور نـه لـرم چـې يـو عـالم دي دخپلـو ځيرنـو د سـم او ناسـم بهيـر او دهغـې دپـايلو پـه واقعيتونـو پـوه نـه شـي. نـن پخـواني وختونـه نـه دي چـې يـو عـالم بـه مختلـف مـواد سـره مخلوطـول او نـا خـود اګـاه بـه دهغـې مختلفـو پـايلو تـه سـترګې پـه لار وو. بې محاسـبې ، بـې قانونـه ، بـې لـه مـشخص متـود او ارزونـي څخـه پـه او سـنيو ګلـو بـال تعـاملاتو او پروسـوکې يـو قـدم وړانـدې پـه پټـو سـترګو ايـښودل ، کيـدلې شي بـلا تـشبيه قيامـت



جـوړ کـړي. هـر څـوک پـدې پـوهيږي ، خـو خپلـه غلطـي نـه شـي منلـې او هڅـه کـوي هغـه پـه نـه بخـښونکو ګنـاهونو او تحريفـاتو کـې د خلکـو لـه انظـارو څخـه پـټ کـړي. همـدا سـبب دې چـې فلـسفه د نـا بکـاره لفـاظيو او درغليـو پـه علـم خـو نـه ،بلکـه سفـسطه بانـدي اووختـې اونـن ددې پـه عـوض چـې هـر څـوک خپلـه ګناه ومنـي او پـه خپلـه بـې علمـۍ اعتـراف وکـړي ، پـه فلـسفه د بـې علمـۍ تورونـه او تهمتونـه تـړي. مـا داډول مثالونـه پـه تيـرو بحثونـو کـې ډيـر راوړي او پـه سـلګونو نـور هـم کيـدلې شـي راوړل شـي او شـايد دا کـار د واقعيتونـو د سـپيناوي او دعينيـت فلـسفې د بنيـاد دپخلـي پـه خـاطر هـم وکـړم .دلتـه بـه بـې ځايـه نـه وي کـه زه خپلـه پخـوانۍ خبـره تکـرار کـړم ، کلـه چـې مـا د اُکـراين پـه پلازمينـه ، د کيـف ښـار د علومـو پـه اکـادمۍ کـي خپلـه رسـاله پـه فلـسفه کـې د دکتـورا د تيـزس پـه حيـث وړانـدې کـړه ، مـسؤل ډاکتـر پروفيـسور سـرګي باريـسويچ کريمـسکي د تيـزس اساسـي زړي يعنـي چـې: « ذهنيـت نـسبي عينيـت او هـر مـشخص ذهنيـت عينـي واقعيـت دې» ، ونـه منـه او ويـي ويـل « مـونږ پـه شـرق او غـرب کـې سـره منلـې چـې داسـي خبـره بـه نـه کـوو » . کلـه چـې مـا خپـل دلايـل وويـل ، هغـه پـه ځـواب کـې داسـي وويـل ، « ددي فيلـسوفانو مغزونـه د دومـره لفظـي انجـړ مـشوړو څخـه ډک دي ، چـې کـه يـو ځـل څـوک پـه کـې ښـکيل شـو ،راوتـل تـرې مـشکل دي. نـو زه چـې دهغـوۍ پـه مقابـل کـې ددې تيـزس څخـه دفـاع نـه شـم کولـې ، نـو تـه هـم دا کـار نـه شـې کـولې» . س .ب. کريمـسکي چـې پـه نړيوالـه کچـه د فلـسفې مـشهور ډاکتـر پروفيـسور وو ، هـم ددې خبـرې څخـه منکـر نـه وو چـې فلـسفه نـن پرون يوائې په انجړ بنجړ بحثونو بدله شويده.

دابـه يـوائې زمـا ابتکـار نـه وي چـې د موجـوده فلـسفې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمي بهیر څخه منکر یم، خو د هغې په مقابل کې د خدای د لوی علم او بې شمیره خارق العاد خلقتونو په بنیاد مې د «عینیت فلسفې» بدیل تیزس چې دمخه ذکرشو وړاندې کړې، بلکه له پخوا څخه دډیرو پوهانو په لیکنو کې دا ډول مفاهیم او حقایق پراته وو، خو هیڅچا نه دي کړې شوي خپل بدیل تیزس وړاندې او یا کومه فلسفي قضیه او مسًله د موجوده قوانینو، تیزسونو او متودونو په خلاف په قانونمند منطقي بڼه فورمولبندي کړي. ما د شلمې پیړۍ په شپیتمو کلونو کې د خیبر په شخصي اخبار کې چې د محب الرحمن «هوسا» له خوا خپریده د مولوي «فیضاني» مقالي د «نړۍ د قرآن په تلسکوپ کې» تر عنوان لا ندې لوستې وي، د اکادمیسن عبد الاحد عشرتي د «اعجاز علمي قرآن کریم» لومړې او دوهم جلد مکمل چاپ (ثور ۱۳۷۶ او حمل ۱۳۷۹هجري شمسي)، د ګوهرالرحمن ګوهرپنځه جلده کتابونه چې له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۲ م پورې د «د قرآن او ساینس» تر عنوان لا ندې چاپ شوي، مونږ د انټرنیټي پاڼو، اریانا تلویزیون او ډیرو نورو خپرونو له لارې د «ساینس او قرآن» او ډیرو نورو عنوانونو لاندې د خپرونو شاهدیو، د توحید په نامه په مختلفو ژبو د مختلفو لیکوالانو اثار مونږ هرځای لاسته راوړلای شو، په امریکا کې د افغانی خپرونو له لارې هم مونږ د ډیروعلمی حقایقو چې ډیري یې دافغاني پوهانو له خوا خپریږي لکه په ۵۶ CD ګانو کې د محترم ډاکټر عبد الستار «سیرت» یا د استاد سادات او همداسې د نورو پوهانو علمي بحثونو موادو د تر لاسه کولو امکانات لرو. خو ای کاش دغه خپروني د دښمنۍ او عناد او د پردې تر شا د ډول ډول سیاسي، مادي او نورو غیر



مجاز او غیرمشروع اهدافو پرځای د واحد حقیقت او علم په خاطر، حقیقي دین او دخدایي پیرزویني، عدل او انصاف له مخې دټول بشریت دعامه سوکالۍ او په راتلونکي کې د هر ډول احتیاج او اړتیا څخه د بشریت دخلاصون لپاره ټولې علمي او مادي زیرمې په کار اچولې شوې وای، نو به انحرافي او غیر علمي تیوریو او مجازي ادیانو ته د رښتیني علم او رښتیني دین په څنګ کې ځای نه وې پاتي .

دا واضحه خبره ده چې خدای (ج) د غیر علمي تصور، تخیل، استقراء، قیاس او نورو د شک او شبهې د عواملو او عوارضو څخه مبراء او دخدای په کلام کې، کله چې مونږ دغه کلام معیار او محک دحقیقت او واقعیت ګڼو، قرون وسطایي او قبل المیلادي تخیلي او تصوري غیر قانونمندو فورمولبندیو او منطق ته باید ځای نه اوسي. خدایي علم تبعیض، دښمني، سرحد او ویش نه مني. دا انسان دې چې، علم د خپلو ناولو او ناروا غوښتنو په مقصد تحریفوي او په مختلفو نومونو یې ویشي او ناوړه ګټه ترې اخلي. هغه څوک چې دخدای په ذات، علم، عامه پیرزوینه او رواداری، عدل، انصاف او کرم رښتینې باور ولري، هیڅکله به ورسره د حرص او تنګ نظرۍ احساس او تشویش پیدا نه شي. د خدای دلوی علم له مخې دا لوی لا یتناهي ابدي جهان په همزمان او هم مکان لحظوي ستاتیک ــ دینامیک تغیر او تکامل سره، د یوې کوچنۍ ذرې څخه نیولې ترخورا لویو ډول ډول سماوي اجرامو او کهکشانونو پورې په یوه واحد ابدي نظام کې سره تړلې پیدا کړې دي. پدې نظام کې لکه څرنګه چې سکون نه شته او هرڅه په لحظوي بدلون، تکامل او تجدد کې قرار لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې زړښت هم وجود نه شي لرلې او یوائې په ځانګړو پدیدو کې نسبي بڼه لري او لحظوي تغیر او تکامل همغسي چې د نظام دابدیت تضمین کوي ، دنظام د لحظوي تجدد تضمین هم په غاړه لري. ددې نظام غذایي او انرژیتیکي زیرمې چې هیڅکله پای او زړښت نه لري ،نو حرص او د قارون په څیر په هرڅه خیټه اچول دڅه لپاره ؟

هغه چې ایراني شاعر ویلي وو چې:

« ما زآغاز وزانجام جهان بی خبریم
اول واخر این کهنه کتاب افتاده است »

هم سمه نه ده ،ځکه چې د ذرې څخه نیولې تر لویو خلقتونو او موجوداتو پورې په همزمان لحظوي تجدد کې دي. پدې باره کې په تیرو وختونو کې کافی بحث شوې دې او په راتلونکې کې هم که ضرورت وو دا حسن تکرار په توګه به بیا یاد اوري وشي .

کله چې منو ، دټولو خلقتونو او موجوداتو خالق خدای دې او ټول دغه خلقتونه او موجودات یوائې قانونمند پیدا ،قانونمند پایې او بدلون او پرمختګ مومي ،یعنی چې قانونمندي پخپله شکل د موجودیت دمادې او عالم الاسباب دې ، بې له شکه دا معنا هم لري چې د علم او قانونمندۍ خالق هم پرته له ذات الاهي بل څوک نه شي کیدلې. ځکه ددې لوی او لایتناهي جهان خالق یوائې خدای ګڼل کیدې شي. په هغه صورت کې چې د علم او قانونمندۍ خلقت یوائې په پروردګار عالم پورې اړه پیداکوي ، نه نور ځانګړي جهانونه او نه ځانګړي علوم او قانونمندۍ وجود لرلې شي او نه دخدای په علم کې تعدد د معادلو ، مجهولاتو ،کاردیناتو ، تعدد



دقضایاو او نوره کومه ستونځه کوم مشکل نه شی ګڼل کیدلې او نه د خدای په علم او قانونمندۍ کې ،نا معین ، موهومي ، متوالي ، نا معلوم اودا ډول نور مشکوک مفاهیم ، اعداد ،ارقام او نتایج وجود لرلې شي. پدې خاطر د هغه پوهانو څخه چې قرآنکریم یعنې د خدای علم د ساینس په ژبه او قوانینوله مخې افاده ، فورمولبندي او تفسیرول غواړي زما خواهش دادې چې باید په قرون وسطایي بې منطقه منطق ډډه ونه لګوي او په تخیلي او تصوري استقراء ، قیاس او منطق باور ونه کړي . تر اوسه پورې هیڅ یوه عالم ،پوه او فیلسوف ددې لارې مطلوب منزل ته نه دې رسیدلې او هر یوه د افغانانو په اصطلاح دترکستان لار نیولې او که په بل عبارت یې ووایم هر یو په اصطلاح د سد سکندر ددیوال تر شا په مطلقه ترګمۍ ور ننوتې او چې لار ترې ورکه شوې ،د هغې وروسته یې چې هرڅه له لاسه شوي ، هم یې ځانونه او هم یې نور غولولي دي. پدې باره کې دمخه ما ځیني وضاحتونه وړاندې کړی ،زه نه وایم چې ټول به پرځای او سم وي ،خو زه حتماً غواړم دا خبره د بل چا څخه واورم چې یا یې راسره ومني او یا یې د رد دلایل وړاندې کړي.

دې کې شک نه شته چې د هند ،چین ،مصر او عراق تمدنونه داروپایي او په مشخصه توګه د یوناني تمدن څخه په فلسفه کې قدامت لري.تر اوسه پورې یونان په دغه امتیاز پخپله خیټه اچولې ده. د لومړي ځل لپاره د هند د تعلیم وزیر ابوالکلام آزاد دې موضوع ته متوجه او په ۱۹۴۸ م کال کې یې ، په یوه کنفرانس کې وړاندیز وکړ چې دهند د برجسته فیلسوفانو څخه دې یوه کمیټه د ډاکټر رادا کریشنان تر مشرۍ لاندې دغه موضوع وڅیړي تر څو د فلسفې په تاریخ کې هندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفه خپل غوره ځای ونیسي. پدې کمیټه کې د شپیتو کسانو په حدود کې برجسته فیلسوفان راټول او د ډاکټرسرو پالی رادا کریشنان ،د جناتا پارټۍ مشر او وروسته دهند صدراعظم تر ریاست لاندې په دوه غټو جلدونو کې چې له زر مخونو څخه زیاتوالې کوي دغه تاریخ د «تاریخ فلسفهٔ شرق و غرب» تر عنوان لاندې تکمیل شو .د لومړي کتاب چې ۶۸۰ مخه لري ،مقدمه داسې پیل کیږي: «شاعر ایرانی جهان را به کهنه کتابی تشبیه می کند که اوراق اول وآخر آن افتاده اند . دیگر نه می توانیم بگو ییم که کتاب چگونه آغاز شده و نه می دا نیم که چه گونه انجام خواهد یافت.

ما ز آغاز و ز انجام جهان بی خبریم
اول واخر این کهنه کتاب افتاده است

بشر از زمانی که دارای شعور شد ،در پی کشف این اوراق گمشده برآمد .این جستجو ونتایج آن ،فلسفه نام دارد .فیلسوف برای توضیح فلسفه و ماهیت آن کتابها می نویسد ،ولی شاعر این کار را در بیتی انجام می دهد . مقصود از این جستجو یافتن معنی زندگی و وجود است. ... » (تاریخ فلسفهٔ شرق وغرب ، صفحهٔ اول ) . له دې څخه دمخه په «پیشگفتار» کې هڅه کیږي د مشابه او سینو نیم کلماتو او الفاظو په استعمال او وړاندې وروسته کولو سره وښيۍ چې فلسفه جدا او علم جدا ځانګړی شیان دي.

زه په پورتنیو څو جملو ، نه غواړم قضاوت وکړم ،خو حتماً ، دومره وایم چې که رښتیا فلسفه دومره پسته او کوچنۍ شي ، پایلې یې باید همدا وي چې یې لرلي دي.خوزه کلک پدی باور یم چې فلسفه همغسې د خدای د لوی علم یوائینې خلف علم



دې ، لکه څرنګه چې انسان د خدای عالم خلف مخلوق دې. بعدی قضاوت په محترو پوهانو او لوستونکو پوری اړه لري.

ددې ډول بحثونو او نتیجه ګیریو علت او هدف یوائې او یوائې دادې ، او لکه څرنګه چې زه د بشر د تاریخي دورې دفلسفي اساسي او وتلي نظریاتو څخه کومې نتیجې ته رسیدلې یم او دمخه یې ذکر هم شوې دې ،او دغه د سترو فیلسوفانو شپیته کسیزه کمیټه هم په همدې عقیده ده ، باور نه لري چې ګوندې په فلسفي افکارو کې دې د بشر په تاریخی دوره کې کوم پر مختګ شوې اوسي ، حتائینې عقیده لري چې شاید د هغوی کمال او بینش د «بودا» او «افلاطون»څخه وروسته پاتې وي .نوزه په زغرده ویلې شم ، په دغه طرز تفکر ،په دغه اساسي او غیر اساسي فلسفي مسایلو ، په دغه متودولوژۍ ،افاقی نظریاتو او عقایدوسره کومه تخیلی فلسفه چې د یوه شاعرپه بحراني احساساتي متلا طم څپانده حالت کې چې د شعور او لا شعور په پوله د شاعرانه غلو ، اغراق او نوروصنعتونو په رنګارنګ غولوونکو ګګلیچونو کې مدهوشانه ټالۍ او خویندۍ وهلو ، پریوتو ولاړیدوسره سره په یوه بیت اغاز او انجام پیدا کولې شي ،شک نه شته چې دغه ډول فلسفه به په ذهني جذام اخته اود خپل انحطاط د منحنې د انعطافي قوس اخري مرحله طی کوي او هیڅ ډول پرمختیایي قابلیت به و نه لري. نو ځکه خو دهند د فلسفی کمیټې پریکړه پرځای او منطقي ده چې دا ډول فلسفي افکار او قانونمندۍ دعلمي -شعوري پر مختګ توانمندي نه لري اوحتماً په ذوال اوعقب ګرایي محکومه ده.

د کومې فلسفې څخه چې زه بحث کوم ، هغې ته ما د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوی علم بشري ذهنی علمي بديل ويلې او په حقه په عالم الاباب کې دخدای دعلم خلف او وارث علم ګڼل کيږي. څومره چې دخدای علم لوی ، ابدي ، متکامل او بې ساري دې ، دغه فلسفه هم د بشري ذهني توان او مقدراتو په تناسب ټاکلې مناسبت لري. لکه څرنګه چې انسان د خدای د مقضي الامر ارادې له مخې د خدای بې بديله خليفه ګرځيدلې ، همدغه شان بشري علم په دې جهان کې د خدای د لوی علم بې بديله خلف ګڼل کيږي. دمخه مونږ وويل چې جهان په لحظوي تجدد کې دې ، نو ځکه ابدي دې او ابدي دې ځکه چې هميشه په لحظوي بدلون او تجدد دې يعنی يوتر بله سره متقابلاً علت او معلول ګڼل کيږي. دايراني شاعر د کهنه کتاب خبره په هر صورت د منلوړ نه ده ځکه چې په دغه ډول يوه ترلي نظام کې چې د کوچنۍ ذرې څخه ترلويو اجرامو او کهکشانونو پورې د لحظوي همزمان ستاتيک ديناميک بدلون او تکامل په شرايطو کې ، قديم هيڅکله نور په قديم کې وجود نه شي لرلې ، حال په دوامداره لحظوي بدلون کې قرار لري او ابد هم هيڅکله په ابدي نظام کې ابد ته نه شي رسيدلې، ځکه چې دا نظام مستلزماً بايد د خدای د ذات او لوی علم د ابديت په تناسب هم ابدي اوسي . ځانګړی پديدی ،خلقتونه او نظامونه کيدلی شي د ځانګړی مادی واحد په حيث له منځه ولاړ شی خونظام په کل کی ابدی پاتی کيږی او د خپل قانونمند پيدايښت ،پايښت ، بدلون او تکامل له مخی ممکنه ده هره څيړنيزه قانونمنده محاسبه په هره زمانی مقطع کی سرته ورسيږی. نو په زغرده ويلې شو چې د فلسفې د زاړه کتاب د پيل او پای ټولې پاڼې پرځای دي او دلټون لپاره يې ضرورت نه شته څوک زيار وباسي



.د بلې خوا په هره زماني مقطع کې د يوې پديدې او خلقت دپارامترونو او خصوصياتو معلومول يواځې دحال د قانونمندۍ د معلومې قانونمندې مبدا څخه معلوميدلې شي .نو په قديم او ابد پسې ګرځيدل هم عبث کار دې.دخدای لوی علم هميشه کامل دې ، دا جهان او بشري علم هم د قانونمندۍ له مخې هميشه د خدای د لوی او کامل علم په لور په تکاملي بدلون کې دې.خو همغسې چې انسان دخدای د معرفت او ځينی صفاتو د لرلو څخه عاجز دې په همغه اندازه او تناسب دخدای دعلم او په کل کې د خدای د لوی حقيقت په توګه دلوی جهان د ځينې پديدو او مادي واحدونو دمعرفت څخه يا موقتاً او يا د تل لپاره عاجز ګڼل کيږي. د خدای دين د خدای دلوی علم له مخې په دې جهان کې د بشري عملي ژوند شريعت ،طريقت ، اصول ، قوانين او مناسبات ګڼل کيږي . خدای په خپل کلام کې خپل دين د انسان او ټولو خلقتونو لپاره دژوند او په حقيقت کې د ژوند د ټولو امکاناتو د وسيلې په نامه ياد کړې دې.«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ... »(سورة انفال ، ۹ جز ، ۲۴ آية ). په دې معنا چې د خدای دين ددې لوی جهان د ټولو خلقتونو د پيژندلو او معرفت يواځينۍ لار ،طريقه ،شريعت او وسيله او انسان کولې شي يواځې ددې لارې خپل دژوند وسايل او امکانات او ذات البيني مناسبات د قرآني او ديني احکامو ،قوانينو او اصولو په بناء تنظيم او دژوند مستقيمه او ډاډمنه لاره غوره کړي. دا به يې يواځينۍ نسبي ايديال بڼه او طريقه وي.

څرنګه چې خدای يو دې ، جهان يو دې او په حقيقت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ادیانو پلویان سره ددې چې ، په ظاهر کې به دخپلې ټولنې مروج ځانګړی عقیدوي دود پالي ، په واحد خدای باور لري. منطق خو دا وايي چې ټول بشریت هم دیوه دین پیروان اوسي او پدې توګه د همیشني عداوتونو ، دښمنیو او جنګونو جرړې په بشری مناسباتو کې د همیش لپاره پرې او وچې شي.

د پورتنې بحث څخه د نتیجه ګیرۍ په ترڅ کې ویلې شو چې خدايي هر خلقت او په هغه جمله کې خپل خلف ، انسان ، ته د هغه دضرورتونو په تناسب د احساس ،درک او عمل امکانات ورکړي دي.مرغان الوتلې شي ، ماهیان او نوربحري حیوانات په اوبو کې ژوند کولې شي ، انسان ته یې دعقل ،پوهې ،خبرو او تجربو د سنجش ا و شراکت لوی طاقت ورکړې او نورو ته یې هم د هغوی د ضرورتونو له مخې نور امکانات ورکړي دي . د هغه زاړه کتاب دلادرکه شوو پاڼو میندل چې د رادا کریشنان تر سرپرستۍ لاندې شپیته کسیزي کمیټې د فلسفې موضوع ګڼلې،زما په عقیده یوه بې مورده هڅه او هدف ټاکنه ده او انسان هیڅکله د هغې په میندنه قادر نه دی ، ځکه چې نه زاړه کتاب کله وجود درلود او نه یې کومه پاڼه ورکه شویده. همداسې د کانت ، لاپلاس او چمبرلاین هڅې او وړاند وینې چې د جهان د تکوین په باره کې یې جرړې دي ، بې بنیاده ګڼل کیدلې شي. او دا ځکه چې د خدای ذات ، دخدای علم او دخدای جهان خلقت د عالم آمر په حیث په کل کې دانسان لپاره مسخر او مقدر نه ګڼل کیږي او په دې باره کې یوائې دخدای د «کن فیکون» حکم صدق کوي او انسان د خدای د خلیفه په حیث دخپلو ضرورتونوا و امکاناتو په تناسب یوائې د هغې د ځینو اوصافو په احساس، درک او معرفت قادر ګڼل کیږي. دا



دې ماسره لطفاً محترم لوستونکي هم ومني چې په داسې وضعیت او داسې موقف کې چې انسان یې په خپلو امکاناتو او خپل درک او فهم سره د خدای دذات ، دخدای د علم او دخدای د جهان په مقابل کې لري او لکه څرنګه چې دمخه دا موضوع ما توضیح کړه چې دا جهان په لحظوي قانونمند بدلون ،تجدد او کیفي تکامل کې قرار لري ،قدیم په قدیم کې وجود نه لري ،حال په لحظوي ګذرا حالت کې دې او ابدته په ابدی نظام کې رسیدل هیڅ ممکن نه دي ،نوایا د «کن فیکون» له حکم بله منطقي او عملي پریکړه په تصور کې هم راتللې شي ؟ همدغه دهمزمان لحظوی بدلون او تجدد خصوصیات د خدای ددې لوی نظام د پایښت او ابدیت تضمین کوي .همداسې د قانونمند پیدایښت ، پایښت ، بدلون او تکامل له مخې په هره زماني مقطع او مکاني بعد کې پرنسیباً ممکنه ده هره څیړنیزه محاسبه سرته ورسیږي او مورد نظر پارامترونه ، اوصاف او خصوصیات په عددي ،ګرافیکي ، کمي او کیفي بڼه ترلاسه شي. د جهان د تکویني پیل په باره کې د کانت ،لاپلاس او چمبرلاین نظرونه کیدلې شي ددغه تکویني پروسې د ځانګړې پدیدې د خصوصي حالت په حیث ومنل شي ،خو هغه هم یوائې د همغه تخیلي او تصوري ناسمه تیوریو او فورمولبندیو له مخې چې فلسفه یې تر اوسه په متحجر او دګم علم بدله او په ذوال محکومه کړې ده. پکار دادي هره څیړنه د موجوده حال حالت او وضعیت څخه پیل او دضرورتونو له مخې یوائې د علم او قانونمندۍ په بنیاد د ماضي او حال په لور غزول کیدلې شي.

دهمدغه ډول یوه خصوصي ګذرا حالت او پروسې قانونمند

(c) ketabton.com: The Digital Library



جریان ، د خدای دکلام په استعانت او الهام او دعینیت فلسفی د قوانینو په استمداد ،زه هم غواړم د خپل ناقص او محدود فهم او درک له مخې د خدای د لوی نظام د یوه کوچني مثال ، اړخ او قضیي دڅیړني په توګه څرګند او وارزوم چې څه ډول د خدای دمقضي ارادي له مخې دغه ابدي خود بقاء ، خود کفاء او خود ګردانه نظام پیدا ، پایي ،بدلون او تکامل مومي ؟

د خدای په لوی کلام کې راغلی: « وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ (٣) (٣٠جز ، ٨٩ سورة الفجر ، ٣ آیة ) ترجمه: ( قسم په جفت قسم په طاق ). خدای(ج) په خپل کلام کې د ډیرو خاصو او ډیرومهمو مسایلو په باره کې دا ډول ذکر کوي .دغه لنډ او دوه کلمه یي آیة شریف لکه څرنګه چې د تفاسیرو څخه معلومیږي ډیر نور لوی مفاهیم هم افاده کوي ،خو دجهان د تکوین مسًله

به هم ،زما په عقیده له نورومسایلو کم ارزښه نه وسي. نن چې نه یوائې د هند دفیلسوفانو شپیته کسیزه کمیټه بلکه ټول بشریت د خپل پیدا ایښت له لومړي ورځې څخه د اوسني علمي ـ تخنیکي پرمختګونو او نورو بې ساري امکاناتو سره سره دخدایي ساده خلقتونو د راز په میندلو کې صم ،بکم ،عمی او هک پک پاتې دي ،څه ډول ۱۴۰۰ کاله دمخه د یوه امي انسان په ژبه ددې لوی جهان د ابدي تکوین او ټولو خلقتونو د قانونمند مستمر خلقت راز په دوه کلمو کې د عوام الناسو تر غوږو رسیږي او دخدای د لوی علم او لوی نظام تکوین افاده کوي ؟

زه چې د قرآن ویونکې وم او یم ،خو دقرآن عالم هیڅکله نه وم او نه به شم ،ځکه چې زماني فاکتور به دغه چانس ماته نور په لاس را نه کړي. لکن په دې یوه خبره پوره ایمان او باور لرم



چې قرآن اکمل ،فسیح ،بلیغ کلام ،قانون ،احکام ،دین او علم دي چې شک او تردید په کې وجود نه شي لرلې.خو پکار دادي چې د قرآن په احکامو او حقایقو نسبي کامله پوهه پیدا او بشري غیر قانونمنده تخیلي ذهنیګرۍ له دغه حقایقو او واقعیتونو څخه چاڼ او چغجال شي. نپوهیږم ولې د قرآن عالمانو لا پخوا دغه علمي مبدا ، بنیاد او قانونمندي نه ده میندلې ، نه یي ده منلې او باور یي پرې نه دې پید کړې ؟زه دخپلې وینا د ثبوت لپاره د پورتني دوه کلمیي آیة شریف ستر اعجاز او ځیني دلایلو باندې خبرې کول غواړم تر څو دغه بحثونه چې نن له نیکه مرغه پیل شویدي ، پرته له بشري ذهنګریو ، دعلم په واقعي بڼه او ماهیت په قانونمند ډول اصلي مجرا او مسیر ته پریووځي .

هو !که مونږ د عناصرو متناوب سیستم او جدول ته زیر شو ،ټول عناصر په نوبت سره د الکترونونو او پروتونونو د طاق او جفت تعداد څخه دا ډول تشکیل شوي چې پروتونونه د مثبت چارج په لرلو هسته تشکیلوي او په عین تعداد الکترونونه چې منفی چارج لري په ټاکلو مختلفو مدارونو کې په ډیر سرعت سره د هستې ګرد چاپیر چورلي او په دغه تسلسل کې تکرار نه په سترګو کیږي او نه کوم تنقیص او تقصیر وجود لري . د عناصرو په هسته کې نیترونونه چې د چارج له مخې خنثی دي د مستقل مادي واحد په حیث د ویده ښامارانو په څیر په هسته کې وجود لري .د هغه عناصرو په هسته کې چې د نیترونونو شمیر یي زیات وي د درونو هستولرونکو عناصرو په نومونو یادیږي ، لکه یورانیم او نور چې زیاته انرژي په کې ذخیره او دانرژي د منابعو په حیث د سولئیزو او نظامي اهدافو په منظور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې سمه او ناسمه ګټه ترې اخستل کيږي. په عادي حالت کې يو اځې د هايدروجن په هسته کې چې يو پروتون لري ،نيترون وجود نه لري .خو په درنو اوبو کې د هايدروجن په هسته کې هم يو يا دوه پروتونه وجود لري.

زه خپل دغه بحث د يوې داسې سمبوليکي زماني يا پروسوي مقطع څخه شروع کوم ، کله چې د اتم په تشکل سره لومړي عنصر تشکيل شوي او د عالم الاسباب د لومړۍ خښتې په کښيښودو د خدای د مقضي ارادې له مخې د لوی جهان د لوی نظام خود بقاء ، خود کفاء او خود ګردانه پروسه پيل او پروتونونه او الکترونونه په نظام کې راغلل او نيترون د نا بللی ميلمه په څير د اتم په هسته کې کوربه وګرځيده او هستی په مختلفو بڼو او مادي واحدونو کې د لومړي ځل لپاره استقرار پيدا کړ . همدغه دي ددی لوی جهان ، لوی نظام او لوی خلقت ( عالم الاسباب ) د تکوين راز چې د

خدای (ج) د عالم آمر د «کن فيکون» د حکم په صدور په لحظوي شکل سرته رسيدلي دي. د خدای (ج ) د عالم آمر په دغه راز چې څه ډول الکترونونه او پروتونونه په نظام کې راغلل او په قانونمند علمي ډول د عالم الاسباب د خود ګردانه ،خود کفاء او خود بقاء نظام د خلقتونو او پديدو د پيدايښت ،پايښت ،بدلون او تکامل بنياد يو اځې په علمي قانونمنده بڼه کښيښودل شو . هو ! دغه اعجاز يو اځې د مختلفو اتمونو او يا په بل عبارت د مختلفو عناصرو د تشکل د تسلسل په بنياد چې نن يي د

مندليف په جدول کې شمير ۱۱۸ ته رسيدلي او لومړي عنصر يې هايدروجن «Hydrogen» او وروستي عنصر يې اُ



نونوکتيوم «Ununuctium» نوميږي.

دغه عناصر د خدای د کلام د حکم سره سم له يو څخه ،يعنی چی يو پروتون او يو الکترون لري ، شروع او د جفت او طاق په ترتيب چې هيڅ تکرار او تنقيص په کې وجود نه لري نن ورځ چې يې شمير ۱۱۸ عناصرو ته رسيدلي او په راتلونکي کې به لا دغه جدول تکميليږي . د دغه عناصرو څخه ځيني د لابراتوار په شرايطو کې هم ترلاسه شويدي. د الکترونونو او پروتونونو شمير لکه چې د مخه هم وويل شول ، هميشه مساوي او الکترونونه په ټاکلو مدارونو کې د هستې ،چې د الکترونونو په تعداد پروتونونه لري ،ګرد چاپير چورلي. په مدارونو کې د الکترونونو اعظمي شمير د « 2n2 » د فورمول له مخې معلوميدلې شي. پدې معنا چې په لومړي مدار کې اعظمی تر دوه ، دوهم مدار کې اعظمی اته ، دريم مدار کې ۱۸ او ددې څخه پورته د لوړې انرژۍ په مدارونو کې د الکترونونو شمير د پورتني فورمول مطابق نور هم لوړيږي. کله چې د کمې انرژۍ په مدار کې حد اقل د يوه کوانت د کوچني واحد يعني د يوه فوتون په اندازه انرژي زياتيږي ، الکترون د ټيټ مدار څخه لوړ مدار ته خيز وهي او که دغه انرژي نوره هم زياتيږي ،کيدلې شي الکترون د اتم د مدارونو له ساحې څخه ووځي. برخلاف که د الکترون انرژي د يوه فوتون په اندازه کميږي الکترون له لوړ مدار څخه ټيټ مدار ته رالويږي. دا محاسبې د «کوانت ميخانيک» د قوانينو له مخې سرته رسيږي چې د عادي فزيکی قوانينو څخه فرق لري. په واقعيت کې الکترونونه هميشه د مختلفو هستو تر منځ په حرکت کې وي او د هغوی تر منځ يو ډول وريځ جوړوي چې د الکترونی وريځ په نامه ياديږي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـه چـې د لیکلـو وړ دي، مـشکله او اصـلاً ممکنـه نـه ده چـې ولیکـل شـي. دا یـوازې د خـدای مُعجـز کـلام دي چـې پـه دوه کلمـو سـره د جهـان د ټولـو قانونمنـدیو او جوړښـت ارزونـه افـاده کـولې شـي. محتـرم لوسـتونکي دې زمـا بیوسـي او تقـصیر، چـې حتمـاً بـه را څخه په دغه اباده کې سر وهي

، پـه دې هکلـه ومنـي. خـو زه بـه حتمـاً هڅـه وکـړم پـه خپلـو محـدودو امکانـاتو سـره ددغـه دوه کلمـه اي ایـة شـریف اعجـاز وارزوم. ایـا دا بـه کـافي نـه وي کـه ووایـم اتـم چـې ددغـه کـلام د کـوچني عبـارت د افـادې پـه بنیـاد د عـالم الاسـباب د لمـړی خـښتې پـه حیـث عـرض وجـود کـړې، هغـه جنراتـور دې چـې ددې لـوی جهـان پـه کچـه کـافي ضـروري انـرژي تولیـدوي؟ اتـم هغـه اکمـولاتـوردې چـې ددې لـوی جهـان ټولـه انـرژي پـه کـې ذخیـره ده؟ دا بـه کـافی نـه وي کـه ووایـم چـې، د اتـم پـه تـشکل سـره د مختلفـو عناصـرو د اتمونـو تـر مـنځ د رابطـو لـه مخـې د خـدای پـه مقـضی اراده د «ویلانـس» قـانون رامنځتـه کیـږي او د هغـی پـه بنیـاد ددې لـوی جهـانی نظـام ابـدي تکـوین خـود ګردانـه، خـود کفـاء، خود بقـاء پروسـه پیـل کیـږي او دا لـوی نظـام ابـدي تړلـی پـاتی کیـږي او د بـې شمیره خلقتونو د تخلیق سبب او علت و معلول جوړیږي.

هـو! بیـا هـم د اتـم د تـشکل پـه بـاره کـې، یعنـي چـې د خـدای د عـالم آمـر د «کـن فیکـون» د حکـم پـه صـدور د اتـم پـه تـشکل سـره د عـالم الاسـباب خـود ګردانـه، خـود کفـاء او خـود بقـاء نظـام تـشکل پیـدا کـړ. ولـي خـود ګردانـه، خـود کفـاء او خـود بقـاء؟ او پـه پـه څـه ډول؟ غواړم په همدې باره کې څه نا څه تم شم.

د مخـه مـا د اتـم د هـستې او د هغـې پـه ګـرد چاپېره مـدارونو کـې د مـساوي تعـداد چـور لیـدونکو الکترونونـو خبـره یـاده کـړه چـې د



یـوه ټـاکلي قانونمنـد فورمـول لـه مخـې تنظیمیـږي یـاده کـړه. ددغـه فورمـول لـه مخـې، هغـه اتمونـه چـې پـه اخـري مـدار کـې کـم اتمونـه ولـري، چـې اکثـراً فلـزات دغـه ډول خـواص لـري، هڅـه کـوي دغـه کـم تعـداد اتمونـه لـه لاسـه ورکـړي او خپـل اخـري مـدار پـه بـشپړ حالـت کـې وسـاتي، یعنـي چـې پـه خپـل اخـري مـدار کـې پـوره اتمونـه ولـري، ځکـه دا ورتـه مناسـبه او غـوره معلـو میـږي. هغـه اتمونـه چـې پـه خپـل اخـري مـدار کـې د الکترونونـو کـم کمبـود لـري او اکثـراً غیـر فلـزات دا ډول خـواص لـري خپـل دغـه کمبـود لـه بـل اتـم څخـه، یعنـي فلزاتـو پـور واخلـي. همدلتـه د مختلفـو اتمونـو او یـا ښـه بـه داوي، وویـل شـي د مختلفـو عناصـرو تـر مـنځ د ارتبـاط او اړیکـو وسـایل او یـا پـه بلـه معنـا علـت او معلـول رامنځتـه کیـږي. دا ارتبـاط او علـت و معلـول دغـه اړیکـي قانونمنـده بڼـه لـري او د کیمیـا پـه علـم کـې ورتـه د ویلانـس قـانون ویـل کیـږي چـې د خـدای د مقـضي ارادې او عـالم آمـر د «کـن فیکـون» د حکـم لـه مخـې د عـالم الاسـباب د خـود ګردانـه، خـود کفـاء او خـود بقـاء د لـوی جهاني نظام د تکوین علت او معلول او عامل

جـوړیږي. ددغـه پروسـې بعـدي دوام، او بقـاء بـه څـه ډول وي؟ د ویلانـس د دوه اړرخیـزو او څـواړخیزو قانونمنـدو اړیکـو د بنـسټ تیـره څرنګـه چـې، د متقـابلو اړخونـو پـه مـشترک رغبـت، ګـډه غوښـتنه او شـریکو ګټـو ولاړه ده، ځکـه ددې لـوی جهـاني تکـوین پـه پروسـه کـې د خـود ګردانـه، خـود کفـاء او خـود بقـاء سراسري قـانون پـه حیـث پایـداره پـاتې شـوې دي. پـه همدغـه بنیـاد د مختلفـو عناصـرو د ترکیب، تجزیـي او بـې شـمیره نـورو قـایم بالـذات خودګردانـه، خـود کفـاء او خـود بقـاء پروسـو، قانونمنـدیو، نظـامونو، پدیـدو، خلقتونـو، مـادي واحـدونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په کل کې ددې لوی ،واحد ،پایداره ،ابدي قانونمند جهاني نظام سبب ګرځیدلې او دا کار اصلاً د خدای په مقضي ارادې سره قایم بالذات ګرځیدلی دی . سره ددې چې په دې باره کې زه ځان لپاره دزیات او ژور بحث حق او صلاحیت قایل نه یم ، خو بیا هم که پوهان او راتلونکي نسلونه دا ګستاخي بولي یایو ډول جرئت ، ما دغه بحث حتی الوسع د موجوده منل شوو علمي قوانینو ،متودولوژۍ ،اصولو او نورماتیفونو په بنیاد ،چې د کیفیت او ابعادو ارزونه او قضاوت بیا هم په محترمو پوهانو پورې اړه لري ، پیل کړې او غواړم ووایم چې ټول عیني او ذهني شرایط ، امکانات او ننني وضعه همدا نن په دې باره کې د پریکړنده تصمیمونود نیولو حکم کوي او که سبا ته پاتې شوه نو ددې ځمکې د اوسیدونکو لپاره فکر نه کوم دغه چانس بیا په لاس ورشي. ځکه ځیني بې مسؤلیته انسانانو په پټو سترګو د حماقت او جهالت لارغوره کړې او په ډیره چټکۍ سره نړۍ او نړۍ وال د نابودۍ ګندې ته کشوي.

زما په عقیده داتم او عنصر تشکل د عالم الاسباب د تکوین او د ټولو پدیدو او خلقتونو د پیدایښت په پروسه کې دخدای د مقضی الامر ارادې او تصمیم ستره بیلګه ګڼل کیږي او د عالم ذات او عالم الاسباب ، دخالق او مخلوق تر منځ ټولې رابطې ، همغسې لکه چې مونږ د شپږم حس که د شعور او لاشعور ددیالکتیک ، مقضي او مقدرې ارادې او ځیني نورو مسایلو کې پرې بحثونه وکړل ، د جهان په دې ستره تکویني عظیمه پروسه کې لا دقیق او په زړه پورې مناسبات او رابطې مینځته راوړي. ... 



مختلفو پدیدو او خلقتونو د تکوین او مناسبتونو په باره کې لنډ بحث وکړم.

دمخه مونږ د مختلفو اتمونو او عناصرو تر منځ د الکترونونو د راکړې ورکړې په نتیجه کې د ویلانس قانون او باالنتیجه د عناصرو د ترکیب او تجزیې او یا په بل عبارت د مختلفو پدیدو او خلقتونو د تکوین او دیالکتیک پروسه پیل کیږي. یوائې د خدای په کلام کې په لنډو عباراتو سره کیدلې شي داسې ژور او بې شمیره دقیق مناسبات افاده شي. انساني شعور او پوهه یې اول ددرک او پوهې څخه عاجزه ده او له بلې خوا دومره بې شمېره هر اړخیزه قانونمند اړیکې د بشري علمي امکاناتو په واسطه نه افاده کیدلې او نه ترې لازم نتایج او پایلې تر لاسه کولې شي، خوله شمېره وتلې نمونې یې په خپل چاپیریال کې عملاً لیدلې شو . د همدغه اتم د تشکل د اساس په قبلولو سره مونږ وینو او دمخه مونږ دې خبرې ته اشاره هم وکړه چې اتم په هسته کې د پروتونونو دمثبت او دهغې ګردچاپیر دچور لیدونکو الکترونونو د منفي چارج په لرلو سره د یوه جنراتور حیثیت لري او برق تولیدیږي. هر برقي جریان خپل شاوخوا مقناطیسي ساحه جوړوي او الکترو مقناطیسي امواج په هر لوري خپریږي ،ځانګړي قوانین لري او پخپل مسیر کې هم پخپله او هم نور موجودات متأثر کوي ، نوي حرکتونه ،انرژۍ او قانونمندۍ رامنځته کوي او دغه ځنځیري پروسه تر ابده دوام پیدا کوي.

د خدای په علم کې له خورا کوچنۍ ذرې څخه نیولې تر ډیرو لیرې لویو اسماني کتلو پورې په پوره دقیق نظام کې واقع دي او خورا کوچنې حرکت او بدلون یې تر شا قانونمندې نخښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښاني پرېږدي او بې پله نه شي ورکیدلې. دغه نظام هم د اتم له تشکل څخه پیل کیږي او ټولې دغه پروسې هم په ځنځیري متداخل شکل دوام پیداکوي اویو تر بله سره په متقابله انګیزه او زیږنده بدلیږي. د اتم په تشکل سره همداسې د هستې او ګرد چاپیر چورلیدونکو الکترونونو تر منځ د کشش او فرار قوي منځته راځي او دهغې په نتیجه کې پخپله اتم مشخص اوځانګړې وضعیت ، شکل او صورت اختیاروي. ددغه شکل او صورت په عوض چې افلاطون ،ارسطو ،کانت ، دکارت ، هګل او نورو په غلطه اویا اشتباهاً د هر جسم او مادي واحد خارجي شکل منلی ووما مفصل بحثونه کړي او فکر کوم لازم وضاحت شویدي. ما دغه شکل او صورت د هر عنصر او مادي واحد داخلي جوړښت ګڼلې چې ددې لوی جهان دا لوی ابدي نظام پرې برقراره پاتې او دهر ډول تعامل او متقابلو متضمن هم ګڼل کیږي. د اتم تشکل همداسې د مختلفو ډولونو انرژۍ لکه حرکي ، پوتنسیال ، برقي ،مقناطیسي ، ذروي اونوروانرژیو ، حرکتونو په موڵد ، اکومولاتور او جنراتور بدلیږي او اړونده قانونمندۍ ایجادوي.د اتم په تشکل سره دویلانس د قانون په بنیاد د الکترونونو د تبادلې په نتیجه کې ، هر ترکیب اوتجزیه هم پخپله مؤلد د ډول ډول انرژۍ او اړونده قانونمندیو ګڼل کیږي او مختلفې ترکیبي ، تعاملاتي پروسې چې په خپل نوبت ، کمیت او کیفیت سره مختلفې ساحې لکه میخانیکي ، فزیو لوژیکي ، بیو لوژیکي ،هوا ،اوبه ،نور ،ساحه ،تشعشعات ، .. . او نور چې دځانګړو قوانینو اوعلومو په اصولو سره څیړل کیږي ،جوړوي. داتم له تشکل، چې مونږ په خپل سمبولیک ډول سره غوره کړې ،څخه نیولي دکهکشانونو تر تشکل پورې



خدای د خپلې مقضی الامر ارادې له مخې ټول نظامونه په کل او جزکې مشخص ،مقضي او مقدر ګرځولي دې .

هر څوک پخپل آند او امکاناتو سره د اتم په بنیاد د خدای د لوی جهان او لایتناهي خلقتونو د ایجاد د اعجاز اټکل او تصور کولې شي چې یوائې د خدای د لوی علم له مخې تحقق پیدا کوي او د «کن فیکون» د حکم په صدور د خود ګردانه ،خود کفاء او خود بقاء نظام په حیث ابدي پایښت مومي . که چیرې مونږ دغه نظام د خدای د خلف انسان دنیایي نظام سره پرتله کړو ،چې په ټولو کائناتو کې د خورا ښکلې او دسترو بې حسابه نعمتونو او هر ډول ګټورو زیرمو څخه ډکه ځمکه یې زمونږ په واک کې راکړې ، څه مو پرې کړي او څه پرې کول غواړو ،په یوڅه تعمق او تأمل سره مو کولې شول پخپله او بې له شکه د خدایي نظام په اعجاز او عظمت او د خدای د ذات په حقانیت او رښتینولۍ باور او ایمان پیدا کړو. مونږ څه ډول ځانونه د خپل خدای خلیفه ګڼلې شو ،کله چې خدای په ټولو امکاناتو سره چې مونږ ته د خپلو ځانونو او خپلې نړۍ د ساتنې په خاطر راکړي او په خپل رحم وکرم هم د قضا او قدر د قانون له مخې دهغې حفاظت کوي ، مونږ پرته له تخریبه او یو بل وژنې څخه بله لاره نه ده غوره کړې. حال داچې انسانان کولې شي دانسانانو په حیث خپل منځي انساني ژوند کول غوره کړي. خدای دا جهان او د هغه ټول خلقتونه قانونمند پیدا کړي دي. په دې جهان کې هیڅ بدلون نه شي راتلای ، مګر یوائې د قانون له مخې.نو ولې انسانان په دې نړۍ کې ، سره ددې چې د ټولو چارو د سمون لپاره قوانین وضع کړي ، لکن اعمال یې ټول یوائې غیر قانوني دي ، نو ځکه یې پایلې هم یوائې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخريبي بڼه لري. دمخه مونږ د سورة انفال په ۲۴ اية کې ولوستل چې خدای خپل دين، يعنې قانونمندي او قانونمند عمل د انسان او په حقيقت کې د ټولو خلقتونو لپاره حيات ګڼلې دی يعنې چې يوائې له دغه طريقه ژوند کولې شي او ژوندې پاتې کيدلې شي. «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ج» (ترجمه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړيدې حکم منئ تاسې «خاص» د الله او درسول «د الله». کله جې وبولي تاسې لپاره دهغه کار چې ژوندي کوي تاسې «په دنيوي او اخروي ژوندون سره» نوځکه د انسانانو هر غير قانونمند عمل او کردار هم د ځان او د نورو لپاره ځاني او مالي زيان ګڼل کيږي او تر اوسه پورې په کومه طريقه او روش چې انسانانو خپل ژوند او مناسبات اختيار کړي، هميشه په خسران کې وو او نه يې کله هم له دغه لارې د خوشبختۍ کوم چانس په ستر ګو کيدلې شي. په هم دې خاطر د خدای په علم او د خدای په نظام کې ځيني بنيادي عام تنظيموونکي قوانين لکه «قضاء او قدر»، «تعادل»، «توازن»، «تناسب»، «وراثت»، ... وجود لري چې فرعي او موضيعي قوانين بايد په کلکه د هغې سره مطابقت ولري او په حقيقت کې ددې لوی جهان د لوی نظام د حفاظت او حراست ضامن او سر غړوونکي په همدې دنيا په هر ډول عذاب او بد بختۍ مبتلا کولې شي.

زه نه غواړم دغه مسايل د تخنيکي مثالونو او ناقصه او ضعيفو دلايلو په راوړلو سره لکه چې تر اوسه داکار شوې، په غامضه، مغلقه او جړه مشوره او يا دلارې د سر په فلسفي بحثونو او سفسطو بدل کړم. ښه به داوې چې ماد عالم الاسباب



د تشکل علمي منطقي فرضيي ته په همدې ځای د پای ټکې ايښې وې؟ ځکه کوم ستر بنيادي انقلاب چې د «کن فيکون» دآمر په صدور سره رامنځته شوې او نن زمونږ په وړاندې دلوی حقيقت په حيث وجود لري، يوائې الله (ج) پرې علم لري او بشر د هغې د کامل معرفت څخه د هميش لپاره عاجز دی. خو دا هم عام هر انساني خصلت او کرکتر دې، چې د خپل فهم او درک اخري خبره او نظر اظهار او د خپل امکان اخري عمل عملي کړي. خو اميد دې چې زه په خپله دغه هڅه کې، لکه چې پخوا له ما څخه نور په دغه مرض اخته کسان، دناوړه پايلو او پريکړو سره مخامخ شوي وو، مخامخ نه شم.

د هرې پديدي او خلقت په تکوين او ايجاد کې بې شميره عوامل تأثير او اغيزه لري، خو د بشري امکاناتو، اقتصادي ملحوظاتو او ځيني نوروعواملو له مخې کيدلې شي يوائې ځيني انګيزي او تأثرات په نظر کې ونيول شي، نو ځکه خو ممکنه نه ده بشريت دا لوی جهان دلوی حقيقت په توګه په ټوله معنا او ماهيت سره وپيژندلې شي او معرفت پرې حاصل کړي، بلکه يوائې د خارق العاده خلقتونو او پديدو له مخې کولې شي په خپل خدای يقين او باور ولري. لکه چې يو شاعر وايي

برګ درختان سبز ،در نظر هوشيار
هرورقی دفتريست معرفت کردګار

مونږ د الله (ج) د معرفت په خاطر د هرې شنې پاڼې د کلوروفيل په حجره کې د بې شميره مختلف النوع، او په کمي او کيفي لحاظ د بې ساري غذايي نعمتونو د ايجاد په محاسبه کې يوائې زمونږ د شمسي نظام دلمر د فوتونونو تأثيرات چې له مونږ څخه ۱۵۰ مليونه کيلو متره ليري دې، په نظر کې نيسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



. حال دا چې ،ددغه زيرمو د ايجاد په پروسه نه يوائې زمونږ دکهکشان ۱۰۰ مليارده نور لمرونه تأثير لرلې شي ،بلکه د خورا ډيرو نورو کهکشانونو د لمرونو تأثيرات به هم بې تآثيره نه وي خو مونږ هغه په خپلو محاسبو کي په نظر کي نه نيسو . په دې جهان کې د ذرې څخه نيولي تر لويو سماوي اجرامو پورې هر يو خپل خپل ځای او تاثير لري او دهغې تاثير يوائې په لويوالي او کوچنيوالي او نژديوالي يا لريوالي پورې اړه نه لري او که ويي لري يوائې خدای پرې پوهيږي او د انسان لپاره يي تفکيک او تميز مشکل دې .

ما په وار وار دمخه يادونه کړې چې په دې جهان کې د غذايي او انرژيتيکي زيرمو اندازې زمونږ په شعوري امکاناتو او محاسبو سره نه شي افاده کيدلې او نه زمونږ په تصور کې ځائيد لې او نه يي کچه تعينيد لې شي. که يوائې په کمه کچه هم د اتمونو جوړښت رنګ او الکترونونه ،پروتونونه او نيترونونه ازاد شي ،په رښتيا بلا تشبيه قيامت جوړولې شي او ځومره انرژي توليدولي چې غرونه به يي په اسانۍ په مقابل کې تاب او مقاومت ونه شي لرلې. مونږ د الله(ج) د دوه کلمه يي کلام څخه دا هم وپوهيدو ،دغه عناصر چې ټول کائن عالم الاسباب ترې متشکل دي په څه سادګۍ د الکترونونو ،پروتونونو او نيترونونو څخه ديو څه عددي تفاوتونو او تناسبونو له مخې په بې شمېره کمي او کيفي مختلف النوع خلقتونو او پديدو بدليدلي شي. همدا او س مونږ شاهد يو چې ځيني ددغه عناصرو څخه د لابراتوارونو په شرايطو او امکاناتو کي ترلاسه شويدي. نود قديمی کيميا ګرانو هغه تصور او فنتازی چی ګوندی په خپلو بټيو کی يی طلا ترلاسه



کوله او س په عملی واقعيت بدليدلې شي. کله چې مختلف عناصر ددې لارې تر لاسه کولې شو او دهمدغه عناصرو څخه په ډيره سادګۍ مختلف مرکبات ،د ښباک ،خوراک ،پوشاک توکي ، عضوی ،غير عضوی مواد ، تيزابونه ، القلی ، کاربوهايدريدونه ... او نور او نور هم په طبيعی او هم په لابراتواری طريقه تر لاسه کيږي، دا هرڅه د خدايي سخاوتمندانه نعماتو وفور او نورو ټولو امکاناتو څخه پرته نور څه ګڼل کيدې شی ؟

هر انسان پدې لوی جهان کې د خدای د لايتناهي خلقتونو د موجوديت اټکل کولې شي .مونږ محض د يوه تذکر په حيث دمخه ددغه جهان او خلقتونو عظمت او کمي او کيفي ابعادو ته اشارې کړيدي او په دې رساله کې مو دا هم وويل چې څه ډول د اتم په تشکل سره په ټاکلي ابدي خود کفاء ، خود بقاء قايم با الذات داسې يوه نظام کې راغلل چې هر مادي واحد ،ددې لوی جهان څخه نيولې تر خورا کوچنۍ ذرې پورې، په کل او جز کې د خپل ذاتي داخلي تشکل او صورت په بنياد په خپل ځانګړي جوړښت سره پايښت لري او هر بدلون او حرکت يي يوائې دخدای د علم او ارادې له مخې ممکن دې. دغه نظام نه يوائې په کل او جز کې ابدي پايي ، بلکه ابدي حرکت کوي ، ژوند کوي ، فکر کوي ، احساس لري ، درک لري ،شعور لري ، دښه او بد تميز لري ،متقابل با المثل عکس العمل لري ، يعني چې د خدای د مقضي ارادې له مخې هر څه لري. مونږ وينو چې د زمانو وربې د يوې مړې ډوډۍ په تر لاسه کولو او خوړلو سره مړيږي.يو وحشي حيوان چې په ډير مشکل سره خپل ښکار تر لاسه کوي ،د خپلې زرۍ له خوړلو څخه وروسته ، پاتې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاته پريږدي چې د ښکار توان ونه لري. څه ډول دغه د مړښت احساس او درک رامنځته کيږي؟ حتا همدغه حيوانات، الوتونکي او خزندې د مورنۍ، پلرنۍ، وررولۍ، نوع او جنس په کچه يو تر بله مينه، محبت، عشق، شهوت او دخواخوږۍ احساسات او مناسبات او يا ددښمنۍ له مخې بغض، کينه او حسادتونه او ورسره شرم او حيا هم لري او دغه دود او دستور په کلکه مراعا توي. عجيبه داده يو وحشي حيوان د مړښت، مورنۍ ميني او يا ددښمن په مقابل کې دنفرت او کرکې حسادت لري. نو دا ځيني انسانان او که دقيق ووايم ولې دا زمونږ ځيني هيواد وال نه دمورنۍ، نه دوطنۍ ميني، نه د مړښت احساس کوي او نه په وجود کې کومه د غيرت حجره ورپاتې ده چې د هيواد او هيواد والو د دښمنانو په مقابل کې يې د کرکې او نفرت احساس راوپاروي. حال داچې همدغه احساسات او مناسبات په همدغه وحشي حيواناتو، الوتونکو او خزندو کې د ټولنيزګډ ژوند، هڅو او عمل ختڼه برابروي او يو تربله د همدردۍ، همکارۍ او د مشترک ټاټوبي، چاپيريال او وطن څخه ددفاع او فداکارۍ په علايقو او اړيکو بدليږي او په نتيجه کې د ننني بشري او عام خلقتي ژوندروبنايي او زير بنايي منځپانګه جوړوي.

په دغه ډول زما په عقيده د خدای د مقضي ارادې له مخې عالم الاسباب او ورسره مادي او معنوي ژوند تشکل موندلې او د معينو اصولو او قوانينو په بنياد دوام پيدا کوي. په دې مسايلو باندې بحثونه هيڅکله هم پای نه لري، نو ځکه ما تش ګوته ورته ونيوله او د پای ټکې به ورته کښيږدم، او که ضرورت پيښ شيده بيا به ور ګرځو.



دمخه مونږ دې خبرې ته هم اشاره وکړه چې هر اتم غواړی په خپل اخری مدار کی پوره تعداد الکترونونه ولری، ترڅو په اصطلاح خپله قلعه يی وتړل شی او مستقل او بی نيازه شی. ددی کار لپاره هر اتم چی په خپل اخری مدار کی کم الکترونونه ولری، هڅه کوی هغه له لاسه ورکړی او که په اخری مدار کی، کم تعداد کمبود ولری، غواړی له بل څخه يی واخلی. هغه عناصر چی داخری مدار الکترونونه يی پوره اوسی نيترال پسيف حالت کی قرار لری، لکه ارګون «Ar» او نور نجيبه غازات چی د ترکيب پروسه يی ډيره بطی ده او حتا د ترکيب علاقمند نه دی. د معين کاتالست دموجوديت په صورت کی کيدلی شی دغه بطی تعاملات کافی سرعت پيدا کړی. د همدغه علاقمندۍ له مخی د ويلانس قانون رامنځته او دهغی په بنياد د اتمونو د دوه اړخيزو او څو اړخيزو اړيکو له مخی ماليکولونه تشکل پيدا کوی او د مختلفو عناصرو د ترکيب او تجزيي خود ګردانه پروسه پيل او د بی شميره خلقتونو او پديدو د خلقت له لاری د ټولو عناصرو تر منځ د راکړی ورکړی، مناسبت او ارتبات په قانون بدليږی. ځيني عناصر دومره ناپايداره دي چې د خپل اتمي تشکل په بڼه نه پيدا کيږي او پخپل ذاتي ماليکولي جوړښت بدليږي او ځيني نور د نورو عناصرو سره دوه اړښيزه او څو اړخيزه ماليکولي جوړښتونه جوړوي. ټول مرکبات د ماليکولي جوړښتونو له لارې رامنځته کيږي او تجزيه يې هم په همدغه کچه او جوړښتونو له لارې رامنځته کيدلې شي، او داځکه چې يواځې ماليکولي جوړښتونه دي چې فزيکي، کيمياوي او يا بل هر ډول خواص لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضایا او مسایل په دې ډول ډیر زیات مطرح کیدلې شي د مثال په ډول ،د هر یوه ځانګړی عنصر په کتله کی څرنګه چی دویلانس قانون وجود نه لری او خصوصاً په فلزاتو کی چی مالیکولی تشکل نه لری ،څه ډول لویې کتلې ترلی پاتی کیږی ؟ په دی صورت کی د دوه ډوله نورو قواوو د پیداکیدو امکان شته:

ـــ فلزات معمولاً اتمونه له لاسه ورکوی ،نو ځکه مثبت چارج لری. غیر فلزات الکترونونه اخلی او منفی چارج پیداکوی. د بلی خوا د برقی چارج په پیداکیدو سره مقناطیسی ساحه ایجادیږی او په دی دواړو صورتونو کی د جاذبی قوه منځ ته راځی او اتمونه یو تر بله سره جذبوی او لویی کتلی ترلی پاتی کیږی .

ـــ کله چی می دغه مسًله د ډاکټر فضل الربی ساپی سره شریکه کړه ،هغه په توضیحی ډول وویل: « معمولاً الکترونونه همیشه د حرکت په حالت کی وی او د پنجری (Gitter ) » په څیر پروتونونه یعنی اساسی کتله او بدنه ( Rumpf ) په خپله الکترونی پنجره کی ساتی . په فلزاتو کی مالیکولی جوړښتونه وجود نه لری ». ځینی فلزات او غازات په خپل منځ کی مالیکولی تعامل کوی او کریستالی جوړښتونه جوړوی ،لکه سوډیم ( Na) او کلورین ( Cl ) چی د مالګی کریستال جوړوی. الماس چی هم د کاربن خاص کریستالی جنس دی لوی ارزش یی د هرڅه څخه د مخه دهغه د بی ساری مالیکولی جوړښت پوری اړه لری. د ۲۰۰۹ م کال د دسمبر د میاشتی په یوه تلویزونی راپورتاژ کی یی وښوده چی یوه تور زلمی په افریقا کی ، نپوهیږم له څومره ژوروالی څخه یو رنګه الماس راوکیښ



چی د څیړنو له مخی یی دری (۳ )ملیارده کاله عمر درلود .

همغسی چی حجروی جوړښتونه په حیواناتو او نباتاتو کی یو تر بله سره فرق لری مختلف مالیکولی جوړشتونه هم هیڅکله یو شان نه وی. کله چی مونږ د جهانی جوړښت، مختلفو خلقتونو او پدیدو شکل ،صورت او بڼی مفهوم افاده کوو هدف مو همدغه مالیکولی او حجروی جوړښت دي.د موادو کیفیت او مقاومت په زیاته کچه په مالیکولی جوړښت او ځینی نورو خصوصیاتو پوری اړه لری. همدغه جوړښتونه او اوصاف موادو ته د حرارت ، فشار او نورو انرژیتیکی قواوو مقاومتی تفاوتونو په مقابل کی الستیکی قابلیت ورکوی او له بلی خوا کوچنیو واحدونو لکه بکتیریااوو ،مکروبونو ، ویروسونو او نورو ته د استوګنی امکانات ؛ کوچنیو ذراتو ،حرارتی ، الکترو مقناطیسی ،جاذبی او نورو ډول ډول امواجو او تشعشعاتو لپاره د عبور و مرور ، تاثیر او تأثر ،معلوماتو د تبادلی او ضروری راکړی ورکړی شرایط ؛د مختلفو غازاتو په واسطه د موادو د تهویی او د یوتر بله سره د تعامل ، ترکیب او تجزیی او ډیر نور لازم وسایل او شرایط برابروی. له بده مرغه لکه چې د مخه هم ورته اشاره شوې ،دغه مفهوم او اصل د فلسفی د ظهور د همغه لومړی ورځی او یا په بل عبارت کله چی افلاطون ،ارسطو ،کانت ، دکارت او یا دهغوی څخه د مخه یا وروسته نورو فیلسوفانو په دغه باره کی خپل نظر او عقیده نا سمه او په غلطه، افاده او تعبیر کړی ، یعنی چی شکل ، بڼه او صورت یی د شی د خارجی جوړښت د شکل په صفت منلی ، تر اوسه پوری هم همدغه غلط تعبیرونه پرځای پاتی دی.د کارت چی د قوی ذهن څښتن او د هندسې لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبتکر وو ، باید د هندسي ارزش په ارزښت په پوهیدلي وي. زما په عقیده دغه ارزش په داخلي هندسي جوړښت یعني مالیکولي هندسي جوړښت پورې اړه لري ، نه د جسم په خارجي هندسي جوړښت پورې. خارجي جسمي هندسي جوړښتونه چې کوم ارزش لري ، هغه هم د همغه داخلي مالیکولي با کیفیته جوړښت په اعتبار دي ، کوم یو چې د زیاتې قوي برداشت او مقاومت کولې شي. د کارت د هندسې د قهرمان په حیث نه یواځې د دغه ارزش په ماهیت نه وو پوه شوی او دیوه ستر ارزش په حیث یې ترې دفاع نده کړې شوي ، برخلاف د دغه ټولو مادي ارزشونو په رنګولو پسې یې ملا وتړله او ټوله اتکاء یې په خپله تحلیلي هندسه او د هغې په متماتیکي فورمولبندیو او افادو باندې وکړه او غوښتل یې چې ټول مادي ارزشونه د هندسې څخه محو او هندسه د ټولو علومو لپاره په واحد مشترک مخرج او بنیاد باندې بدله کړي . حال دا چې متماتیک بالذاتهِ قانونمندي نه ده ، بلکه د هندسي اشکالو له مخې د هغې دِ مادي محتوا مقاومتي او نور خصوصیات او یا په فزیکي ،بیولوژیکي ،فیزیولوژیکي، هایدرودینامیکي ، ترمودینامیکي ،آیرودینامیکي ، تشعشعاتو ،ذراتو او نورو حرکتونو د قانومندیو د افادې ژبه او طریقه ده.

عناصر د حرارت په عادي درجو کې معمولاً د جامد ،مایع او غاز په حالت او د ماهیت او کیفیت له مخې د فلزات ،غیر فلزات او غازاتو په بڼه پیدا کیږي. د مخه مونږ وویل چې د اتمي ویلانس د قانون له مخې د مالیکولي تشکل له لارې د مختلفو عناصرو کیمیاوي مرکبات جوړیږي او اتم که د ځانګړي عنصر د ځانګړو خواصو درلودونکې دې، مالیکول د مرکب په کچه د



هغې د کیمیاوي او نورو خواص لري او همدغه ویلانسي علاقمندي او ارتباطات د لویو کتلو او بالاخره د دې لوی جهان د تکوین سبب ګرځي. په دې ډول د خدای په مقضي اراده د ویلانس د قانون له مخې په مشخص او ټاکلي شکل ځیني مالیکولي مرکبات دي چې د دې لوی جهان ټول خلقتونه او پدیدې ترې متشکل او همدغه مرکبات دي چې د عملي ژوند په مختلفو مواردو کې د استفادې وړ ګرځي. انسانان ،حیوانات او نباتات هم د ټولو عناصرو څخه یواځې د مرکباتو په بڼه استفاده کولې شي. عناصر په طبعیت کې هم یواځې په مرکب او کله ناکله په مخلوط ډول پیدا کیږي او اکثراً په همدغه بڼه د استعمال قابلیت هم لري . په خالص ډول یې هم پیدا کیدل او هم یې استعمال او استفاده د نادراتو څخه ګڼل کیږي.

په پورته ډول مونږ د دین په باره کې خپل نظر د موجوده واقعیتونو او حقیقت له مخې د خپلو انساني امکاناتو ،سعی او تلاش په بنیاد په خورا ساده لفظي منطقي فورمولبندیو سره ،پرته د متماتیکي دیفرنسیالي او انتګرالي محاسبو ، کیمیاوي عضوي ، غیر عضوي او هایدرو کاربوني مغلقو ترکیباتو ، د فزیک د نیوتن د قوې ،کتلې او تعجیل د عام قانون د معادلې ، د انشتین د نسبي تیورۍ د انرژي ،کتلې او د نور د سرعت مناسبتونه او د مکان او سرعت په تناسب د زمان تغیر ، په هایدرولیک او آیرودینامیک کې د برنولي د ستاتیک او دینامیک فشارونو د ثابت پاتی کیدلو عام قانون او ډیر نور په لسګونو او سلګونو ساینسي قوانینو چې حتماً به یې د خدای د کلام د اعجاز څرګند ثبوتي دلایل لا پسې څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library



او واضح کړي وای ،خو مونږ تری د قضیی دڅیړني او فورمولبندۍ داسانتیا اود خپلو محدودو امکاناتواو ناممکناتو له کبله صرف نظر کړیدي. خو دا هیڅکله ددې معنا نه لري چې ګوندې مونږ هم یوائې په پوچو تخیلي او تصوري لفاظیو اکتفا کړې او یا په بل عبارت، په اوبو کې مو لوټه ایښې او دموضوع څخه موپه پټو سترګو قدم اړولې دې. نه ! داسې نه ده. په حقیقت کې زمونږ ددغه ساده لفظي مقولو او فورمولبندیو ترشاټول همدغه غنی قوانین پراته دي او ما داهم کولې شول په خپلو کمو امکاناتو خپلې لفظي مقولي او فورمولبندۍ څه نا څه په متماتیکي ژبه د دموجوده منل شوو قوانینو له مخې افاده کړم ، لکه دمخه په حقیقت کې ، دغه کار په تیرو بحثونو کې ، لکه « فلسفه علم دې ؟» ، « د عینیت او ذهنیت دیالکتیک » ،« شپږم حس که دشعور او لاشعور دیالکتیک » ،«مقضي او مقدره اراده» ، « روح ــ ظهور،بدلون او پایښت یي» او نوروساینسي فورمولبندیو له مخې ، البته بیا هم دموضوع دافادې داسانتیا په خاطر د لفظي منطقي مقولو په قوت هر څه افاده شویدي. (لطفاً تیرو بحثونو ته دی مراجعه وشي ). شک نه شته متماتیکي افادي اسان کار نه دې ،او نه ممکنه ده چې ټولې قضیې پرې افاده شي ، برخلاف کولې شي بحث فوق العاده مغلق کړي.

اوس هم دا بحث ډیر اوږد شو ،خو په اخر کې یو ځل بیا دا وایم چې ،خدا ی هر کار په هر شکل سره چې وغواړي کولې شي ،خو نه یې کوي ، ځکه چې داد خدایي خصلت او صفت په خلاف دي. خدای عالم دې اودا جهان یې د خپلو مخلوقاتو او خپل عالم خلف مخلوق، انسان د معرفت او قانونمندې



منصفانه او عادلانه استفادې لپاره پیدا کړې دې. علم پرته له مستمرې قانونمندۍ او بالاخص په عالم الاسباب کې د انسان لپاره په عمل کې وجود نه لري. نو ځکه یې دا جهان د خپل لوی علم له مخې قانونمند او په لحظوي ستاتیک ،دینامیک بدلون او تکامل کې پیدا کړې دې ، تر څو ابدي پاتې شي. یعنې په دې جهان کې هرڅه په لحظوي بدلون او تکامل کې دي. ددې سره انسان تغیر کوي ،حیوان تغیر کوي ، د انسان علم ،تخنیک او مناسبات تغیر کوي. دخدای دین او شریعت چې ددغه ټولو امورو تنظیموونکې او د هر څه څخه دمخه خورا عام او ایدیال ټولنیز قانون ګڼل کیږي ، لکه څرنګه چې دخدای دین او روح ماهیت تر اوسه ثابت پاتې ، خو شکلاً او په فروعو کې یې تغیر موندلې ، او دخدای په کلام کې هم په اجماع ،اجتهاد ، علم ، منطق او حتا د منسوخو ادیانو سره د کامپرامایز ، روغې جوړې او یوائې د حقیقت په ابلاغ تأکید شوې او زور او جبر مردود ګڼل شوې دې.زما په عقیده په راتلونکې کې هم دخدای دمقضي ارادې او احکامو مطابق روش او سلوک غوره کول پکار دې اوددین عالمان دې په دې باره کې ژوري ارزوني او څیړني وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شېطان

داسې وايي « شېطان هغومره بد شکله نه دې لکه چې رسموي يې»

شېطان عربي کلمه ده. په عربي او ځينې نورو ژبو کې شېطان ته ابليس او عزازيل هم ويل کيږي. ددغه کلمو د بنيادي جرړو ،معنا(مانا ) او مفاهيمو په باره کې ډول ډول او ضد ونقيض نظريات او عقايد وجود لري.څوک دغه کلمات ټول په عربي ژبې پورې مربوط ګڼي. ځينې کسان عزازيل په عبراني او ابليس په عربي پورې تړي ، ځيني ابليس هم عبراني کلمه ګڼي .د شيطان د کلمې په باره کې هم دعلماوو او پوهانو دقيقه موضعګيري او ټاکلې دريز معلوم نه دې. د شيطان د کلمې معنا ، او داچې، په کومې ژبې پورې اړه لري ، هم لا د شک او ترديد څخه ،سپيناوي ته نه ده راوتلې.آيا شېطان خاص او که عام نوم دې ، تر اوسه زه پوره نه پوهېږم او په همدې خاطر مې د بحث موضوع ټاکلې ده. ولې مې پرې لعنت ويلې ځکه چې خداى پرې لعنت ويلې او شېطان چې هر څوک وي بايد هم لعنت پرې وويل شي.

د شيطان کلمه په قرآنکريم کې په مفرد ډول ۷۰ کرته او دجمعې په حالت ۱۸ وارې راغلى ده شوې ده. (المعجم المفهرس الفاظ القرآن الکريم ،ص ۳۸۲، ۳۸۳ ،مؤلف عبد



الباقي ،محمد فواد ) او يا ( شيطان ، ص ، ۲ ،امين الدين سعيدي ) .همداسې د قاضي محمد نسيم امين د يادونې له مخې د شيطان ، شيطانُ ، شيطانِ ،شيطانّ ، کلمو ذکر په قرآنکريم کې ۶۸ وارې ،شيطاناً دوه وارې،شياطين ۱۷ وارې او شياطينهم يو وار ذکر شوېده. داسې وايي چې د شيطان کلمه د «شطن» له کلمې څخه مشتق شوې چې د ليرېوالي او مصافې معنا(مانا ) لري ، او شيطان ته ځکه شيطان ويل شوې ،چې د خداى له فرمان څخه د تمرد په خاطر له حق څخه ليرې پاتې شوې دې او د « شاطن» کلمه د « خبيث او پست» په مانا راغلې ده. )

ځيني کسان په دې عقيده هم دي چې د شيطان کلمه له «شيط »څخه اخستل شوې چې د يوه شي د له منځه تلو معنا لري او لکه څرنګه چې په سورة «ص ، ۷۶ آية» او « الرحمن ، ۱۵ آية» کې يې ذکر شوې چې شيطان د اور (نار )څخه پيدا دې. خو په صورت «کهف ، ۵۰ آية» کې راغلي « فسجدوا الا ابليس کان من الجن» . ترجمه: ټولو ملائکو سجده وکړه ،په غير له شيطان څخه چې له جن څخه وو ، اوداسې هم ويل کيږي چې د ډيرې پرهيزګارۍ له مخې د خداى په مقرب ملائيک تبديل شو خو کله چې آدم(ع) ته په سجده مأمور شو ،تمرد يې وکړ او د خداى له دربار څخه ورټل شو. شيطان له خداى څخه مهلت وغوښت او خداى تر ټاکلې مودې ( دقيامت تر ورځې پورې ) هغه ته مهلت ورکړ.

په قرآنکريم کې دا ذکر هم شوې دې چې د هر پيغمبر لپاره دوه ډوله ، يعنې اِنسي او جني شيطانان مقرر وه . په دغه آية شريف کې د اِنسي شيطان کلمه د جني شيطان له کلمې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه ذکر شوې، چې د اِنسي شيطان دخطر زيات والې د جني شيطان په نسبت په ګوته کوي. دا چې شېطان دمفهوم او يا خاص يا عام موجود په حېث د خدای په کلام کې دومره د توجه او بحث وړ ګرځېدلې او دخپل خدای څخه د مهلت تقاضا کوي او هغه منل کيږي ، رښتيا هم کوم ساده مفهوم او موجود نه معلوميږي !دا خبره کېدلې شي زمونږ د ارزونو په ترڅ کې معلومه او دغه دافهام وتفهيم زړې او رېښه هم بايد د خدای (ج)د کلام په عباراتو کې ولټول شي. نو ځکه ويلې شو ،چې دا ارزونه په عمده ډول د قرآني او ديني عالمانو، چې په خواکې ساينسي پوهه هم ولري او يا بهتره به وي دغه رسالت د قرآني، ديني او ساينسي پوهانو په مشترکه مساعي سره سرته ورسيږي.

د إبليس کلمه ، چې د مأيوس او غمناک په معنا ده په قرآنکريم کې ۱۱ کرته ذکر شوې او همدومره واري د خدای له درباره ،په قرآنکريم کې د شيطان له شره څخه د پناغوښتلوذکر شوې دې. دا هم ويل شوي چې په قرآن کې له دې کلمې څخه مراد ژوندې ،باشعوره،مکلف ، نامرئي او فرېب کاره موجود دې چې د خدای له امره يې سر غړونه وکړه اود خدای له درباره ورټل شو .له دې عبارت څخه معلوميږي چې شېطان د مفهوم او خلقت په حيث کوم خاص ، ځرګند ،او ځانګړې مفهوم او افاده نه ده چې له نظره او توجه پريووځي بلکه سره ددې ،چې خدای له خپل درباره رټلې او لعنت يې برې ويلې ، بيا هم د خدای په دې لوی جهان کې يو ټاکلې تناسب جوړوي ، خپل خدای ته شرطونه او وړانديزونه کوي او منل کيږي هم.

داسې معلوميږي چې رښتيا هم دا جهان په کل او په جز کې



د اضدادو د وحدت او مبارزې په بنياد ، دخدای د مقضی الامر ارادې له مخې ، دهمدغه نظام چې نن په عالم الاسباب کې برقراره دې ، جوړ شوې دې او د سالم ،متعادل ،متناسب او متوازن بهير په خاطر يې عملي ،ضروري شرايط او متناسباً د نېکۍ او بدۍ پاداش ټاکلې دې. د شېطان له مفهوم څخه ، چې پورته پرې بحث وشو ،خو همداسې معلوميږي.

شيطان په قرآنکريم کې ، اکثراً د شيطان په نامه ذکر شوې دې. په قرآنکريم کې بل ځای دا ډول ذکر هم شوې دې (انه يراکم هو و قبيلة من حيث لا ترونهم ) « الاعراف ،اية ،۲۷ »ترجمه: شيطان او قبيله يې تاسې له هغه ځايه ، چې تاسې يې نه وينۍ ، په نظر کې ساتي. بل ځای په قرآن کريم کې داسې راغلي ( ... واجلب عليهم بخيلک و رجلک ) « سورة اسراء ،اية ۶۴ » ترجمه: په ټولو سورو او پياده لښکرو سره يې کلا بند کړی. په همدې ارتباط محترم طبا طبايی په تفسير الميزان کې ليکي: د قرآن عظيم الشان له اياتو نو څخه معلومويږي چې د شيطانانو لښکري په چټکۍ او سستۍ کې يو تر بله سره برابرې نه دي ، ځيني تندې او ځيني سستې دي،او د قرآن دآياتونو په شهادت يې ځيني سواره اوځيني پياده معرفي کړي دي (شېطان ،امين الدين سعيدي ).

د شيطان د خلقت د ضرورت په باره کې ليکل شوي دي چې: شيطان ، دخدای (ج ) په واسطه د انسان دامتحان اوازميښت وسيله ده چې د شر او پليدۍ په لور په خپل لمسون او دعوت سره د انسانانو ماهيت او عزم څرګندوي ،او همدغه تمايل ،ضعف او لغزش ته ، نفس « أماره بالسوء »يا نفس شيطاني ويل کيږي چې انسانان ، هوا ، هوس او ناجايزه کار ته هڅوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،او با لمقابل هغه نفس چې انسان له دغه ډول ناوړه چارواو عمل څخه منع او ساتي ،نفس«لوامه» يا نفس رحماني او سالم وجدان ګڼل کيږي.

دانساني ذات ،روح وجدان اونفس ماهيت او ترکيب په حقيقت کې ، بالذات د لوامه او اماره ديالکتيکي تقابل څخه متشکل،اولکه چې پورته په خدايي کلام کې ،شېطان اوځيني شېطاني قوتونو او انګېزو ته په ځيني مثالونو کې اشارې شوې دي ،پخپله د شيطان ځانګړې مشخص موجوديت نفي کوي او په اصطلاح په جرئت سره ، دا منلې شو ،همغسې چې په خدايي علم ،قانونمندی،صنع او خلقت کې متوالي ،موهومي، نامعلوم حالتونه وجود نه لري ، همغسې د شېطان مجهول، نامعلوم او مشکوک موجوديت «العياذبالله» دشپږمې ګوتې په حيثيت د منلو وړ نه دې.خو ځيني کسان، بيا هم د خدای او انسان تر منځ د شيطان وساطت ته د کاتاليزاتور حيثيت قايل دي چې ګوندې تعامل تسريع او پوره څرګند او واضح حالت ته رسوي او له شک او شبهې څخه يې باسي.لکن زه په دې پوره باور او عقيده يم ، همغسې چې د خدای په خلقتونو او صنع کې متوالي ،موهومي ،نامعلوم او نيمګړي حالتونه وجود نه لري ،نو نه دخدای په صنع کې دکاتاليزاتور پورې تړلي او اړوند تعاملات، مصنوعات او خلقتونه وجود لري او نه دهغې له لارې وضاحتونوته کوم حاجت او ضرورت شته. دا يواځې انساني ناسم ،ناقص او ناکافي مصنوعات او مرکبات دي چې د کاتاليزاتور په قوت او په اصطلاح دناسم ، ناجايزه مرستندوی په مرسته غواړي ناقص ، غير متناسب او بې کېفيته موادو او مصنوعاتو ته کذبي تحريفي رنګونه او



خوندونه ورکړي.

د شيطان د پېدايښت دفلسفې په باره کې ويل کيږي ، چې شيطان د الهي درګاه سپي ته ورته دې او د شيطان دنده،دخدای درګاه ته ،د نا اهلانو د ننوتلو د مخنيوي څخه عبارت دې. په بل عبارت شيطان هغه سپي ته ورته دې ، چې دخدای درګاه ته دهغه کسانو دداخليدو څخه مخنيوې وکړي چې دخدای سره د ملاقات او ليدلو لياقت نه لري او دې ته ورته ډير نور عبارات چې په هېڅ صورت د خدای دذات او جلال سره هېڅ سمون نه لري او په دې خاطر د دنيايي مناسباتو په کچه او سويي افاده شويدي چې د انسانانو لپاره معمول او مفهوم اوسي.

د پورتني مثالونو او لنډو عباراتو څخه واضح معلوميږي چې دغه مناسبتونه،مشابهتونه ، تفسيرونه ،تحليلونه ، فورمولبندۍاو نورې څرګندونې چې د خدای په کلام کې ذکر شوې دي ،د دنيايي او عالم الاسباب په هغه اموراتو پورې اړه لري چې د خدايي خلقتونو او پديدو تر منځ يواځې دعلت او معلول په بنياد رامنځته کيږي ،د عالم الاسباب بې شمېره پديدي او خلقتونه جوړوي اوټول د بشري متضاد رحماني او شېطاني خصوصياتو او اوصافو متناقصه ذهني زيږنده ګڼل کيږي او په هيڅ صورت دخدايي ذات او صفاتو سره هيڅ ډول مطابقت ،مناسبت او سمون نه شي لرلې او نه سيال رقيب جوړېدلې شي.

ددی ټولو اضدادو موجوديت او دبشر دټاکنی فرصت او موخه او دلنډ دنيوی امتحان دوره د بشر د ضرورت، اړتيا او اختيار لپاره دی نه دالله تعالی د ضرورت لپاره.

د شيطان په باره کې ذکر هم په کوم ټاکلي خلقت دلالت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي ،بلکه هر وار مختلف خلقتونه او د هغوی تر منځ مختلف مناسبتونه او دريزونه په ګوته کوي. حتا په ځيني مواردو او حالاتو کې د ځيني ځانګړو اشخاصو او افرادو په کړو او اعمالو پورې اړه پيدا کوي. لکه د الاعراف د سورة (۱۷۵ )ايت د تفسير له مخې چې شيطان له سپي سره تشبيه شوې ،خو په حقيقت کې دغه ايت د « بلعم بن باعوراء» چې يو عالم وو ،په حق کې نازل شوېدې.

په هر صورت ، شيطان که إنسي ، جني ، ملائيک ،انسان يا بل هر خلقت که اوسي ،که له اور څخه پيدا وي او که د ملا ئيکې په حيث له نور څخه پيدا اوسي په ټولو حا لاتو کې تر هرڅه دمخه خدايي حلقت ګڼل کيږي ،او خدايي خلقتونه ټول يواځې دخدای د« کن فيکون» د حکم په صدور د عالم الاسباب د مادي قوانينو د علت او معلول په ديالکتيکي مناسبتونو او قانونمنديو پورې تړلي دي ،دخدای د لوی علم د قانونمنديو له مخې پيدا ،پايي او تغير او تکامل مومي ، يواځې په عالم الاسباب پورې اړه لري او په هيڅ حالت کې په هيڅ صورت سره خدای رقيب اوسيال نه شي جوړېدلې. د خدايي کلام ټول احکام ،اصول او قوانين يواځې په دې جهان کې ،ددې جهان په شرايطو او امکاناتو سره د ټولو مخلوقاتو د درک ،فهم، ضرورتونو او مجبوريتونو په تناسب سنجول شوي او يواځې په دې جهان کې د استفادې وړ ګرځي. يواځې خدای(ج) د دواړو کونېنو په واقعيتونو، حقيقتونو او حالاتو خبر دې اوتر اوسه پورې د دواړو جهانونو لپاره هيڅ کوم داسې ذوحياتېن خلقت د خدای په کلام کې شهادتاً ،دلالتاًاواشارتاًنه دې په ګوته شوې او نه چاته کله په دې دنياد هغه جهان او د جنت او دوزخ



کلي ګاني سپارل شوي دي.که چېرې دغه ډول ذوحياتېنو موجوداتووجود درلودلې ، په يوه نه ،يوه لاره به مونږ د هغه جهان له احوال څخه هم خبرېدلې ،او لکه هغسې چې يو شاعر وايي «آن کس که خبر شد خبرش باز نيامد » نه د هغه جهان څخه څوک راستون شوې ، نه يي کوم احوال رارسېدلې او نه دخدای په کلام کې دغه ډول کوم صراحت او وضاحت وجود لري.

شايد ځيني کسان داسې ادعا او پوښتنه ولري ، چې ولې د خدای په کلام کې د شېطان ، روح او ځيني نورو مسايلو په باره کې پوره وضاحت وجود نه لري ؟ راشئ لومړې د خدای دکلام درسالت او ضرورت د ماهيوي ،زماني ،مکاني او ستاتيک ــ ديناميک ابعادو په باره کې فکر وکړو .دا خبره ومنو چې دا کلام دخدای د مخلوق داګاهۍ لپاره راليږل شوې دې.که مونږ قرآن او قرآني احکامو ته دقيقه او کره مراجعه وکړو ، وبه وينو ،يواځې په هغه مسايلو کې لازم وضاحت شوې دې ،کوم چې انسانان يې ددرک او پوهې قابليت لري او دهغه مسايلو په باره کې چې انسان يې له درک او پوهې څخه عاجز دې ،واضح ويل شوي دي: وما اتيتم من العلم الا قليلا يعنې انسان ته چې کوم علم ورکړې شوې دې ،ډير کم دې .د خدای په کلام کې دا نه دي ويل شوي چې ګوندې انسان ته په هر څه باندې علم ورکړې شوې دې. له بلې خوا ددې جهان زماني بعد له قديم څخه تر ابده پورې غزېدلې دې يعنې چې لا يتناهي دې. او په مکاني لحاظ هم همدومره ساره او اوږده لري.که ديناميکي او ستاتيکي ابعاد او کېفيتونه يې وڅيړو ، نو دا ټول جهان د کوچنۍ ذرې څخه نيولې تر لويو سماوي اجرامو پورې په همزمان لحظوي ستاتيک ديناميک او دټولو او صافو او کېفيتونو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحظوي بدلون کې قرار لري او ټول بدلونونه د دغه علم د قانونمندیو په واسطه افاده کېږي. قرآن کریم د الله تعالی کتاب دی هم مدعي دی چې دین یې تکمیل کړي او دین د دې په معنا دی، چې د دې جهان په ټولو زماني، مکاني او دینامیکي ابعادو کې ټولې قانونمندۍ، چې د هرې کوچنۍ ذرې څخه نیولې تر هر لوی سماوي جرم پورې د کوچني حرکت څخه تر ملیونونو نوري کلونو پورې دوراني حرکتونه افاده کوي، په کې په نظر کې نیول شوي دي. اوس پخپله قضاوت کولې شو چې د قرآن دغه په ظاهر کې کوچنی کتاب، معناً څومره لوی او څومره معجِز دی.

د شیطان په باره کې چې د خدای په کلام کې کومې یادونې او نسبي وضاحتونه شوېدي، لکه چې د مخه مونږ وویل، په دې جهان کې د ځانګړو افرادو، اشخاصو، حوادثو، پدیدو، حقایقو او واقعیتونو پورې اړه لرلې، نو ځکه د موجوده واقعیتونو په تناسب د خدای د مقضي ارادې له مخې افادې یې هم ځانګړي دنیایي مشخصات لري.

دنیایي پدیدې او خلقتونه په دنیایي خصوصیاتو او امکاناتو سره د خدایي ذاتي خصوصیاتو او اوصافو سره د هیڅ ډول متقابل اړیکو او مناسبتونو جوګه نه ګڼل کېږي، نو په اصطلاح د شیطان په څیر یاغي، باغي، دګلې او رټلي مخلوق به څه ډول د خدای سره د سیالې معاملې جوګه وګڼل شي؟

په دې ځای کې داسې پوښتنه به پر ځای وي چې: خیر شیطان څه ډول پدیده او په څه خاطر یې د خدای په کلام کې ډیر وارې نوم اخستل شوې او دومره د توجه وړ ګرځېدلې دی؟

مونږ که نه پوهیږو باید ځانونه په دې خبره پوه کړو او باور



پرې ولرو چې، زمونږ نړۍ خدای ډیره ښکلې پیدا کړې ده. په دې نړۍ کې ژوند ډیر هر اړخیز او ښکلی دی، اوبه، هوا او طبیعت نعمتونه یې ډیر ښکلي او مزه دار دي او د هر ډول ښکلي او مزه دار ژوند د لاښکلي کولو په خاطر هر ډول شرایط او امکانات په کې وجود لري. هر نعمت یې جنتي دی ځکه خو په ناشکرۍ یې هر سړی د عذاب سزاوار او دوزخ ته ځي. په دې دنیا کې هیڅوک هیڅکله په هیڅ نعمت نه مړیږي او دا ځکه چې خدای په خپل مخلوق ته همدغه ډول دنیایي ژوند پیرزو کړی او همزمان لحظوي لمسوونکې او قانع کوونکې متضاد دیالکتیکي طبیعت یې ورته غوره کړي دي، چې هم پیرزوینه ده او هم ازموینه. یوازې په همدغه ترکیب سره هغه مورنۍ مینه وجود لرلې شي، چې د خپلو بچو په خاطر ځان د بلا په خوله کې ورکوي او د بلا له خولې څخه، د ځان لپاره نه، بلکه د بچو لپاره یوه ګولۍ خواړه راشوکوي او یا اکثر وخت پخپله د هغه بلا ښکار ګرځي. کله چې یې په بچو حمله کېږي، د بچو په ځای خپل ځان د بلا په خوله کې ورکوي. یوازې په همدغه ترکیب کې د دې جهان ټول خوندونه، رنګونه، هوسونه، عشق، علاقه، مینه، عاطفه، باور، د دې خدایي قایم با لذات خودګردانه، خود کفاء او خود بقاء ابدي پایداره نظام بې پایه انرژي، طاقت، نیرو، قوت، ...، یوازې او یوازې د خدای په مقضی الامر ارادې سره په همدغه رحماني او شیطاني دیالکتیکي ترکیب کې پروت دی. هر څوک به په دې باره کې ځانګړې نظر لري، خو زما په عقیده دا جهان ځکه ډیر ښکلی او ډیر غني پیدا دی، چې خدای ورته همغسې د هر چا د علایقو او طبیعت سره متناسب لازمي او کافي ترکیب او ماهیت غوره کړې دی. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅوک د حرص او بخل لپاره هيڅ دليل او اعتراض نه شي لرلې. دخدای عدل، انصاف، غنا او پېرزوينه هم د هيچا په حق کې محدوده نه ده او دټولو مخلوقاتو لپاره يې دهر چا د علاقې او ضرورت وړ متناسب کافي کمي او کېفي خواړه او نعمتونه پيدا کړي دي. شک نه شته همغسې چې نعمتونه مختلف دي، ذوقونه، علايق، طبعې هم ډول ډول دي. باز دښکار غوښې خوري، توتکۍ په حشراتو پسې ګرځي، بورا دګل شيره ټولوي، ښارونۍ او کارغه څه خوري، مچ هم په مرداره پسې ګرځي. اوښ زوز خوري، څوک خواږه خوښوي، څوک ترخه، څوک ډېره خوري او څوک لږه. دغه ټول خصلتونه، علايق، خويونه، طبعې، نعمتونه، کميتونه، کېفيتونه او ټول نور خصوصيات د ټولو مخلوقاتو د نفسي خواهشاتو او غريزو په تناسب د خدايي نظام په کمي او کېفي منځپانګې کې په نظر کې نيول شوي دي. په جهان کې د بې شمېره خلقتونو په موجوديت او هر اړخيزه ذوقونو او علاقمنديو سره ممکنه نه ده يو نواخت حالتونه او وضعيتونه دوام پيدا کړي. مختلف عواطف، احساسات، غريزي، شهوت، بزمي، رزمي وضعيتونه، جنسي علايق او مناسبات، ځان، مال، واک او مقام غوښتنه بوګنوونکي او غولوونکي تحريک اميزه انګېزې او پايلې رامنځته کوي او يواځې په همدغه شعوري خلاکې او ډول ډول امکاناتو او ذوقونو کې ځانګړي شېطاني خواهشات، ځانګړتياوې او تفوق طلبۍ ريښې ځغلوي او اکثر وخت دولتي، حکومتي، ډلئييز، قومي او نور امکانات هم ددغه کار سره په مساعدت کې په ستر عطالت او بې قبېزې او بې واکي دينامېزم بدليږي. څرنګه چې دغه شېطاني کېفيتونه په حقيقت کې د



دنيايي با کېفيته هر اړخيز ژوند اصلي توکي برابروي او له بلې خوا دازموينې لپاره ښه وسايل هم ګڼل کېدې شي او د هر انسان لپاره ډېر رنځور او ضعيف اړخونه هم همدغه ځانګړتياوې جوړوي او ديوه انسان په اندکه لغزش سره ستر جهاني انساني ستونزې رامنځته کولې شي. نو ځکه په دغه څو اړخيزه، باريکه او خورا مهمو خصوصيا تو او اوصافو، چې له هره پلوه دډېر اهميت وړ ګڼل کېږي شېطاني عمل ګڼل شوي، ټول بشري مسايل او پرابلمونه په همدغه محور څرخېدلي او دخدای په کلام کې يې هم زيات ذکر شوې دي. په حقيقت کې شېطان ذاتاً د لعنت سزاوار نه دي، دلعنت سزاوار همغه لعنتي شېطان صفته انسانان دي چې په شېطان باندې د خپلو عظيمو ګناهونو په بارولو يې د شېطان اصلي څېره وربدله کړې او دهغې ترشا خپل تور مخونه له خلکو پټ ساتي.

## نو لعنت دې وي په دغه تور مخو شېطان صفته لعنتي انسانانو !

پخوا مونږ د هندي فلسفې په ځواب کې، چې د جهان د پيدايښت او پايښت د زاړه کتاب د ورکو پاڼو په لټه کې سرګردانه وو او همدغه لټه او پايلې يې فلسفه ګڼله او آن په دې آند وو، ولو که فېلسوفان په دې باره کې بې شمېره کتابونه ليکي، خو شاعر دا هرڅه په يوه فرد سره:

ما زآغاز و زانجام جهان بی خبریم
اول آخر این کهنه کتاب افتاده است،

ټول فلسفي مفاهيم چې «د ژوند او وجود معنا» ګڼل کېږي، افاده کولې شي. دا ډول افادې، ددې په عوض چې د فلسفې په ساده توب دلالت وکړي، زمونږ ساده توب ثابتوي او دا ځکه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه پورې مونږ نه د ژوند ، وجود او نه د فلسفې په معنا پوهېدلي یو او نه مولازمې پایلې تر لاسه کړې دي.

په دې موضوع همغلته مونږ لازم بحث کړی دی او ومو ښودله چې نه د زاړه فلسفي کتاب اول وآخر پاڼې ورکې دي ، نه د شاعر په یوه فرد سره فلسفي مفاهیم او ټوله فلسفه افاده کېدلی شي ، نه د دغه ورکو پاڼو میدنې ته څوک فلسفه ویلې او نه ټوله فلسفه افاده کولی شي .هندي فلسفې په حقیقت کې نادوده او ناشونې هدف غوره کړی وو .نادوده په دې چې ملیو نونه او ملیاردونه کلونه پخوا فلسفي لیکل شوې پاڼه هم که دوی ته په لاس ورشي ، څه ارزش به ولري ؟ مادي واقعیتونه خو هغه دي چې حاظر یې هم څوک په ګورت کې نه شي رانیولی، یعنې چې جهان دغه ډول په لحظوي بدلون کې دی ، بیا هم مونږ په هغه ځای بحث کې د تاریخ په ټولو زماني مقاطعو کې د فلسفي محاسبو امکانات په ګوته کړي دي. د دې مسئلې د ذکر څخه زما هدف دا وو چې د شېطان په باره معلومات هم د عالم امر حیثیت لري او پدا ډول مواردو کې ، څرنګه چې د انسان د درک او پوهې په قابو کې نه راځي ، دخدای په کلام کې یې همغو مره ذکر کیږي ، چې انسان یې د درک او فهم قابلیت ولري .دغه ډول بې شمېره پوښتنو ته د خدای د کلام په احکامو کې لکه چې د جهان د پېدایښت په باره کې چې په دوه ډیرو لنډو کلمو او اوه حرفي لنډې جملې « کن فیکون» سره مکمل ، قانع کوونکې منطقي ځواب ویل شوې دي ،ځواب ویل کیږي .

زه په دې عقیده یم ،چې دنیایي ژوند دخدای د مقضی الامر ارادې له مخې د مختلفو نفسي خواهشاتو ، غرایزو ،عواطفو ، متضادو پدیدو د وحدت او مبارزو د مختلفو اړخونو او یا که



په لنډ ډول افاده شي ، د دې جهان د تکویني جوړښت ،طبیعت،خلقت او سرشت ،همدغسې چې دې او باید اوسي ، د خدای په اراده تر هر څه لومړې د بشر د بشپړې منطقي او معقولې ګټې اخستنې او همداسې د ثواب او عذاب ، ... ،د رحماني او شېطاني قوتونو د ازمیښت او مبارزې د ګټنې اوبایلنې په ډګرکې د نیک او بد ، ثواب او عذاب ،جنت او دوزخ د پاداش لپاره جوړ شوې دي .دا شېطان او شېطاني قوتونه او طینتونه په حقیقت کې ، هغه نفسي ،غریزوي او دې ته ورته خواهشات ،غوښتنې او هڅونې وې چې ادم او حوا (ع) یې په جنت کې د مېوې خوړلو ته ولمسول او په همدغه لمسوونکې ذاتي خلقت ،سرشت او منځپانګې سره د خدای په مقضی الامر ارادې سره ادم او حوا (ع) په دې جهان کې مېشت او د همدغه لارې مختلف رحماني او شېطاني خصلتونه جز د کون و مکان، خو په حقیقت کې د کون و فساد لوکوموتیف ، انګیزه او محرِک وګرځېدل.

په دې باره کې د قیق معلومات یوائې د خدای د کلام له عباراتو او احکامو څخه استنباط او تعبیرېدلی او یوائې د قرآني ، دیني او طبیعي علومو عالمانو او پوهانو په مشترکه مساعي ممکنه ده، چې باید په دې باره کې خپلو څېړنو ته دوام ورکړي او لا زمو ممکنو نتایجو او افقونو ته ځانونه ورسوي .

خو د دنیایي خلقتونو او پدیدو د سرشت او خلقتي ترکیب په پیدایښت کې د لوامه (رحماني ) او اماره ( شیطاني ) انفس دیالکتیکي موجودیت ،چې په بنیاداو تناسب یې ټول مخلوقات په نیک او بد ویشل کیږي او د جنت او دوذخ سزاوار ګرځي ، هم کومه پټه خبره نه ده .نیک عمل ته بلل او له بدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمالو څخه مخنيوې ، پخپله ظلم نه کول او د بل ظلم په ځان او نورو مظلومانو نه منل او په کلکه يي مخنيوې کول او ډير نور مسايل چې د ښو بدو تفکيک يي په الهي احکامو او نبوي ارشاداتو کې راغلي دې ،د هر انسان او په خاصه توګه د هر مؤمن مسلمان انساني ،اسلامي ، اخلاقي او ديني دېن او رسالت دې.

همغسي چې د عالم الاسباب پيدا ايښت ، پايښت ،بدلون ، تکامل او انحطاط د خدايي «عالم آمر» يعنې« کن فيکون» په حکم تعميل شوې ، د رحماني او شيطاني قوتونو متناسب، متعادل او متوازن جو ړښت هم د همدغه آمر او همدغه حکم لازمي او کافي شرط ګڼل کيږي او دعادلانه، عامه ټولنيز، معنوي، او غيرعادلانه شخصي ، خصوصي ،مادي ارزښتونو په تناسب يو له بله څخه تفکيک کېدلې شي. په همدغه بنياد د حق او باطل په پوله د رحماني اوشيطاني قوتونو تر منځ نه پخلا کيدونکې تضاد رامنځته کيږي او يوائې د نيک او بد ،ثواب او عذاب ،عدل او ظلم تر منځ د سليم عقل او سليم وجداني قضاوت له مخې يي پرېکړه هم د تکويني جفتو مقولو ( ای ولوشن يعنې ريفورم او ريولوشن يعنې انقلاب )په ديالکتيکي تقابل ، داډول ممکنه او شوني ګڼل کيږي ،چې رحماني ځواکونود عادلانه سولئيز ريفورم او بدلون او شيطاني قوتونه د غير عادلانه جګړئيز جبر له لارې د خپلو نا روا موخو سر ته رسول غواړي.په دغه ډول ديناميزم کې شک نه شته چې تکاثف او تراکم د قوت ،دولت او کتلو منځته راځي، شيطاني قوتونه په دغه امکاناتو سره يوائې د جنګ او جبر لار غوره کوي،هر څه په خپله ولکه کې نيسي او له دغه طريقه د



نړيوال طاقت په حيث په نړيواله جبهه کې يوائې د جنګ له لار ددغه پروسې سرعت او ديناميزم لا پسې زياتوي او رحماني قوتونه لا پسې په محاصره او مضيقه کې راچاپيروي ، لکه چې نن يي په ټوله نړۍ کې رحماني قوتونه په مضيقه او محاصره کې راګيرکړي اوپه رحماني قوتونو يي هم پرته له جنګه نورې لارې تړلي دي. په داسې شرايطو کې،رحماني قوتونه پرته له قاطعيت او نړيوال پېوستون څخه بل بديل ، بله لاره او چاره هم نه لري. اسلامي طريقه هم پخپله د ظلم نه کولو او د بل چا ظلم پرځان او نورو مظلومانو د نه منلو او د الکبر مع المتکبرين عبادة ،سپارتنه کوي. قانونمندي يعنې حق ،تل ګټونکې دې او د رحماني خصوصيتونو ،خصلتونو او اوصافو څښتنان هميشه قوی الاراده ،حکيم النفس ، صبور ،حليم،متين او په ټولو مثبته اخلاقو اوصافو متصف ،له هيچاڅخه ويره او ډار نه لري او هېڅکله د شيطاني قوتونو په جال کې نه کيووځي او همېش دخپل عزم ،تصميم او ارادې په اصولو په خپله ټولنه او چاپېريال کې ديوه سيال قوت په حيث اګاهانه ژوند کولې شي.
برخلاف شيطاني قوتونه د دروغو ،غلا ، استفاده جويي او نورو خاينانه اعمالو په نسبت ضعيف النفسه، سست عنصره ، پرځان بې باوره ، بې ارادې ، مرتجع ، ډارن او طامع انسانان دي ، تل اسيب پذيره او له هر چاڅخه په ويره کې وي او نن همدغه انسانان چې د نړۍ ټول بانکونه او ټولې شتمنۍ په ولکه کې لري او په ټوله نړۍ يي د قېسۍ غوندې خېټه اچولې او ددې خاورې اصيل خدمت ګاران حتا تش سا کښنې ته هم نه پريږدي ، په يوه خبيث شيطاني لعنتي دجال بدل شوې او دخپل دوزخي نفس مړولو په خاطر يي بلا تشبيه دا جنتي نړۍ په جهنم بدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړېده.

دداغه ډول شېطاني خود سريو ، ناروا او ظلمونو د مخنيوي په خاطر يو اځينۍ لاره او چاره ، قانوني،حقوقي اداره ده چې ټولنې او اولسونه يو شان د عدل او انصاف له مخې په خپل حاکميت کې وساتي او هر سر غړوونکې د مقضي قوانينو مطابق د هغې په منلو مجبور کړي ! ! !



# فلسفه بې ثمره علم دې ؟

دې کې شک نه شته ، چې يو بې سواده يا نيمه با سواده انسان د ځيني ساده وسايلو په لرلو سره ، په يوه کلي يا ښارګوټي کې د خپل ژوند لپاره لازم شرايط برابرولې شي ،خو يو عالم او فېلسوف به په دغه ډول شرايطو سره د يوې مړۍ ډوډۍ خاوند هم نه شي. نو ځکه ځيني ساده کسان په ساده قضاوت سره فلسفه بې ثمره او بې روزي علم ګڼلې شي !

يا هندي ټولنه چې ، په فلسفي څېړنو کې ترنوروډېرو اولسونوپوره قدامت لري ، پدې عقيده ده ،هغه لاسته راوړنې ، چې ، فلسفې د بودا په وخت کې لرلې ، اوسنۍ فلسفه يې نه لري ، يعنې چې فلسفې د هغوی له نظره تر اوسه نزولي انحطاطي لار وهلې ، نه علمي ،نه اقتصادي ارزش لري او ګوندې بې ثمره غير ضروري او بې ارزښه علم جوړ شوې او دهېڅ. داسې ډېر مثالونه راوړل کېدې شي، چې که مونږ خپلې څېړنې او ارزونې داډول بې بنياده او بې مورده پېل کړو، قانونمند منطقي نتايج نه شو ترلاسه کولې او په پايله کې مونږ له هدف څخه ليرې ووځو. هغه څوک چې د ډبرې د سکرو په تله طلا او د طلا په تله دډبرې سکاره تلل غواړي ، څېړنې او ارزونې به يې هېڅکله منطقي قانونمند نتايج ونه لرلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ په خپلو تېرو څېړنواو ارزوونو کې په مستدَل قانونمند ډول وښودلې شول ،چې فلسفي مسایل او قضایا ،ددغه مسایلو د علمي تعمق او ژورتیا په نسبت ،د تاریخ په اوږدوکې د هر چا د توجه وړ نه دي ګرځېدلي او نه هر څوک ددې جوګه وو چې ددغه مسایلو سره کړه وړه ولري . هغه چا چې تر اوسه پورې ، ځانونه ددغه کار جوګه ګڼلي اود فلسفي مسایلو سره یې سروکار لرلې ، اکثراً دفلسفي مسایلود علمي څېړنو څخه عاجز وو او نه یې دي کړې شوي دغه مسایل علماً په ټولو اعماقو او ابعادو پر مخ بوزي ، ناچار یې په شخصي تخیل ډډه لګولې او اکثراً د قضایاوو په شکلیلاتو کې ښکېل پاتې شوي ، فلسفه په سفسطه ، جړه مشوړه او تړلي نظام بدله شوېده.
هندي فلسفې ، چې تر نن ورځې پورې په تخیلي تیوریو او اکثراً په رنګارنګ مذهبي تخیلاتو او خرافاتو عقیده لري ، سره ددې چې د ډیرو نورو اولسونوپه نسبت ، په فلسفي څېړنو کې پوره قدامت لري ،حق لري پدې عقیده اوسي،هغه لاسته راوړنې ، چې ، فلسفې د بودا په وخت کې لرلې ، اوسنۍ فلسفه یې نه لري ، یعنې چې فلسفې د هغوۍ له نظره تر اوسه نزولي انحطاطي لار وهلې ، نه علمي ،نه اقتصادي ارزش لري او ګوندې بې ثمره ، غیر ضروري او بې ارزشه علم جوړ شوې او دهېچا د علاقې او توجه وړ باید نه اوسي او دا ځکه چې پخپله فېلسوف د فلسفې د علمي ماهیت په ارزش ، معنا او مفهوم باندې نه پوهیږي . دا سې ډیر مثالونه راوړل کېدې شي، چې که مونږ خپلې څېړنې او ارزونې داډول بې بنیاده او بې مورده پېل کړو ، قانونمند منطقي نتایج نه شو ترلاسه کولې او په پایله کې مونږ له هدف څخه لیرې ووځو . هغه څوک چې د ډبرې د سکرو په تله طلا او دطلا په تله دډبرې سکاره تلل غواړي ،یعنې چې د ډبرې سکاره او طلا ورته یو شان ارزش لري ، طبعاً ، د ډبرې سکاره باید زیات وارزول شي ، ځکه



چې ، کوټه خو پرې ګرمېږي . د طلا څخه خو دغه استفاده هم نه کیږي .په دې ډول که څېړنې او ارزونې د علمي قوانینو ،ارزشونو او اصولو په بنیاد نه وي هېڅکله به منطقي قانونمند نتایج او پایلې ونه لرلې شي.
د بلې خوا ، په تېرو فلسفي بحثونو مونږ په دې موضوع هم بحث وکړ چې دین او فلسفه دواړه ، یوتربله سره علمي ماهیوي تضاد نه لري او دواړه یوشان د جهاني پدیدو او خلقتونو دمعرفت طریقې او وسیلې ګڼل کیږي ، حال داچې له ډیر پخواڅخه اکثر دیني او فلسفي عالمان سره نه پخلاکېدونکې تضاد لري او دا یوه ډېره مشهوره مقوله تر نن ورځې پاتې ده « چېرې چې فلسفه وجود لري ، دین وجود نه لري او چېرې چې دین وجود لري ، هلته فلسفه وجود نه لري » . ډیر دیني عالمان فلسفه د کفر علم ګڼي . که دا خبره رښتیا وې نو په عربي ژبه کې به دې مقولې ، چې : «اطلب العلم ولوکانه فی السین» ترجمه : ( طلب د علم وکړۍ ، ولو که په چین کې هم اوسي )وجود نه درلودلې . علم ، همغسې چې په څرګندو او واضحو عباراتو مونږ تأکید کړې انساني مخلوق نه دې چې د چا په اسلام او کفر پورې اړه ولري او یا دې جداګانه اسلامي او کفري علوم موجود اوسي . علم یواځې الا هي مخلوق دې ، چې دالاهي کلام ، الاهي احکامو ، الاهي شریعت او اسلامي دین او مذهب په طریقه او بنیاد یې کسب په انسان ، ښځه او نر ، فرض ګرځېدلې دې . ما په دې باره کې یو مطلب د « الاهي ، قرآني او انساني فلسفې (علم ) »لیکلې وو چې باید د همدې مطلب پر ځای خپور شوې وای، خو سهواً راڅخه کوم بل مطلب پرې ثبت او حذف شوې دې . امېد دې ، دوباره یې ولیکم.
که چېرې ټول فلسفي قضایا د علمي قوانینو او اصولو مطابق حل و فصل او فورمولبندي کېدلې شوې ، هېڅکله به چارې د خنډونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مخامخ کېدلې. په الاهي علم کې خنډونه ، بن بست ،نیکړ تیاوې او یا نا معلوم ، متوالي ، نا معین او دې ته ورته حالتونه منځته نه شي راتلای . دا یواځې انساني نیمګړتیاوې ، نا ممکنات او یا عمدي ګناهونه او خطاوې دي ، چې دغه ډول حالتونه رامنځته کوي او چارې د افرادو او ځانګړوکسانو د ځانګړو اغراضو په لور بیایي . مونږ دالاهي استعامت او انساني مقدراتو او امکاناتو برابر دغه د علم لار نیولي او ټول بشریت په ټول جمعي شعور سره ددغه ارمان تحقق ته رابولو . مونږ په دې باور یو ، چې د بې شمېره فلسفي قضایاوو او مسایلو د بن بست او جړې مشورې د غمیزې جرړې چې ګوندې، د کوم ذهن د نا پېدا ځمکې دحقایقو په ما وراء ترګمۍ او تخیلي پلندۍ کې تړلې دي ، چې د حقیقت دنور پلوشې هم نه ور رسي او فلسفي بې شمېره قضایا او مسایل یې په لاځوابه معما او کثیرالمجهوله لا ینحله معادله بدل کړي دي، عبث بحث بولو او په دې پوره باور یو ، چې الاهي علمي لاس رسې د ټولو مخلوقاتو لپاره ، دهغوۍ د مقدراتو او ضرورتونو په تناسب عام او پرته د کوم تعصب یوشان دې. مونږ ددغه جړې مشورې د تار سر موندلي او دالاهي علم ، احکامو او هدایاتو په رڼا کې د خپلو انساني مقدراتو په تناسب « صراط المستقیم » تعقیبول غواړو . مونږ دحقیقت رڼاله لیرې وینو او ز مونږ داحساس ، ادراک او عقل په واک کې راغلې او زړه مو هم منلې ، له خپل خدای څخه دومره جرئت او باور غواړو ، چې دعام بشري درایت او همت په مټ دپخواني بې نظمه او انجړ بنجړ عظیم عطالت او دینامیزم مخه وتړیاو دعام بشري جمعي شعور د قانونمند منطق په بنیاد د الاهي هدایت سمه لار ونیسي .

هو ! مونږ د حقیقت او واقعیت د بنیادي قانومندې څېړنې په بنیاد دغه عظیم عطالت ته اوږه ورکړې او د فلسفي لا ځوابه معما او کثیر



المجهوله لا ینحله معادلو جرړې ،چې د فلسفې د تش په نامه اساسي مسئلې په په پلندۍ کې لا درکه خبنې پاتې وې، سپینا وې ته مو را وایستلې ، ومو څېړلې ، ومو ارزولې او پخپل نه ماتېدونکي تصمیم ترې دفاع کوو . امېد دې ، زمونږ دلارې باوري لارویان په نه ماتېدونکي عزم له مونږ سره ودرېږي او هغه کسان ،چې لا تر اوسه د شک او تردید په دوه لارې کې ولاړ دي ، ددغه څېړنو او ارزونوله مخې ځانونه دپوره یقین تر کچې ورسوي او زمونږ د لارې مصمم لارویان شي.

دغه سد سکندر تش په نامه د فلسفې اساسي مسئله ده ، چې « د مادې اوشعور د ،بې بنیاده، یو پر بل باندې د قدامت » له مخې جوړه شوې او فلسفي لوی نظام یې د « محبوبې » په بې لارې او بې دروازې لوړ پوړې کلا اړولې ، چې هیڅوک د ورننوتلواو ورا ووختلو توان نه لري .

په نوي قانونمند څېړنیز نظام کې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۶۲ هـ ل کال کې « د عېنیت او ذهنیت دیالکتیک » تر سرلیک لاندې رسالې لومړۍ جملې « ذهنیت نسبي عېنیت او هر مشخص ذهنیت عېني واقعیت دې » زوړ نړیوال فلسفي نظام ،چې تر اوسه پرې ټولو زړو فلسفو ډډه لګولې وه ، ونړوه اومونږ په مقنع دلایو سره وښودله ،چې ماده او شعور ذاتي توپیر نه لري او په دې بې بنیاده بنیاد ،فلسفې ته د اساسي مسئلې تر سرلیک لاندې بنیاد لټول هم بې بنیاده کاردې. همدا سبب وؤ ،د نړیوال فلسفي ښار ګوټي ، چې پرته له تړلو کوڅوڅخه یې د خوځښت او حرکت لپاره لارې چارې نه لرلې او دهندي فلسفې په قول ، فلسفې چې د خپل قهقرایي ژوند سلګۍ وهلې ، دوباره روح پېدا او په رګونوکې وینه وچلېده او نن یې درښتیني الاهي خلف علم په حیث د زوال له حالت څخه د پر مختګ لار ونیوله . ټول زوړ نړیوال فلسفي نظام ، که په شرق کې وو او که په غرب کې ،ځکه ونړېده ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدغه فلسفي اساسي مسئلې په بنیاد دپېړیو پېړیو راپدې خوا ټول یوتر بله سره ضدو نقیض اونه پخلاکېدونکي دښمنانه تیوریک مکتبونه او سیستمو نه، چې بې بنیاده راپېداشوي وؤ ، باید هم د فلسفې ددغه ډول بې بنیاده بنیاد په رنګېدو رنګ او یو واحد ، نړیوال علمي فلسفي قانونمند نظام جوړ او هر ډول تخیلي سفسطه ګرایي ته د تل لپارهد پای ټکې کښېښودل شو .

په ۱۳۶۳ هجري لمریز کال کې د « عېنیت فلسفه » تر سرلیک لاندې د فلسفي ډیرو مهمو مسایلو لکه : ( د عېنیت او ذهنیت دیالکتیک ،شعوري پدیدي او دجبر او اختیار دیالکتیک ، ایدیالیستي او ماتیریالیستي دیالکتیک ، شعور او لا شعور ، مرګ او ژوند ، شپږم حس که د شعور او لا شعور دیالکتیک ، ... » اثر تألیف اوله ډیره ځنډه وروسته د ۱۳۶۵کال د جدي په میاشت کې چاپ اودفلسفي مسایلومینه والو لپاره وړاندې شو . نن مونږ هم په دې نظر یو ،چې فلسفه یوائیني الاهي خلف علم دې ،چې په نسبي لحاظ د ټولو الاهي خلقتونو دقانونمندې منطقي نسبي افادې جوګه ګڼل کیږي . زه په اګاهانه او پوره شعوري قانونمندو دلایلو سره دا خبره کوم ،چې همدغه یوې کوچنۍ جملې دغه لوی مفهوم افاده کړ ،چې د پېړیوپېړیو زوړ فلسفي نظام رنګ او ټول نړیوال با شعوره بشریت اګاهانه یوائینۍ علمي لار یعنې دالاهي هدایت اوکلام « صراط المستقیم » لار غوره کړي.

مونږ په دې عقیده یو ،چې علم ، الاهې مخلوق او دلوی جهان او دالاهي ټولو خلقتونو او پدیدو د مادي موجودیت لازمي شکل او بڼه ګڼل کیږي یعنې چې دالوی جهان او الاهي ټول خلقتونه او پدیدې د الاهي علم د قانونمندیوله مخې قانونمند پېدا ، قانونمند پایي او قانونمند بدلون او پرمختګ مومي . الله خپل علم ،خپل خلف انسان



ته د قرآني احکامو ،قانونمندیواو اصولو په بڼه په انساني ژبه رالیږلې او د انساني شعوري پوهې او زماني او مکاني ابعادو د قیدیت په تناسب په ټولنیز جمعي شعور کې تراوش او انعکاس پېداکوي . په مشخص او ځانګړي ډول باید وویل شي چې : علم خدایي مخلوق دې ،چې د قرآني کلام له لارې په محمد (ص)د اکمل غوره شوي اسلامي دین په طریقه نازل اوټول پخوني ادیان ، چې تر دې دمخه دنورو اسماني کتابونو له لارې په نورو پیغمبرانو نازل شوې وو ،خو اکمل نه وو ګڼل شوي اوټول مجازي ادیان او خرافات منسوخ وګڼل شول .دالاهي کلام له لارې، چې په انساني ژبه لیکل شوې ، ټول انسانان د الاهي علم په وسیله د الله د جهان او ټولو خلقتونو په معرفت مکلف او موظف ګرځېدلي دي ،تر څو هغه وپېژني او په لازمه کچه یې د ځان او ټول بشریت د استفادې وړ وګرځوي . د پورتني عبارت څخه په استنباط سره ویلې شو ،چې : الاهي علم ، قرآني علم او کلام اودین ،چې د قرآني علم په طریقه ژوند کولو په معنادي او فلسفه ، چې په عالم الاسباب کې د الاهي علم یوائینې خلف علم ګڼل کیږي ، په کل کې ، د معرفت لار او طریقه ده ،او هرعلم او معرفت په خپل ذات کې د ژوند یوائینۍ لار او وسیله ګڼل کیږي، نو ځکه خویي اطاعت په ټولو مخلوقاتو فرض ګرځېدلي دي.

ځینې کسانوته شاید پوښتني پېداشي ، چې الاهي علم ، یعنې څه ؟ مونږ چې د الله دذات د لیدلو ،پېژندلو او توصیف څخه عاجز یو ، ځکه چې الله لوی دې او زمونږ په ذهن ،شعور او عقل کې نه ځائیږي ، نو د الله په علم ، امکاناتو ،کېفیت او اوصافو پخپله الله ښه پوهیږي او انسان د الله د خلف په حېث ،په عالم الاسباب کې ،دانساني مقدراتو په کچه د ټولو خلقتونو په معرفت مکلف او مقدر ګرځېدلې دې. معرفت د ټولو مخلوقاتو د ژوند اساسي او بلکه یوائینۍ وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼل کیږي. شاید پوښتنه پیدا شي ، چې د الله ،قرآن او انسان علوم څه تفاوتونه لري ؟ په دې خبره هم یوا ځې الله ښه پوهیږي.خو دهغه علم او پوهې له مخې چې الله انسان ته ورکړی ، دومره ویلې شي چې الاهي علم په ټول جهان او دهغې په ټولو خلقتونو محیط او کامل علم ګڼل کیږي. قرآني علم څرنګه چې د الاهي علم افاده ګڼل کیږي ، د الاهي علم سره کوم توپیر نه شي لرلې ، خو دبشري ذهني شعوري نیمګړتیاوو له مخې ممکنه نه ده ، چې انسان د قرآني علم د ټولو اسرارو او احکامو په پوهه قادر اوسي او په ځیني مواردو کې ،کېدلې شي د ټولو حقایقو پوهېدلو ته به ضرورت هم نه اوسي او په همدې سبب انساني معرفت همېشه نسبي بڼه لري.

د پورتني لنډ بحث څخه پخپله محترم لوستونکي د فلسفي علم د مؤثریت د کچې په هکله قضاوت کولې شي. کېدلې شي په راتلونکو بحثونو کې ،په ځانګړو مسایلو کې ، دفلسفي علم په مؤ ثریت ، په ځانګړي ډول نور بحثونه هم وشي.



# دوهمه برخه

# د ادب فلسفي څیړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شعري تیوری علمي څیړنه

د فلسفې تر عنوان لاندې بحث کې وښودل شوه چې کله نا کله د دقیقو علمي مسائلو او مفاهیمو د څیړنو په ترڅ کې ډیر خام، ناقص، کاذب او حتا غلط فکري تراوشونه د غلطو مقولو، قوانینو، فورمولبندیو په بڼه تشکل مومي، د شک، تردید او ابهام ختمه برابروي، عالمان، پوهان او محققین د غلط فهمیو په څلورلارې کې دروي او د حق او واقعیت صراط المستقیم ترې لا درکه کوي.

د شعر او شاعری په باره کې دغه ډول ابهامات، نیمګړتیاوې، تناقصات او تناقضات د شاعرانه مبالغی، غلو او اغراق په کچه همدومره زیات دي او یوه داسی لیتهی ی تری جوړه شوی چې غلبیلول ئې د ډیرو پوهانو او پخپله د شاعرانو لپاره هم ناشونی کار بریښي. ښه به دا وي پوهان، ادیبان او شاعران دغه عمده مسائل په کره توګه وڅیړي، د بشري کلتور، فرهنګ او ادب پدغه ورشو رڼا واچوي او وروسته لدې پدې باره کې د شک او ابهام فضاء رڼه شي.

دې موضوع ته زه هغه وخت متوجه شوم چې کله ځوان شاعران او لیکوالان د یوه ځوانیمرګ شاعر د مړینې په تلین سره



راټول او په ژورو شاعرانه احساساتو او عواطفو سره یې د هغه په وړاندې خپل د ملګرتوب اخری دین ادا کاوه. د وی د محفل ټول حاضرین د خپلو شاعرانه احساساتو په غیږ کې ټینګ رانیولي او د شعر او شاعرۍ د اباسین په څپو کې یې داسی ځنګول چې یوه لحظه هم د چا فکرله موضوع څخه بل خوا نشو او وختلې. نپوهیږم په څه ډول زما د توجه پښه وښوئیده د روانې موضوع له دینامیزم څخه پریوتم او په لحظوي سکون کې د غه فکر او نظر راته پیدا شو او فی البدیهه مې د خپلې عقیدې اظهار وکړ. زه پخپله پدې پوه شوم چې زما لخوا پدغه وخت کې د غونډی دیو خاص ډول نظم او بهیر سکوت ماتول په چا ښه ونه لګیدل او د هغوی د سملاسي شاعرانه عکس العمل سره مخامخ شوم. ماهم د بعدي استدلال څخه ډډه وکړه او ډیره موده مې پدې باره کې د څه ویلو او یا څه لیکلو هڅه ونکړه.

څه موده وروسته چې دغه موضوع یو ځل بیا په ذهن کې راولاړه شوه، بهتره مې وګڼله چې د شعر پیژندنې په باره کې د کاندید اکادمیسن مرحوم محمد صدیق روهي د مقالو مجموعه چې د کاندید اکادمیسن مرحوم محمد رحیم الهام په سریزه تکمیل شوې وه او ځینې نور اړونده مطالب ولولم. د دغه رسالي له لوستلو څخه وروسته پدې نظر شوم چې ګوندې پدې باره کې د نورڅه لیکلو لپاره کوم دلیل نه لیدل کیږي او ګوندې همدغه لیکنه کفایت کوي. خو دیو څه دقت څخه وروسته د څه لیکلو په باره کې زما تصمیم لاپسې قوي شو. کوم نظر چې ما ته پیدا شوې وؤ غواړم دیوې طرحې په شکل د محترمو شاعرانو او پوهانو حضور ته وړاندې کړم. هیله ده د خپلې بزرګوارۍ له مخې یې په پوره دقت سره ولولي، ویې ارزوي او نیمګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواوي يې پوره او بشپړې کړي.

نظم او نثر د ژبني ادب دويلو او ليکلو دوه اساسي ډولونه، د بشري ټولني د مختلفو هر اړخيزه متقابلو مناسباتو او ضرورتونو د افادې او افهام او تفهيم ډېره اسانه، معقوله، منطقي، فصيحه، بليغه او په تاريخي او ټولنيز لحاظ مکمله انساني هر اړخيزه رنګارنګ احساساتي او قانونمند منطقي بڼه د ثبت وسيله ګڼل کيږي. ژبني ادب په بنيادي لحاظ بشري جمعي شعوري لاسته راوړنه ده خو د اديبو، عالمو او پوهو کسانو خاص رهبري کوونکي څرګند او ځانګړې رول هم يکې هيڅوک نشي نفې کولې. همغسې چې اقتصادي زير بنايي او علمي تخنيکي انکشافات ديوې ټولنې په نورو رو بنايي او زير بنايي پديدو باندې څرګنده او مشخصه اغيزه لري په ژبنی ادب باندې هم دهغې تاثير څرګند، مشخص او مستقيم دې. هره ادبي ليکنه دخپلې ټولني داجتماعي ــ اقتصادي ژوند سره مستقيم اړيکي لري او دهغې مبين او ښکارندويه ده. ديوې ټولني په عملي ژوند، ژبه او ژبني ادب کې ايديال افقونه، انتزاعيت او تجرد وجود نلري. يواځې د شاعرانه او اديبانه تشخص او عيني حقايقو او واقعيتونو او شاعرانه او اديبانه انتزاعيت او تجرد د قانونمند منطقي ارګانيک ديالکتيک په بنياد، يو اديب او شاعر دخپلی ټولنی او ټولنيزو مناسباتو سره په حقيقي او عملي مناسباتو کې پاتې کيدلې شي. په غير صورت کې شاعر او اديب او ټولنه يو تر بله سره بيګانه کيږی او د ارتبات او پوهاوي لارې يې تړل کيږي او يو دبل په ژبه سره نپوهيږی. شک نه شته چې مختلفې کلتوري ماهيوي او شکلي سويي او بڼې د مختلفو هيوادونو، ټولنو، قشرونو،



سازمانونو او ډلو تر منځ د متقابلو مناسباتو او ضرورتونو د ديالکتيک په بنياد يو له بل څخه متأثر او د تعادل د عام قانون له مخې د مشترک مخرج په کرښه واقع کيدلې شي، خو دغه کار او چار به هيڅکله په نورو کلتوري ارزشونو او ايديالونو باندي، دکوم ځانګړي کلتوري ارزش د تحکم او يا د نورو وروسته پاتې کلتورونو له خوا، په پټو سترګو، دحاکم کلتور د جبري حاکميت دمنلو په معنا نه وي. بلکه مختلف ژبني او کلتوري ازرشونه يواځې دمتقابل احترام داصولو په بناء دډيري اوږدې مودي دهمه جانبه بې تبعيضه مناسباتو، متقابل تاثير، پرورش او ارګانيک انتګريشن او پيوستون په پروسه کې دټولو لپاره په يوې منلې ژبه، ادب او کلتور بدليدلې شي، خو په ميخانيکي او يا جبري ډول دبل ژبه او کلتور منل او يا تحميلول دواړه ناسم کار ګڼل کيږي. ځکه بشري تاريخ ددې شاهد دې، کله چې د نړۍ هيوادونه ددغه ډول کلتوري ارزښتونو داستعمار او استشمار له لارې د نورو هيوادونو د ډول ډول استعمار او استثمار لاندي واقع شوې، لا نن يې هم د خلاصون امکانات او لارې چارې نه په سترګو کيږی. هو ! دبشريت دپيدا ايښت دډير پخوا وختونو څخه داستعمار او استشمار ټول ډولونه دکلتوري ارزښتونو دتفاوت له لاری په نورو اولسونو تحميل شوي او نن هم عملآ دوام لري. په همدې علت استعمارګر امپرياليستي هيوادونه د خپل اشغال د سباوون څخه دمخه چې لا د د اولسونو دشعور سترګې نه وي غړيدلې او لا دغفلت او جهالت له خوبه نه وو ويښ شوي، لومړۍ حمله ددغه هيوادونو په کلتوري ارزشونو کړي، تر څو هغوی د خپل ماضي، خپل تاريخ، خپلو افتخاراتو، خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښونو څخه وشلوي او په یوه ابدي احمقانه لاشعوري تورتم کې یې واقع کړي او نن د همدغه نړیوالو کلتوري تباهیو، بربادیو او استعماري امپریالیستید ینامیزم په مټ ،ځیني کلتوري یرغلګر قوتونه ، حتا په اصطلاح خپلې بشري پرمختللې ټولنې په پټو سترګو ،لاس ترلې او لاچاره کلتوري حماقتونو ته راکشوي او خپل شخصي شوم اغراض پرې تحمیلوي. مونږ نن په نړۍ کې د همدغه ډول یوې احمقانه کلتوري ناوړه وضعې او نتیجتاً د نړیوال سراسري شعوري کلتوري انقلاب د ذهني او عیني پړسیدلیو شرایطو شاهد یو، چې باشعوره بشریت یې باید د یویشتمې پیړۍ په امکاناتو کې په روښنفکري مسؤلیت او امانت دارۍ سره سرته ورسوي. دا اوس کومه پټه خبره نه ده چې د نړۍ پرمخ تللي او وروسته پاتې هیوادونه یو شان د خپلو خپلو کلتوري یرغلګرو له خوا په خورا نا امیدۍ او بېوسۍ سره د کلتوري حماقت کندي ته کش کیږي. که پوښتنه وشي د څه په خاطر ؟بیا هم خبره معلومه ده. د بې ارزښه سرمایداري ارزش د افق تسخیرول او که بیا هم پوښتنه وشي چې ګټه به یې څه وي ؟پخپله پري هم نه پوهیږي !نه ، دوی په هرڅه ښه پوهیږي ،خو نه غواړي د خپلو خود خواهیو او شخصي ګټو په څنګ کې د بل حد اقل هوساینه او د ژوندي پاتې کیدو لپاره د خوړو حد اقل زرۍ وځغملي شي ، نو په داسې قضاوتونو او انصاف سره پایله هم پرته له نړیوالې سراسري تباهي بل ډول ممکنه ګڼل کیدې شي ؟

مونږ بیا هم یوائی د سیالو متقابلو مناسباتو او مختلفو کلتوری ارزشونو دتقوي او یو دبل سره دارګانیک انتګریشن او هڅه په هڅه دټولو لپاره دقابل قبول مشترکو کلتوری



ارزشونو منځته راتلو سپارښتنه کوو .

په نظم او نثر سره د بشري کلتور، تاریخ، عقایدو او ټولو علمي څیړنو لاسته راوړنې او مظاهر افاده او ستري زیرمې پکې ذخیره شویدي. یوائې د دغه دواړو ادبي مقولو څخه په خپل خپل ځای او معقولي استفادي په نتیجه کې ممکنه ده بشري هر اړخیزه مناسبات، احساسات، عواطف، مختلف وجدي حالتونه، علمي قانون مندی او دټولو پدیدو ظهور په ټولو شکلي رنګینیو او ماهیوي ژورو مناسبتونو سره په علمي قانونمند او شاعرانه احساساتي بڼه افاده کیدلې شي. نظم او نثر هر یو په ځانګړې توګه د دغه پدیدو دافادې په پروسه کې ځانګړی انګړ، موقف او ارزش لری، په هیڅ صورت یو دبل تشه نشی ډکولی او نه یې ځای نیولې شي. دبلې خوا همغسې چې د شعور، ادراک او تعقل دروازي د احساساتو په کیلي خلاصیږي شعور، ادراک او تعقل هم پخپل وار او لازم وخت کې ځانګړي مشخص احساسات تحریکوي او پدې لارو تل بې کنترولـه او بې پاسپورته لارویان په ازادانه ډول تلای او راتلای شي . دنظم او نثر ترمنځ هم داسې جیګي پولي وجود نلري چې دیوه څخه بل ته دې تري څوک وانه وړیدې شي. په شکلي لحاظ هم دنظم او نثر ترمنځ داسې غیر قابل عبور قیودات وجود نلري او دډیر پخوا څخه دازادو شعرونو او مسجع نثرونو نموني شته دي چې دمثال په ډول د پیر روښان دخیر البیان او مرحوم سید بهاوالدین مجروح دځانځاني ښامار او نا اشنا سندرې، نومونه اخستلای شم اودازادنظم نموني هم ډیرې دي او دهر چا لپاره یې دنظم دلیکلو چارې اسانې کړیدي.خو که چیرې عملي شعري او نثري لاسته راوړني ، هغه ډول چې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعران او لیکوالان افاده ،تعبیر او تعریفوي ،دغه دواړه محیطونو ته څوک مشترکې پولې نه شي قایلېدلې. پخپله د شاعرانو په آندښه شعر هغه ژبنۍ ادبي پدیده ده چې معنا نه لري او که لري یې یواځې پخپله شاعر د خپل شعر په معنا پوهیدلې شي، هیڅ شاعر حاضر نه دې بل څوک او حتا پخپله خپل شعر په بله ژبه ترجمه کړي، شعر تعریف نه لري، هر نظم شعر نه دې، شعر مخیل کلام دې، شعر د احساساتو مظاهره ده ،شعر د مبالغې، غلو ،اغراق، کنایو، استعارو او نورو ادبي صنعتونو او ډول ډول قیو داتو پرته شعر نه ګڼل کیږي او یواځې خوار سپیره نظم ګڼل کیدلې شي. لکه د شیخ سعدي دغه نظم:

بنی ادم ز اعضای یکدیگر ند
که در افرینش زیک جوهرند
چو عضوی به درد اورد روزګار
دیګر عضوها را نماند قرار

په دې ډول اوصافو، قیو داتو او ځانګړتیاوو سره شعر ځانته ځانګړي امتیاز ،مقام او ارزش اختیاروي او په حقیقت کې د نثر سره د هر ډول ارتباط په شلولو سره په اصطلاح غوره موقف اشغالوي، د فساحت ،بلاغت ،توضیح ،تشریح ،تفسیر ،افادې او داډول نور اوصاف له لاسه ورکوي او ځکه خو معنا نه لري، تعریف ،اوداسې نور نه لري او ځکه خو د هر چا دلاس رسي قابلیتپیدا اکوي او هر سړې شاعر جوړیدلې شي. زه پخپله ددغه ډول افادو او تعبیرونو سره موافق نه یم او نه څوک باید شعري لوړ مقام دا ډول پست وګڼي.دا چې ښه، باکیفیته او عالي شعر څه خصوصیات او اوصاف باید ولري چې یو ضعیف، بې کیفیته او تش په نامه شعر طبعاً هغه نه شي درلودلې، دا



هرچا او هر شاعر او غیر شاعر ته باید څرګنده وي، خو زما په عقیده د شعر او نظم تر عنوانونو لاندې د شاعرانه بحثونو ډرامو جوړولو ته به ضرورت نه وي او کیدلې شي په اصطلاح شعر ي او نظمي تباین او تفاوتونه د نورو طریقو ،کیفیتونو او ارزشونو له مخې فورمولبندي ،تعریف او وارزول شي.

نظم ته په پښتو، فارسي، عربي او ځینې نورو ژبو کې شعر ویل کیږي. مرحوم محمد صدیق روهي لیکي چې د شعر کلمه دعبرانې ژبې د شیر د کلمې څخه چې سندرو ته وایي اخستل شویده. معمولا ډیرشعرونه سندریزه بڼه لري او په سندرو کې ویل کیږي. له بلې خوا په فارسي او پښتو ژبه کې نازکخیاله شاعرانو ته موشګاف وایي لکه چې حمید مومند ماشو خیل په همدې نامه مشهور دې. په عربي ژبه کې شعر ویښته ته وایي او شعر و شاعري هم په عربي نړۍ کې له ډیرپخوا څخه ډیره پر مخ تللې وه او موشګافۍ ته رسیدلې وه. کیدلې شي د شعر نوم هم د مو شګافۍ په نسبت په همدې نامه نومول شوې وي. په هر صورت داد ادیبانو او شاعرانو پورې اړه لرې چې پدې باره کې لازم سپیناوی او وضاحتونه رامنځته کړي.

زما په عقیده د شعر کلمه د نظم د کلمې لپاره اسم با مسمیَ نه بلکه دغې غیر مستقیم اغراق امیزه توصیفي، تشبیهي مستعار نوم ګڼل کیږي او پخپله د شاعرنوم او شعروشاعري هم ددغه هنر او مهارت او ذاتي فطري استعداد سره همدغه ډول مناسبتونه سره و لري. ډیر وخت داسې پیښیږي چې ځینې نومونې د پدیدو سره مستقیم مناسبت نلري، نه دغې د ماهیت ښکاروندیه او نه یې د ماهیوي قانونمندۍ افاده کولې شي خو په اصطلاح کې دغې د پاره په منل شوی او مانوس نوم بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن د شعر کلمه هم د نظم لپاره په منل شوي نوم بدله شویده. زه د دې سره کوم مخالفت نلرم او وروسته لدې به زه هم پدې لیکنه کې د نظم د کلمې پر ځای د شعر کلمه استعمالوم.

د شعر او نثر دیوه پر بل باندې د قدامت مسئله همغومره مغلقه او پیچلې ده لکه څومره چې د شعر او موسیقي تر منځ دیوه پر بل باندې مخکې والي تعینول مشکل ښکاري.

شاعران او ادیبان ،شعر د احساساتو، عواطفو، مینې، غریزو او اخلاقی ارزشی تعلقاتو څرګندونه او مظاهره ګڼي او دغه اظهارات لکه څرنګه چی مونږ پخپل چاپیریال کې وینو، حیوانات، الوتونکي او خزندي او نور کاملا په بې ریا احساساتو، عواطفو، رنګارنګ هنری حرکاتو او منظمو غږونو سره څرګندوي. کیدلې شي انسانانو به هم لا هغه وخت چې جداګانه او غوڅ مفهوم کلمات یې نشو اداکولې د خپلو احساساتو او عواطفو افاده په هنري حرکتونو او منظمو غږونو، اهنګونو او کمپوزونو سره کوله او د شعري تخلیق زیږندي به هم دهمدغه ځایه سرچینه اخیستې وي او هنري او شعري زیږنده به په دغه دلیل د نثر په ادبي جوړښت باندي قدامت ولري. دبلې خوا کله چې ویالي او سیندونه بهیږي، سیلۍ چلیږي، کندې تولیږي او اورغورځونکي غرونه غوریږي هم کله کله خوندور غږونه او یا د موسیقی په اصطلاح کمپوزونه جوړوي. که چیرې دغه استدلال سم وي نو ددې خبرې منل هم پکار دي چې ګوندې دبې روحه موسیقي ګروه د ساز او کمپوز له مخې لومړې په اصطلاح دبې شعوره ژوندیو مبهم شعري تخلیق رامنځته او یواځې له هغې څخه وروسته دباشعوره او مفکر انسان مفهوم او منطقي شعر او نثر زیږیدلې



دي. خو دغه تواتر او تسلسل دهمیش لپاره عملی او ثابت نه بریښي او هروخت د دغه پدیدو دیوه پر بل باندي قدامت لپاره دلایل وړاندې کیدلې شي. نن هم کله د خوږو شعرونو له مخې خواږه کمپوزونه او یا بر خلاف د خوږو کمپوزونو له مخې خواږه شعرونه لیکل کیږي. زه پدی عقیده یم چې پدې باره کې هر ډول خوشبیني او خوشباورې ممکنه او معقوله ده خو تنګ نظري او تعصب پکې کاملاً بې ځایه او بې بنیاده ښکاري.

د شعر او نثر تر منځ که څه هم د تګ راتګ ټولې کوڅې او لارې ندي تړلې او نه یې تر منځ داسې دیوالونه موجود دي چې مینه وال دې پرې وانه وړیدې شي، بیا هم دغه دواړه پدیدي کامل یو شان والېاو یا ډیر نژدیوالې نلري.

ـــ شعر د قافیوي، عروضي ،ردیفي، ترکیبي، بدیعي صنعتونو او روحي وجدي حالتونو له مخې مقید کلام ګڼل کیږي او دقیق، علمی، فلسفي، تاریخي او داسی نورو دقیقو او ژورو مسائلو او قضایاوؤ توضیح، تشریح، تفسیر او بیان پرې که نا ممکن نه وي نو مشکل، ناقص او یا لااقل نامانوس او غیر منطقي ګڼل کیدې شی. د بدیع او بیان صنعتونه چې د شعر رنګیني او ښکلا ګڼل کیږي او پرته له هغې شعرته شعر نه ویل کیږي او د کاندید اکادمیسن مرحوم محمد صدیق روهي په اصطلاح شعر په معر بدلیږي، په حقیقت کې حقایق او واقعیتونه میکیاژ کوي، څیره یې وربدلوي او د پیژند ګلوۍ څخه یې باسي. روحي وجدي حالتونه هم که دغم وي که د خوښۍ، دبې هوشۍ وي او که د مدهوشۍ او یا نورو ټولو کې ذاتي فطري احساساتي شاعر خو لاڅه چې حتا ډیر لوی عالمان او پوهان هم د تعقل او سنجش په ورشو کې نشي پاتې کیدلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقانونمندیو دټولو کړیو څخه ووځي او ټول کړه وړه یي داحساساتو په محدوده کې محصور پاتې کیږي او په دې ډول نثردعلمي ټولو مسایلو دتوضیح او بیان یوائینۍ ژبه ګڼل کیږي.

ـــ دمخه مونږ دا خبره یاده کړه چې ،پخپله د شاعرانو په آند ،شعری خلاقیت احساساتي، عاطفي او غریزي سر چیني لري. احساسات د احساس په مرحله کې په شعوري لحاظ پټې سترګې او ړانده دي او کله چې په غریزه بدلیږي دتل لپاره ړانده پاتې کیږي او یواځې دشعور او لاشعور ددیالکتیک په پروسه کې کیدلې شي دمختلفو پدیدو په شکل په انساني شعور کې انعکاس ومومي او مختلف رواني او ډول ډول نور حالتونه او وضعیتونه رامنځته کړي . انساني عاطفه تل خوشباوره ده او خوشباوري پخپله دډیر سطحی برخورد او کړو وړو معنا لري او هیڅکله دپدیدو ماهیوي قانونمندیو ته نشي متوجه کیدلې. یو عالم وایي: که چیرې دقضایاوؤ او واقعیتونو په باره کې داحساساتو له مخې قضاوت او پریکړې وشي دعلمیت څخه به هیڅ نښې نښاني پکې ونه لیدل شي. رښتیا هم کله چی شعری تخلیق داحساساتو، عواطفو اوغرایزو په طوفان او سیلاب کی رازیږیدلې، دادبي صنعتونو په رنګینو ختو تپل شوې او دکنایو، استعارو، ابهام او نورو مجهولاتو په پردو پوښل شوې مخلوق او ترکیب اوسي نو دکوم غلبیل او ذره بین پواسطه به دعیني واقعیتونو توکي ترې څوک جلا کړې شي .پدی دلیل هم شعر ددقیقو او عمیقو مفاهیمو دافادې لپاره ناقصه او مقیده وسیله ګڼل کیږي او دغه ډول مفاهیم یواځې او یواځې باید دنثر په ژبه افاده کړل شي.



ـــ دپورتني لنډ تذکر سره سره هم ډیرو عالمانو، پوهانو او فیلسوفانو خپل نظریات، عقاید او علمي قضایا په شعري ژبه لیکلي او توضیح کړیدي. دهغې لپاره یي علمي فورمولبندۍ او قانونمندۍ پلټلي، تعریف او تفسیر کړیدي او علمي مقام ورته قایل شویدي. ډیر ونورو غیر شاعرپوهانو او عالمانو پدغه اشعارو علمي تقریظونه لیکلي او دهغې دعلمي مقام او ارزش لپاره یي دخپل ذهن څخه دلایل طرح کړي او لټولي دي. په ډیرو اشعارو کې لکه چې دمخه ورته اشاروه وشوه انساني عقیدوي مسایل ځای په ځای شویدي او نن پرته له شکه دغه اشعارو دتقدس مقام حاصل کړې او لاس وهل او په مقابل کې یي نظریاتي مخالفت کول بلا تشبیه کفر او یا لااقل ددغه عالمو شاعرانو او پوهانو په مقابل کې دعدم احترام او یا لوی سپین سترګتوب په معنا او مفهوم تلقي کیږي.

زما پورتنۍ لیکنه باید هیڅکله دا معنا ونلري چې ګوندې علمي، فلسفي، تاریخي ادا ډول نور اشعار وجود نلري. کله چې دتاریخ، فلسفې او نورو علومو پوهانو شعر لیکلی وي حتمآ به پکې دهغوی علمي نظریات افاده او ځای په ځای شوي وي. ځکه عالم او فیلسوف باید علمي مفاهیم افاده او حتما باید ددغه علومو ورته ځانګړي ارزشونه ولري .خو اصلي خبره پدې کې ده چې ولې هغوی دغه ډول ژور علمي مطالب په شعر سره افاده کړي دي؟ او ولي هغوی هڅه کوي دخپلو شعري مجموعو لپاره عامه فورمولبندي ،چې نه یي لري ولټوي او تعریف یي کړي ؟ هغه چې وایي " هره ورځې چې راخیژي هغه بیل بیل لمر دې" او یا دا چې "هیڅوک دوه وارې په یوه سیند کې نشي لمبلې" همداسې واقعي، ذاتي فطري شاعر تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅکله دوه واړي په يو شان احساساتو سره نشي پيدا کولې نو څه ډول به تاسې په شعر کې مستمره او پايداره قانونمندي پيدا او وروسته له هغې هغه تعريف او فورمولبندي کړئ. پدې توګه شاعرانه ذاتي، فطري خصلت او کرکتر د تل لپاره يوه ګذرا پديده ده. په هغې کې انتزاعيت، تجرد او پايداره مستمره قانونمندي او يا په بل عبارت قانونمند مستمر ستاتيزم وجود نلري نو ځکه په عام ډول فورمولبندي کيدلې او تعريفيدلې هم نشي.

اشعار يواځې کيدلې شي هر شعر په ځانګړي ډول يواځې د شکلي قيوداتو، لکه قافيه، عروض، ترکيب، رديف، شعري مشخصو انګيزو، شعري محيط، موضوع او يا ځينې نورو خصوصياتو له مخې تعريف او فورمولبندي نه بلکه تشخيص، توضيح، تفسير او لازم مقام او ارزش ورته ثوک قايل شي.

شايد ځيني کسان دا سې ادعا وکړي چې خير علمي، فلسفي او دا سې نور د علمي مفاهيمو لرونکي اشعار خودی تعريف شي. زه دا وايم چې په شاعرانه ذاتي فطري محيط کې د علمي، فلسفي او دا سې نورو په نومونو شعرونو ته ځای وجود نلري او د دا سې شعرونو نوم يواځې هغه وخت اخستل کيدای شي چې مشخصه نمونه مخې ته پرته وي او زه بيا دا وايم چې ثلة دا ډول مطالب په شعر سره ليکل کيږي، حال دا چې شعري ادبي افاده په واقعيت کې هيڅکله د علمي قانونمندو مفاهيمو د افادې، توضيح او تفسير جوګه نه شي ګڼل کيدلې؟ شايد په شعر سره د هر ډول مفاهيو ليکل به هغه وخت د هنر په صفت رواج وو. او که ثوک پوښتنه وکړي چې نن ولې دغه ډول مفاهيم په شعر سره ليکل کيږي؟ زه ددې کار لپاره هيڅ دليل او برهان نه وينم پرته



له دې چې په ځان دا ګناه ومنم او په نورو په ناحقه دا تور ولګوم چې دغه کسان خپلې نيمګړ تياوې غواړي په شعري شعر رنګينيو او ښکلي شعري کلام سره پټې کړي.

ددی ټولو خبرو سره سره پخوا هم ډيرو شاعرانو خپل اشعار تعريف کړي لکه حميد مومند ليکي:

شعر ندې دا خوناب د زخمي زړه دې
يا وتلې دستي دم د خولې دمړه دې
يا د وينو ابا سين وهلې موج ديې
يا د ښاره د حيرت وتلې فوج دې
يا نغمه د نيم بسمل مرغه د خولې ده
يا مجنون ته معما ښکلې ليلې ده

او نن يې هم تعريف کوي. زه په زغرده ويلې شم چې شعر تعريف نلری ! پدی باره کی بعدی تبصری د محترمو لوستونکو او په خاصه توګه د محترمو پوهانو او پخپله شاعرانو پوری اړه لری.

ډير شاعران او حتا ځيني پوهان شعر او شاعری ته يواځې معنوي مقام او ارزش قايل دي او دا ځکه چې د شعر او شاعرۍ ورشو يواځې دا حساساتو په محيط محاط او احساسات د احساس په مرحله کې راندہ دي. پرته له خپل ځان څخه بل څه نهويني. هر څه ورته خپل ځان او ځان ورته ډير لوی ښکاري. نو که منصور د آن الحق چيغې وهلې او د خدايي دعوه يې کوله يا نن هم شاعران که ځانونه تلا ميذ او دغوی په اصطلاح د خدای شاګردان او حتا کوچني خدايان، خپل کلام الهي الهام، د مادي مناسباتو او تعلقاتو څخه مبرا، د نورو انسانانو لپاره د فهم او درک څخه پورته او يواځې پخپله شاعر پری پوهيږي، يواځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنوي ارزش او مقام ورته قایل او پخپله شعر غایه او هدف بولي، هم ملامت ندي. لیکن هغوی دې خبرې ته متوجه ندي چې خدایي کلام خو نامفهوم کلام ندې او یوائې پدې خاطر دانسانانو په ژبه نازل شوې چې دهغوی لپاره قابل دفهم اوسي او دخپلو ذات البیني تعلقاتو او مناسباتو دښه تنظیم لپاره دخدایي کلام داحکامو، اصولو او قوانینو څخه استفاده وکړي. دخدایي کلام احکام، اصول، او امر، هدایات، قوانین دخدای لوی علم او د خدای دلوی مخلوق دخلقت راز که دانسان لپاره قابل دفهم نه وي په کوم دلیل انسان پدې نړۍ دخدای خلیفه ګڼل کیدلې شي؟ پنج بناء داسلام چې دخدای د عبادت اساسي جهتونه ګڼل کیږي هم هدف او غایه نه بلکه دخدایي احکامو مطابق دانسانانو تر منځ دعادلانه مناسباتو دښه تنظیم وسیله ګڼل کیږي. بیا هم که شاعران خپل ځانونه او خپل کلام دبشري تعلقاتو او مناسباتو څخه پورته ګڼي دادهغوی کار دې. خو زه وایم هیڅوک ماته دداسې شعر نمونه نشي ښودلې چې دبشري مناسباتو دورشو څخه بیرون واقع وي او نه شعر او شاعري ددی لارې او صفاتو له مخې لوړ مقام حاصلولې شي.

په چلم دوه سکروټې کښیږده
لکه دوه بنې په سیالۍ خوله ورکوینه

سپیلني ورته لوګې کړه
ګودرته تللې چا به یې مخ لیدلې وینه

که چیری د پورته دوه پښتو لنډیو څخه مادي ارزشونه لیرې شي څه ډول به جوړې او څه ارزښت به ولري؟ ارزښتونه مادي دي. معنوي ارزښتونه چې وجود لري په مادي معیارونو تلل کیږي او پیژندل کیږي.



ځینی شاعران دشعر قیمت ګذاري دشعریت له مخې کوي او هغه ددې کار لپاره یوائینې محک بولي او پدې عقیده دي چې که شعر شعریت ونلري په ساده او بې ارزښته نظم بدلیږي. دکاندید اکادمیسن مرحوم محمدصدیق روهي یو مضمون پدې باره کې دوفا په جریده کې نشر شوې دې او همداسې دشعرپیژندنې تر عنوان لاندې دنومورې دمقالو یوه مجموعه چاپ شویده چې یوه مقاله یې د "شعریت یعني څه؟" داسې شروع کیږي. "دځینو شعرونو په باره کې کله کله داسې خبرې کیږي چې شعریت نلري. ددې خبرې معنا داده چې دغسې شعرونه تش په نامه شعرونه دي، شکل او کالبد یې شعرته ورته دې، خو جوهر پکې نشته" او هغه دسړي او سړیتوب دکلمو دمناسبت دتوضیح په مثال سره پرتله کوي. پدې مقاله او بلکه نورو مقالو کې دشعر او شعریت دمتقابل مناسبت او یا دشعر لپاره دلازمي توکي په حیث د شعریت موجودیت او ضرورت په هر اړخیز ډول څیړل کیږي چې محترم لوستونکي دزیاتو معلوماتو په خاطر کولې شي دغه مرجع ته مراجعه وکړي.

محترم لطیف ناظمي دمحبت دجریدې د ۱۳۸۱ کال دجوزا دمیاشتې په ۶ ګڼه کې دشعریت په باره کې داسې لیکي "پوهان وایي یو کلام که هر څومره عالي مفکوره او انکار نه منونکې حقیقت بیان کړي، او ډیر ښه وزن او قافیه هم ولري خو که شعریت پکې نه وي، یعنی په شعري منطق نه وي ویل شوې او دتخیل عامل یې کمزورې وي نو هغه شعر نه بلکه نظم دي". نپوهیږم کوم پوهان به داسې وایي خو زه پدې عقیده یم، هغه کلام چې هم عالی مفکوره ولري او هم یې انکار نه منونکې حقیقت بیان کړې وي او ډیر ښه وزن او قافیه هم ولري نو حتما

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په اصطلاح شعریت هم ولري او که نثر هم وي هیڅوک به دهغې له ارزش څخه منکر نشي.

دشعر او شعریت او سړی او سړیتوب دمشابه پرتله کولو په باره کې زما نظر دادې چې سړې او سړیتوب یوتربله سره مستقیم مناسبت لري. دهغوی ترمنځ نه دتشبیه، کنایې، استعارې، رمانیتزم او داسې نورو ادبي صنعتونو له مخې اوبه خړې پړې شوې او نه دمبالغې، غلو او اغراق له مخې کمي یا کیفي توصیفي زیاتې یا کمې راغلې دي او په اسانۍ یو بل په نسبي لحاظ افاده کولې شي. حال داچې د شعرکلمه د نظم دکلمې لپاره اسم با مسمیَ نه بلکه دهغې غیر مستقیم اغراق امیزه توصیفي، تشبیهي مستعار نوم ګڼل کیدلې شي او دا هم ممکنه نده چې دشعر دکلمې دنحوي او صرفي ګردان او اړولو راړولو له لارې دشعر دڅرنګوالي او کیفیت په باره کې څه ترلاسه شي.

ځینې پوهان او شاعران دشعري کلام مقیدې ورشو او نیمګړتیاوؤ ته متوجه شویدي. خو ددې په عوض چې هغوی دشعري ذاتي فطري انګیزو مطابق شعري ورشو او چاپریال، محتوا او ماهیت وڅیړي او دواقیعتونو له مخې ورته لازم مقام او ارزش قایل شي، برخلاف دیوه نهایي افراطي حالت څخه بل نهایي افراطي حالت ته اووختي او دشعر او شاعرۍ مقام دومره راټیټوي چې نه باید راټیټ شي. ابوالمعانی بیدل وایي: ښه شعر معنی نلري. یا لکه چې کاندید اکادمیسن محمدصدیق روهي لیکي چې دالمان مشهور شاعر "ګویته" څخه وغوښتل شول دخپل مشهور اثر "فاوست" مفکوره په نثر ولیکي. هغه ددغه کار څخه معذرت وغوښته. همداسې دایران مشهورشاعر



"یداله رویائ" لیکي "مختصر آنست که شعر به کارها وروزګارها کاری ندارد، نه نقل میکند ونه می اموزد، شعر تنها است واز هر اجباری رها. برسرنوشت خودش حکومت میکند ونه بر هیچ سرنوشت دیګری. بدهی نه به جامعه دارد، نه به اخلاق، نه به ایمان ودانش و درعین حال بیم دارد ازینکه چیزی پست وحقیر باشد" په همدې ډول ډیر نور مثالونه هم راوړل کیدې شي.

دی کې شک نشته چې په شعر و شاعرۍ کې دډیرو بې معنا شعرونو دنمونو یادونه کیدې شي لکه "اکوبکو، سرسندکو، غوامې لاړه په ترپکو...." یا دهغه انګلیسي بې معنا شعرترجمه چې مرحوم محمدصدیق روهي یي په خپله دمقالو مجموعه کې ذکر کړیدې. دادشاعرۍ ذاتي فطري وجدي حالت یا مقید او ځانګړي محاط محیط لپاره بیګانه او نااشنا خبره نده او پخپل ځای یي معقوله توضیح او استدلال کیدلې شي. نه داچې ټولې شاعرانه رنګینۍ او عالي ارزشونه دومره راټیټ او حقیر، فقیر او بې ارزشه وګڼل شي.

دبلې خوا که مونږ شاعرانه محیط او ارزشونه په دقیق ډول وڅیړو او یا په هغه څه اکتفاء وکړو چې تراوسه پوهانو او شاعرانو څیړلي او نومولي دي یواځې دعشقي، کمیدي، تراژیدي، مدحي، هجوي، مزاحی، حماسی، بزمی، حتی ریشخندی او مسخره یي او دیته ورته نموني له ځانه سره لرو. دفلسفي، علمي، ادبي، او ځینو نورو شعرونو نومونه لکه چې دمخه ورته اشاره شویده یواځې هغه وخت اخستل کیږي چې په مشخص شعر باندې بحث کیږي او مشخصه نمونه مخې ته پرته وي او دعام مفهوم او نوم لپاره هیڅکله دغه ډول نومونې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمالیږي او باید هم استعمال نشي. واقعیت دادي چې پورتنۍ شعري ورشوګاني چې مونږ یې نمونه واخستل او عملا شعري محیط دخپل فطري ماهیت له مخې په همدغه ساحو ویشل شوې او دواقعیت له مخې په همدغه نومونو یادیږي ټولې داسې وجدي احساساتي ورشوګانې او حالتونه دي چې شاعران خولاڅه چې پوهان او عالمان هم نشي کولې دتعقل او فکري سنجش دقیوداتو او اصولو په قید کې مقید پاتې شي.

انسانان په ټولینز ګډژوند کې هرارخیز ذات البیني مناسبات، حالات، حوادث، وقایع او دهغې پورې اړونده فردي او اجتماعي مسئولیتونه، حقوق او وجایب لري چې مشخص افراد، ټولنې، ډلې ټپلې او اقشار باید دهغې مسئولیت په غاړه واخلي او په ټاکلي وخت یې سرته ورسوي. دشعر او شاعرۍ محیط او ورپورې مربوط مسایل او قضایا یواځې شاعران کولې شي په ښه او مناسب شکل وروزي، وپالي او وساتي. دمصر ډیر مشهور لیکوال، ژورنالست او سیاست پوه حسنین الهیکل دجمال عبدالناصر په توصیف کې لیکي چې« دناصر په ځپلیو کې دنورو لپاره ګرځیدل مشکل کار وؤ». شاعرانه محیط دپاک زړه، پاک طینت، بې ریا، پاکو احساساتو او عواطفو محیط دې. هلته چل ول، ټګي، استفاده جویي او غلطي ځای نلري، نو غیر شاعر، نفساني، فرصت طلب او کسبي منفعت طلب شاعرانو لپاره هم دذاتي، فطري شاعرانو په ځپلیو کې ګرځیدل مشکل کار دې او نباید هغوی دغه پاک محیط ملوث کړي..



# کلتور ـ د هغې صحیح او غلط تعبیرونه

دا مقاله د ۱۹۹۶ کال دثور دمیاشتې په ۲۶ نیټه لیکل شوې او دهمدغه کال دانځور اخبار په ۵ او ۶ ګڼو کې چاپ شوې وه، غوښتل مې یو څه تغیرات پکې راولم خو وروسته مې پریکړه وکړه دخپرونې دمحترمو لوستونکو لپاره یې په پخوانۍ بڼه چاپ کړم .

کلتور دنړیوال نظام او بشري ژوند دتأمین او حفاظت په لار کې دانسان په ټولو سالمو فعالیتونو او دهغې دلاسته راوړنو په ټولو پدیدو دلالت کوي.دکلتور کلمه یوه له ډیرو مأنوسو کلمو او مقولو څخه ده چې په بشري ورځنیو مناسباتو، چارو او خبرو اترو کې ډیره استعمالیږي. لکه کلتوري مناسبات، کلتوری نماینده، دکلتور وزارت، کلتوري ټولنه، کلتوري کمیټه، کلتوری انقلاب، باکلتور، پرمختللې کلتور، وروسته پاتې کلتور، زراعتي کلتور، تخنیکي کلتور، سیاسي کلتور او داسې نور ډیر مفاهیم او مناسبات دکلتور دکلمې دډول ډول صرف و نحو او ګردانونو له مخې افاده کیږي.داچې څومره دغه مفاهیم پخپل مسمیَ بهِ دلالت کوي دهغې وضاحت دهمدې بحث موضوع او هدف ګڼل کیږي. ډیر داسې کلمات شته چې خلک هغه پخپلو خبر وکې ډیر استعمالوي او پوره رواج لري لیکن په حقیقت کې ددغه کلمو لغوي او اصطلاحي مفاهیم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهيوي پروسې يو تر بله سره ډېرې ليرې پرتې وي. کله داسې هم پيښيږي چې اسم په مسمیٰ بـِه هيڅ دلالت نه کوي او حتا دخپل مسمیٰ بـَه ماهيوی پروسې او واقعيتونه په غلط ډول تعبيروي او يا يواځې دهغې په خصوصي حالت او شکل دلالت کوي. دا ډول برخوردونه او حوادث يا عمدي وي چې ځينې کسان قصداً خپل شوم پلانونه دمقدسو ارمانونو، انسان دوستانه شعارونو او ډيرو مأنوسو او هر چاته په زړه پورې مفاهيمو، مقولو او کلمو تر پردې لاندې عملي کول غواړي. يا سهوي وي چې داجتماعي شعور دسطحې دټيټ والي په نسبت خام، نيمګړي او حتا غلطو فکري تراوشونو په نتيجه کې دغلطو مفکورو، فورمول بنديو، تعريفونو او تيوريو درامنځته کيدو سبب ګرځي او دمفاهيمو او مقولو تحريف عملي پروسې او فعاليتونه داصلي لارې او مجرا څخه بل خوا ګرځوي او دعملي فعاليتونو غلط او انحرافي جريان مقولې، مفاهيم او فورمول بندۍ بې ماهيته او بې مفهومه کوي، دعمل او مفاهيمو په مطابقت کې تناقضات راپيدا کوي او دغلطو فلسفو او غلطو تيوريوو دايجاد باعث ګرځي. دمثال په ډول دا ستعمار او سوسياليزم کلمات او مقولې څومره انسان دوستانه او انساني عطوفت او هيومانيزم څخه ډکې دي خو هغه ناروا او ظلمونه او دکرکې او نفرت وړ انساني ضد عملونه چې په تيرو پيړيو کې غربي مملکتونو دا ستعمار په نامه کړي او يا په شلمه پيړۍ کې روسانو دسوسياليزم په نامه وکړل هيڅکله يې ددغه مقولو دماهيت او افادو سره مطابقت نه درلود او نن خلک په حقه سره دهغې دنومونو څخه نفرت لري. يا لکه چې داتم بم مفهوم تر نننۍ ورځې پورې په ټوله نړۍ کې



رواج لري حال دا چې عملاً داتم بم په حقيقت کې وجود نلري. همداسې داسلام کلمه هم دلغوي مفهوم او هم دالهي دين او قانون په حيث څومره داجتماعي عدالت، انصاف او انساني متقابلو حقوقو او وجايبو او انسان دوستانه مناسباتو په بناء ولاړ احکام، هدايات او قيودات لري خو هغه بې قيدو حده فجايع او سل په سلو کې داسلاميت او انسانيت ضد عملونه چې نن په افغانستان کې داسلاميت تر شعار لاندې کيږي، او نن پخپله افغاني اسلامي رهبران افغان مسلمان اولس دخپلو شخصي ګټو او اجنبي شومو اغراضو په خاطر وژني او زوروي ،دافغانستان خلک حق لری دغه ډول نا مسلمانو او تورمخو مسلمانانو څخه کرکه او نفرت ولري. پدې توګه ډير نور مثالونه هم راوړل کيدې شي چې دمقولو دلغوي او اصطلاحي مفاهيمو او عملي پروسو تر منځ فرق او تباين پکې په ښکاره ډول ليدل کيدلې شي. دکلتور مقوله چې نه يواځې مأنوسه بلکه فوق العاده ديناميکه او دفردي، اجتماعي، ملي او بين المللي متقابلو مناسباتو او خلاقه مثمرو فعاليتونو راز پکې نغښتې دي هم تل دتاريخ په اوږدو کې دمغرضو کسانو او بې مسؤليته تيوريستانو لخوا دشخصي ګټو دساتلو او دمتقابل لوري داغفال په خاطر د هر ډول تحريف او حريصانه تجاوز لاندې واقع شويده.

دکلتور مقوله چې دلاتيني کلمې Cultura څخه اخستل شوې او دتجدد، اجتهاد، نواورۍ، جوړولو او داجتماعي سالم، مفيد او خلاقه کار او فعاليت مفهوم او معنا لري، په هره معينه زماني مقطع کې دبشري ټولنې دفکري او عملي فعاليتونو پوتنسيال، معيارونه او افقونه په ګوته کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه فعالیت ټولو ورشو په غیږ کي نیسي د هر اړخیز تحریف په نتیجه کې نن د دغه پراخ بنسټه او کثیرالجوانبه مقولې ماهیت، مضمون او مظاهر څوک د چلتار په ولونو ، څوک د لنګ په غوټو ، څوک په شمله، څوک په عباء او قباء او یا یواځې د خپلو خبرو اترو ،ناستې ولاړې، رسوم، عادات، اخلاق ،عقیدي او یا په اصطلاح ملي محلي ذات البیني کلتوري مناسبتونو او نزاکتونو کې لټوي او یواځی پورتنیو ذکر شوؤ مسایلو ته چې د کلتور د مقولې محدوده شکلي بڼه ،طیف او ورشو تشکیلوي د مطلقیت حق قایلیږی او په نتیجه کي پدې باره کې د پراخه پرګنو درک او پوهه خو لا څه چې د مسلکي کارپوهانو ،کلتوري ټولنو ،کلتوري بنیادونو او اکادمیکو مؤسسو، ارګانونو او مسؤلینو د کار محصله هم ناکافي او په یوه محدود تنګنظرانه محاط محیط کې پاتې کیږي.دا چې ایدیالیستان، ماتیریالیستان، بورژوازان او کمونستان د کلتور د مقولې په باره کې په مشخص ډول څه نظر لري ، ضرورت به نه وي ځانګړي بحثونه پرې وشي ، ځکه د مخه مونږ د مختلفو فلسفي او علمي مسایلو په باره کې د هغوی پر مشخصو او ځانګړو نظریاتي اړخونو کافي بحثونه کړي او په مقابل کې یې مونږ خپل ټاکلي او څرګند نظر هم وړاندې کړې دې. همغسې چې د نورو علمي مسایلو او قضایاوو په باره کې دوی د قانونمند منطقي تسلسل او پایداره علمي قانونمندیو او فورمولبندیو په مسیر کې ثابت قدمه نه دي پاتې شوي او یواځې کله نا کله او هغه هم تصادفي او نا خود اګاه یې علمي قوانینو ، منطق او اصولو ته مراجعه کړې او ډیر زر په دغه سرا پا ذهني غیر قانونمند تخیل کې د شک او تردید په څلورلاري کې دریدلي



او پرته په پټو سترګو له ګوتو جنګولو څخه یي د بل مستدل علمي ثبوتي بدیل چانس هم نه دې درلودلې ، نو خامخا یې د ذهنیګرانه تحریفي تیو ریو ، فورمول بندیو او ګمراهیو لارې نیولې دي.د کلتور کلمه چې د یویشتمې پیړۍ د شرایطو او سوپر ګلوبال امپریالیستي آزمندانه غوښتنو مطابق ډیره مانوسه ، دینامیکه،بدلیدونکې او اسیب پذیره ده ،ځکه خو د نړۍ اکثره وروسته پاتې هیوادونه د مرګ او ژوند په پوله په لعنتي ډول د شیطاني قوتونو د شیطاني ناوړه ګټې او کلتوري یرغل هدف ګرځولي دي . همغسې چې سرمایه د تورو پیسو په بڼه نړیوال امپریالیزم د نړیوالو دملي ،خصوصي او شخصي شتمنیو د غصب وسیله ګرځولې په همغه ډول یې د کلتور د بشري انسان دوستانه، خلاقه او جوړوونکي فعالیت څخه د تور وتبلیغاتو په بڼه د بشري ټولو ارزښونو د بې ارزښه کولو او د خپل تور زنګانه لاندې کولو ډیره خچنه وسیله ګرځولې ده. دوی نن ضرورت نه لري تیوری او فورمولبندی تحریف کړي ،بلکه په پوره سپین سترګتوب ،رډ په رډه او بربنډه توګه پخپل موټي کې هرڅه نیول او یواځې د خپلو شومو او ناروا اهدافو لپاره پکارول غواړي ، او دا هغه مرحله ده چې یوه پدیده د ازاد سقوط په زوال او حتمي مرګ محکومیږي.هیڅوک ضرورت نه لري ،که ظالم دې او که مظلوم د دغه ډول وضعه پر ځان ومني او یا پر بل باندې تحمیل کړي. په دواړو حالاتو کې د عذاب او برخلاف د ثواب کچه به یې د میزان په تله کې یو برابر وي. زه پدی عقیده یم همغسی چی عمل پرته د نظری تحقیق او تحقق څخه ړوند او نظر چی عملی د تحقق ورشو ونلری بی مفهومه ګڼل کیږی ،بشری کلتوری فعالیتونه هم په یو د دغه اړخونو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



محصو رول بی مفهومه او بی بنسټه کاردی.

دکلتور دمقولې په باره کې داوسني لنډ اظهار نظر مفکوره ځکه په فکر کې راولاړه شوه چې په اوسينو شرائطو کې زمونږ دهيواد نژدې نيم نفوس په پرديو ملکونو کې ژوند کوي او عملاً افغاني کلتور دپرديو کلتورونو سره سخت په تصادم او مجادله کې دې. زمونږ زلميان دخپل کلتوري متحول او پذيريشي طاقت او توان په لرلو سره دپردي کلتور منلو ته حاضر دي خو زمونږ مشران دخپلې متحجرې او کلتوري مفکورې له مخې دافغاني کلتور دسوچه ساتلو په منظور کلتوري کميټې، ټولني او سازمانونه جوړوي او هڅه کوي دکلتوري تنګ نظرۍ او تعصب زولني دځوانانو په پښو کې واچوي او نن دغه مبارزه دهر فاميل، ميندو، پلرونو او اولادونو تر سرحده رسيدلې او په اکثره مواردو کې ځيني فاميلونه او کلتوري کميټې په حقيقت کې دبې کلتورۍ په زندانونو بدل شويدي. حال دا چې ددې مشکل چاره په منطقي کړو وړو سره کيږي نه په تعصب او تنګ نظرۍ.دې کې شک نشته چې دبشر دتکامل په پروسه کې کله چې انسانانو دلومړي ځل لپاره دخبرو او نطق قدرت پيدا کړ نو کلتوري اجتهاد او برلاسې هم لومړی دمنطق او خبرو په ورشو کې رواج او پراختياوموند له او يو وخت پخپله دفلسفې او دهغې دعمده اصل او ميتود ديالکتيک اصلي مضمون او مفهوم هم په خبرو او منطق کې يو پر بل باندې برلاسي او رجحان ته ويل کيده، خو کله چې انسانان لباس پوش شول، کلتوري اجتهاد او مبارزه هم دلباس ورشو ته داخل او پخپله لباس دمختلفو قومونو تر منځ دسيالۍ، تفريق او ديفرنسيشن وسيله وګرځيده. کله چې



انسانانو دښکار غوښې خوړلې په بشري ټولنه کې دښکار دوسلو جوړولو او ښکار کولو کلتور رامنځته شو. دزراعت او کر کيلې په رواجيدو سره دزراعت کلتور او دتخنيک او تخنيکی انقلابونو ددينا ميکي انکشاف په ترڅ کې تخنيکی کلتور رواج پيدا کړ.بشري ټولنه همداسې داجتماعي ـــ اقتصادي تکامل په مسير کې کله چې دکورنۍ، طائفې، قومونو، مليتونو، سياسي ـ اجتماعي قشرونو، ګوندونو، دولتونو، او مختلفو اقتصادي ـــ اجتماعي نظامونو لرونکې شوه دهغې مطابق په ټولنو کې کلتوري مفاهيم، مقولې، قوانين، مختلفې سياسي، اجتماعي او اقتصادي سيالۍ، دښمنۍ، جنګونه او يو پر بل باندې برلاسې اويو دبل په مقابل کې داستعمار او استثمار وسايل اماده کول شروع شول.پدې ډول کلتور دانسان دفعاليت په ټولو انواعو او اشکالو دلالت کوي. هر بشري خلاقه مفيد کار او فعاليت کلتوري فعاليت او هر بشري شعوري يا غير شعوري تخريبي کار او فعاليت غير کلتوري بې کلتوره فعاليت ګڼل کيږي. هغه څه چې دکلتوري فعاليت په نتيجه کې جوړيږي کلتوری لاسته راوړنې شميرل کيږي. کلتور په حقيقت کې دانسان ـ انسان، انسان ـ ټولنې، ټولنې ـ ټولنې، ټولنې ـ طبعيت او انسان ـ معبود تر منځ عملي خلاقه مناسباتو او ديالکتيک ته ويل کيږي. که لږ څه نور هم دقيق وويل شي کلتور په حقيقت کې دپورته ذکر شوؤ فعاليتونو او مناسبتونو هغه تجدد طلبه او تحول طلبه بشري مفکورې او عملي فعاليت ته ويل کيږي چې بشري ټولنه پخپل تاريخي تکامل کې دخپل خير او فلاح په صراط المستقيم رهبري کوي.دکلتوري فعاليتونو او لاسته راوړنو شفاهي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحریري افادې ته ادب او دهغې عملي تجسم او استفادې ته هنر، صنعت او عملی کار او فعالیت ویل کیږي. کلتور د بشري فعالیت عملي او نظري دواړه خواوې په غیږ کې نیسي او دکلتوري فعالیت څخه بیرون بشري فعالیت ته هیڅ ورشو نه پاتې کیږي. عملي او نظري کلتور بیا پخپل نوبت په مختلفو عملي او نظري علومو، د بشر د عملي کار او فعالیت او ذات البیني مناسبانو په مختلفو ساحو ویشل کیږي. کلتور هیڅکله یوائې په جیګه یا ټیټه شمله، اوږدو یا لنډو کالیو، چلتار یا نورو پورې اړه نلري. لباس په حقیقت کې د محیطي شرائطو، انساني ضرورتونو، او ذوقونو، اقتصادي امکاناتو او موجوده رسم ورواج او یا په اصطلاح د مود له مخې انتخابیږي او جوړیږي. د افریقا او هند په ګرمو منطقو کې هیڅوک ضرورت نلري وړین بالاپوش او وړینه خولۍ ولري. په نتیجه کې ویلې شو هر انساني فعالیت کلتوري فعالیت، هر ادب کلتوري ادب او هره تاریخی هرارشي چې انساني فعالیت پکې مضمر او دهغې محصول وي کلتوري تاریخ ګڼل کیږي. د باکلتوره، بې کلتوره، عالي کلتور، ټیټ کلتور او داسې نورو افادو د مفاهیمو دارزشونو قیمت ګذاري هم لازم دي د همدغه معیارونو له مخې تعین او په همدغه تله او وزنونو وتلل شي. اوس پخپله قضاوت کولې شو ایا اوسنۍ کلتوري افاده او مفاهیم د کلتور د کثیر الجوانبه او د بشري فعالیت د ټولې مشمولې ورشو محتوا ډکولې او هغه په واقعی مفهوم سره افاده کولې شي؟ که څوک ووایي چې هو. دا به هغه افادې ته ورته وي لکه چې نن هم په اصطلاح ځیني عالمان پدی عقیده دي چې جهان د څلورو عنصرو څخه جوړ شویدي. دا چې په ځیني



هیوادونو کې د کلتور وزرات، کلتوري مؤسسات او په سفارتونو کې د کلتوري نماینده یا اتشه په نامه اشخاص موجود دي چې په اصطلاح د خاصو امورو متصدیان دي، یا په کابل کې د ادبیاتو په نامه پوهنځې موجودوو یا د غه کلتوري کمیټې، کلتوري انقلاب او ډیر نور مفاهیم په اوسنیو محدودو افادو سره زما په نظر د جدي تأمل او اصلاح وړ مطالب ګڼل کیږي.

خو ددې ټولو خبرو سره سره باید هیر نکړو، په کومه اندازه چې کلتور عام او په بشري ټولو فعالیتونو او مناسبتونو محیط مفهوم دې په همغه اندازه مشخص مفهوم هم دې. کلتور په مشخصه توګه د یوي ټولنې او دهغې د افرادو د اجتماعي - اقتصادي میکره او ماکره محیط د شرایطو، د انکشاف او ودې د دینامیزم او دهغې مطابق د دغه ټولنې د اجتماعي شعور څخه نماینده ګي کوي. کلتوري مشخص توب هیڅکله د کلتوري تحجر معنا نلري بلکه د شرایطو د تغیر سره سم کلتوري تغیر او تحول ته ویل کیږي. همدا سبب دې چې یوې ټولنې ته عالي کلتوري ارزشونه نه څوک له بیرون څخه په یو وار او میخانیکي شکل وارد ولې او نه څوک په یوه پرمخ تلونکې ټولنه کې زاړه اجتماعي ـ اقتصادي مناسبات په جبر ساتلې شي. په یوه ټولنه کې د زړو کلتوري مناسباتو د ساتلو لپاره هڅه کول او یا په انفرادي توګه د خپلې ټولنې د کلتوري مناسباتو څخه ځان ایستل دواړه مثبت عمل نه ګڼل کیږي. همدارنګه کلتوري مشخص توب باید هیڅکله د کلتوري ځانګړیتوب سره مغالطه نشي. په بشري ټولنو کې ځانګړي کلتورونه وجود نلري. ځانګړې کلتور او بلکه کلتور په مجموع کې په مجرد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتزاعي شکل سره نه وجود لري او نه ارزش. که چیرې دا سې کلتوري ارزښتونو وجود درلودلې نو دهغې مضمون او محتوا به څه وې او د تکامل جهت به یې په څه ډول تعینیدلې. همدا سې دا به حتماً د فوکویاما« د تاریخ پای او نهایي انسان (The End of History and the Last Man, 1992 )» د نظر تائید وې حال دا چې نه وخت او نه تاریخ پای لري او نه د جهان دیالکتیکي پروسه پر ځای درید لې شي. خدای ابدي دې، جهان ابدي دې ، وخت ابدي دې او تحول او تکامل ابدي دې. ځانګړې ، تل ثابتې ټولنې ،اقتصادي نظامونه او دهغې ځانګړي انکشافي جهتونه په حقیقت کې وجود نلري. کلتوري ځانګړتوب همغسې چې ممکن ندې کوم افتخار هم نه ګڼل کیږي. ایا افغاني کلتور ځانګړې ګڼل کیدلې شي؟ که مونږ غواړه او که نه، خوښیږي مو او که نه افغاني کلتور دهغه قومونو، ملیتونو، او ټولنو چې په مستقیم ډول یې دافغانستان په خاوره کې ژوند کړې او دهغه ټولنو چې مونږ ترې په غیر مستقیم ډول متأثر وؤ او پخپله دافغاني کلتور دارګانیک ترکیب او دیالکتیک څخه متشکلهمجموعه ده. مونږ په هیڅ صورت سره په افغاني کلتور کې دهخا منشیانو، موریانو، یونانیانو، عربو، مغلو او نورو دمستقیمو او غیر مستقیمو مشهودو متقابلو کلتوري تأثراتو څخه انکار نشو کولې. اکثر کسان ځیني اجتماعي اخلاقي ارزښونه کلتوري ارزښونه ګڼي او هغې ته دمطلقیت او عمده اصل او محور حق قائلیږي. دکلتوري معیارونو تمیز او قیمت ګذاري هم دهمدغه اصولو او نتیجه ګیرۍ په اساس کوي او طبعأ دا ورته ډیر بد بریښي چې په اخلاقي لحاظ ځان له چا څخه کم وبولي. له همدي ځای څخه دخپل محلي او ملي کلتور



د سوچه ساتلو او تفوق تعصب منځته راځي. شک نشته چې اخلاقي معیارونه کلتوري معیارونه او ارزښونه ګڼل کیږي خو په هیڅ صورت سره اساسي او یواځیني ارزښونه نشي ګڼل کیدلې. کلتوري وروسته پاتې والې عیب دې خو هغه په بې ځایه تعصب سره نه رفع کیږي او نه پټیږي لازم دادي دهغې علتونه ولټول شي او له منځه ولاړ شي. کلتوري تعصب او کلتوري ځانګړتوب نه ممکن دې او نه معقول او نه تر اوسه پورې دچادغه تعصب او ځانګړیتوب نه کوم ځای نیولې او نه سر ته رسیدلې دې. په همدې ډول کلتوري خوشباوري او کلتوري بې بند وباري او په میخانیکي شکل کلتوري اشتراکیت هم فوق العاده منفي عمل دې ځکه چې دبشري ټولنو تر منځ ټول تضادونه او بد بختۍ دکلتوري تضادونو او تعصبونو په نتیجه کې منځته راځي. یوه ټولنه په بله ټولنه باندې دکلتوري تفوق له لارې تحکم او برلاسې پیدا کوي او هغه استثمار وي. نو ځکه په یوه ټولنه کې دهغې دافرادو او اشخاصو کلتوري بې بند وباري پخپله دهغه ټولنې داستثمار وسیله ګرځي. دا هم یو پیژندل شوې واقعیت دې چې مختلفې ټولنې دخپل تکامل په مسیر کې دکلتوري تقرب په لور حرکت کوي. خو دغه تقرب هیڅکله میخانیکي تقرب ته نه ویل کیږي او نه خپل کلتور ترک کول او دبل کلتور بې قید و شرط منل ددې معنا او مفهوم لري بلکه مختلف کلتورونه دزمانو په اوږدو کې دمتقابلو ضرورتونو او منطقي تماسونو له لارې په ارګانیک شکل سره یو بل تکمیلوي او غني کوي او یو دبل دتقابل، ضدیت او دتعصب څخه یې دتوافق موازي مسیر ته راپریباسې. هغه اشخاص او خصوصأ ځوانان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشباورانه يا غير شعوري خپل كلتور ترک كوي او پردي كلتورونه بې قيد و شرطه په ميخانيكي ډول سره مني دخپلې ټولنې څخه بيګانه كيږي، دخپلو تاريخي افتخاراتو او بين المللي متقابلو مشروعو سياليو په مقابل كې دمسؤليت احساس له لاسه وركوي، دملي وحدت په محكم ځنځير كې زنګ وهلې كړي، تشكيلوي او حتمأ دپرديو په ګټه دخپلو خلكو دااستثمار او بد بختۍ وسيله ګرځي چې مونږ متأسفانه پخپل تاريخ كې ډيرې داسې ناولې نمونې لرواوزمونږ ډير مشران چې نن د خپسۍ غونډې دافغان ملت په ستونې پراته دي دهغې ژوندي مثالونه ګڼل كيدلې شي. بشري ټولنې او دهغې افراد او اشخاص تل دخپل ماضي، حال او استقبال سره په ټينګ ديالكتيكي ارتباط كي ژوند كوي او مجبور دي چې ژوند وكړي او دغه ارتباطات يوائې او يوائې دكلتوري ارزښتونو او معيارونو له لارې ساتل كيدلې شي. كه چيرې ممكنه وې چې بشري ټولنې او دهغې افراد دخپل ماضي سره اړيكې وشلوي او يا دادومره بې ارزښه كار ګڼل كيدلې نو دتاريخي واقعيتونو دكشف په خاطر به بې حسابه مصارف او سرمايه ګذارۍ نه كيدلې، دهغې پورې مربوط مؤسسات به نه ايجاديدلې او بې شميره علمي كدرونه به نه روزل كيدلې. ماضي په حقيقت كې زمونږ دحال او استقبال تهداب او بنسټ تشكيلوي نو دهغې دكامل شناخت څخه پرته دحال او راتلونكي جوړول كه ناممكن نه اوسي نو غير اساسي او ناپايدار خو به حتمأ وي.حال په اوسنيو ديناميكو شرائطو كې مشكله ده چې وجود ولري. يوائې محققين او مسلكي پوهان چې غواړي مختلف قضايا او پروسې تحقيق او فورمولبندي



كړي مجبور دي هغه په نسبي سكون كې فرض او مطالعه كړي .همداسې كه څوک خپل كلتوري مناسبات دخپل مستقبل پورې تړل نه غواړي، هغې ته دبعدي تحول او تكامل ارزش قايل نه اوسي او غواړي خپل زاړه كلتوري مناسبات وساتي نو هغه كمي او كيفي تحولات چې يې پخپل ژوند كې په بشري ټولنو او حتا پخپله ټولنه كې مشاهده كړي څه ډول ارزيابي كوي او دا چې مختلفې ټولنيې دراتلونكو نسلونو په خاطر سرمايه ګذاري كوي خير دڅه لپاره؟ يا هغه سرمايه ګذارى چې ۵۰ يا ۱۰۰ كاله پخوا شويده دهغې نتايج مثبت او كه منفي بولي؟واقعيت دادې همغسې چې بشري ټولنه په اجتماعي، اقتصادي او تخنيكي لحاظ نشي كولې دخپل ماضي، حال او استقبال سره په عدم ارتباط كې اوسي او خپل اړيكي حتا يو له هغوى سره وشلوي په كلتوري لحاظ هم دا ډول استقلاليت غير ممكن ګڼل كيږي.مونږ افغانان شپږزره كلن تاريخ لرو چې پرته دحماسي كيسو او افسانو څخه يې كومې مادي وجودى داسې څه زيرمې ندي راپاتې چې زمونږ دتير شمتن كلتوري ميراث زيرمې يې تشكيل كړې وي. مونږ هم نه يوائې چې يوه لوټه په بله كښينښودو ده بلكه هغه ولاړه لوټه مو هم اوراه كړه او راتلونكى پلان مو هم پوره ځرګند دې چې څه كول غواړو. دادې په دوه جملو كې دماضي، حال او استقبال په لحاظ زمونږ دكلتوري شمتنيو هست وبود. نن هم ټولو نړيوالو د ځيني بې وطنه افغانانو سره په شريكه ملا تړلې چې ټول افغاني كلتوري ارزښونه ، شتمنۍ يې غصب او د افغانستان په نوم هيواد نوم د نړۍ له نقشې څخه پاک كړي ،خو دا خبره له ياده باسي چې په دې ارمان ډيرو لويو طاقتونو خپل سرونه له لاسه وركړي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی سر نوشت هم همدا ډول وګڼي.

نن نړیوال په حقه افغانستان یو له دوه دري ډېرو وروسته پاتې هیوادونو څخه ګڼي. راشئ چې مونږ او تاسې په ډېر خجالت سره هغه یو اځیني ډیر وروسته پاتې هیواد وبولو. دا به سمه وي. مونږ به دا هم ووایو: مرګ دې وي په هغه بې پته او بې احساسه افغانانو چې ځانونه، تاریخي افتخارات او ملک د څو ناچله تورو ټنګو په بدل کې د وطن په دښمنانو خرڅوي. اور دې وګرځي د هغوی د لعنتي قدمونو لاندې دا سپېڅلې خاوره. ورک دې شي ددغه لعنتیا نو تور مخونه. او اخري قضاوت به بیا هم هغه وخت ته پریږدو چې که یو ځل د تاریخ څرخ دافغانانو په بخت وڅرخي.

استقلال چې یو اځیني لوی میراث مونږ ته راپاتې وؤ د کلتوري شعور د ټیټ والي په نسبت هیڅکله دهغې په ارزښ نه یو پوهیدلي او ددغه لوی نعمت څخه مو لازمه ګټه نده پورته کړې. دډیر پخوا څخه مونږ اجتماعي او اقتصادي استقلال د سیاسي استقلال د لرلو سره سره ندې لرلې او پرته د اجتماعي - اقتصادي استقلال څخه سیاسي استقلال نه وجود لري او نه ارزښ. پدې صورت کې دا ستقلال مقدس ایدیال یو اځې د ځان وژلو او بل وژلو مفهوم افاده کوي چې په هیڅ صورت سره دافتخار وړ نه ګڼل کیږي. اصلي افتخار ځان ساتلو او جهان ساتلو او په نړۍ کې د نورو قومونو سره سیال ژوند کولو ته ویل کیږي. له بده مرغه تل دا سې پیښه شوې چې مونږ خپل دښمن او دوست ندې پیژندلې او تل د «ځانځاني ښامار» غوندې د ځان لپاره بلا ګرځیدلي وؤ. بل رابا ندې خپلې غوښې خوړلي او مونږ نه یو پوه شوي. مونږ تل د بل په لاس کې مناسبه وسله او د خپلو



خلکو لپاره راڅخه هزاراتشه چنګیز، هلاکو او بله بده بلا جوړه شویده. دهر څه څخه ډیره بده داده چې ددغه ترخو واقعیتونو منلو ته هم حاضر نه یو. دکلتور د مقولې په باره کې ددې لنډ، خو ډیر متراکم او متکاثف بحث څخه چې زما په آند ټولو کلتوري ارزښونو او دهغوی مثبتو او منفي اړخونو ته ګوته نیول شوې، اوس په ځوانو او ددې نوې سلیزې په ادبي کلتوري کار پوهانو پورې اړه لري چې خپل بحثونه په مسلکي لحاظ په هر لوري وغزوي او غني یې کړي.

اوس چې مونږ د کلتور په باره کې د لنډ بحث بای ته ځانونه رسولي ایا ښه به نه وی په دې باره کې ځیني دا ډول پوښتنې را ولاړې شي؟ ډیر با کلتوره انسان به چاته ویل کیږي؟ ایا دغه لوی با کلتوره به هغه څوک وي چې په اصطلاح د مشرانو په مجلس کې خبره له خولې نه راباسي او که هغه خبر لوڅ ته به ویل کیږي چې د خپل چاپیریال څخه سالم برداشت او آګاهي ولري او پخپل منطقي استدلال سره زاړه فکرونه د نوي واقعیتونو منلو ته اماده کړي؟ ایا هغه چاته ویل کیري چې په فناتیک ډول په پخواني دود او دستور او زړو کلتوري مناسباتو پورې تړلی او د تمدن د کاروان په مخالفه خوا روان وي ؟یا هغه چاته به ویل کیږي چې د اقتصادي اجتماعي انکشافاتو او دوخت غوښتنې مطابق خپل فکري دینامیزم تنظیموي او ددغه تحولاتو مطابق تحول او بدلون غواړي؟ آیا دغه با کلتوره به هغه چاته ویل کیږي چې نه غواړي د پلار نیکه تورتمې کوټه، زړه بوساړه او د کرکیلی زاړه وسایل او دود بدل کړي او جوارې یې په غنمینه بدل شي او که هغه چاته به ویل کیږي چې دغه ټول زاړه مناسبات له بیخه ړنګ او د ځان لپاره د نوي شرایطو محیط

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزیست او کار جوړ کړي او په هر لحاظ دنړیوالو سره ځان سیال کړي. زه پدې عقیده یم چې دکلتور مقوله په نوې لید تو ګه ځیړل پکار دي. کلتور په واقعیت کې د هر څه څخه دمخه دطبیعی او اجتماعی سرکشیو په مقابل کې دقاطع ټولنیز ډیرکي په ګټه اصلاحانه او بشر دوستانه مبارزي، اجتهاد او قانونمند عمل ته ویل کیږي. هر تخریبي او دځان په ګټه مغرضانه عمل ولو که هر څومره شعوري او آګانه او دهر څومره عالم انسان لخوا هم وي بې کلتوره عمل ګڼل کیږي. زما په نظر دنړۍ ډیر لوی بې کلتور انسان لمړې هغه څوک دي چې دبشریت دتباهۍ لپاره یې ذروي یا نوره ډلئیزه وژونکې وسلې جوړې کړي او ورپسې هغه څوک دي چې دهغې داستعمال او ازمایش هڅه کوي. بین المللي نظامي ارتجاعي کړۍ چې په نړۍ کې پخپله ګټه جنګونه جوړوي او دنوي استعماري او استثماري پالیسیو طرحې کوي په حقیقت کې ډیر بې کلتوره انسانان دي . لوی باکلتوره هغه چاته ویل کیږی چې په ټولنه کې دحق او عدالت دتأمین او داجتماعي ــ اقتصادي سالم انکشاف او داستوګنې دچاپیریال دپاک ساتلو په خاطر مبارزه کوي او قربانۍ ته حاضریږي. لوی باکلتوره هغه قاضي او څارنوال ته ویل کیږي چې دقانون په دفاع کې دریږي او په ټولنه کې دقانوني عدالت دتأمین په خاطر قهرمانانه مبارزې ته ملا تړي . لوی باکلتوره هغه سیاست پوه دې چې په خپله ټولنه کې دسیاسي فهم او درک له مخې دسیاسي وضعې دسالم انکشاف پیشبیني کوي او ددغه سالم انکشاف په خاطر په ټولنه کې صادق او سالم سیاسي ــ اجتماعي قوتونه راهڅوي اودنورو ټولنو سره سیال سیاسي -اجتماعي اړیکي ټینګوي، نه دا چې



دخپلو شخصي ګټو په خاطر ځان اوهم خپله ټولنه دپردیو غلامان کړي. لوی باکلتوره هغه ژورنالست ته ویل کیري چې په پوره مسلکي پوهه او درک سره حقایق راټولوي او دخپلو خلکو دذهنیتونو دتنویر په خاطر یې نشر ته سپاري او ددغه لارې څخه یې هیڅ خطر او تهدید ونه ګرځولې شي نه دا چې دشخصي منفعت په بدل کې حقایق تحریف کړي، په دروغو په چا دګناه پیټې وربار کړي او یا دحقیقت څخه لیري او په دروغو دچا دبرئت لارې چارې لټوي ،او یا یې د پنځو ټنګو لپاره ځانونه دچا دلعنتي میډیا بلبلان ګرځولي او ۲۴ ساعته یې ژبه چلیږي . لوی باکلتوره هغه ډاکتر، انجینر، تاریخ پوه او هر مسلکي شخص ته ویل کیږي چې دمسلکي تقدس، تقوا او دنورو مسلکونو په لړ کې دخپل مسلک دقانوني موقف څخه په ډیر جرئت او شجاعت سره قانوني دفاع وکړي نه دا چې دخپل مسلک مسلکي فاحش وګرځي او دپیسو په مقابل کې هغه دځانګړو افرادو او اشخاصو لپاره دخدمت ګذارۍ وسیله وګرځوي. دې کې شک نشته چې پیسي دژوند وسیله ده خو هدف هیڅکله ندې. هر هغه څوک چې پیسي دخپل ژوند هدف ټاکي مجبور دې منل شوي اجتماعي قوانین او ارزشونه دپښو لاندې کړي. دا ډول کسان نه یوازې دمسلکي بلکه دهیڅ ډول ملي خیانت څخه هم ډډه نه کوي نو ځکه دضعیف وجدان او ټیټ کلتور خاوندان ګڼل کیږي. په یوه ټولنه کې واقعي کلتوري ایدیالونه هغه وخت تحقق موندلې شي چې پدغه ټولنه کې پروفیسونالیزم د ټولنیز نظم دعمده اصل په حیث قبول او لکه چې قضاء داجتماعي نظم لپاره یو له اساسي قواوؤ څخه منل شوې او دقانون ددفاع او تعمیل په خاطر قضا یې محاکم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقانون د حراست کمیټې او کمیسونونه موجود دي او یا نن ژورنالیزم د څلورم اجتماعي تنظیمي ارګان په حیث پیژندل شوې په همدې ډول په ټولنیز لحاظ مهم حیاتي مسلکونه د اجتماعي نظم د ښه تأمین او د واقعي دموکراسۍ د پلي کیدو په خاطر د جدا ګانه او مستقل اجتماعي ارګانونو په حیث په رسمیت و پیژندل شي او د هر مسلکي قانونیت او مسلکي تقدس د حفاظت په خاطر مسلکي محاکم، کمیټې او کمیسونونه په ملي او بین المللی سویه تشکیل شي. پدې صورت کې په بشري ټولنه کې واقعي نظم او عدالت تامیندلې شي. پورتنۍ موضوع البته ما د خپل فهم او درک له مخې په نوې لید توګه د عمیق فهم خاوندانو د نظر د تحریک لپاره راولاړه او وړاندې کړه. زه په نړۍ کې د سولې او امنیت د تأمین په خاطر د پورتني کلتوري ارزښتونو، اصولو او قوانینو مراعاتول لازمي او ضروري شرط ګڼم. په غیر صورت کې، په نړۍ کې د سولې او امنیت تأمین نا شونې بریښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلاندې سرچینو څخه په ګټه اخیستنه

١ – په پښتو ژبه د قرآنکریم تفسیر ( لومړی او دوهم ټوک ) ،.
٢ـ سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل «پښتانه د تاریخ په رڼا کې».
٣ـ میر غلام محمد غبار «افغانستان در تسیر تاریخ » لومړی او دوهم ټوک .
٤ـ مولانا جلال الدین محمد بلخي مشهور به مولانا «متن کامل مثنوی معنوی»
٥ـ مولانا جلال الدین محمد بلخي مشهور به مولانا «کلیات شمس تبریزی»
٦ـ الفت ګل پاچا «د الفت مرغلرې»
د شهرت ننګیال په زیار
٧ـ رحمان با با «کلیات»
د حنیف خلیل سریزه ، یادښتونه او وییپانګه
٨ـ پوهاند ډاکټر سید بهاوالدین مجروح «نا اشنا سندرې»
٩ـ پوهاند ډاکټر سید بهاوالدین مجروح «ځانځاني ښامار»
١٠ـ حرکت سید شیر اقا «دعینیت فلسفه» ،لومړی برخه ،دملي دفاع وزارت مطبعه ، ١٣٦٥ هجري ش. کال
١١ـ حرکت سید شیر اقا «ایرو دینامیک ،دینامیک پرواز» ،دملي دفاع وزارت مطبعه ، ١٣٥٢ هجري ش.کال
١٢ـ اقبال لاهوری «کلیات»
١٣ـ روستا یار سید علیشاه معاون سرمحقق «جهان بې انتها» اندیشه های عرفانی حکیم سنایی غزنوی.
١٤ـ اساسات روانشناسی اجتماعي
له روسي څخه فارسي ژباړه: دکتور یحیا یی
١٥ـ محمد جعفر مصفا «انسان در اسارت فکر !»



١٦ـ پی ییر آلن و دیتر کلی «حقیقت تجاوز شوروی بر افغانستان »
فارسي ژباړه:عبدالرحیم احمد پروانی.
١٧ـ دیه ګو کوردو ویز و سلیک اس.هاریسون «پشت پرده افغانستان »
فارسي ژباړه : اسدالله شفایی.
١٨ـ جنرال م ا. ګارییف «افغانستان » زما وروتی جګړه.
په پښتو ژباړن : محمد طاهر کاښي
١٩ـ جنرال لیاخوفسکې «دافغان میړانه او غمیزه»
په پشتو ژباړن : محب الرحمن .
٢٠ـ ستر جنرال الکساندر مایوروف «په افغانسان کې ربښتیا څه تیریدل ؟»
په پښتو ژباړن ډاکټر داود جنبش.
٢١ـ سر اولف کارو «پښتانه (پټانز)»
په پښتو ژباړن : الحاج شیر محمد کریمي.
٢٢ـ محمد حسنین هیکل «ابوالهول او کمیسار»
پښتو ژباړه محمد اصف اکرام .
٢٣ـ دکتر مهدی بهار «میراث خوار استثمار»
٢٤ـ شجاع الدین شفا «تولدی دیگر »
ایران کهن ،در هزارهای نو
٢٥ـ سرو پالي رادا کریشنان او دلاس لاندې پوهانو ډله یي. «تاریخ فلسفی شرق و غرب» «لومړی او دوهم ټوک »
فارسي ژباړه: خسرو جهانداري.
٢٦ـ تاریخ فلسفه سیاسي «لومړي ، دوهم او دریم ټوک».
پازارګارد ډاکټر بهاء الدین .
٢٧ـ ویل دورا نت «تاریخ فلسفه »
فارسي ژباړه: عباس زریاب
٢٨ـ ویل دورانت.«لذات فلسفي .»

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسي ژباړه: عباس زرياب.
۲۹ـ حنا فخوري او خليل جر . «تاريخ فلسفه در جهان اسلام»
فارسي ژباړه: عبد المحمد آيتي.
۳۰ـ ګي پلانتي ـ بونژور «هګل و انديشهٔ فلسفی در روسيه».
فارسي ژباړه: محمد جعفر پوينده.
۳۱ـ ګ. و. هګل «فنومنو لوژي روح»
ترجمهٔ فارسی: دکتر زيبا جبلی
۳۲ـ ګ. و. هګل «عقل در تاريخ»
ترجمهٔ فارسی: دکتر حميد عنايت
۳۳ـ ګ. و. هګل «د فلسفي علومو دايرة المعارف» په الماني ژبه
۳۴ـ در بارهٔ هګل و فلسفهٔ او «د مقالو ټولګه».
مجتهد ي ډاکټر کريم.
۳۵ـ اتين ژيلسون «روح فلسفهٔ قرون وسطی
فارسي ژباړه: ع. داوودی
۳۶ـ اتين ژيلسون «نقد تفکر فلسفي غرب . از قرون وسطي تا اوايل قرن حاضر».
فارسي ژباړه: دکتر احمد احمدی
۳۷ـ لوسين ګلدمن «کانت و فلسفه معاصر»
فارسي ژباړه: پرويز بابايی
۳۸ـ سپينوزا «شرح اصول فلسفهٔ دکارت و تفکرات ما بعد الطبيعی
فارسي ژباړه: دکتر محسن جهانګيري
۳۹ـ دکتر کريم مجتهدي «دکارت و فلسف او»
۴۰ـ مور تيمور جي. آدلر . ده اشتباه فلسفي:
فارسي ژباړه: انشا ءا لله رحمتي .
۴۱ـ ګوهر الرحمن ګوهر « قرآن او ساينس» .
«لومړې، دوهم، دريم څلورم او پنځم ټوک»



۴۲ـ ډبليو. کي. سي. ګاتري « تا ريخ فلسفه ي يونان» (۱۵ ) افلاطون (بخش سوم)
فارسي ژباړه: حسن فتحي.
۴۳ـ فرويد ډاکتر زيګموند . «اصول روانکاوي باليني.
ټولوونکي او فارسي ژباړه: ډاکټر سعيد شجاع شفتي
۴۴ـ سر محقق محمد ناصر )ناصر ستانکزي « تاثيرات تغير ارزش پول در معاملات اقتصادي.»
۴۵ـ سرمحقق محمد ناصر (ناصر ستانکزي مطالعه و تحقيق وضع دموګرافي افغانستان.
۴۶ـ ډاکټر سيد ابو الفضل قاضي «شريعت پناهي»
حقوق اساسي و نهاد هاي سياسي.
۴۷ـ ډاکټر علي شريعتي روش شناخت اسلام.
۴۸ـ بهاءالدين خرمشاهي. قرآن شناخت (مبا حثي در فرهنګ آفريني قرآن).
۴۹ـ ايان مک لين .«فرهنګ علوم سياسي آکسفورد»
فارسي ژباړه: احمد ي ډاکټر حميد
۵۰ـ محمد نادر ايوبي کندهاري «فلسفه.»
۵۱ـ فلسفي روسي قاموس کال ۱۹۸۷
د اى. ت. فرا لو ا تر نظر لاندي ډلي لخوا
۵۲ـ سياسي روسي قاموس مسکو ۱۹۸۳ کال چاپ
۵۳ـ ک. مارکس ـ ف. انګلس «فلسفه ـ پوهنتوني چاپ» په الماني ژبه.
۵۴ـ ک. مارکس ـ ف. انګلس «منتخبات» په روسي ژبه.
۵۵ـ ک. مارکس ـ ف. انګلس «کليات» په روسي ژبه.
۵۶ـ لنين. و. اى. «منتخبات» په روسي ژبه.
۵۷ـ لنين. و. اى. «کليات» په روسي ژبه.
۵۸ـ ګروميکو. آ «خاطرات» په الماني ژبه.
۵۹ـ ټولنيز شعور او دهغې ډولونه، سياسي خپرونه، مسکو ۱۹۸۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمقالو مجموعه ، دمختلفو ليکوالو له خوا ، په روسي ژبه.
۶۰ـ س. ب. کريمسکي او ف. اي. کوزنيڅوف «په نوي طبعيت پيژندنه کې د نړۍ ليد مقولې» په روسي ژبه.
۶۱- رضا داوری اردکانی «فارابی مؤسس فلسفهٔ اسلامی»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**